تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

الغزنوی المولد الخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ شالمار کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کې يې
ساری په زر گونو جديد او نوو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر احسن الکلام

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الکندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مکتبة القرآن والجوید

کانسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الطبع والنشر محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد بكوئته - بلوچستان. و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو جزءاً أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Exclusive rights by Maktabatul-Qraati waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الأولى

١٤٢٥ هجري - ٢٠٠٤ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

كوئته - بلوچستان

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD
QUETTA

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو.

د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وحده والصلوة والسلام على من لا نبى بعده.

وبعد: هغه څښتن لره دي حمد او ثناء وي چې دځمکو ښدګانو د لارښوونې لپاره نې د انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام لړۍ نه ادامه ورکړه، ترڅو چې نې افضل الرُسل عليه الصلوة والسلام د انسانانو لپاره رحمة للعالمين را ولېږه.

محترمو لوستونکو! په دې کښې هيڅ شک نسته چې علماء دين د انبياء کرامو وارثين دي. همدا علماء دي چې مور له نې خپله عقيده، حلال، حرام روا او ناروا راوښودل او دا د دين هغه خلانده ستوري دي چې ددوی دا لړۍ د اصحاب صفه د يوڅو غريبو او مسکينو صحابه کرامو څخه راپيل کېږي.

او دا علماء

هغه ددين چوپړ وهونکي انسانان دي چې په هروخت کې نې د دين و خدمت نه ملا ترلې او د مادي اسبابو، وسائلو، اقتصادي ستونځو پرواه يې نه ده کړې

که په حقيقت سره لږ په خير نظر وګورو، نو دا حقيقت به د لمر په خير رانه څرګند سي چې زمور د چاپېريال علماء هر يو ددې وړ دی چې د سرو زرو سره وتلل سي، ولې چې د خاتم النبيين ﷺ د

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

ختم نبوت څخه وروسته بل هیڅ نبي نه راتلای سي او نه نبي هم ضرورت سته. خو د انبیاء کرامو دغه دنده د علماوو په برخه سوه چې نبي کریم علیه السلام فرمائي: ﴿العلماء ورثة الانبیاء﴾ او دا هم څرګنده ده چې انبیاء کرامو علیهم السلام څه د دراهمو او دیناروتو وارثین نه دي جوړ کړي، بلکه د علم وارثین نبي جوړ کړي دي.

همدغه علماء دي چې د ډیرو سټونځو او مشکلاتو سره سره نبي د دیني کتابونو، درس، تصانیفو، تراجمو او حواشیوو نه خپل قیمتي وختونه وقف کړي دي. او د امت اسلامیه ددې جوړې لپاره نبي په مختلفو ژبو باندې عقیدوي، نظریاتي او د وخت پر نورو مسئلو باندې قلم اوچت کړی.

خو رابه سو و خپل مطلب ته چې د هغه ځلانده سټورو د لړی، سرخیل علامه عصر حضرت مولانا عبیدالله ایوبي سلیمانخیلي کندهاري دی. چې د ډیرو مشکلاتو سره سره نبي د پوره افغان ملت لپاره ډیر نه ستړي کیدونکي خدمات کړي دي.

او دا چې د افغانستان په ټول تاریخ کښې د قرآن مجید یو داسي په زړه پوري تفسیر چې هم دی په ډیره ښه او آسانه توګه زیاړه او ورسره د وخت مسائلي او د وخت د منکرینو سوالات او هغو خوابونه نبي په ډیر ښه انداز سره حل کړي.

ښکه چې دا خدمت نبي وهر افغان نه یو نوی ویاړ دی

دا چې حضرت ایوبي د نورو مروجه درسي کتابونو د شروحاتو او حواشیوو د حل سره سره د قرآن مجید دا تاریخي خدمت وکړ، زمونږ د سر شمله لي را اوچته او زمونږ سرونه نبي به افتخار سره را لوړ کړه.

تاریخ به نبي خدمتونه هیر نه کړي

که تاریخ او اهل تاریخ ورسره غداري ونه کړه، نو به نبي د تاریخ به پاڼو کي نوم په سرو زرو ولیکل سي. او دا چې زمونږ سیده او دقرآني علومو څخه بې برخي وکړي نبي په قرآني تعلیماتو بنالیسته او بیداره کړه، د الله تعالی په دربار کي ورته د ښه ژوند او صحت دعاء او په آخرت کي ورته د جنتونو غوښتنه کوو

قلم دې د تل لپاره ګرځیدئ او صحت دې ورسره مل وي

دده یو ادنی خوشه چین

قاري فضل الحق حقاني

مدیر مکتبة القرائة والتجوید کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده تعالی ونصلی ونسلم علی رسوله الامین وعلی آله وصحبه اجمعین °

پاکه خدایه داخلیږم لوی درباب ته

نااویـــازه وذي دونـــه لـــوی غرقـــاب تـــه

نه کښتی سته نه لاسونه او نه پښي

پـــه امیـــدد کامیابي رب الاربـــاب تـــه

یعنی غواړم چی تفسیر دقرآن وکړم

ملغلـــری پـــه پښتـــو کړمـــه خپـــل کـــام تـــه

دا درياب دی بی ساحله بیله شکه

زمـــا څرنګـــه پـــام ســـو ودي کـــار تـــه

په پښتو کی عام الفهم تفسیر نه وو

داســـبب وو چی راهی ســـوم دی کـــار تـــه

بی توفیقه ستا ای پاکه ذوالجلاله

امکـــان نســـته رســـیدل ودی مـــرام تـــه

زماعاجزدی اعتماد ستاپرقدرت

چـــی بی علمـــه کـــي واصـــل وداســـي کـــار تـــه

پاکه خدای زما د ژوند حاصل به داوی

چـــی تفســـیر دقـــرآن ورســـوم پـــای تـــه

څوك چی وایي په درياب کي دُرر نسته

اوبـــازغواړي چـــي خـــان ورســـوي پـــای تـــه

زه عاجزعبیدالله یمه داوایم

چي په مرسته دخدای کار ورسیږي پای ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا ابیات هم زماحمداوهم دعاده

دقبلیدولـــه خای وخـــدای پـــاك تـــه دی پاتـــه

دابه زما دخوشحالی یولویه ورخ وی

چـــی تفسیرورســـومه وه النـــاس تـــه

دابه هم خیرباقی زماعاصی وی

چی کوچنی ولوی تولـــه زماتفســـیرته وي ناســـته

﴿قال الشاعر﴾

بقدرالکد تکتسب المعالی ✣ ومن طلب العلی سهر اللیالی

تروم العزثم تنام لیلاً ✣ یغوص البحر من طلب اللآلی

﴿وقال الآخر﴾

احب الصالحین ولست منهم ✣ لعل الله یرزقنی صلاحا

﴿ونسب إلی علی رضی الله عنه﴾

رضینا قسمة الجبار فینا ✣ لنا علم وللجهال مال

فإن المال یفنی عن قریب ✣ وإن العلم یبقی لایزال

﴿ولنعم ماقیل﴾

ینبغی للعالم ان یکون متبوعا فی العلم ✣ ولایکون تابعا للدینار والدرهم

﴿ دست تضرع برداشتن ﴾

الهی یاالهی یا الهی ✣ ندارم جز امیدت تکیه گاهی ✣ زکن موجود کردی جمله عالم

مرا از ذنب خود کن عذر خواهی ✣ ندارم توشه راه قیامت ✣ بجز شرمندگی و روسیاهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ندارم طاعت مقبول درگاه ✣ بجز اشکت بدامت آه آهی ✣ بحق وحرمت فرقان اعظم ✣

کرم کن برمن وگم کرده راهی شفیع آورده‌ام روی محمد ﷺ ✣ عبید راعفوکن جمله گاهی

﴿رشید بیان﴾

په پښتو به دین بیان کړم ✣ ستادپاره بې آسان کړم

چې طلب دعلم فرض دی ✣ لازم سوی لکه فرض دی

دفقیر محمد عبیدالله الکندهاري الایوبي السنی الحنیفي النقشبندي دخوا اعلامیه وه علماء او طالبانو ته داده : چې زه فقیر په ټولو خپلو کتابو کې او په خپلو ټولو حاشیو کې د کتابو خصوصاً په تفسیر کې د قرآن کریم او په کتابو کې د عقائدو دینیه وو او د احکامو فقیه وو فقط ناقل او د فوائد څخه د علماوو خوشه چین یم .

البته په عقلي کتابو کې بعض توجیهات یا جوابونه د خپل عقل ناقص دخوا کوم. بعضي د حسد په درياب کې ډوب ملایان یا کتب فروشان وایي چې عبیدالله سارق دی د فوائدو د علماوو .

ګرانو حاسدانو! که نقل د کتابو څخه د فن او علم سرقه وي نو زمونږ ټوله شریعت او دین خو په نقل پوري مربوط دی نو د هغه په باره کې څه وایاست ؟ .

بیت : چشم بدانديش كه بركنده باد عيب نمود هنرش در نظر

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

باعث د تفسیر د قرآن عزیز څه وو؟

کرانو لوستونکو! د ډیري زماني څخه د درویش په زړه کي دا خبره په بار بار راګرځیدله چی ده قرآن عظیم الشان تفسیر دي په هغسي پښتو چي په عمومي افغانستان کي هغه پښتو رواج وي او په علا قه کي د پښتو هم مروجه ده. بلوچستان کړي وایي ډیره به ددغي علا قي د پښتنو دپاره لوی دیني خدمت وای . درویش حالات سابقه او حاضره د ګران هیواد افغانستان مطالعه کړه ، داورته ښکاره سوه چی افغانستان که څه هم قدیم الاسلام هیواد وو، لکن په علمي لحاظ د منقولي علوم په اعتبار خصوصاً د احادیثو نبویه ﷺ په اعتبار او د قرآن عزیز د تفسیر او ترجمي په اعتبار یعني په مورني ژبه پښتو ډیره ښه وه ، هم ددي کبله به طالبان ددغو دوو مبارك علومو د زده کړي دپاره همسایه ملکو ته سفرونه کوله حتی هندوستان ته هم تله او تردي اوسه یعني ۱۴۲۴ هـ ق پوري دا سلسله جاري ده. او همدا سبب دی چی عوام که څه هم لیك او لوست یي زده وي چونکه د احادیث مبارکه وو او د قرآن عظیم د ترجمي څخه په پښتو کي محروم پاته دي . ډیر د افغانستان عوام دخپل سني حنیفي مذهب څخه مخالفه ډلو لکه وهابیه ، سلفیه ، اهل ظاهرالحدیث ، پنج پیریه وو خپلو خپلو مذهبو ته جلب کړه او د مذهب حنیفي په سپکاوي یي مبتلاء کړه او تر دي اوسه هم دا سلسله جاري ده یعني مخالفي مذکوره ډلي د احادیثو مبارکه و ترجمي او دقرآن عظیم الشان ترجمي د خپلو مذاهبو سره سمي ورته کوي او مذهبي حنیفي لاځه کوي نفس تقلید د ائمه مجتهدینو د مذاهبو اربعه وو غلط او بي خایه بولي حتی هره مسئله چه دوی ته مقلدینو ﷺ بیان کي . دوی ورته وایي چه دا مسئله په کوم حدیث او یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په کوم آیت سره ثابت ده او دوی نه پوهیږي چه مقلدین خو د خیر القرون د ائمه مجتهدینو رحمهم الله مقلدین دی چه هغه ائمه رحمهم الله د احادیث نبویه ﷺ او د قرآن په ترجمه ددوی تر امامانو ښه پوهیدله.

په دي باره کښي د علامه شیخ الاسلام مفتی محمد ابراهیم الیاسیني رحمه الله المتوفی ۱۳۸۴ هـ ق یو څو په زړه پوري اشعار په فارسي ژبه واوري:

حکم اثر ست وکتابت رسید + مجتهد دره صواب رسید

قول مستنبطونه کن یاد + که بمستنبطان ثواب رسید

په دي بیت کي اشاره وه هغه آیت ته ده ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهُ مِنْهُمْ﴾

همچنین حکم فاجتهدوا اثر حدیث نبي + موجب اجر بحساب رسید

په بیت کي اشاره وهغه حدیث نبوی ﷺ ته ده قال رسول الله ﷺ اذا حکم الحاکم فاجتهد واصاب فله اجران واذا حکم واجتهد فاخطأ فله اجرٌ واحدٌ. رواه البخاری ومسلم. یعني مجتهد په صور کي د حق رسیدو او دخطاوتلو دواړه مستحق دثواب دی.

چشم لامذهبي نه بیند حق + شپر است و با آفتاب رسید.

ودر جای دیگر میگوید:

ما غلام رسول بیر دائیم + پیروان امام نعمانیم

آنکه تقلید را شده تارك + مرد و مرجع برسرش خوانیم + یعني إنا لله وإنا إلیه راجعون

او دغه رنګه واني:

راه سنت نه غیر تقلید است + مابرین شاه راه شادانیم

بقیاسیکه مجتهد کرده + عاملان حدیث و قرآنیم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چه په میزان الاعتدال صفحه ۷۱ کې د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله څخه روایت دی چې ترجمه یې داده . مونږ عمل اولاً په قرآن کریم کوو او وروسته یعنې که په قرآن کریم کې هغه صراحتاً موجود نه وو. نو بیا عمل په حدیث نبوي ﷺ کوو او وروسته تر هغه بیا عمل په حکمنامو د اصحابو کرامو رضی الله عنهم کوو یعنې چې د ټولو پر اتفاق دي او که چیرې د صحابه رضی الله عنهم په مابین کې اختلاف وو نو بیا مونږ عمل په قیاس کوو . یعنې په قیاسولو د موجوده مسئلې پر یوه بله مسئله چې په قرآن یاحدیث سره ثابته وي په سبب د علت جامع بین المسئلتین. انتهی . ونیزمیګوید :

هرکه دانست از حقیقت راز ✤ او به تقلید شود رمساز
راه اسلام راه تقلیداست ✤ دیده حق اگر نمایي باز
راه نادیده میروی تو بگیر ✤ دامنی از امام واقف راز
عشق و حب نبی ﷺ اگر داری ✤ کینه مجتهد برون انداز

او بل خای وایي :

سخن ناصحانه میگویم ✤ نه بنوع فسانه میگویم
در صراط سوی مذهب حق ✤ فتوای عالمانه میگویم
ترک تقلید در زمانه ما ✤ بد زشرب چمانه میگویم «یعنی پیمانه شراب»
ترک تقلید عین گمراهیست ✤ من به تو شفقانه میگویم
اتباع سنت نبی به تقلید است ✤ این سخن مومنانه میگویم

امام شعرانی رحمه الله په میزان کې وایي : اقوالهم کلها ومذاهبهم ای المجتهدین رح کالثوب المنسوج من الکتاب والسنة الی آخره .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنی مذهبونه د څلورو امامانو مجتهدانو رح لکه یوه جامه چې اودل سوي وي د قرآن کریم او د سنت نبوی ﷺ څخه .

او په بل ځای کې یې ویلي دي :

حق شده مذهب امام چهار ✣ رهروان راه شه ابرار

خدمت دین احمد مرسل ✣ کرد هریک پیرون زحد شمار

گفته هر یک که چون حدیث نبی ﷺ ✣ یابی آنجا تو قول ما بگذار

کین هم سعی ما بدین نبی است ✣ بهر آن عمر کرده ایم نثار

درویش وایي چې تعصب نه وی او دغه ډلي چې مخالفي د تقلید دي پر ګریوان د انصاف سر ننباسي ، دا به ورته معلوم سي چه مونږ خو هم په حقیقت کې مقلدین یو .

نهایت فرق زمونږ او د مشهورو مقلدانو د مذاهبو اربعه وو دادی چې مونږ مقلدان یا د ابن تیمیه یو او یو د محمد بن عبدالوهاب النجدی یو وغیرهما من ائمتهم او مشهور مقلدین د ائمه اربعه مشهوره ورحمهم الله مقلدان د خیرالقرون الثلثه د امامانو دي .

قال علیه الصلوة والسلام خیرالقرون قرني ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم. رواه اصحاب الحدیث اکثرهم

او امامان دغرق مذکوره وو د خیرالقرون څخه ډیر لیري دي .

پوه سه! چې دغه فرق دآیت او حدیث د تاویل څخه سخت منکره دي .

دوی وایي چې کلمات قرآنیه او احادیث نبویه پر خپل ظاهر باندي محمول دي او قیاست د مجتهد خو بیخي نه منې .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واقعه : یو عالم د وهابیانو چې ښه ستر عالم وو او عارضي په سترګو ړوند سوی وو . یو وخت یې وه خپلو هم مسلك خلګو ته تقریر کاوه او پر تاویل د آیت او د حدیث یې سخت انکار وکړی او وې ویل چې (الرحمن علی العرش استوی) پر خپل ظاهر محمول دی یعنی خدای پاك جسم دی او پر عرش یې مکان دی . (وکذالك یدالله فوق أیدیهم) کل شیئ هالك إلا وجهه وامثالها . پر خپل ظاهر محمول یعنې خدای پاك لره ټوله دغه اعضاء او اندامونه ستې . یو بل سنی مقلد عالم چید هلته حاضر وو نو وهابی عالم ته یې وویل چه د قرآني کلماتو هیڅ تاویل نه دی روا؟ وهابی ورته وویل چې هیڅ تاویل یې نه دی روا بلکه محمول پر خپلو معانی و ظاهره لغویه باندې دی . نو مقلد عالم ورته وویل چې په قرآن کې راغلی (ومن کان فی هذه اعمی فهو اعمی. الآیة) او ته په سترګو ړوند یې نو دغه آیت چې پر ظاهر حمل سي نو ته به په آخرت هم ړوند یې . نو وهابي حیران سو.

پوښتنه : تا پښتو تفسیر ته دپښتنو د ضرورت بیان وکړی ، نو د پیښور علماء حضراتو خو په پښتو ژبه لوی او کوچنی تفسیرونه تصنیف کړي دي . ایا په هغو تفسیرو سره د افغانستان د پښتنو ضرورت نه دفع کیدی ؟

جواب : د پیښور دعلماوو سعی دي خدای قبول وکړخوي ، په دي باره کې عاصي ددوی ډیر ممنون دی . لکن خبره داده چې د افغانستان د پښتنو او د پیښور د پښتنو په تلفظ کې او په رسم خط کې ډیر فرق ستې. د افغانستان عوام د پښتو سره چندان علاقه نه لري . نو درویش د خپلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قومي ژبي په تلفظ او رسم خط کي ضرورت محسوس کړی . د مثال په توګه : پیښور والاوایي : مُنګك ، موږ وایو موږك . او دغه رنګه ددي آیت په ترجمه کي (من سندس واستبرق) پیښور والاداسي لیکي : نرم وریځم او پرړه وریځم . موږ وایو نازك وریښم او پټه وریښم . وامثال ذالك كثيرة . او بل داچي په ديني علمي خصوصاً قرآني چارو کي د قوم او وطن خدمت کول ډیر زیبا وي .

وقد وردحب الوطن من الايمان. په هرصورت عزم دفقیر د پښتو تفسیر اوس ډیر ټینګ دی .

همت بلند دار که نزد خدا وخلق ✣ باشد بقدر همت تو اعتبار تو

پوښتنه: ستا د تفسیر آوازه د ډیرو کلو څخه جاري وه نو تر دا اوسه د تاخیر سبب یي څه وو؟

جواب : تر ټولو ښه خبره داده چي دکار دکولو دبندګانو حواله و تقدیر الهي ته وسي .(والله خلقكم وماتعملون) لکن چونکه فقیر ډیر دمخه د خپلو بعضي مخلصانو سره په باره کي د تصنیف د تفسیر مشوره کوله او قاري فضل الحق صائب سره هم . خو ټولو په یوه خوله د تفسیر د تصنیف په باره کي اجازه لاځه کوي بلکه جدي غوښتنه یي شروع او دا یي خیال سو چي درویش به سبا یا بله ورځ شروع په تفسیر وکړي نو ځکه بعضي مخلصانو په ژبه نور طالبان وغیره کړه چي مولوي عبیدالله تفسیر چوړه وي . او مولوي قاري فضل الحق صاحب چی د درویش د اکثرو کتابو طبع کوونکی دی د ډیرو کتابو پر وقایو د تفسیر ایوبي حنیفي په نامه نوشته کړي . هغه وو چي قبل الوقت خلګ خبر سوه . او انتظار په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اور وسوه او ما دخپل کم علمی په سبب او د قرآن عظیم الشان د تفسیر د لوی خطر په سبب دا کار من یوم الی غد خنډاوه .

جامي رحمه الله وايي :

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ✻ بامیدی رسد امید واري

ابیات :

حاسدان تر حساب تیردي خدایه خیر

دښمنـــان تـــر شـــمیرډیردي خدایـــه خیـــر

آفتونه څومره ډیردي خدایه خیر

مرضـــونه هـــم بیحـــده ډیـــر دي خدایـــه خیـــر

دفقیردعمرشپي ډیري تیري سوي خدایه خیر

تـــول اعضـــاء پـــر ضـــعف روان دي خدایـــه خیـــر

بي توفیق ستا ددي کار امکان نسته خدایه خیر

ددې کـــار امیـــد یـــي ډیـــر دی خدایـــه خیـــر

بسم الله الحمن الرحیم اولاً و آخراً ونصلی علی رسوله الکریم سرمداً وعلی آله واصحابه ذکوراً و إناثاً.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

مقدمة علم التفسير اختصارًا

پوه سـه! چي تفسير باب د تفعيل دی . مجرد يي فَسَرَ دی په معنی د بيان او کشف دی . ومعناه العلمي : قيل هو حلم باحث عن معاني نظم القرآن بحسب الطاقة البشرية وبحسب مايقتضيه القواعدالعربية.

يعني تفسير چي ديوعلم نوم دی معنی يي داده چي تفسير هغه علم دی چی دی بحث او بيان کوي د معناوو دکلمات د قرآن کريم په اندازه د طاقت بشري او پر اندازه د هغو قاعدو چی علوم عربيه يي بيانوي . من علم الصرف وعلم النحو وعلم المعانی وعلم البيان وعلم البديع وعلم اللغة العربية وغيرها. او علامه تفتازانی رحمه الله په ډيره مختصره توګه داسي وايي : چي علم تفسير هغه علم دی چي بحث کوي د اصولو څخه د کلام الله په حيث د دلالت پر مراد. د اصولو څخه مراد د علامه رح کلمات قرآنيه من حيث الافراد والترکيب دي.

او روح المعانی والا ډير مفصل تعريف ددي علم داسي کړی دی: چي تفسير يو علم دی چی بحث کوي د کيفيت څخه د نطق په الفاظو د قرآن لکه په علم قرائت کي چي بيانيږي او بحث کوي د معانی څخه د هغو الفاظو . او بحث کوي د احکامو څخه دهغو معاني وو لکه حل وحرمت وغيرذالك . او دا مدلولات که دحال د افراد وي او که د حال دترکيب وي. او پيژندل د ناسخ او منسوخ . او شان نزول د آيتو مبارکه وو . او توضيح د هغه حکم او يا قصي کول چي په قرآن کي مجمل راغلي وي. ومتممات ذالك آه . دا وه معنا د تفسير لغوي او علمي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او تاویل د اول څخه جوړ دی ، د اول معنا لغوي رجوع ده او په فرق کي د تفسیر او تاویل اختلاف دی . ابوعبیده رحمه الله وایي چي د تاویل او تفسیر معنا یوه ده او غالب اصفهانی وایي چي تفسیر عام دی تر تاویل یعني تاویل په بیان سره د جملو او د معانی وو د کتب الهیه و پورې خاص دی . او تفسیر عام دی که بیان دجملو او دمعانیو د کتب الهیه وي او که د نورو کتابو لکه د نحو مثلا د کتابو بیان کول . او مشهوره مذهب دادی چي تفسیر بیان د معانیو د قرآن په نقل د اصحابو کرامو رضي الله عنهم څخه یا د تابعینو څخه . او تاویل بیان د معاني وو د قرآن بیله نقله بلکه موافق د لغت عربي او صرف او نحوي وغیرذالك سره . او د صوفیه کرامو رح په نیز بي فرق دیر دقیق دی .

پوه سه! چي علم تفسیر یو دیر شریف علم دی ولي چي په متفقه طور علماء منقول او معقول وایي چي شرف د علم په اندازه د شرف د موضوع د هغه علم او په قدر د شرافت د معلوماتو او دمسائلو د هغه علم او په مقدار د شرف د غرض او د غایة دهغه او په سبب د کثرت احتیاج د خلکو دی هغه علم ته .

وعلم التفسیر مشتمل علی تلك الکمالات علی اکمل وجهٍ فإن **موضوعه** کلام الله تعالی المنزل علی رسوله افضل الرسل ﷺ .

نو هیڅ کلام برابر د کلام الهي سره نسي کیدای ، خصوصاً هغه کلام الهي چي معجزه باهره ده علیه الصلوة والسلام ده نبوت ده لکه چي خدای جل سلطانه دقرآن مبارك په اعجاز کي داسي ویلي دي : (إن کنتم) که تاسي یاست اي کافرانو (في ریب) په شك کي (ممانزلنا علی عبدنا) یعني د هغه قرآن په باره کي چي موږ نازل کړی پر خپل بنده یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ په ۲۳ کاله زمانه کي دنبوت چي ۱۳ کاله په مکه مکرمه کي د قرآن نزول کیدی او ۱۰ کاله په مدینه منوره کي ، شك په دي معنا چي کفارو به ویل چي علیه السلام دا قرآن د خانه جوړوي . (فاءتوا بسورة من مثله) نو تاسي هم راتګ وکړی په اندازه د یوه کوچني سورت د قرآن چي (أعطيناك الكوثر) دی ولي چي تاسي خو هم عرب بلیغان یاست لکه علیه السلام لکن بیاهم هیڅ چادعوه قدر هم ده اتیان بالمثل کړی نه ده . او معلومات د علم التفسیر دادی چي مراد دخدای ﷻ چي پر هغه کلام الهي دلالت کوي څه شی دی؟ یعني عقائد حقه ، احکام شرعیه ، قصص د انبیاء علیهم السلام او د دوی امتو چي تر علیه السلام قبل تیر سوي وه او امثال موضحه وغیرها . او هر عاقل پوهیږي چي تر دغو معلوماتو اشرفه بلکه مساوي معلومات د بل علم نسته .

او **غاية** د علم التفسیر نیك بختي د دنیا او آخرت نو تر دي لویه غایه به کم شي وي او احتیا دخلکو ده علم التفسیر خو ظاهر دی حتی چي صحابه کرام ﷺ سره د صفاوالي د ذهنو ددوی اوسره د بلاغت او فصاحت ددوی د قرآن پاك په تفسیرو کي سوال ته علیه السلام مجبوره سوي وه . لکه چي په قرآن مبارك کي به تفصیل راسي او فقیر به يي بیان هم وکړي انشاء الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شهانه فائده :چې سليمان رحمه الله د امام نسفي رحمه الله څخه نقل کړي چې په قرآن مبارك کې حروف د الف با آه هر یو څو واره راغلي دي :

الألف : ۴۸۷۴۰ واره	الباء : ۲۱۴۲۰ واره
التاء : ۱۴۰۴ واره	الثاء : ۱۰۴۸۰ واره
الجيم : ۳۳۲۲ واره	الحاء: ۴۱۳۸ واره
الخاء : ۲۵۰۳ واره	الدال : ۵۹۹۸ واره
الذال : ۴۹۳۴ واره	الراء : ۲۲۰۶ واره
الزای : ۱۶۸۰ واره	السين : ۵۷۹۹ واره
الشين : ۲۱۱۵ واره	الصاد : ۲۷۸۰ واره
الطاء : ۱۲۰۴ واره	الظاء : ۸۴۲ واره
العين : ۸۴۷۰ واره	الغين : ۱۲۲۹ واره
الفاء : ۹۸۱۳ واره	القاف : ۸۰۹۹ واره
الكاف : ۸۰۲۲ واره	اللام : ۳۳۹۲۲ واره
الميم : ۲۸۹۲۲ واره	النون : ۱۷۰۰۰۰ واره
الهاء : ۲۰۹۲۵ واره	الواو : ۲۵۵۰۶ واره
لام الف : ۱۴۷۰۷ واره	الياء : ۲۵۷۱۷ واره

فائـــده : عدد درجات الجنة بعدد حروف القرآن وبين كل درجتين قدرمابين السماء والارض وجملة آيات القرآن = ۶۵۰۰ انتهى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده : في مرتة التفسير صحيح طريقه تر ټولو داده چې سړی تفسير د قرآن په قرآن سره وکړي يعني يو آيت که د قرآن مبارك مجمل راغلی وي تلاش وکړه شايد په بل ځای کي دقرآن به مفصل راغلي وي ، نو تفسير د هغه مجمل په هغه مفصل سره وکړه . او هغه چې په قرآن مبارك کي نه وو بيا رجوع وه احاديثو قوليه او فعليه ته وکړه ولي احاديث قوليه هم وحی الهي دي . قال الله تعالی (وماينطق عن الهوی إن هو إلا وحی يـوحی) دا قدر فرق لري چې قرآني آيات په لمانځه کي تلاوت کيږي ځکه وحی متلو يي بولي او د احاديثو مبارکه وو تلاوت په لمانځه کي نسته ځکه وحی غير متلو يي بولي او که په سنت نبوي ﷺ کي هم سړی نسو کاميابه بيا دي رجوع وه اقوالو ته د صحابه کرامو ﷺ وکړي کما مر سابقاً .

په حديث صحيح کي راغلي دي چې څه وخت رسول کريم ﷺ معاذ ﷺ وه يمن ته حاکم مقرر کړی نو عليه السلام دده ځخه پوښتنه وکړه چې ته به په څه شي سره حکم کوي ؟ معاذ ﷺ ورته وويل : بکتاب الله ﷻ . عليه السلام ورته وويل که دي هغه حکم په کتاب الله کي نه کړی پيدا ؟ معاذ ﷺ ورته وويل چې په سنت د رسول الله ﷺ به حکم کوم . عليه السلام ورته وويل که هغه حکم په سنت نبوي ﷺ کي هم نه وو؟ معاذ ﷺ ورته وويل چې بيا به اجتهاد په خپل رايه سره کوم . نو عليه السلام دی پر خيګر په لاس وواهه يعني د خوشحالی له کبله او داسي يي وويل (الحمدلله الذي وفق رسول رسوله لمايرضی رسول الله . رواه اصحاب السنن)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفهوم خبره : مفسر لره دقرآن ددغوشیانو څخه چاره نشته .

۱:- معرفت د مفرداتو دقرآن بحسب وضع اللسان العربي . ویکتفل له علم اللغة . مجاهد، وایي چي څوك چي په لغاتو د عربو عالم نه وي هغه ته تفسیر د قران نه دی روا ، او باید سړی په علم لغت کي تلاش وکړي چي ممکنه دي یو لفظ په مشترك وي ، سړی به یي یوه معنا پیژني او په آیت کي به بله معنا مراد وي .

۲:- پیژندل د احکامو چي کلمات عربیه وي په افراد او ترکیب کي چي په علم النحو کي بیانیږي .

۳:- علم المعانی چي په هغه سره خواص د ترکیبو د کلام عربي معلومیږي .

۴:- علم البیان چي په هغه سره دلالات د آیاتو د قرآن کریم یعني حقیقت مجاز دلالت مطابقي او تضمیني او التزامي وغیرها معلومیږي .

۵:- علم البدیع چي په هغه سره اقسام د تحسین الکلام معلومیږي .

۶:- تعیین د مُبهم او بیان د مجمل او ناسخ و منسوخ او شان نزول د آیتو چي دا ټوله په علم حدیث سره معلومیږي.

۷:- پیژندل د عام او خاص او مطلق او مقید وغیرذالك . چي دا امور په اصول الفقه کي بیانیږي .

۸:- زده کړه د هغه شیانو ده چي پر خدای پاك اطلاق محال وي لکه جسمیت ،مکان ، اولاد وغیرذالك او یا ثابتول خدای ﷻ لازم دي لکه علم اوقدرت وغیرذالك من الصفات الجمالیة والجلالیة چي دا په علم کلام سره معلومیږي یعني علم عقائد د متقدمینو رح . انتهی ما فی التفسیر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي په اوسنی زمانه کي تفسیر د قرآن هغه کسان کوي چي ددغو علومو هیڅ شا به نه وي پکښي .

مقوله : نه هر که سر بتراشد قلندري داند

مقوله : انجیر خوردن نه کار هر مرغیست. **والله المستعان** .

فائده جلیله : درویش وایي چي فضائل د تلاوت د قرآن عظیم الشان خصوصاً د هغه چا دپاره چي په ترجمه یي هم پوهیږي تر حد او اندازي دیر دی . چنانچه په کتابو کي د احادیث مبارکه جلا او مستقل بابونه ورته اینبول سوي دي چي د هغو ټولو بیان په دي مختصره مقدمه کي ګنجائش نه لري . لکن بیا هم په طور د (مشت نمونه خروار) اوپه مقتضی د ماقیل : (مالایُدرك کله لا یُترك کله) څو صحیح حدیث ذکر کوم. حضرت العلامه سید محمد حقي نازلي په خپل کتاب خزینة الاسرار کي وایي : قال رسول الله ﷺ : (فضل کلام الله علی سائر الکلام کفضل الله ﷻ علی خلقه ای مخلوقه)

ترجمه: فضیلت د کلام الله ﷻ چي قرآن مبارك دی پر ټولو نورو خبرو لکه فضیلت د ذات کبریاء دی پر ټولو مخلوقاتو.

وقال صلی الله علیه وسلم : من أراد ان یتکلم مع الله ﷻ فلیقرء القرآن.

ترجمه: که څوك اراده لري چي زه دخدای پاك سره خبري وکړم نو تلاوت د قرآن مبارك دي وکړي.

أخرجه الخطیب البغدادی رحمه الله والدیلمي رحمه الله عن أنس رضي الله عنه وقال علیه الصلوة والسلام : لو لا قوله تعالی ولقد یسرنا القرآن للذکر ما أطاقت الالسن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان تتكلم به (ای من عظمته ومهابته)

ترجمه: که نه وای دا قول دخدای ﷻ چې په تحقیق سره مورږ آسانه کړی قرآن دپاره د تلاوت . نو به ژبو دخلکو طاقت نه درلودای چې خبرې دې وکړې په قرآن سره یعنې تلاوت دې وکړې (په سبب د عظمت او هیبت د قرآن مبارك .

وقال علیه الصلوة والسلام : مَن قرء القرآن فکانما شافهنې.رواه الدیلمي .

ترجمه: علیه السلام وایې چې که چا د قرآن مبارکت تلاوت وکړی ګویا زما سره یې مشافهتاً خبرې وکړې .

قال الله جل سلطانه : واتبعوا أحسن ما أنزل إلیکم . وقال الامام الهمام الغزالي رحمه الله فی أحیاء العلوم عن یحیي بن معاذ رحمه الله من لم یکن فیه ثلاث خصالٍ فلیس بمحب یؤثر کلام الله تعالی علی کلام الخلق ولقاء الله علی لقاء الخلق والعبادة علی خدمة الخلق .

ترجمه: که په چا کې نه دري خویه نو هغه محب نه دی یعنې د خدای ﷻ او د رسول الله ﷺ چې دی به خوښ لرې کلام د خدای چې قرآن دی پر خبرو د خلکو . او ملاقات دخدای ﷻ پر ملاقات د خلکو او عبادت دخدای ﷻ پر خدمت دخلکو. القول الصحیح .

پوه سه! چې په حدیث صحیح کې چې په بخاري او نورو ټولو کتابو کې روایت سته . قال رسول الله صلی الله علیه وسلم أنزل القرآن علی سبعة أحرفٍ فاقرءوا ماتیسر منه . ددې حدیث په تفسیر کې یعنې چې سبعة احرف سره شیې مراد دی اختلاف عظیم دی لکه چې په شروحو د صحاحو سته کې مذکور دی، لکن علامه سلیمان جمل رحمه الله وایې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحیح داده چې مراد هغه اوه قرءات دي چې په شهرت او تواتر سره د علیه السلام څخه منقول دي او صحابه کرامو رضی الله عنهم حفظ او ضبط کړي دي او امیرالمومنین جامع القرآن عثمان رضی الله عنه په مصاحفو کې نوشته کړي دي او صحابه رضی الله عنهم یې په صحت سره حکم کړی دی .

فائدة جديدة: په اسباب النزول کې وایي : چې سُور قرآنیه په اعتبار د ناسخ او منسوخ څلور قسمه دي .

۱):- هغه قسم سورتونه دي چې نه ناسخ په کښې سته اونه منسوخ او هغه ۴۳ سورته دي :

۱: فاتحه	۲: سوره یوسف	۳: یس	۴: الحجرات
۵: الرحمن	۶: الحدید	۷: الصف	۸: الجمعه
۹: التحریم	۱۰: الملك	۱۱: الحاقه	۱۲: نوح
۱۳: الجن	۱۴: المرسلات	۱۵: النباء	۱۶: النازعات
۱۷: الانفطار	۱۸: المطففین	۱۹: الانشقاق	۲۰: البروج
۲۱: الفجر	۲۲: البلد	۲۳: الشمس	۲۴: اللیل
۲۵: الضحی	۲۶: انشراح	۲۷: القلم	۲۸: القدر
۲۹: القیامه	۳۰: الزلزله	۳۱: العادیات	۳۲: القارعه
۳۳: التکاثر	۳۴: الهمزه	۳۵: الفیل	۳۶: قریش
۳۷: الماعون	۳۸: الکوثر	۳۹: النصر	۴۰: لهب
۴۱: الاخلاص	۴۲: الفلق	۴۳: الناس	

وقسم فیه ناسخ و منسوخ کلاهما . او دا قسم ۲۵ سورتونه دي .

۱: البقره	۲: آل عمران	۳: النساء	۴: المائده
۵: الانفال	۶: التوبه	۷: ابراهیم	۸: مریم
۹: الانبیاء	۱۰: الحج	۱۱: النور	۱۲: الفرقان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۱۳: الشعراء ۱۴: الاحزاب ۱۵: سباء ۱۶: المومن
۱۷: الشوری ۱۸: الذاریات ۱۹: الطور ۲۰: المجادله
۲۱: الواقعه ۲۲: المزمل ۲۳: المدثر ۲۴: التکویر
۲۵: العصر

وقسم فیه ناسخ فقط. او هغه شپږ سورته دي.
۱: الفتح ۲: الحشر ۳: المنافقون
۴: التغابن ۵: الطلاق ۶: الاعلی

وقسم فیه منسوخ فقط. او هغه ۳۹ سورته دي.
۱: الانعام ۲: الاعراف ۳: یونس ۴: هود
۵: الرعد ۶: الحجر ۷: النحل ۸: الاسراء
۹: الکهف ۱۰: طه ۱۱: المومنون ۱۲: النمل
۱۳: القصص ۱۴: العنکبوت ۱۵: الروم ۱۶: لقمان
۱۷: الم السجده ۱۸: فاطر ۱۹: الصافات ۲۰: ص
۲۱: الزمر ۲۲: حم السجده ۲۳: الزخرف ۲۴: الدخان
۲۵: الجاثیه ۲۶: الاحقاف ۲۷: محمد ۲۸: ق
۲۹: النجم ۳۰: القمر ۳۱: الامتحان ۳۲: المعارج
۳۳: القیامه ۳۴: الانسان ۳۵: عبس ۳۶: الطارق
۳۷: الغاشیه ۳۸: التین ۳۹: الکافرون

او انشاء الله العزیز دا ټوله بیان به یا په دې تفسیر کې او یا په نورو عربي تفسیرو کې به تاسي ته واضح سي.

مقدمه سره د اختصار پای ته ورسیده اوس په تفسیر د قرآن عزیز شروع کیږي. الهي! ستا په فضل او کرم سره ما عاصي عاجز ته توفیق راکړي چې دا تفسیر تر پایه ورسوم. آمین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿ أَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ﴾

زه پناه غواړم ، من پناه میخواهم او یا کومک غواړم ، باري میخواهم .

پوه سه! چي حکمت په اعوذبالله قبل القرائت کي اجازه غوښتل دي د خدای جل جلا له څخه په تلاوت کي د قرآن عظیم الشان ، فی روح البیان قانون دادی چي څوك ورسي وه دروازي ته د یو باچا د باچاهانو ، نو دی سرای ته د هغه باچا نسي داخلیدای بیله اجازي د باچا ، نو دغه رنګه څوك چي اراده د قرائت د قرآن پاك وکړي گویا دی د خپل عظیم دوست یعني خدای پاك سره مناجات کوي ، نو باید اجازه وغواړي . اجازه غوښتل یي اعوذبالله ده .

او بل سِر د اعوذبالله دادی چي یو څوك چي د رب العزت سره راز او نیاز کوي ، او د پاك کلام دده د تلاوت اراده لري باید خپل خوله د بدبویي څخه پري مینځي . زمونږ خولي چونکه په غیبت ، بهتان ،درواغو وغیره سره بدبویه دي ، نو باید مونږ خپلي خولي د بدبویي څخه اولاً پري مینځو او بیا د پاك کلام الهي تلاوت وکړو . پري مینځل د خولي اعوذبالله ده . هم ددي کیله په سورت نحل کي خدای ﷻ وایي :

فاذا قرئت القرآن فاستعذ بالله من الشیطان الرجیم .

سوال : نحات وایي چي جزاء به تر شرط وروسته وي ، او دغه رنګه دوی وایي چي "فاء" دپاره د تعقیب ده ، نو دا دواړي خبري خو دا تقاضا لري چي اعوذبالله آه دي قرائت د قرآن پاك وروسته وایي . والامر لیس کذالك ولي چي اعوذبالله آه تر تلاوت القرآن وروسته نه ده بلکه دمخه ده.اجماعاً؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : مراد د (اذا قرئت القرآن الآیت) دادی (إذا أردت تلاوة القرآن فاستعذبالله) په روح البیان کي وایي چي دا معنا که څه هم مجاز ده لکن دیر شائع ده حتی لکه حقیقت عُرفي دی . کما فی قوله تعالی : (إذاقمتم إلی الصلوة) الآیة فقهاء رحمهم الله یي ټوله دا معنی کوي : إذا أردتم القیام الی الصلوة.

حاصل د جواب دادی چي اراده د قرائت القرآن خو تر قرائت القرآن دمخه ده . لکه اودس چي وروسته تر ارادة القیام الی الصلوة دی ، نو دواړه سوالونه دفعه سوه .

پوښتنه: ددي آیت مبارك خو دا مقتضا ده چي سړی دي تر قرائت دمخه (استعیذبالله) آه وایي ؟

جواب: هو، لکن جمهور علماء رحمهم الله وایي چي اعوذبالله آه دي وایي او په حدیث شریف کي هم راغلي دي هکذا، یعني اعوذبالله آه أقرئیه جبرئیل عن القلم عن لوح المحفوظ.

فائده: اعوذبالله آه که څه هم جمله خبریه ده ، لکن په حقیقت کي سوال دی د بنده د رب العزت څخه چي خدایه ته ماته پناه راکړه ، لکن تفاولاً یي جمله خبریه راوړه. کما في قول القائل : غفرالله لي ، ای اللهم اغفر لي.

په تفسیر کبیر کي وایي چي د رب جل وعلا او د خدای پاك او د بنده ګانو ترمابین یوقرارداد سته. قال الله تعالی : (أوفوا بعهدي أوف بعهدکم) یعني تاسي وفا وکړئ په هغه وعده سره چي تاسي زما سره کړي ده ، زه به وفا وکړم په هغه وعده چي ما ستاسي سره کړي ده ګویا بنده وایي چي ما سره سره د نقصان ده بشریت وفا وکړه په وعده د ربوبیت ستا او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبوديت خپل ، نو ته يا الله سره سره د كمال فضل او كرم احق يي چي په وعده د ربوبيت خپل وفا وكړي او ماته پناه او خلاصون راكړي د شيطان څخه . وكذا خداى جل شانه ويلي دي (أدعوني أستجب لكم) يعني تاسي زما څخه درخواست او غوښتنه كوى زه به مو د غوښتني قبلونه كوم ، نو گويا قائل د اعوذبالله آه وايي چي خدايه ما په ويلو سره د اعوذبالله آه تقديراً كما مَرَّ ده تاسي سوال د خلاصونه ده شيطان وكړى ، نو ته په خپل كرم سره زما ددغه درخواست قبلونه وكړى او ماته پناه راكړى .

قوله بالله . پوه سه ! چي قاضي بيضاوي رحمه الله په لفظ كي د الله څو زمه د اشتقاق ددغه لفظ مبارك دعوه كړي ده او مناسبتونه يي بيان كړي دي لكن مذهب د اهل تحقيق كما فى التفسير الكبير و روح البيان دادى چي لفظ مبارك مشتق د شي څخه نه دى .

پوښتنه : څه سبب دى چي اهل العلم په دي لفظ مبارك كي عظيم اختلاف لري چي هيڅ په بل لفظ كي دومره اختلاف نسته ، څوك وايي اسم دى ، څوك وايي صفت دى ، بعض وايي مشتق دى او بعض وايي غير مشتق دى ، څوك وايي عَلَم د ذات الهي دى ، څوك وايي اسم جنس دى . الى غير ذالك من المذاهب حتى چي تولـه مذاهب په دي لفظ كي تخميناً وه ۲۵ ته رسيږي ؟

جواب : ددي سر علامه تفتازاني رحمه الله په حاشيه كي د كشاف بيان كړى دى . دى وايي چي لكه چي عقول او اوهام په ذات د خداى كي مختلف دي په سبب ددي چي ذات الهي پټ دى په حجابو سره د كبريا يعني چي بعض الناس وجود ده خالق العالم نه مني لكه دهريه . او بعض عالَم لره دوه خالقه وايي ، خالق الخيرات چي دوى وايي د هغه نوم يزدان دى او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بل خالق الشرور دی چې دوی وایي دهغه نوم اهرمن یا شیطان دی ، لکه دا چې مذهب د ثنویه وو دی .

او بعض خلګ خو خدای ته شریك نه وایي لکن خدای ﷻ ته ولدوایي لکه نصاری چې عیسی ابن الله بولي یا یهود چې عزیر علیه السلام ابن الله . او بعض خلګ خدای ﷻ خو واحد لاشریك بولي لکن بیا هم خدای ﷻ لره مکان او جسمیت او اعضاء وایي لکه هغه دله چې (الرحمن علی العرش استوی° یدالله فوق أیدیهم) و امثال ذالك من الآیات والاحادیث پر معنای ظاهر حمل کوي چې هغو ته وهابیه وایئ . قال علیه السلام : ستفرق أمتي ثلاث و سبعون فرقة کلهم فی النار إلا الناجیة . الحدیث . نو دغسي انوار دده جلال پر دغه لفظ مبارك د الله چې علم د خدای دی فیض سوه او دا لفظ هم تر اختلاف لاندي راغلی کما عرفت آنفاً .

پوه سه ! امام رازي رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې وایي چې اعوذبالله من الشیطان الرجیم ° ویونکی دي په نیت کې تولـه هغه منهیات الدینیه او محظورات اسلامیه ولري خوا د عقائدو په حصه کې وي او یا د عملیاتو په حصه کې وي لکه زنا وغیره چې د شیطان دخوا څخه سړي ته ارائه کیږي ، یعني شیطان یې د مسلمان په زړه کې محبت اچوي .

نو خدای ﷻ به یې د عقائدو د تولو فرقو د ضلال کما عرفت او د تولو منهیاتو عملیه څخه به نجات ورکړي په برکت د جملة الاستعاذة وما ذالك علی الله بعزیز.

درویش وایي : وهذاالمعنی الذي بینه الرازي رحمه الله هو الحقیق بالقبول و اما ماقال صاحب روح البیان چې ویونکی د اعوذبالله آه سره د ما مر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذکرناه من الآفات الدینیة من حیث العقیدة والعمل . د هغو امراض او آفاتو نحات دی هم په نیت کي ولري لکه : حرق ، غرق ، فقر ، عمی وغیرها من الامراض. دا معنا په دې خای کي صحیح نه ده ولي چي استعاذه خو دلته مقید دی په هغو شیانو سره چي د شیطان دخوا څخه وي او شك نسته چي امراض مذکوره وغیرها خو د شیطان دخوا څخه نه دي کمالا یخفی . نو به یي نیت څرنگه صحیح وي صحیح وي . اللهم الا ان یقال چي مراد د روح البیان والا استعاذه مقیده نه ده بلکه مراد دده مطلق او فقط ویل دي د اعوبالله . فنیة جمیع المحظورات الدینیة والآفات البدنیة صحیح .

پوه سه ! چي د یو سړي سره چي د یو چا خروړی سپی مخامخ سي نو که دا مسافر د هغه سپي په جگړه اخته سي ، د سفر څخه به هم پاته وي او شاید هغه سپی به دغه مسافر هم وداړي . او که مسافر پیر مالك د سپي ډغ وکړي چي دا خپل سپی دی راسه وي وگرزوه ، نو مالك د سپي چي صرف ته ووایي چغه هغه سپی مسافر پریږدي . دغه رنگه موږ لکه مسافر یو او شیطان لکه سپی ، که موږ د شیطان سره په خپل قوت په جنگ سو شاید شیطان به پر موږ کامیابه سي . او که موږ د اعوذبالله آه په ویلو سره پر خدای پاك نعره وکړو چي خپل سپی شیطان دي زموږ څخه چغه کړه ، نو د ضرر څخه به یي خلاص سو بقدرته تعالی .

قوله من الشیطان - پوه سه ! چي لفظ د شیطان فَیعال دی مشتق دی شَطن څخه دی په معنا د بَعدُ دی ، نو شَیطان معنا داده چي لري کړه سوي د خدای جل سلطانه د عظیم رحمت څخه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ابن عباس رض څخه روایت دی چې شیطان چې عصیان وکړی د امر الهي څخه یعني د آدم علیه السلام د سجدي کولو څخه استکباراً انکار وکړی کما سیناتی فی القرآن ، نو شیطان یې نوم سو . ددې حدیث څخه دا معلومیږي چې د شیطان نوم وروسته تر ملعونیت پر ده ایښوول سوی دی . درویش وایي چه د ابلیس نوم یې هم وروسته تر انکار د سجدي په برخه سو . او دمخه نوم یې عزازیل وو یعني د خدای پاك په دربار کې عزت مند شخص او بل نوم یې نائل وو ، نائل معنا کامیابه .

سعدي شیرازي رحمه الله وایي :

تکبر عزازیل را خوار کرد ٭ بزندان لعنت گرفتار کرد

وفی روضة الاخیار : الشیاطین ذکور و اناث یتوالدون و لایموتون . یعني شیطانان نر او ښځي لري . زیږیده یې کیږي او مري نه بلکه تر قیامت پورې باقي به وي . او پیریانان نر او ښځي لري ، زیږیده یې کیږي او دمخه تر قیامت مري . لکه مور انسانان . او ملکي نه نر لري او نه ښځي او توالد هم نه لري او خوراك او چښاك هم نه لري . او د جن د وجود څخه منکر یوه لږ ډله ده د جاهلانو څخه د حکماوو او د طبیبانو و نحوهم .

او روح البیان والا وایي : چې پیریان څوك وایي اجسام هوائیه دي او بعض وایي چې اجسام ناریه دي او په خپل قدرت سره پر صورت د مارانو ، دسپو ، دغاترو ، د غویو ، دخرو او د انسانانو په شکل څان کولای سي . او عقول او افهام لري چې د هغه په سبب دوی مکلف دي او سخت سخت عملونه کولای سي . لکه په قصه کې د سلیمان علیه السلام به راسي انشاء الله یعني په دې تفسیر کې .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او حکماء مشائین او اشراقیین بیا نور څه وایي چې په دي تفسیر کې یې راوړه مناسب نه دي چې د عامو مخاطبانو تر ذهن لوړ دی.

فائده : علامه زمخشري د وجود څخه د جن منکر وو ، سره ددي چې په قرآن کریم کې ذکر د جن سته او په حدیثو مبارکه و کې په صحیح طور دا ثابته ده چې آنحضرت ﷺ په لیلة الجن کې وه جناتو ته تبلیغ د اسلام کړی دی او ډیرو نفرو د جنیاتو ایمان هم راوړی دی . او زمخشري مُعاصر د مفتي الثقلین حضرت الهمام محمد الغزالي رحمه الله وو چې امام غزالي رحمه الله په ډیرو وارو د زمخشري سره په وجود کې د جن بحث هم کړی وو لکن زمخشري دده سره قناعت نه وو کړی.

نو یو شپه جنیات وه حضورته د امام الثقلین حاضر سوي وه او امام د حوادثو څخه د وخت ددوی څخه پوښتنه وکړه ، هغو ورته وویل چې زمخشري یو تفسیر د قرآن شروع کړی او تر نیمي یې رسولی دی ، نو امام الثقلین ورته وویله چې تاسي ورسی هغه تفسیر یې راوړی - دوی چې تفسیر راوړی ، امام رحمه الله امر وکړی چې دا حصه تفسیر تاسي نوشته کړی . څه وخت چې تفسیر تکمیل سو ، نو امام رحمه الله زمخشري راوغوښتی او دا تفسیر یې وربنکاره کړی . زمخشري چې مطالعه کړی تعجب یې وکړی او وي ویله که زه ووایم چې دا تفسیر زما دی ، نو زما تفسیر خو په کور کې محفوظ ما ایښی وو ، نو دلته چا راوړی ، او که زه ووایم چې دا تفسیر ستا دی نو دا څرنګه زما د تفسیر سره په تولو الفاظو او معنا کې یو شی دی ؟! نو حضرت امام الثقلین رحمه الله وده ته وویله چې تفسیر خو ستا دی لکن ماته پیرانانو راوړی او موږ هغه نقل کړی او ستا تفسیر مو بیرته کور ته در واستاوه . فاعترف الزمخشري في مجلسه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المذکور بوجود الجن .

پوښتنـــه : ددي قصـي څخه خو دامعلوميږي چي جنيـات په غيبو خبر دي؟

جواب : جنيات خو په غيبو نه دي خبر لکن چونکه په هر کور ګرځي نو دا تفسير په کور کي د زمخشري ددوی په سترګو ليدلی وو.

مسئله : جن ته علم الغيب نسته لکه د بعضي عوامو چي دا عقيده ده ، په دليـل ددي قـول د خـدای جـل وعلاشـانه : (تبينـت الجـن ان لوكـانوا يعلمون الغيب مالبثوا فی العذاب المهين) فی قصة سليمان عليه السلام .

فائده : **پوښتنه** : د اعوذبالله په ويلو کي خو دا ښکاره کيږي چي دا ويونکی د غيرالله څخه بيريږي او سره ددي چي حقيقت د عبوديت خو دادی چي سړی به ده خالق څخه بيريږي ، نه د مخلوقه څخه ؟

جواب : په تفسير کبير کي وايي چي د اعوذ بالله په ويلو کي رجوع د مخلوقـه څخـه وه خـالق تـه او د خپـل تـام احتيـاج د سـبب څخـه وه خـالق مقتدر ته رجوع کول دي ، په تحصيل کي د ټولو حاجاتو او په دفع کي د مضراتو ، که ديني وي او که دنيوي . وهذا موافق لقوله تعالىٰ : (ففروا إلى الله) او په استعاذه ويلو کي دليل دی پر خپل عجز . او اهل الحق وايي چي عجز آخري مقـام د مقاماتو څخه د معرفت او ولايت دی حتی وايي چي : متی قرب العبد الی الرب تبارك وتعالی زاد عجزه وانكساره .

سلطان العارفين بايزيد بسطامي رحمه الله په يو مناجات کي وايي :

چار چيز آورده‌ام شاه که درگنج تو نيست ✻ عاجزي و مسکيني فقر و گناه آورده‌ام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده : اعوذ بالله باید په حضور قلبي سړی ووایي یعني قول او قلب دي سره برابر وي ، او که سړی په شیطاني چارو مبتلا وي او بیا هم اعوذ بالله وایي ددي داسي مثال دی چي خوله دي وایي اعوذبالله او فعل دي وایي اعوذبالشیطان .

بیت : برزبانت یا صمد پیدا ودر دل یا صنم ✣ ای بباطن کافر ظاهر مسلماني چه سود

بعض اهل المعرفت وایي :

أخاف من الله ای من عذابه و أخاف ممن یخاف الله ای من سوء دعائه و أخاف ممن لایخاف الله ای من سوء افعاله فاالشیطان لما لم یخف الله نخاف منه لان العبد ینبغي له ان یتخذ عدو الحبیب عدواً .

قوله الرجیم : یعني راوغوځول سوي د آسمانو څخه په ذریعه د ملکو ، پس له دي چي دی ملعون ابدي سو .

روح البیان وایي چي (رجیم) د صفاتو څخه د شیطان تر ټولو لوی مذموم صفت دی او شیطان لره په قرآن کریم کي نو اسماء او صفات مذمومه سته .

تنبیه : مراد د شیطان څخه دی او دده اولاد دی .ولي چي د هر سړي سره خو لوی شیطان نه ملګری کیږي کما جاء فی الحدیث النبوي ﷺ أن الشیطان یبعث سرایاه فاقربهم الیه منزلةً.الحدیث . او بعض علماء وایي چي د شیطان په کلمه کي د استعاذي هر سرکښه دخدای ﷻ څخه که انسان او که حقیقت شیطان وي . وقد ورد فی القرآن العزیز : شیاطین الإنس والجن .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورد الإستعاذة فی کل یوم ولیلة کما فی خزینة الأسرار ۱۱ واره یا ۴۱ واره یا اویا ۷۰ واره او یا سل ۱۰۰ واره .

درویش وایي چي د اعوذبالله په تفسیر او تحقیق کي خو مسئلي ډیري وي لکن ترکنا التطویل دفعًا للملال .

﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾

پوه سه ! امام فخر الدین الرازي رحمه الله په اول کي د سورت فاتحه چي د بسم الله څخه شروع کیږي داسي وایي چي ما په یو مجلس کي پر خوله راغله چي سورت فاتحه دونه عظیم الشانه سورت دی چي امکان ددي ستة چي د فوائدو څخه ددي سورت لس زره مسئلي استنباط کړل سي .

بعض حاسدانو او بعض جاهلانو د ملایانو او بعض اهل البغی والعناد چي دا خبره واوریده ، دا زما خبره یي د چتیاتو څخه وبلل ، نو ما چي شروع په تصنیف ددي تفسیر وکړه نو دا خبره مي راپیاد سوه او ددي خبري امکان خو څه کوي په تحصیل کي مي کوشش وکړی . درویش وایي چي حضرت الامام ددي مبارك سورت څخه لس زره مسئلي د قوت څخه وه فعل ته راوړي کما لایخفی علی من یُراجع الی تفسیره .

پوه سه ! چي په دي آیت مبارك کي اختلاف د مذاهبو قدیماً و حدیثاً موجود دی . په ائمه ثلاثه و کي امام شافعي رحمه الله یي جزء د الحمدلله بولي ،بلکه د هرسورت چي په اول کي یي بسم الله وي یعني ماسوی د سورت توبه څخه په هغو ټولو کي بسم الله جزء د هغه سورت بولي .

او امام مالك رحمه الله یي جزء د قرآن هم نه بولي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مذهب د حنفیانو دادی چې بسم الله د هیڅ سورت جزء نه ده سوی د سورت النمل یعني فی قوله تعالی (إنه من سلیمان وإنه بسم الله الرحمن الرحیم) بلکه بسم الله الرحمن الرحیم آیت مستقله دی د قرآن عظیم . دپاره د فصل بین السور نازل سوي دي . والدلیل دادی چې د الحمد لله سورت یا نور سورتونه په جهري لمانځه کې په جهر سره ویل کیږي او بسم الله په هیڅ سورت کې په جهر سره نه ویل کیږي ، نو که بسم الله جزء د سورت وایي نو باید لکه نور سورتونه دا هم په جهر سره ویل کیدای .

پوه سه ! چې هیڅ سورت قرآني دونه نومان نه لري لکه الحمد لله . وذالك یدل علی شرفها من جمیع سُورالقرآن کما ذهب الیه اهل التحقیق من المفسرین وغیرهم .

۱: فاتحة الکتاب : ددي نامه وجه داده چې په مصاحفو کې اول داسورت لیکل کیږي او تعلیم د ترجمې د قرآن هم ددي څخه شروع کیږي او په لمانځه کې د قرآني سورتو څخه اول په دي شروع کیږي . او بعض مفسرین وایي چې اول سورت چې پوره نازل سوی دی همدغه الحمد لله آه ده . وقیل لان الحمد لله فاتحة کل کلام وفیه نظر .

۲: فاتحة القرآن : او ددي نامه وجه هغه ما مر ده .

۳: ام الکتاب

۴: ام القرآن : ولې ام الشي اصل ته د شي وایي . او دا سورت مبارك مشتمل دی پرټولو معانی د قرآن مبارك اجمالاً قاله البیضاوي . وفصله الامام الرازي رحمه الله .

۵: القرآن العظیم : ولې چې دا سورت مبارکه مشتمل پر ټولو معاني و د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن کما مر رواه ابوهريرة ﷺ عن النبی ﷺ.

پوښتنه : په قرآن مبارک کې خو قرآن عظیم پر سبع مثاني عطف دی او عطف تغاير د معطوف او معطوف علیه غواړي ، نو څرنګه به فاتحه قرآن عظیم سي . (ولقدآتيناك سبعامن المثاني والقرآن العظيم) آیت کریمه ؟

جواب : مفسرین قرآن عظیم عطف تفسیر د سبع مثاني بولي . په دي دلیل چې په وخت ددي آیت عظیم قرآن ټوله نه وو نازل سوی .

۶: السبع المثاني : سبع يې په دي بولي چې دا سورت مبارک په اتفاق سره اوه ۷ آیته دی . رواه الدار القطني عن النبی ﷺ . او مثاني يې په دي بولي چې دا سورت په هر رکعت د لمانځه مکرريږي . اخرجه ابن جرير عن عمر ﷺ . وقيل لانها نزلت مرتين مرة فی مكة شرفها الله تعالى و مرة فی المدينة حين تحولت القبلة و تكرار نزولها لاظهار شرافتها. قال صاحب الاتقان لانها على قسمين ثناء و دعاء . او ده نوري توجيهاتي هم کړي دي . او چاويلي دي چې څوک چې يو آیت ددي سورت ووايي ، ثواب يې برابر دی د يوي سبع د قرآن د تلاوت سره .

۷: الوافيه : ولې ددي سورت تلاوت ساتونکی د قاري د ټولو آفتو او امراضو څخه . لماورد فی الحديث النبوی ﷺ عن عمران بن حصين ﷺ چې فاتحة الكتاب او آيت الكرسی نه وايي دادوه يو بنده په خپل سرای چې بيا دي آفت ورسيږي ورته يعني صاحب الدار ته په دغه ورځ کې د عين انس او جان سه . او د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې امام حسن بن علی ﷺ رضی الله عنهما يو وخت ناجوړی سو فاغتم النبی ﷺ يعني په ناجوړی يې غمجن سو ، نو جبرئيل عليه السلام راغلی او عليه السلام ته يې وويله چې ته هغه سورت چې (فا،) نه وي پکښې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۴۰ واره پر اوبو ووایه او لاسونه او پښې او مخ او ټوله بدن دده په ورېږي مینځه خدای پاك به یې جوړ کړي انشاء الله تعالی . او علیه السلام هغه وکړه او هغه وسوه.

پوه سه ! چې دا ترتیب د حسن بن علی رض دپاره خاص نه دی بلکه په حُسن عقیده سره دنورو مریضانو سره هم خدای جل سلطانه داغسې کوي انشاء الله تعالی .

۹:سورت الکنز: سُمیت بذالك لما رُوی عن انس ﷺ عن النبی ﷺ قال قال الله تعالی سورة الفاتحة کنز من کنوز عرش .

او په احیاء العلوم کې امام غزالي ﷺ وایي چې حضرت علی ﷺ وویل : (لو شئتُ) یعني که زه وغواړم بار به کړم څلویښت ۴۰ اوښان په تفسیر او اسرارو د فاتحة الکتاب .

۱۰: الکافیة : ولې دا کفایت کوي د قرائت مفروضه څخه دلمانخه . و وجه التسمیة لایجبُ اطراده فلایرد مایرد ان غیرها ایضاً تکفي عن القرائة المفروضة لقوله تعالی ﴿فاقرءوا ماتیسر من القرآن﴾ او د عُباده بن الصامت ﷺ څخه روایت دی . قال قال رسول الله ﷺ أمُ القرآن عوض عن غیرها ولیس غیرها عوض عنها یعنی فی الثواب والاشتمال علی جمیع معارف القرآن.

۱۱: سورة الاساس : ولی اصل او اول سورة کامله دی چې په قرآن کې نازل سوی دی . لکه د دیوال تادای . وقیل : چې ناجوړی سو څوی د ابی الشعبی ﷺ د درد څخه د تشي . فقیل له علیك باساس القرآن وهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاتحة الكتاب . وعن ابن عباس رضى الله عنهما لكل شيئ اساسٌ و اساسُ القرآن الفاتحة. الحديثُ .

۱۲: سورة النور : ولي دا سورت مشتمل دی پر انوارو د ظاهر او باطن . كمارُوى عن أنس ﷺ فی حديث طويل عن النبی ﷺ .

۱۳: سورة الحمد : لان اول كلمتها الحمد

۱۴: سورة الشكر : لإشتمالها على الشكر فی مقابلة نعمة الربوبية . و ورد فی الحديث النبوی ﷺ كما اخرجه ابن جرير والحاكم والديلمي قال رسول الله ﷺ اذا قلت الحمدلله رب العالمين فقد شكرت الله تعالى .

۱۵: سورة الحمد الاولى : ولي چي داسورت اولين سورت دی چي حمد د خدای ﷻ پكښي ذكر دی لما مر انها اول سورة نزلت .

۱۶: سورة الحمد القصوى : ولي پر نهاية د حمد بليغ دا سورت مشتمل دی اجماعاً .

۱۷: سورة الرقيه : يعني دم كول پر مريض او د ځانښت په توګه په چنبل . په حديث شريف كي چي روايت يي ابوعبيده ﷺ ، احمد رحمه الله ، بخاري رحمه الله ، مسلم رحمه الله ، ابوداود رحمه الله ، نسائي رحمه الله ، ابن ماجه رحمه الله ، ابن جرير رحمه الله ، حاكم رحمه الله او بهيقي رحمه الله كړی دی د ابي سعيد الخدری ﷺ څخه دی وايي چي موږ ديرش نفره عليه الصلوة والسلام واستولو چي داسي فوج ته چي عليه السلام او يا بل امير المؤمنين نه وي پكښي په اصطلاح د فن سير سرية وايي ، نو موږ پر يو كلي د كفارو د سفر په دوران كي نازل سو ، نو موږ وه دوی ته ووېل چي زموږ مهمان نوازي وكړی ، يعني دودی وغيره راكړی . هغو ددي څخه ابا او منع وكړه ، نو په شپه كي د هغه كلي سردار لړم وخوړی ، يعني هر څه تداوي چي دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ممکنه وه په وي کړه خو د لړم درد نه ښه کیدی . نو مورږ ته راغله او وي ویله چي ایا په تاسي کي داسي څوك سته چي د لړم دم کوي . ابوسعید ﷺ ورته وویل هو زه د لړم اوده لرم . لکن زه دم نه پر کوم تر هغو چي تاسي ښه ډیره شکرانه او د دم عوض رانه کړی . دا په سبب ددي چي تاسي مورږ ته دوډی نه کړه را . نو دوی وویل چي مورږ به تاسي ته دیرش ۳۰ پسونه درکړو چي زمورږ سید او سردار جورږ سي . ابوسعید ﷺ وایي نو زه ورسره ولاړم او پر لړم خورلي والا باندي مي فاتحه اوه ۷ واره وویل او پر تو مي کړل ، هغه سړی فوراً جورږ سو . کانه انشط من عقال . لکه اوښ چي د زنګون بند څخه ایله کړی . نو کلیوالو دیرش پسونه مورږ ته راکړه . نو بعض صحابه وو رضی الله عنهم وویل چي راسی سره تقسیم یي کړو او بعض ملګرو وویل چي دا خو تا پر قرآن مزدوري واخستل دا به حرام وي . نو مورږ پسونه را رهي کړه څو چي نبی کریم ﷺ ته راغلو او مذکوره موضوع او قصه مو ورته وکړه . اول خو علیه السلام و ماته وویل : ومایدریك أنها رقیة . او بیا یي نورو ته وویل چي سره وي ویشی او ماته هم برخه پکښي راکړی .

پوه سه ! چي علیه السلام که څه هم حاضر په واقعه کي نه وو لکن ددوی د زړو د اطمنان دپاره ده وویله : **واضربُوْا لي بسهمٍ** .

بعض وهابیان او ددوی هم فکران وایي : چي دا خو صحابه وو رض د کافرانو څخه مشروطه مزدوري پر قرآن واخستله . د مسلمان څخه پر رقیه د قرآن مشروطه مزدوري حرامه ده .

والجواب : چي که دا مزدوري پر قرآن مبارك اخستل حرام وي نو د کافر اومسلمان نو څه فرق دی لکه چي په نورو مزدوریو کي د کافر اومسلمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فرق نسته .

درویش وایي : دا وو صحیح دلیل پر اخستلو د اُجرت پر دم کولو د امراضو یعني چي خُرمت لاځه کوي کراهت هم نسته پکښي .

مسئله : اخستل د مزدوري پر اذان کولو ، امامت کولو ، تعلیم القرآن او یا فقهي شریف وغیره روا ده . شارح الوقایه وایي : لظهور التواني في امور الدین . یعني په قدیمه زمانه کي د مذکوره امورو پر کولو اشتراط د مزدوری ضرورت نه وو ولي چي خلګو په خپله ضروریات د موذن ، امام او معلم القرآن وغیره ورکوله . اوس چي د خلګو همت کم سو او همتونه کمزوري سوه ، نو د اشتراط څخه چاره نسته .

مسئله : مشروطه مزدوري پر شي چي وي د زکات په ځای کي نه دریږي مثلاً روزانه مزدور ته دي سل روپی اجرت کښینبوده هغه په ورکولو سره د زکات غاړي نه خلاصیږي . وهکذا الاجرة المشروطة للامام وغیرها أد لافرق بین اجرة واجرة .

مسئله : امام وغیره که څه هم غني وي د اجرت مشروطه اخستل روا دي لکه نوري مزدوری چي ورته روا دي .

پوه سه ! چي اخذ د اجرت پر امور مذکوره وو په اجماع د متاخرینو د احنافو روا ده . په دي باره کي فتاواوي د فقه شریفي مطالعه کړه او پر تفسیر جلالین باندي په لویه حاشیه کي دا تفصیل موجود دی . دا بیان پر دول د معترضه جملو راغی . او اوس بیرته د سورة الشفاء پر لور .

وروی عن جابرؓ فاتحة الکتاب شفاءٌ لکل شیئ الا السام والسام هو الموت . وروی البهیقي عن عبدالملك بن عمیر مرسلاً قال علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام فاتحة الكتاب شفاءٌ من كلا داءٍ . علامه مناوي رحمه الله وايي چې دا مبارك سورت د مرض د جهل او د مرضه څخه ګناهو ، او د امراض ظاهره او باطنه ټولو شفاء ده لكن حُسن عقيده او د عليه الصلوة والسلام و اقوالو ته د زړه په يقين كتل لوى شرط دى.

۱۹: سورة الشافية : ولې سورة الفاتحة تبرءُ الاسقام والآلام و تعجل العافية في حينها . قال عليه الصلوة والسلام : ان فى سورة الفاتحة سبعين شفاء . والاحاديث الصحيحة فى ذالك كثيرة وفى ماذكرناه كفاية.

۲۰: سورة الصلوة : په دې سبب بولي چې لمونځ پر دې موقوف دى. لحديث اخرجه البخارى رحمه الله و مسلم رحمه الله ومالك رحمه الله فى الموطا و ابوداود رحمه الله والترمذي رحمه الله والنسائي رحمه الله وابن ماجه رحمه الله و ابن جرير رحمه الله و ابن الا نبارى رحمه الله عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم . قال : كه چا يو لمونځ د لمونځو څخه وکړى او په هغه لمانځه کې ام القرآن ونه ويله نو هغه لمونځ ناقص دى ، ناقص دى ، ناقص دى . غيرتام .

او په بل حديث طويل کې ټولو صحيح کتابو د حديثو يې روايت کړى عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول قال الله تعالى قسمت الصلوة .

پوه شه ! چې مراد د صلاة څخه په دې حديث کې سورة فاتحه ده . كما يدل عليه الحديث وهذا مجاز من باب التسمية اللازم باسم الملزوم ، ولې د لمانځه سره الحمدلله لازم ده . فالمعنى قسمتُ الفاتحة بينى و بين عبدي نصفين ، فنصفها لى ونصفها لعبدى و لعبدى ما سئل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه : ما ویشلی ده فاتحه په مابین کي خپل او د بنده خپل دوه خایه، نو نیمی یي زما دی او نیمی یي زما د بنده دی او زما بنده لره هغه شی دی چي دی یي سوال کوي . قال علیه السلام یقول : العبد الحمدلله رب العالمین ° فیقول الله تعالی : حمدنی عبدی . یقول العبد : الرحمن الرحیم ° یقول الله تعالی : اثنی علی عبدی . ویقول العبد مالك یوم الدین° یقول الله تعالی مجدنی عبدی . یقول العبد : ایاك نعبد و ایاك نستعین ° یقول الله تعالی هذه الآیة بیني و بین عبدی . یعني ایاك نعبد لي، وایاك نستعین للعبد . ولعبدی ما سئل . یقول العبد : اهدنا الصراط المستقیم ° صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ° یقول الله تعالی هذه لعبدی ولعبدی ما سئل .

پوه سه ! چي تفصیلي ترجمه د بسم الله او د الحمدلله به وروسته واوري انشاء الله تعالی.

۲۱، ۲۲: سورة الدعاء و سورة الطلب : ولي چي په اهدنا کي هم طلب سته او هم دعاء .

۲۳: امام فخرالدین الرازی رحمه الله یي په دي نامه یولي لاشتمالها علی السوال کما ذکرنا .

۲۴: سورة تعلیم المسئلة : ولي چي په دي سورت کي خدای ﷻ بندګانو ته دا وښوله چي څه وخت چي دوی زما څخه سوال کوي اول حمد ووایاست او بیا اخلاص کوي او بیا سوال کوي . په در منثور کي وایي : چي ام القرآن هم قرائت دی او هم مسئله او هم دعاء ده .

۲۵: سورة المناجات : لان المصلی یناجي ربه فیها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۲۶: سورة التفويض : ولي چې د الحمدلله سپارنه د خپلو کارو په ایاك نستعين کې وه خدای جل سلطانه ته وکړه .

۲۷: سورة المكافات : په صحيح حديث کې راغلي دي چې څه وخت چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم په مکه مکرمه کې وو او مسلمانان د هغه وخت په ډيره فاقه کښې او مسکنت کې وه او د کفارو د مکې اوه ۷ قافلې تجارتي مکې ته داخلې سوې او حسب العادت د هغه وخت ډول د خوشحالی يې وډبه وي مسلمانانو په نګاه د حسرت پر خپل خان ددي قافلو ته کتل . نو جبرئيل عليه السلام دپاره د دفع حسرت د دوی د لوی جناب حخه دا آيت ، د نبي عليه السلام ته قرائت کړی : (ولقدآتيناك سبعاً من المثانى والقرآن العظيم) چې معنا يې داده چې تاته ما مکافات او عوض د اوو قافسو د قريشو درکړي دی چې سبع مثاني يعني فاتحه ده .

۲۸: افضل سُور القرآن : لما اخرجه احمد رحمه الله والبهيقي رحمه الله فى شعب الايمان بسندٍ جيدٍ عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال له الا اخبرك باخير سورة نزلت فى القرآن قلتُ بلى . يارسول الله قال فاتحة الكتاب.

۲۹: اعظم سورة فى القرآن : ددي نامه وجه هغه حديث مبارك دی چې روايت يې احمد رحمه الله او بخاری رحمه الله ا دارمي رحمه الله او ابوداود رحمه الله او نسائي رحمه الله او حسن بن سفيان رحمه الله او ابن جرير رحمه الله او ابن حبان رحمه الله او حاكم رحمه الله او ابن مردويه رحمه الله او ابونعيم رحمه الله او بهيقي رحمه الله او د ابوسعيد رضي الله عنه څخه کړی دی . دی وايي چې زه پر لمانځه يعني نفلي ولاړوم چې عليه السلام را ډغ کړه يعني چې راسه ، ما جواب ورنه کړی يعني په سبب د لمانځه . حتى لمونځ مي پوره کړی بيا عليه السلام ته ورغلم . ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبارك راته وويله چه څه مانع وو چي په اوله نعره زما نه راغلي ؟ ما ورته وويل چي ما لمونځ کاوه . ده مبارك صلى الله عليه وسلم وويله چي خدای جل شانه وايي چي تاسي قبلونه کوی د خدای ﷻ او د رسول دخدای چي تاسي وبولي يعني لمونځ به دي پري ايښی وای . او بيا بي راته وويل چي زه وتاته ونه ښيم هغه اعظم سورت په قرآن مبارك ي دمخه تر دي چي ته د مسجد څخه ووزي ؟ او بيا يي زه تر لاس ونيولم ، نو د مسجد څخه ووتو چي مور نژدي سو ، نو ما ورته وويله چي تاسي وويل چي زه به اعظم سورت د قرآن پاك دروښيمه . نو آن حضرت صلى الله عليه وسلم وويل : الحمدلله رب العالمين هی السبع المثاني والقرآن العظيم الذي أوتيته .

۳۰: المنجية يعني نجات ورکوونکی وه قاري ته د عذابو څخه د دنيا او آخرت .

درويش وايي : د حديث مذکور آنفاً څخه دا معلومه سوه چي بسم الله آه جزء دَ الحمدلله نه ده ولي چي عليه السلام شروع د اعظم السورة د الحمدلله رب العالمين څخه وکړه .

دا وه نومان د سورة فاتحه ، اوس تفسير ددي سورت مبارك د بسم الله الرحمن الرحيم څخه شروع کيږي . شروع کوم يعني د تفسير د قرآن عزيز . په ياري او کومك د نامه د خدای ﷻ ، نو لفظ د (باء) چي حرف جر دی د پاره د استعانت دی او يا زه شروع د تفسير کوم په داسي حال کي چي زه متلبس يم په نامه د خدای ﷻ نو پر دي تقدير (باء) د ملابست دپاره ده . الى غيرذالك من معانى باء الجر . چي هغه خدای ﷻ مهربانه او بخښونکی دی . ما داسي وويل چي زه شروع کوم د تفسير آه ددي دپاره چي هر څوك چي هر کا د خير کوي او بسم الله ووايي متعلق د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حرف جر به د هغه کار لفظ دال په تقدیر کي ورسره وي ، مثلاً بسم الله اقرء ، بسم الله اسافر ، بسم الله اتوضأ ، بسم الله اصلی الی غیر ذالك .

پوه سه ! چي عامل مُقدر به تر بسم الله الرحمن الرحیم وروسته مقدره وي تاچي دلالت وکړی پر حصر د شروع دکار پر نامه د خدای ﷻ ، ولي نحات وایي چي تقدیم د ماحقه التاخیر یُفید الحصر . نو کفار د مکې چي دوی به شروع د کارو باسم اللات والعزی چي ددوی د خدایانو نومان وه کول به یي . او بعض ددوی په نامه د خدای ﷻ او د لات و عزی دواړو به کوله نو په دي حصر پر دواړو ډلو به رد راسي ، ولي چي مونږ خپله شروع د کار یوازي او یوازي پر نامه د خدای ﷻ حصر کړه ، نو پر اوله ډله په قصر قلب او پر دوهمه په قصر افراد رد وسو.

فوائد فقهیه : فی باب البسملة :

۱: بسم الله واجبه ده په ابتداء کي د ذبح د حیوان .

۲: واجبه ده په وخت کي د ویشتو د ښکار په غشي سره .

۳: واجبه ده په وخت کي د تعلیم یافته سپي په ښکار پسي . په بعض کتابو کي د فقهي وایي چي په وخت د ذبح دی فقط بسم الله وایي او رحمن الرحیم نه ورسره وایي . ولي چي ذبح د رحمت خامي نه ده . لکن په جوهره کي وایي که چیري سړی په وخت کي د ذبح پوره بسم الله الرحمن الرحیم ووایي ښه کار دی .

۴: او واجبه ده دمخه تر الحمدلله په هر رکعت کي ، لکن صحیح داده چي دمخه تر الحمدلله ویل د بسم الله سنت دی لکه چي په عامو کتابو د فقه شریفي راغلي دي . اوسنت ده بسم الله آه ویل په شروع کي د اوداسه او سنت ده بسم الله ویل پوره په وخت کي د شروع په هر ښه کار . لکه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن مبارك تلاوت او د علومو دینیه د درس په شروع کي . د دیني کتابو د لیکلو او د تصنیف په وخت کي .

او بسم الله ویل مباح ده په نیز د ولاړي یا ناستي . یا د تګ په ابتداء کي اویا پري وتلو په وخت کي .

او بسم الله ویل مکروه ده په وخت کي د لخ عورت غلیظه او پر مردار خای کي . او په اول کي د سورت برائت او په وخت د چلم څکولو ، او د نسوارو کولو ، او یا د بوی ناکه شي د خوړلو په وخت کي . لکه اوږه یا پیاز ، یاګندنه .

او بسم الله شریف ویل حرام دي په وخت کي د حرام کار کولو. لکه چي سړی شراب چښي . او یا چي سود کټلي مال خوري ، یا زنا کوي ، بلکه په فتاوای برازیه کي وایي چي کافر کیږي هغه څوك چي پر حرام قطعي بسم الله ووایي . او دغه رنګه بسم الله ویل حرام ده د جُنب او حائضي ښځي چي په نیت د تلاوت القرآن یي وایي .

سوال : ستا تفسیر خو دپاره د عامو پښتنو وو ، نو عام پښتانه په قصر قلب او قصر افراد او یا په تقدیر د متعلق د حرف جر وروسته څه پوهیږي؟

جواب : زما دغه تفسیر د پښتنو دپاره دی که عوام وي او که طالبان وي او که بعض ملایان وي ،یعني چي حاسدان او اهل تکبر نه وي . په پښتو کي متل دی چي درياب که لوی دی چمچی دي خپله ده .

پوښتنه : څه سبب دی چي ټوله مصنفین د کتابو او د رسالو په اول کي بسم الله الرحمن الرحیم لیکي ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : اول خو دوی متابعت د قرآن پاك کوي چي د هغه په اول کي بسم الله آه راغلي ده . دوهم : نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي هر کار چي د خير او برکت وي او په هغه کار کي شروع په بسم الله نه وسي ، هغه کار به د برکت څخه خالي پاته وي النواوي رحمه الله په اول جلد کي د مسلم د شرحي .

د ﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ﴾ په باب کي بحثونه مائابت منه بحثاني فائدي :

۱ : لفظ د (الله) نوم دی د ذات دخدای پاك . او عربي لفظ دی چي معنا يي معبود ده . او دا مذهب دی د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله تعالى او د محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله او د امام شافعي رحمه الله او د خليل بن احمد رحمه الله .

۲ : امام محمد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله څخه روايت کړی دی چي (الله) اسم اعظم شريف دی . او فقيه ابو جعفر رحمه الله وايي چي دا مذهب دی د ډيرو علماوو رحمهم الله او د اکثرو صوفيه کرامو رح . او تر دي لوی ذکر نسته . رد مختار صفحه ۵ جلداول .

سوال : په حديث شريف کي راغلي دي چي په اسم اعظم سره سړی د خدای هر شی وغواړي خدای پاك يي اجابت او قبلونه کوي او ډير ځله مونږ دا نوم مبارك وه خدای ﷻ ته شفيع کړی دی او کار مو نه دی سوی ؟

جواب : اول درخواست لره څېل شرطونه سته چي د جملي څخه د هغو يو شرط لقمه حلال ده ، نو شايد درخواست کوونکی به لقمه حلاله نه وي . دوهم : د اجابت د سوال معنا يوازي دا نه ده چي هغه مطلوب د داعي به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکوي . بلکه دا هم اجابت دی چي یو شر وه داعي ته متوجه سي . هغه ځني دفعه کړي . او دا هم اجابت دی چي تر مطلوب د داعي خیر شی وده ته ورکړي . مثلاً سړی دیر دیر واړه د اسم اعظم په روی د خدای ﷻ څخه دیر دنیا غوښتي وی خدای ﷻ په عوض کي د هغه وه دغه سړي ته صالح ځوی ورکړی . او دا هم اجابت دی چي خدای ﷻ په عوض د مطلوب د داعي عفو د بعض کبائرو ګناهو وه داعي ته وکړي . او دا هم اجابت دی چي خدای ﷻ وه داعي ته درجات په جنت کي ورکړي . حاصل داچي شفاعت د اسم اعظم بي ځایه نه ځي .

درویش وایي : که څوك دا اسم مبارك په لسو ۱۰ ورځو اعتکاف د روژي سره په اجازه د شیخ مرشد ۵۰۰۰۰۰ یعني پنځه لکه واړه ووایي، او وروسته تر هغه هره ورځ یا شپه یي ۲۳۶۰ یعني دوه زره دري سوه او شپیته واړه همیشه په اجازه د شیخ کامل وایي ، درخواست به یي دیر وه اجابت ته نژدي سي . او که یو چاته یو سخت مهم کار پیښ سي چي شرعاً رواوي ، نو دماخستن تر لمانځه وروسته دي دوه رکعته لمونځ وکړي نفل او دا اسم مبارك دي ۲۳۶۰ واړه په یوه ناسته کي ووایي او د خپل مُهم په یاره کي دي شفیع وه خدای ﷻ ته وګرځوي تر درو شپو پوري انشاء الله تعالی هغه مُهم دده به حاصل سي .

فائده : د پوره بسم الله الرحمن الرحیم ° ورد همروزه ۷۸۶ واړه . او که سړي ته یو دیر سخت کار پیښ سي چي دی یي په حل کي عاجزه او پاته راسي ، نو په یوه شپه کي دي پوره بسم الله الرحمن الرحیم دوولس زره ۱۲۰۰۰ واړه ووایي ، په دي ترتیب چي پر هر زر باندي دوه رکعته نفل کوي ، که خدای کول هغه مشکل به خدای ﷻ حل کړي . ذکره الامام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابوحامد محمد الغزالي رحمه الله في احياء العلوم .

الـــرحمن : عربي دی . درحمت څخه جوړ سوی دی او د خدای ﷻ اسم صفت دی . او رحمن تر رحیم ابلغ دی . **لأن زيادة المبنى تدل على زيادة المعنى** . او زیادت د معنا یا په اعتبار د مقدار د نعمتو دی . **ولهذا قيل يا رحمن الدنيا ويارحيم الآخرة** ، ولي چي متعلق د نعمتو د خدای ﷻ په دنیا کي چي عبارت د صحت او عافیت او رزق څخه او نور دنیاوي نعمتونو کافر او مسلمان ټولو ته شامل دی . او د آخرت نعمتونه چي جنت او نوري ښي او ښادی دي مخصوص په مومنانو سره د ټولو امتو دي . سعدي :

ای کریمي که از خزانه غیب ✣ گبر و ترسا وظیفه خور داري

دوستان را تو کی کني محروم ✣ تو که با دشمنان نظر داري

یا په اعتبار دعظمت او د لوی والي د نعمت ده . **ولهذا قيل يارحمن الدنيا والآخرة ويا رحيم الآخرة** . معنا يي داده : اي ورکوونکي د لويو لويو نعمتو په دنیا او آخرت کي او یا د لويو نعمتو په آخرت کي ، ولي چي په دنیا کي لوی او کوچني دواړه نعمتونه ستة . او د آخرت نعمتونه ټوله لوی دي . يعني نسبت وه ټولو نعمتو ته د دنیا . **وان كان بين نعم الآخرة تفاوت عظيم لايخفى** .

پوښتنه : رحمان که څه هم اسم صفت دی لکن وه غیر ته د خدای ﷻ رحمن ویل ناروا دي لکه لفظ د الله ، لکن دا قدر فرق لري چي اختصاص د لفظ د الله اختصاص وضعي دی ز او اختصاص د لفظ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمن اختصاص استعمالي دی ، نو بیا څرنګه موږ وه یوه سړي ته چې نوم یې عبدالرحمن وي رحمان وایو ، ایا دا ګناه نه ده ؟

جواب : عمومي کتابونه خو داغسي وایي لکه سائل چې وویل ، لکن د ردمختار صفحه ٦ کې وایي چې مخصوص په خدای پاک پورې یعنې چې پر بل چا یې اطلاق ناروا وي لفظ د (الرحمن) دی یعنې چې معرفه په الف او لام سره وي او د منکر اطلاق پر غیر د خدای ﷻ روادی . او الرحیم هم اسم صفت د خدای جل سلطانه دی . والفرق بینهما قد مرّ آنفاً.

د تصوفو په کتابو کې وایي چې که سړی الرحمن ۲۹۸ واړه او الرحیم ۲۵۸ واړه خپل ورد وګرځوي خدای پاک به یې رزق پراخه کړي .

په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایله چې کیلي او چابي د قرآن بسم الله الرحمن الرحیم ده .

روایت ابن عباس ﷺ کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویله چې څه وخت چې یو بنوونکی وه متعلم هلك ته ووایي چې ووایه بسم الله الرحمن الرحیم ° هغه هلك هم بسم الله شریفه ووایي ، خدای پاك لیکي کاغذ د نجات د دوزخ څخه د هغه هلك پر نامه او د هغه هلك د مور او پلار په نامه او د معلم پر نامه . تفسیر یعقوب چرخي صفحه ۷ .

پوښتنه : ایا د بسم الله الرحمن الرحیم ° په ویلو سره کبیره ګنهونه هم بخښل کیږي ؟

جواب : د فقهي شریفي او تفاسیرو کتابونه وایي چې کبیره ګنهونه په توبه پورې مربوط دی او دا هم وایي چې هر ښه عمل یا قول چې په احادیثو شریفه وو کې یې بخښه د ګناهو راغلي وي ، مراد د هغو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخښنه د صغيره ګناهو ده ، اما د کبيره ګناهو د بخښني هم اميد سته .
ولهذا قيل : به بها نمي بخشد ∴ و به بهانه مي بخشد
او په توبه د اخلاص چي پر شرائطو د توبي مشتمله وي يعني پر ګناه کولو پښيماني او د آئنده دپاره قصد او عزم کول چي زه بيا دا ګناه نه کوم او د خدای جل سلطانه بخښنه د کړي ګناه غوښتل ، ګناه کبيره يقيناً بخښل کيږي . ولي چي خدای پاك په ډيرو ځايو د قرآن مبارك په صيغه د مبالغي خان ته (تواّب) ويلي دي . او بل دليل دادی چي کافر په هره نوعه د کفر چي کافر وي او د هر عمر چي وي ووايي په صدق او اخلاص سره لا اله الا الله محمدرسول الله . مسلمان هغه کافر خپل ورور بولي او لور يا خور په نکاح ورکوي او که مړ سي جنازي ته يي ورځي . او خدای جل سلطانه وده ته اکبر الکبائر ګناه چي کفر وو وربخښي ، نو دي کافر څه وکړه ؟ صرف د کفر څخه يي توبه د صدق وکښل . نو مسلمان چي په صدق سره توبه د ګناه څخه وکاږي نو څرنګه به ارحم الراحمين عفو د ګناه کبيري نه ورته کوي . ولهذا ورد في الحديث النبوي ص : التائب من الذنب كمن لا ذنب له .

اميان خلګ وايي خدای ﷻ دي زمونږ توبه قبوله کړه ، او درويش وايي چي خدای ﷻ دي مونږ ته توفيق د توبي راکړي .

پوښتنه : که څوك د قرآنيت څخه د بسم الله منکر سي بايد په نيز د حنفيانو کافر سي ولي چي ددوی په نيز خو جزء مستقل د قرآن ده او سره ددي چي فقهاء د احنافو يي کافر نه بولي ؟

جواب : په نيز د فقهاوو منکر د هغه آيت کافر دی چي په اجماع سره قرآن وي . او بسم الله شريفه اتفاقي قرآن نه ده ، ولي امام مالك رحمه الله يي قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه بولي بلکه ذکر يي بولي .

سـوال : جُنُب ته او حائضي ښځي يا نُفساء ته ويل د بسم الله الرحمن الرحيم په نيز د حنفيانو رح روادي او که نه ، سره ددي چي دغه مذکور کسان د قرآنت د قرآن شرعاً منع دي .

جواب : دغه کسان تلاوت د بسم الله په نيت د تبرك کولای سي ، نه په نيت د تلاوت القرآن . خزينه صفحه ۸ .

پوښتنه : دغه کسانو ته ماسوا د قرآن څخه د نورو اذکارو ويل روا دي ، لکه لااله الاالله ، سبحان الله وبحمده او نور ورته اذکار ؟

جـواب : په اتفاق د ټولو مذاهبو روادي . دغه رنګه دوی وچاته السلام عليکم او يا وچاته په وعليکم السلام جواب ورکولای سي . او دغه رنګه الحمدلله رب العالمين په قصد د شکر ويلای سي نه په قصد د تلاوت القرآن . خزينه . صفحه ۸۴ .

فائده : په اسرار مخزونه صفحه ۸۵ کي وايي : که يو سړی وه يوه ظالم سړي ته ورځي او يا يو جابر حاکم ته ، نو پنځوس ۵۰ واره دي بسم الله تر پايه پوري قبل الدخول ووايي . په برکت ددي آيت به هغه ظالم يا جابر پر ده مهربانه سي او دده هيبت به پر هغه پريوزي او د شر څخه د هغه به يي خدای پاك وساتي انشاء الله تعالی

فائده : که سړی د يو پيرانی يا بيهوش په غوږ کي څلويښت واره بسم الله الرحمن الرحيم ووايي ، نو پيرانی به سړی پريږدي . او بيهوشه به په هوش کي راسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائـــده : که څوك بسم الله شریفه د بیدیدو په وخت کي شل ۲۰ واره ووایي ، په دغه شپه کي د شیطان ، پیري ، غله او د نابیره مرګ او هر آفت څخه به په امان وي .

فائده : که څوك بسم الله شریف ډیره هره ورځ وایي رزق به یې خدای ﷻ پراخ کړي او په آسانه توګه به رزه ور رسیږي .

فائده : که څوك د یکشنبي په ورځ د لمر راختو په وخت کي مخ پر قبله کښینې او بسم الله سره په عدد د رسولانو ۳۱۳ واره ووایي او سل واره وروسته درود شریف هم ووایي خدای جل سلطانه به یو نا بیره رزق ورکړي .

فائده : او که څوك بسم الله شریفه په حساب د ابجد ۷۸۶ واره په بنه اخلاص او حسن عقیده د هر حاجت دپاره چې په شرعه شریفه کي روا وي ووایي ، خدای جلت قدرته به یې هغه حاجت ور پوره کړي . او د ظالمانو او دښمنانو څخه که بیریږي هغه به خدای پاك ځني دفع کړي .

فائده : دپاره د تجارت د رباح او د ډیري ګټي دپاره که یې څوك په عدد مذکور سره یې ووایي تجارت به یې رانځ او رابح سي .

فائده : که یو سړی د بل چا د راجلبولو دپاره په عدد مذکور سره ووایي هغه سړی به ورته حاضر سي . وهذه الفوائد کلها فی شرح القدوري لهذا العبد العاصي ناقلاً من خ .

فائده : په حدیث شریف کي راغلي دي چې آنحضرت ﷺ وایي چې نه ردیږي هغه خواست چې په ابتداء کي د هغه بسم الله شریفه وویل سي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر کبیر په اول کي د ابوهریره ﷺ په روایت داسي راغلي دي :
چي رسول الله ﷺ ده ته وویله : یا ابا هریره چي ته اودس تازه کوي ، نو ته بسم الله الرحمن الرحیم ووایه . یعني دمخه تر اوداسه ، نو په تحقیق سره ستا نیکی لیکونکي ملکي به استراحت ونه کړي . ستا د نیکیو د لیکلو څخه تر هغو چي ته د اودس څخه فارغه نسي . او چي ته د جماع دپاره ماینې ته ورځي نو بسم الله شریفه ووایه یعني د پرتوګانې تر خلاصیدو دمخه ، ولي حفظه ستا یعني کراما کاتبین ستا به ستا دپاره نیکی نوشته کوي تر څو چي ته غسل د جنابت کوي .

درویش محمد عبیدالله ایوبي قندهاري وایي : چي په فضائلو د بسم الله الرحمن الرحیم بي شماره حدیثونه او د امامانو د دین قولونه راغلي دي . که درویش اکثر ددغو خواصو په شرح کي د قدوري جلد اول کي هم راوړي دي ، لکن د ا تولي فائدي د هغه چا په برخه کیږي چي حسن عقیده او د زړه اخلاص او پر اقوالو د آنحضرت یې کلك او د شك څخه خلاص یقین وي . که څوك مزید تفصیل غواړي نو تفسیر کبیر د امام رازي رحمه الله او روح البیان او اسرار ومخزونه او یعقوب چرخي تفسیر او نور کتابونه د احادیثو مبارکه وو او د تفاسیرو دي مطالعه کړي .
ومن الله التوفیق .

اوس د تفسیر د سوره فاتحه پر لور . لك الحمد وبك نستعین .

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١

تولہ ثناء او صفت خدای پاک لره دي چي رب او تربیه کوونکی او ساتونکی د ټولو مخلوقاتو دی .

پوه سه ! چي دلته دري لفظ دي چي په هغو کي د علماوو رح قدیماً و حدیثاً اختلاف دی ، هغه دري لفظه : حمد ، شکر او مدح دي .

مختاره داده لکه سید سند رحمه الله چي وایي چي حمد صفت کول دي د چا په ژبه سره پر یو ښه صفت چي هغه صفت د سړي په اختیار په ده موجود وي لکه چي سړی ووایي چي خدای پاك عالم دی ، قادر دی .

او شکر هم په اختیاري صفت پوري خاص دی لکن په مقابل کي د نعمت ، نو که په زړه سره وي لکه د چا سره په مقابل کي د نعمت محبت قلبي کول ، یا په ژبه وي لکه په مقابل کي د نعمت د منعم احسان بیانول او یا په لاس او پښو د منعم خدمت کول .

نو حاصل دادی چي حمد په اعتبار د مورد خاص دی یعني مورد یي یوازي ژبه ده او اعتبار د متعلق عام . که نعمت وي او که نعمت نه وي . او شکر په اعتبار د مورد عام دی یعني که زړه وي او که ژبه او که اعضاء وي . او په اعتبار د متعلق خاص دی : یعني متعلق یي یوازي نعمت دی .

فبینهما عموم وخصوص من وجه فتفکر فی الأمثلة الثلاثة التی یقتضیها العموم والخصوص من وجهٍ . والمدح یعم الاختیاري وغیره کما فی قولهم مدحتُ اللؤلؤ علی صفائها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه ! چي علامه تفتازاني رحمه الله په مطول کي وايي چي الف و لام د تعريف په الحمد کي دپاره د استغراق دي يه نيز د اهل سنتو يعني کل حمد سواء کان من ايّ حامد خداى پاك لره دي . او لام دپاره د جنس دى په نيز د معتزله وو .

درويش وايي چي دا اختلاف پر يو تحقيق نحوي بناء دى ، ورنه په معنا کي فرق راوړي ، ولي چي هر فرد د حمد خاص په خداى پاك پوري سي ، نو چونکه ماهيت د شي بيله ضمن د فرد په خارج کي نه پيدا کيږي ، نو ماهيت د حمد هم خاص په خداى ﷻ پوري دى . او چي ماهيت د حمد خاص په خداى پاك پوري سي ، نو چونکه دغه ماهيت په ضمن د هر فرد سته نو هر فرد هم خاص په خداى ﷻ پوري دى . هذا هو المشهور وقد ذهب القاضى ثناءالله رحمه الله فى تفسيره المظهرى الى احد هذين الاحتمالين وقال صاحب تفسير روح البيان الى احتمال آخر وقدّمه على الاحتمالين المذكورين . وقال لامُه للعهد اى الحمد الكامل وهو حمدالله لله كما فى مواضع عديدة من القرآن الكريم . او حمدالرسل او حمد كمل الأولياء.

درويش وايي : چي ظاهر داده چي مراد د مصنف مذكور رحمه الله د عهد څخه عهد خارجي دى په قرينه د مُقام .

ولهذا إختلف العلماء فى ان قضية الحمدلله من أىّ نوعٍ من القضايای المعتبرة فى المنطق .

درويش وايي چي تعيين د قضيه كه په لام تعريف پورې مربوط دي يعني كه لام د استغراق سي نو قضيه موجبه كليه ده . او كه لام د جنس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي نو قضيه مذكوره طبعيه ده . او كه لام د عهد خارجي سي نو قضيه شخصيه ده . او كه احتمال د لام عهد ذهني وي نو قضيه مذكوره مهمله ده متاخرينو ده چي په قوت كي د جزئيت ده.

سوال : څرنګه اختصاص د هرحمد او يا د ماهيت د حمد په خداى پاك پوري صحيح دى او سره ددي چي سړى ووايي زيد عالم دى . يا عمرو سخي دى الى غيرذالك . نو دا تولـه خو حمد دى او د زيد او عمرو وغيرهما دى .

جواب : دغه محامد هم په حقيقت كي راجع وه خداى جل سلطانه ته دى ولي معطى د علم او د سخاوت وغيرهما هم خداى دى . **قال الله تعالى:** والله خلقكم وما تعملون °

پوښتنه :بعضي امامان وايي چي الحمد خو مبتداء ده او وصف دى او الله اسم ذات خبريه دى نو حمل د ذات پر صرف وصف څرنګه روا دى ؟

جواب : دوى نه پوهيږي چي الله خو خبر نه دى بلكه متعلق د خبر دى . اصل خبر خو ثابت دى چي متعلق دى حرف جر دى. او ثبوت خو عام دى پر اعيان او صفات پر دواړو حمل كيږي . البته داسي سوال معقول دى چي لفظ د الله شرف ذاتي لري او حمد شرف وصفي لري ، نو بايد داسي وويل سي لله الحمد . ددي سوال جواب علامه تفتازاني رحمه الله وركړى دى چي شرف وصفي چي د مقام سره برابر وي پر شرف ذاتي ترجيح لري . چونكه دامقام مقام د حمد دى ، نو ددي كبله الحمد دمخه كړه سو . لأنهم قالوا البلاغة مطابقة المقال لمقتضى الحال .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه : بعض علماء وايي چې په الحمدلله کې دريم تعميمه سته او تخصيص سته . ايا دا خبره تر کومه خايه پورې صحت لري او هغه دري ۳ تعميمه څه شي دي او تخصيص يې څه دی ؟

جواب : هو، دا خبره صحيح ده او ډيره په زړه پورې ده .

اول تعميم د حمد دی چې لام استغراق يا جنس ځخه فهميږي .

او بل تعميم د حامد دی يعني د هر حامد د خوا چې صادر سي . که خدای پاك وي او که انس او که ملا نکه او جن وي . دا تعميم د ترك ځخه د فاعل مفهوم سو يعني حمدتُ يا احمد مثلاً يې نه ووايه .

دريم تعميم د زماني دی چې اسميه جملې ځخه چې مقيد په زماني پورې نه ده وفهميدی .

او تخصيص د لام جاره ځخه وفهميدی . وفيه نظر وله جوابٌ فتدبر.

پوه سه ! چې جمله د الحمدلله د جوامع الکلم ځخه يعنې چې سړی تفصيلاً په زړو اوصاف د خدای جل شانه بيان کړی . جمله د الحمدلله تولو ته شامله ده او د تولو ثواب پکښې درج دی .

پوه سه ! چې جمله دحمد پر حيات او علم او قدرت او اراده د خدای ﷻ دلالت کوي لأن المستحق للحمد لايکون الا من هو موصوفٌ بالصفات الاربعة المذکورة.

فائده : په الحمدلله کې خدای جل شانه استحقاق ذاتي د حمد ثابت کړی او رب العالمين سره استحقاق فعلي خان ته ثابت کړی . نو دا ماده د اجتماع د حمد او د شکر ده . او شکر د نعمت لازم دی او خدای ﷻ وعده د مزيد د هغه نعمت کړي ده چې شکر پر وويل سي . قال عزّ من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قائل: ولَئن شكرتم لأزيدنكم . اما د عُهدي د شكر خان ايستل اسانه كار نه دى . قال الله جل شأنه : وقليلٌ من عبادى الشكور°

سعدي شيرازي رحمه الله وايي:

عطائيست هر موى ازو بر تنم ❊ چگونه بهر موى شكرى كنم

پوه سه ! چه اصل الاصول د نعمتو د دنيا او آخرت ايمان دى چي ددي نعمت سره ابدي دوزخ حرام دى . نو بايد مسلمان د نعمت د اسلام په هر آن شكر ووايي او هر وخت په ويلو سره د لااله الاالله محمدرسول الله سره ايمان تازه كړي . او دخداى ﷻ څخه خاتمه د ژوند پر ايمان وغواړي .

رَبِّ الْعَالَمِيْنَ °هغه خداى چي تربيه كوونكى او ساتونكى د ټولو عالميانو دى .

پوه سه ! چي رب العالمين نعت نحوي دى د الله د ا رب اما صفت مشبه او يا په معنا د تربيه مصدر دى .

پر اول تقدير يي حمل حقيقتاً دى او پر دوهم تقدير يي حمل مُبالغتاً دى . مثل زيدعدلٌ . او د تربيت معنا رسوّل دي دي د شي وه كمال نوعي ته تدريجاً لكه چي حيوانات چي د پيدائښته وروسته وه كمال نوعي ته په بدن تدريجاً خداى پاك رسوي .

ددي آيت مبارك څخه دا معلومه سوه چي عالميان لكه چي په ابتداء كي دخداى ﷻ وه ايجاد ته محتاجه دي په بقاء كي هم ورته محتاجه دي . قاله المظهري والبيضاوي . او عالمين جمع ده د عالم . عالم ټوله ماسوى د خداى ﷻ وايي ، په دي سبب چي علامه دى پر وجود د قادر صانع رازق جل سلطانه لكه خاتم او طابع .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قال السعدي قدس سره :

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ✣ هرورقیست دفتري معرفت کردگار

او جمع راوړل یعني عالمین په اعتبار د ملاحظه د اجناسو د عالم ده . لکه عالم السموات ، عالم الارضین ، عالم الحیوان ، عالم النبات ، عالم الجمادات ، عالم الملا ئکة ، عالم الجن الی غیر ذالك .

ما داسي وویل چي په ملاحظه د اجناسو ، ولي چي اشخاصو ته په عرف کي عالم نه وایي . نو زید عالم نه دی بلکه فرد د عالم دی چي انسان دی .

پوه سه ! چي مراد د جنس څخه منطقي نه دی . بلکه جنس اصولي دی چي معنا یي داده : **کلی مقول علی کثیرین مختلفین بالأغراض فالإنسان جنسٌ عند الأصولیین لا عند المنطقین . لانهم یعرفون الجنس کلیٌّ مقولٌ علی کثیرین مختلفین بالحقائق . الخ**

سوال : په علم صرف کي وایي چي جمع په واو او نون یا یاء او نون په ذوی العقول پوري خاصه ده . او اجناس د عالم خو ټوله ذوی العقول نه دي ؟

جواب : هو، لکن په دي ځای کي تغلیب ذوی العقول ته چي انس او ملائکه او جن دي په اعتبار د شرافت ددوی ورکړی ده پر غیر د ذوی العقولو باندي . او بعض مفسران رح وایي چي عالم نوم خاص د ذوی العقول مذکوره وو دی او شموله وه نورو ته استباعاً دی .

درویش وایي چي دا تفسیر دلغتو د کتابو سره برابر نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده : احاطه علمي پر ټوله عالم شان دی د خالق القوي والقدر . حتی هیڅ نبي او هیڅ ملکه وغیره احاطه علمي پر ټولو مخلوقاتو د عالم نه لري . قال الله تعالی : ومایعلم جنود ربك إلاهو

وهب بن منبهه رحمه الله وایي چي : خدای پاك اتلس زره عالمه پیدا کړي دي الدنیا عالم منها . او آباتي د مخکي نسبت وه ښارو او مخکو ته لکه یوه خیمه چي په صحراء کي ولاړه وي . روح البیان په بعض تفصیل سره ددغو عالمیانو بعضي بعض ددوی ذکر کړي دي . إن شئت فراجع إليه .

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾

معنا ددي دوو مبارکو نومانو دخدای پاک د بسم الله په تفسیر کي تیره سوه .

قاضي ثناء الله رحمه الله په تفسیر مظهري کي وایي چي راوړل ددي دوو نومانو په الحمدلله کي دلیل ددي دی چي بسم الله جزء د الحمدلله نه ده ولي تکرار لازمیږي . لکن قاضي بیضاوي شافعي رحمه الله وه دي ته ښه معقول جواب ورکړی دی او مصنف د روح البیان کهڅه هم حنفي دی مګر د انصاف په منظور یي دغه دلیل ته جواب ورکړی .

پوه سه ! دخدای جل سلطانه د رحمت انتهاء چاته نه ده معلومه . بطور مُشت نمونه خروار . دا دوي قصي واوره :

د ذوی النون المصري رحمه الله څخه روایت دی . چه یوه ورځ زه مضطرب الحال وم ، نو د رود نیل وه غاړي ته ووتم ، که څه ګورم یو غټ لړم د نیل وه خواته په منډه روان دی ، نو زه په پسي سوم چي دا لړم څه کوي چي د رود نیل په خوا په څغاسته روان دی . لړم چي د رود نیل غاړي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسیدی ، یوه غټه چنګښه د رود په غاړه کې ورته ولاړه وه ، لړم یې پر شا سپور شو ، نو زه هم په کښتی کې پسې سپور سوم چې ددې غریب حال تحقیق ځان ته معلوم کړم . چنګونې لړم هغه بلې غاړې ته د نیل ورساوه او زه هم په کښتی کې . پر هغه بله غاړه یو ځوان په خواږه خوب بیده دی او د بل طرف څخه یو غټ مار پر را روان وو ، لړم چې در ورسیدی د مار سره په جنګ سو او یو پر بل یې د زهرو ګزارونه سره کول آخر الامر دواړه مړه سوه او ځوان هغه ډول بیده وو . درویش وایي چې دی عظیم رحم ته د خدای ﷻ وګوره چې په یوه دښمن بل دښمن د ځوانه ځخه دفع کوي .

او په عجائب المخلوقات کې یې راوړي دي چې د کارکه بچی چې د هګۍ څخه راووزي ، سرې غوښې وي او مور یې ځندې وتښتي او غماشي پر راجمع سي او دا بچی هغه غوماشي خوري تر هغه وخته پورې دا رزق غیبي روان وي ځو د ولد الغراب ټوله بدن په بونګښو پټ سي وروسته یې مور ورته راسي او دواړه سره په هوا سي .

پوښتنه : څه سبب دی چې مصنفین د کتابو او رسالو په اول کې تر بسم الله وروسته حمد د خدای ﷻ وایي په رنګارنګ جملو او عبارتو سره ؟

جواب : په حدیث شریف کې چې روایت یې ترمذي او امام نواوي او نورمحمد په حاشیه د عبدالغفور کې کړی دی داسې راغلې دي چې هر هغه کار چې درلودونکی د شرافت وي او شروع د هغه کار په حمد د خدای ﷻ ونسي هغه کار به ابتر یعني بې برکته به وي او شک نسته چې تصنیف ښه کار دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال : په ډیرو کتابو کي حمد دخدای ﷻ نه لیدل کیږي حتی په دینې کتابو کي لکه بخاري شریف ، ترمذي شریف او کافیه وغیره کي ، نو دغه مصنفان ددغه صحیح حدیث څخه څرنګه مخالفت کوي ؟

جواب : مامورینه په حدیث شریف کي خو ابتداء د کار په حمد د خدای ﷻ عام تر دي چې لیکنه هم ورسره وي او یا صرف په خوله وي ، نو دغه مصنفانو د خولې پر حمد ویلو کفایت کړی دی ، کتابت یې نه دی ورسره کړی ، نو مخالفت د حدیث مذکور پر دوی نه دی لازم . د شرح جامي دریم مخ مطالعه کړه . او ددغه سوال نور جوابونه هم سته چې د بخاري شریف د اول مخ په حاشیه کي راغلي دي . او درویش ډیر جوابونه د سوال مذکور په فیض الصمد کي چې حاشیه د درویش پر نورمحمد د عبدالغفور ده هلته یې مطالعه کړه .

پوه سه ! چې د بسم الله الرحمن الرحیم په بیان کي د الرحمن الرحیم بیان تیر سو .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝٣

پوه سه ! چي مالِك او مَلِك دواړه قرائت متواتره دي ، نو ترجيح وه يوه ته پل بل باندي صحيح نه ده . كذا في التفسير المظهري . ثم معناهما واحد وهوالرب . لكن حق داده چي مَالِك د مِلك څخه بكسر الميم څخه مشتق دی چي معنا يي په فارسي خاوند ده . كما يقال مالِك الدار ، ورب الدار يعني خاوند د سرای . والمُلك مشتق د مُلك څخه بضم الميم دی چي د مَلِك معنا سلطان او بادشاه دی . دا دواړه صفت د خدای پاك دي .او اضافت د مالك وه يوم الدين ته اضافت دی وه ظرف ته يعني ظرف په ځای كي د مفعول درولی دی . نو اصل داسي وو : مالِكُ الامور في يوم الدين . او مراد د يوم الدين څخه په اتفاق ورځ د قيامت ده .

څوك د دين معنا په جزاء سره كوي ، كما في المثل المشهور : كما تُدِينُ تُدَانُ ای كما تفعل تُجَازِي . قال المظهري وهو حديث مرفوع ايضاً رواه ابن عدی في الكامل لكن سنده ضعيف .

او مجاهد رحمه الله وايي چي معنا د يوم الدين ، يوم الحساب ده وهو صحيح ايضاً . ولي په دي ورځ حساب د خلكو سره كيږي . او بعض مفسران يي په معنا د يوم القهر بولي . او بعض وايي چي دين په معنا د طاعت دی . څوك وايي په معنا د اسلام دی . وكل ذالك صحيحٌ .

پوه سه ! چي مالك يا مَلِك اوس په دنيا كي هم خدای پاك دی ، نو د يوم القِيامه د تخصيص څه معنا ده ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : چې په دې دنیا کې مَلک او مالِک پر غیر د خدای ﷻ هم اطلاق روا دی که څه هم مجازاً دی . او په ورځ کې د قیامت یې مجازي اطلاق پرغیر د خدای ﷻ هم قطع کیږي . **قال الله تعالی : لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ؟ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ**°

پوه سه ! یوم په عُرف کې د حکماوو او په عُرف عام کې وه د راختو څخه د لمر بیا تر لویدو پورې ده . او په عُرف د شرع شریفې کې د راختو څخه د صُبح صادق بیا تر لویدو پورې د لمر ده . لکن مراد په آیت کریمه کې څنې مُطلق وخت دی . **لعدم الشمس فی یوم القیامة** . روح .

فائده : اګرچه قاضي ثناء الله په تفسیر مظهري کې وایي چې مالِك او مَلِك یو پر بل ترجیح نه لري لکن صاحب د روح البیان او معاني ترجیح د مالِك پر مَلِك باندې وایي ، په سبب د هغه حدیث صحیح چې علیه السلام وایي : من قرأ القرآن کُتب له بکل حرفٍ عشرَ حَسَناتٍ و مُحیتَ عنه عشر سَیِّئَاتٍ و رُفِعَتْ له عشر درجاتٍ. اوشك نسته چې مالك پر ملك باندې یو حرف بالادی . او بل دا چې قرائت د حرمینو شریفینو هم مالك دی . او بعض قراء چې د ملك قرائت راجح بولي هغه وایي چې ملك ابلغ دی تر مالك . ولي چې په مملکت کې ملك او سلطان یو سړی وي . او مالکان د شیانو په زرو او لکو وي . لکن درویش وایي چې په دلیل عقلي مقابله د حدیث نبوي ﷺ مذکور نسي کیدای . **والله أعلم بالصواب**.

فائده سنیة : حکمت د الله جل سلطانه په تاخیر د جزاء الی یوم القیامه دادی چې چاره نسته د فرق څخه په مابین کې د مُحسن او د مُسیئ . او د مطیع د فرمان الهي او د عاصي د امر الهي او د کافر او د مومن لیظهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العدل الإلهي. او دا فرق په دي دنيا کي چي دارالامتحان الاختياري ده امکان پذير نه دی ، ولي په دي دنيا که يو کافر په سبب د کفر يا مُسئ په سبب د اسائت او عاصي په سبب د عصيان په اور کي خدای پاک واچوي او مقابل ددوی په جنت کي ، نو ايمان او احسان او اطاعت ضروري او بديهي گرځي او سلسله د امتحان الهي قطع گرځي . فلابد لذالك المذكور من دارٍ اخرى ، چي هغه يوم القيامه ده ، يعني د تکليف الهي دوره پای ته ورسيږي او د امتحان الهي نور خای پاته نسي . نو به چاته عُذر نه وي پاته ، نو هر چاته په اندازه د اعمال حسنه وو او سيئه او ايمان و کفر قادر متعال جزاء ورکړي. كماقال الله تعالى : ليجزى الذين اساءوا بماعملوا ويجزى الذين أحسنوا بالحسنى ° وقال أيضا : أم نجعل الذين آمنوا وعملوالصالحات كالمفسدين فى الارض ام نجعل المتقين كالفجار ° تفسير كبير جلداول مع زيادةٍ من العاصي.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٤﴾

خاص خدایه ستا عبادت کوو او خاص ده تا څخه کومک او توفیق او یاري غواړو په تولو مهماتو کي خصوصاً په امورو کي د عبادت ستا .

درویش وایي : چي مصنف د تفسیر خازن محی السنه رحمه الله په خپل تفسیر کي وایي : والعبادة اقضی غایة التذلل من العبد ونهایة التعظیم للرب سبحانه وتعالی لأنه العظیم المستحق للعبادة ولاتستعمل العبادة الا فی الخضوع لله ﷻ لأنه معطی اعظم النعم . وهی ایجاد العبد من العدم الی الوجود ثم هداه الی دنیه الی غیرذالك فکان العبد بالخضوع والتذلل له تعالی آه .

درویش وایي چي بعض علماء مخالف چي وایي که یو سړی د بل لاس مچ کړي یا یي پښي ور مچ کړي ، دا هم عبادت دی او دا مشرك دی غلطه خبره ده ، ولي د عبادت په معنا کي تعظیم الرب ماخوذ دی . کما سمعتَ من کلام الخازن رحمه الله وایضاً ده رحمه الله وویل ولاتستعمل الخ ، نو څرنګه لاسونه او پښي د بنده مچول عبادت دی . وقال المظهري فی تفسیره والعبادة أقصی الخضوع والتذلل آه درویش چي اقصی الخضوع والتذلل هو وضع العضو الشریف وهوالوجه علی التراب کما کان یفعله المشرکون لآلتهم . فمن أین تقبیل الید والرِّجل من اقصی الخضوع والتذلل .

پوښتنه : مخالفین وایي چي د لاس او د پښو په مچولو کي تعظیم د غیر الله دی او تعظیم د غیرالله شرك دی ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : دا حکم علی الاطلاق غلط دی ، ولي چې صحابه کرامو رضی الله عنهم ده رسول کریم ﷺ تعظیم په اعلی درجه کې کاوه حتی په حدیث صحیح کې راغلي دي انهم کانوا لایحدون النظر الیه ﷺ وفی حدیث واقعة الحدیبیة الطویل انه علیه السلام لایتخم ولایبزق الا وقع فی کف رجلٍ من الصحابة ﷺ ویدلك به وجهه . وهذا غایة من التعظیم . وقدوقع فی حدیث طویل آخر : چې سعد ﷺ چې پر خره سپور راغلی ، علیه السلام وه صحابه کرامو ﷺ ته وویل : قوموا الی سیدکم . او دا ولاړه وه سعد ﷺ ته دپاره د تعظیم دده وه . وقدورد فی حدیث الترمذي قال علیه الصلوة والسلام : من لم یرحم صغیرنا ولم یوقر کبیرنا ولم یجل عالمینا فلیس منا . وتوقیر الکبیر و تبجیل العلماء لیس الا لتعظیمهم . وایضاً الأولاد مأمورون شرعاً بتعظیم الوالدین ، والمتعلمین بتعظیم الأساتذة ، فکیف یکون التعظیم علی الإطلاق شرکاً ، بل الشرك هو التعظیم علی طریق العبادة و تفسیر العبادة قد مرَّ. او داسي تعظیم د شان څخه د مومن لغیرالله نه دی . وقد صح چې امام مسلم رحمه الله د امام بخاري رحمه الله وه زیارت او ملاقات ته راغلی . او امام بخاري رحمه الله یې په مابین العینین کې مچ کړی او ورته وې ویل . دَعني أُقبِّلُ رجلیك. نو دا تعظیم د بخاري رحمه الله نه وو .

فائده : د الحمدلله څخه بیا تر دي خایه پورې ابتدائي حالات د عارف بیان سول چې حمد د خدای ﷻ او صفات کریمه د خدای جل سلطانه وه . اوس ګویا په دغو صفاتو سره خدای ﷻ ته حاضر سو او د بنده د خطاب په لهجه وایي : یامَن هوموصوف بالصفات المذکورة نَخُصُّكَ بالعبادة و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لانعبد غيرك .

فائـــده : د عـادت سره د عربو سم دوی په خپلو خبرو کي نفنن يعني تجديد کوي حتى چي د غيبت څخه وه خطاب ته به يي عبارت نوی کوی، وهكذا من التكلم الى الخطاب والغيبة ، ومن الخطاب إلى الغيبة والتكلم. نو دا شپږ وجهي د تفنن فى العبارت چي د تولو مثالونه په مطول او مختصر کي مذکور دي .

ماقال صاحب المدارك وصاحب المظهري رحمهما الله . نو اياك نعبد آه چي تر غيبت وروسته د متكلم صيغه راغله ، د قسمه څخه د تفنن فى العبارة ده .

فائده : تقديم د مفعول چي اياك دی پر عامل د هغه چي نعبداو نستعين دي دپاره د تعظيم د مدلول د اياك چي ذات دپاك الهي دی . او بل دپاره د حصر لأن تقديم ماحقه التأخير يفيد الحصر كما فى علم المعاني . قال ابن عباس في تفسيره معناه نعبدك ولانعبدغيرك.

پوښتنه : قاري د الحمدلله آه خو يو سړی وي ،نو ضمير د متكلم مع الغير وه چاته راجع دی ؟

جـواب : په روح البيان کي وايي چي ضمير د نعبد و نستعين راجع وه قاري او هغه ملکي چي دده سره دي چي (حفظه) يي بولي او حاضرينو ته د جماعت په لمانځه کي ، نو په دي کي اشعار دی پر التزام د لمانځه د جماعت چي سُنت موکد بلکه واجب دی . كما فى فتح القدير . او يا ضمير راجع وه قاري او تولو مومنانو ته دی ، نو فائده ددوی داده چي قاري ګويا خپل عبادت او خپل حاجت غوښتنه درج کړه د نورو مومنانو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

په عبادت کي . او خپله حاجت غوښتنه يي درج کړه د نورو په حاجت غوښتنکو په حاجت غوښتنو کي ، نو د کريم بادار په دربار کي به يا دغه ټوله اجتماعي عبادات او ټولي اجتماعي دعاګاني به يا رديږي او يا به ټوله قبليږي . ولي سخي سړي ته دوه يا دري سائلان يو خاى ودريږي او شى لله څني وغواړي ، نو دا سړى بيا ګردو ته جواب ورکوي . او يا به هر يوه ته يو څه په لاس کي ور ايږدي . نو خداى جل سلطانه چي کريم مطلق دى اولى او اخرى په دغسي معامله کي دى . او عبادت چي انفرادي وي يا سوال د خداى جل شانه څخه په انفرادي توګه وي ، نو حال د عابد او حال د سائل خداى جل سلطانه ګوري ، يعني وه اخلاص ته د عابد او بنه عقيدي ته د سائل . نو که دده عبادت لائق د قبليدو وو قبول به يي کړي او که رد وو رد به يي کړي ، او دغه رنګه درخواست د سائل به يا کريم بادار قبول کړي که پر شرائطو د قبول برابر وو او يا به يي نه کړي قبول .

افسوس بعضي کسان چي خانو ته موحدين وايي لکه وهابيان وغيرهم . دوى وايي چي دعا پس له سنتو په اجتماعي ډول بدعت ده . ددوى عوام بدعت ته د حرام په سترګه ګوري . ولي د بدعت ترجمه قصداً دوى نه ورته کوي ترڅو چي عوام ددوى هغو علماوو ته چي تر سنتو وروسته دعاء په اجتماعي ډول کوي په نظر د کراهت او د عداوت وګوري او د هغو وه نصيحت او خبروته غوږ ونه نيسي

ګرانو لوستونکو! دوى وه خپلو عوامو ته وايي چي په اجتماعي ډول دعاء وروسته تر سنتو د عليه السلام څخه نه دي ثابت سوي . نو که دعاء بنه کار وايي ، نو عليه السلام به کولاى .

درويش وايي که دوى د اجتماعي دعاء څخه د عليه السلام مطلقًا منکر وي نو دا ددوى غټه غلطي ده ولي په استسقاء کي عليه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اجتماعي دعاء کړي ده . رواه البخاري ومسلم وغيرهما . او که هغه اجتماعي دعاء دوی مني او دوی مخصوص بعدالسنن دعاء څخه منکر وي ، نو بيا بدعت ولي ورته وايي ، خکه د بدعت ټولو علماوو رح دا معنا کړي ده چي په شريعت نبوي ﷺ کي هيڅ اصل نه لري . اجتماعي دعاء خو په شريعت کي اصل لري لکه په استسقاء چي دوی هم مني . او تر فرضي لمنځو وروسته چي عليه السلام دعاء نه کوله په اجتماعي ډول د هغه جواب دادی چي ده عليه السلام به بعض کارونه خوښ وه لکن نه به يي کوله کراهةً أن يتخذوا العمل المذكور سنةً. زه وه دوی ته وايم : چي عليه السلام په اجتماعي توګه ولي تراويح تر درو شپو بالانه دي کړي او خلګ يعني صحابه ﷺ يي ده اجتماعي نفلو يعني تراويحو څخه پس له درو شپو منع کړه او مونږ يي اوس په اجتماعي ډول همیشه کوو فما هو جوابكم؟ فهو جوابنا.

او بله خبره داده چي آيت مبارك د دعاء په باره کي مطلق راغلی دی . أدعوني أستجب لكم. يعني په اجتماع او انفراد نه دی مقيد. والقانون ان المطلق يجرى على اطلاقه مالم يمنع عنه مانع . والمانع الشرعي غير موجود كما سمعت آنفا.

درويش وايي چي د اجتماعي دعاء کولو په هر وخت کي ما په تفصيل په خپله رساله سره د دلائلو ذکر کړی دی چي هغه رساله که څه هم يا عليحده توګه نه ده چاپ سوي لکن د خيالي پر لوی بياض چاپ سوي ده هغه چاپ خيالي په کتب فروشانو کي د کوئټي د بازار دستياب کړه . انشاء الله تعالى اطمنان به دي حاصل سي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده : امام حجة الاسلام په خپل کتاب اربعین کې عبادات لس ښوولي دي يعني دغه عبادات وه غير ته د رب جل سلطانه نه دي روا . الصلوة ، والزكوة ، والصوم ، والحج ، وتلاوة القرآن ، وذكرالله في كل حال ، وطلب الحلال ، والقيام بحقوق المسلمين ، وحقوق الصحبة ، والأمربالمعروف والنهي عن المنكر ، وإتباع السنة النبوية .

پوه سه ! چې متابعت د سنت نبويه صلى الله عليه وسلم د توآر نيکو کارو کيلي ده . او علامت د محبت د خداى جل ذکره دى قال الله تعالى: (قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله) قال المولى الجامي رحمه الله الباري : يا بنى الله السلام عليك إنماالفوز والفلاح لديك.

گر نرفتم طريق سنت تو ÷ هستم از عاصيان امت تو

مانده ام زير بار عصيان پست ÷ اُفتم از پای اگر نگيري دست

درويش وايي : وهابيه او هم مسلك ددوى به وايي چې دا نداء وه غائب ته او دا كومك غوښتنه د اهل قبور څخه ناروا ده .

شهانه فائده : د مومن كامل بايد داعقيده وي چې معطي د ټولونعمتو خداى عزوجل دى او شافي د ټولو امراضو هم دى دى جل سلطانه او ښوونكى د ټولو علمو هم دى دى و بس . ددغه عقيدې سره سره كه څوك دپاره د قرض يا صدقې د يو غنې سړي كومك وغواړي د اياك نستعين سره منافات نه لري . ولې چې دده دعقيدې پر موافق دا يو سبب ظاهري او مجازي دى .

او دغه رنګه كه مومن ته يو مرض پيښ سي نو يو طبيب ته او دواء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهري ته رجوع وکړی او یا وه دواء باطني ته جي استشفاء بالقرآن د رجوع وکړي ، دا هم د ایاك نستعین څخه رجوع نه ده.

او دغه رنګه که یو سړی دپاره د زده کړي د علم ظاهر وه یو عالم ته ده قرآن مبارك یا د حدیثو مبارکه وو او د نورو علوم دینیه وو رجوع وکړی . دا هم د ایاك نستعین سره منافات نه لري .

او یا یو سړی دپاره د تحصیل د علومو باطنه وو یو شیخ کامل او مکمل ته سر د عجز کښته کړي ، دا هم د ایاك نستعین سره منافات نه لري . درویش وایي چي شاید دا آخر صورت به مخالفین نه منې .

او یا سړی د حسن عقیدي د کبله د اهل الله وه قبورو ته ورسي او استمداد څندي وغواړي دا هم د ایاك نستعین سره منافات نه لري . لکن مخالفین دا سراسر مشرك بولي والعیاذبالله .

درویش وایي : چي صوفیه کرام رح ټوله او حقیقي سني علماء د ظاهر دا استمداد روا بولي .

امام ابوحامد محمد الغزالی رحمه الله په احیاء العلوم کي تصریح په کړي ده . او مجددالف ثاني رحمه الله په مکتوبات شریف کي په دي سره تصریح کړي ده . باید ووایو :

الشمس شمسٌ و ان لم یرها الغریر ÷ والعسل عسلٌ وان لم یجد طعمه فاه المریر

مخالفان دونه دلاوره دي چي دوی وایي که یو سړی په نیت د قبرانو دسیدالمرسلین ﷺ وه مدیني منوري ته که څه هم په ایامو کي د حج وي سفر وکړي هغه مشرك دی والعیاذبالله . نو دداسي خلګو څخه نه ګیله په کارده او نه بحث ورسره کول کومه فائده لري . ولي چي دا نشه ددوی د دماغو څخه نه وزي . په قیامت به معلوم سي حق او باطل .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝٥

مورِ ته هدایت وکړي د هغه لاري چي په شرعي لحاظ سمه لار وي

پوښتنـــه : الحمدلله شریفه په هر لمانځه کي هم علیه السلام او هم صحابه کرامو رضی الله عنهم او هم تولـه اولیاء تلاوت کوي . بلکه تولـه مسلمانان ، نر او ښځي او دوی پر هدایت دی چي دین د اسلام دی . نو سوال د هدایت دځه دپاره کوي ، او علماء رح وایي چي طلب د شي چي سړي ته حاصل وي لغوه دی ؟

جواب : چي دا سوال دی د ثبات او دوام تر وخته د موت پر هدایت حاصله باندي . او دا معلومه خبره ده چي همیشه توب پر هدایت علیحده دی د هدایت ځخه . یعني په دي سوال کي مطلب نجات غوښتنه د ارتداد ځخه والعیاذبالله .

او بل جواب دادی چي مراتبِ د هدایت الهي هیڅ پای نه لري ، وفوق کل مرتبةٍ من الهدایة هدایةٌ أخری اعلی من الهدایة الحاصلة . نو گویا هر لوستونکی طلب د مزید هدایت کوي .

پوه شه ! چي جمله د اهدنا بیان دی د هغه شي چي په ایاك نستعین کي قاري وغوښتی ، نو گویا د جانبه د رب العزت وویل شول : کیف نعبدك؟ نو قاري وویله : إهدناالصراط المستقیم . او انبیاء علیهم السلام طلب د ثبات پر هدایت کړی . کما قال یوسف علیه السلام : توفني مسلماً . او صحابه کرامو رض په خپله دعاء کي ویله : وتوفنا مع الأبرار . او ویل یي : ربنا لاتزغ قلوبنا بعد إذهدیتنا . ولي پر ظاهر الحال الموجود اعتماد نه دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کول په کار . چې مآل او آخر د کار نه دی معلوم . ألا تری الی ماعرض لإبلیس و برصلیصا و بلعم بن باعورا فی آخر الامر نجانا الله تعالی منه. خصوصاً په اوسنې زمانه کې چې دین په دنیا خرڅول او دین په چوکی خرڅول او په صفو کې د کفارو دریدل دپاره د جنګ دمسلمانانو رواج ګرځیدلي دی . او د عوامو څخه وه خواصو ته یې تجاوز کړی دی .

وفی المثنوي .

صد هزار ابلیس و بلعم درجهان ٭ همچنین بودست پیدا وښهان

این دورا مشهور گردانید آله ٭ تاکه باشند این دو بر باقي گواه . ځنیق الهدایة

پوه شه ! چې اهل سنت وایي چې هدایت دلالت موصله دی وه مقصود ته، یعني چې یو سړی وه بل ته د حق او اسلام لار وښیي او هغه بل سړی وه هغه حق ته هم ورسیږي . او معتزله وایي چې هدایت ارائة الطریق دی یعني صرف لار د حق بیانول او ښودل ، که هغه سړی وه حق ته ورسیږي او که نه . او په بعض کتابو کې وایي چې حال د مذهبینو بالعکس دی یعني اول د معتزله وو مذهب دی او دوهم د اهل سنتو مذهب دی .

په هر صورت پر اول مذهب دا سوال واردیږي چې په قرآن شریف کې راغلي دي: إن هذاالقرآن یهدي للتي هي أقوم . او په دي کې شك نسته چې قرآن مبارك خوصرف ارائة الطریق کوي . ایصال وه حق ته دخدای جل ﷻ کار دی .

اول مذهب والا جواب ورکوي چې په آیت مذکوره کې د هدایت معنا مجازاً ارائة الطریق دی والإختلاف إنما کان فی المعنی الحقیقي للهدایة .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او پر مذهب ثاني دا سوال واردیږي چې خدای پاك وه علیه السلام ته خطاب کړی دی هغه وخت چې ده علیه السلام اکا د ایمان رواړو څخه انکار وکړی یعني ابوطالب چې ددې اکا وو او ددې سره یې ډیر ښه کړي وه ، ډیر غمجن سو . إنك لاتهدي من أحببت . الآية . او شك نسته چې علیه السلام تر آخري لمحي پورې د ژوند د ابوطالب وه ده ته إرائة الطریق کاوه ، نو نفي د هدایت د (من احببت) څرنګه د علیه السلام څخه صحیح کیږي . اهل مذهب ثاني وایي چې په آیت متلو کې هدایت په معنی د ایصال الی الحق دی مجازاً . لکن درویش وایي چې جواب مذکور مشترك دی بین المذهبین فلا یفید احدهما .

او بعض علماء وایي چې بعض علماء وایي چې لفظ د هدایت مشترك لفظي دی په مابین کې د مذکوره دوو معناوو ، نو استعمال یې په دواړو معناوو کې صحیح دی .

سوال : د مشترك لفظ په هره معنا کې چې مستعملیږي قرینه غواړي . فما القرینة؟

جواب : که هدایت وه مفعول ثاني ته بیله حرف جره متعدي وو لکه اهدنا الصراط المستقیم ° نو معنا یې دلالت موصله ده . او که په واسطه د حرف جر متعدي وو نو یې معنا ارائة الطریق ده . نحو إنّ هذا القرآن یهدي للتي هي أقوم ° أی یهدي الناس فالمفعول الأول محذوف . نو په هغه آیت کې چې د ابوطالب په باره کې وارد دی تقدیر دا یې دی : إنك لاتهدي الحق من احببت ° فمعناه الایصال ولذالك یصح النفي عنه ﷺ .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي : ولایخفی مافی توجیه بعض العلماء من التکلف. نو صحیح جواب هغه دی چي قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چي معنا د هدایت الدلالة بلطف ده . یعني عام تر دي چي ایصال ورسره وي او کـه نـه . چي حاصل د جواب دادی چي هدایت مشترك معنوي دی . فیصح استعماله فی کل واحد من المعنیین بقرینة المقام . وهذاالجواب خال عن التکلف. او دا مختاره کړی دی صاحب د تفسیر مظهري .

پوه شه ! چي صراط په صاد سره او په سین سره دواړه روا دی . او مراد د مستقیم څخه هغه لار ده چي ده افراط لکه په دین کي د موسی علیه السلام چي وو لکه پنځوس لمنځونه په شبانه روز کي ، او زکات یي څلرم د مال وه ، او جامه چي به یي مرداره سوه په اوبو نه پاکیده بلکه هغه نجس ځای به یي څندي پري کاوه ، او لمنځونه ددوی چي رسیدګي د مسجد به یي کیدای سوای بیله مسجده نه وه روا ، او د حائضي ماینې سره په یوه ځای بلکه په یوه خونه کي بیدیدل او خوراك او چښاك ورته حرام وو . الی غیر ذالك من الشداند التی فی دین الیهود.

او تفریط لکه په دین کي د عیسی علیه السلام چي دومیانه وي وهو الشریعة المحمدیة ﷺ والدین الاحمدي ﷺ.

او دغه رنګه زمور شریعت متوسط دی په مابین کي د عقل محض لکه عقول د فلاسفة الإشراقیین منهم والمشائین حیث لایلتزمون اتباع الدین السماوي ، بل یتبعون عقولهم .

او په مابین کي د عشق دخدای جل سلطانه بلامراعة ظاهر الکتاب والسنة کما کان لمنصور حیث قال الحق وغیره من المجذوبین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آو توسط په دي لار کي داسي دی چي اول سړی سلوك په اذکارو او په عباداتو سره مختاره کړي او وروسته مقام ته د جذبي ورسيږي چي په داسي کولو سره هم مراعات د ظاهر د شريعت مطهره په وخت د سلوك او هم عشق الهي په وخت د جذبي دواړو سره جمع کيږي . کما للعلماء العاملين المجذوبين .

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

لار د هغو کسانو چي تا ددوی سره احسان کړی دی .

او دا صراط بدل دی د صراط المستقيم څخه . بدل الکل دی . او مراد د انعمت عليهم څخه هغه کسان دي چي پر ايمان او طاعت ثابت او محکم وي ، تر وخت پوري د مرګ من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين . کما ورد في الحديث النبوی صلی الله عليه وسلم . وجاء في القرآن العزيز : (فاولئك مع الذين أنعم الله عليهم من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين).

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ۝

هذا بدل من الذين انعمت عليهم . نو معنا يي داده چي : منعَم عليهم هغه کسان دي چي د غضب الهي او د ګمراهی څخه سالم او محفوظ دي . او يا صفت دی د (الذين انعمت عليهم) .

سوال : الذين انعمت عليهم خو معرفه دی لأن الموصولات من المعارف عندهم . وقال النحاة أن لفظ د غير متوغلٌ في الإبهام ولايتعرف بالاضافة الى المعرفة وهي المغضب عليهم .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجواب : چي موصول يعني الذين چونکه معين کسان خني مراد نه دي، نو دپاره د عهد ذهني دی او معهود ذهني په نيز د نحاتو په حکم کي د نکيره دی نو بي غيرالمغضوب عليهم صفت واقع کيږي . کما فی قول الشاعر : ولقد أمرُّ علی اللئيم يَسُبُّنِي. چي نحات وايي چي جمله د يسبني چي په حکم کي د نکيري ده د اللئيم صفت ده ، ولي لام په اللئيم کي دپاره د عهد ذهني دی ای لئيم من اللئام غير معين ولهذا صح وصف الشاعر نفسه باالحلم . او اکثر مفسرين وايي چي مراد د مغضوب عليهم څخه عصات دي او د ضالين څخه جاهلان په خدای جل جلا له سره ، يعني چي د خدای پاك معبوديت بالحق نه پيژني او موصوف په صفاتو د جمال او جلال يي نه بولي وغير ذالك ، ولي چي مقابل ددي دوو حالو منعم عليهم دی او منعم عليهم هغه کسان دي چي قوت عاقله يي مختل نه وي او قوت عامله خراب نه وي . او مخل په عمل سره فاسق او مغضوب عليه لقوله تعالی فی حق القاتل عمداً : (وغضب الله عليه ولعنه) والمخل باالعلم جاهلٌ ضالٌ لقوله (فماذا بعدالحق إلا الضلال) او بعض مفسرين وايي چي مراد د مغضوب عليهم څخه يهود دي ، لقوله فی حقهم (من لعنه الله وغضب عليه) او ضالون نصاری دي ، لقوله تعالی فی حقهم (قدضلوا من قبل و أضلوا كثيراً .

قال صاحب روح البيان : لكن فيه ان نسبة الضلال ليست مخصوصة بالنصاری لانه قدنُسبت فی القرآن نسبة الغضب الی النصاری وكذا نسبة د غضب ليست مخصوصة باليهود لأن الضلال نسب الی اليهود ايضاً فی القرآن . او كه مراد د بعض مفسرانو رح چي د مغضوب عليهم څخه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یهود مراد دي او د ضالین څخه نصاری مراد دي، په دې سبب چې په قرآن کرې کې په ډیرو ځایو کې نسبت د غضب و یهودو ته راغلی دی. او نسبت د ضلال و نصاری وو ته. نو دهغو خبره صحیح ده. ولایرد علیهم سؤال صاحب روح البیان کما لایخفی

﴿ آمِيْنَ ﴾

پوه سه ! چې آمین اسم فعل دی معنا یې داده :

یا الله إستجب دعائنا .

او د آمین لفظ مبني پر فتحه دی لالتقاء الساکنین . او نه دی د قرآن څخه په اتفاق ، ولي چې په مصحف عثماني کې نه وو نوشته او هیڅ چا د صحابه رضی الله عنهم او د تابعینو څخه قول په قرآنیت نه دی کړی . نو ددې کبله آمین په لږ فصل تر الحمدلله وروسته وویل سي .

او وهب بن منبه وایي چې د هر حرف د آمین څخه ملکه پیدا کیږي چې وایي : اللهم اغفرلي لمن قال آمین . وفی الحدیث الداعي والمؤمن شریکان په ثواب کې .

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د ډعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿فصل في فضائل الفاتحة وخواصها بالشعر والنظم﴾

پوه شه ! چې مصنف د شمس المعارف د کتاب څخه د ابن سبعین څخه چې هغه د حضرت علي کرم الله وجهه دا قصیده نقل کړې

إذا ماکنت ملتمساً لرزقٍ ✣ ونجح القصد من حرٍّ وعبدٍ
وتظفر بالذي ترجوا سریعاً ✣ وتامن مخالفةٍ وغدر
ففاتحة الکتاب فان فیها ✣ نما املت سراً ایُّ سرٍّ
فلازم درسها فی کل وقت ✣ بصبح ثم ظهر ثم عصرٍ
کذالك بعدمغربٍ کل لیلٍ ✣ الی تسعین تتبعها بعشرٍ
تنل ماشئت من عزٍّ وجاهٍ ✣ وعظم مهابة و علو قدرٍ
ولا تحتج لاحدٍ بشیئ ✣ ولا تفجع بمکروهٍ وغدرٍ
وسترٍ لاتغیّره.اللیالی ✣ بحادثةٍ من النقصان تجری
وتوفیق و افراحٍ توالی ✣ و امنٍ من مکائد کل شرٍّ
ومن فقرٍ وعسرٍ و انقطاعٍ ✣ و بطشٍ لذی امرٍ ونهیٍ
فانك ان فعلت اتاك آتٍ ✣ بما یُغنیك عن زیدٍ وعمر
وکنت بجلاً فی کل وقتٍ ✣ وعشتَ معافًی فی طول دهرٍ

درویش وایي چې دا طریق د ورد د سورت فاتحه ښه تر ټولو طریقو ده. ددي طریقي توضیح داده چې د سحار په وخت کې ۳۰ دیرش واره او د ماپښین په وخت کې پنځه ویشت ۲۵ واره . او د مازدیګر په وخت کې شل ۲۰ واره . او د مابنام په وخت کې پنځلس ۱۵ واره . او د ماخستن په وخت کې لس ۱۰ واره چې ټوله سل ۱۰۰ واره کیږي . او هر وار یې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وصل د بسم الله الرحمن الرحيم وايه .او بعض علماء عاملين رح اسرار د فاتحة الكتاب داسي بيان كړي دي.

بفاتحة الكتاب تنالُ سرًّا ∴ وغرًّا شامخا طول الليالي

و وُداً فى قلوب الناس يبقى ∴ وعظم مهابةٍ وصلاح مالٍ

فرتّبْ درسها فى كل ليلٍ ∴ على طهرٍ من الاصوات خالي

ومبلغ ذالك الترتيب منها ∴ الى الفٍ على وجه الكمال

تنل ماشئت من دنياك سهلاً ∴ ويرخص عندذالك كل غالى

حروف النور للتاليف منها ∴ الى ماشئت من داعى الوصال

كذا باقى الحروف فمظلمات ∴ تؤثر فى القطيعة والوبال

فتفعل ما شرحتُ هُديتَ رُشداً ∴ لتبقى فى النعيم بلازوال

او فقيه القطب الصالح شهاب الدين احمد بن موسى العجيل وايي چي ما رسول كريم صلى الله عليه وسلم په خوب وليدى او اسرار د فاتحة الكتاب يي راته بيان كړه او هغه بيتونه دادي :

اذا كنت تبغى زوال الهموم ∴ و امنك من كل عذر ومكرٍ

واقبال رزقك عليك سهلاً ∴ وتحظى بجاهٍ عريض العلاء

وتعطى مرادك من كل امرٍ

عليك بفاتحةٍ للكتاب ∴ فان بها ظاهراً الف سرٍ

والفاً كذالك فى باطنٍ ∴ وفيها شفاءُ كل سقمٍ وضرٍ

اليها الاشار البشير النذير ∴ عليه التحيات من كل قطرٍ

الا فاتلها مائةً مائةً ∴ عقيب الفرائض اثراً باثرٍ

ولا تقطعن بينها بالكلام ∴ فذالك هو الشرط فى كل امرٍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وان امکن الدرس الفاً لها ∴ علی خلوةٍ منك فی حال طهر

فذالك انجح فیما ترید ∴ فجمع بجمع و نشر بنشرٍ

وکلتا الطریقین محمودة ∴ وفی کل دینك جبراً لکسرٍ

وصلی الله علی المصطفی ∴ مدی الدهر ماعاد مزن بقطرٍ

پـوه سـه ! چي حروف النور په دغو کلماتو کي سره جمع دي : (الر، کهیعصَ ، طسَ ، حمَ ، قَ ، نَ) د الحمدلله څخه چي دغه حروف راجمع کړي د محبت دپاره دي . او باقي حروف ، حروف ظلمت بولي د عداوت دپاره دي ، نو ته په الحمدلله کي په دواړو قسمو حروفو کي فکر وکړه .

فائده : که څوك فاتحه شریفه سره د بسم الله په وصل سره د سحار د سنتو او د فرضو په مابین کي یو ځلویښت ۴۱ واره همیشه وایي . نو که فقیر وو خدای پاك به یي غني کړي او که پوروړی وو خدای ﷻ به یي د پوره خلاص کړي او که مریض وو خدای پاك به یي د غیبو څخه په یو سبب جوړ کړي . او که ضعیف وو خدای پاك به یي قوي کړي ، او که په خلګو کي بي قدره وو خدای پاك به قدر او شرف او عزت په خلګو کي ورکړي او په خلګو کي به یي مقبول سړی وګرځوي او که د یوه حکومتي منصب څخه معزوله سوی وي نو په برکت د فاتحي به هغه منصب ته بیرته خپل ورسیږي

فائده : د الحمدلله شریفي لوی ورد چي په اصطلاح یي یوخ والی بولي یو لك او پنځویشت زره ۱۲۵۰۰۰ واړه دی . کما قال اهل الخواص : خُذْ حرفاً وقُلْ الفاً . او د الحمدلله شریفي حروف یوسل او پنځویشت ۱۲۵ دي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائـــده : کـه سړی یـوازي د سحار تر لمانځـه وروسـته همیشـه ۱۲۵ واړه وایي دهر مطلب د کامیابی سبب به قدرت د خدای ﷻ وګرځي

فائده : که یو سړی د مطلب دپاره چې وې ، په عدد د رسولانو ع چې ۳۱۳ دي چې همدغـه عدد د اصحاب بدر رض هم دی او همدغـه عدد د اصحاب طالوت هم دی ، وي وایي خدای جل سلطانه به یې هغه مقصد او مطلب حاصل کړي انشاء الله تعالی

فائـــده : شیخ محی الدین ابن العربي قدس سره وایي : که د چا یو حاجت وي نو الحمدلله شریفه دي د مانبام تر فرضو او سنتو وروسته او دهغـه خای د لمانځـه دي هم نه ولاړیږي ، ځلویښت واړه ووایي او خپل حاجت دي دخدای جل شانه څخه وغواړي ، خدای ﷻ به یې حاجت پوره کړي . قال الشیخ وقد جُرِّبَ فوجدناه نافعاً.

او امـام بوني رحمـه الله پـه شمس المعارف کـي د آنحضرت ﷺ څخه داسي حدیث رانقل کړی دی چې که سړی هغه وخت چې پر خای مانبام پریـوزي او الحمـدلله شـریفه یـو وار او قـل هـوالله احـد دري ۳ واړه او معـوذتین یـو وار ووایـي د هر آفـت څخـه بـه پـه امـن وي الا الموت. لأن الاجل الموعود لایُرَدُّ . آه بزیادة.

درویـش وایـي کـه زه ټولـه خـواص او فضـائل د سـورت فاتحـه چـي پـه احـادیثو مبارکـه صـحیحه وو کـي راغلـي دي او یـا پـه اقوالـو د صـحابه کرامو رض سره ثابت دي او یـا اولیـاء الله الکرام رح پـه وینـاوو او تجربـو سره ثابت دي اویا د راسخ علماء کرامو رح پـه کتـابو کـي راغلـي دي ټولـه او ټولـه پـه قـدر د علـم د درویـش سره راجمع کړم ، شـاید دیـرې ورقـي پـه نورې پـه بـرکـي ونسـي او شـاید حاسـدان بـه ووایـي چـي د عبیدالله کتـاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر د قرآن مبارک دی او که تعویذات دي . نو ددي کښله د الحمدلله شریفي تفسیر پر داغه ځای ختم کوم او په تفسیر د سورت بقره شروع کوم انشاءالله تعالی . وماتوفیقي إلا باالله جل شانه.

﴿ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ ﴾

پـوه سـه ! چي مدني او مکي آیت یا سورت هغه ته وایي چي قبل الهجرت وي یا وروسته تر هجرت وي ، یعني چي تر هجرت دمخه وي هغه مکي بولي که څه هم د مکي د بنار دباندي نازل سوي وي او چي تر هجرت وروسته نازل سوي وي هغه ته مدني وایي که څه هم په سفر کي نازل سوي وي . لکه سورت د : (إنافتحنالك فتحاً مبيناً) چي په کال کي د حدیبیي چي پر علیه السلام په سفر کي چي دمدیني پر خوا رهي وو نازل سو ، بلکه که څه هم بعدالهجرت په خود مکه شریف کي نازل وي ، نو د مکي او مدني تر مابین واسطه نسته.

فائده : سورت بقره په نیز د اهل کوفه دوه سوه او شپږ اتیا ۲۸۶ آیته دی . او په نیز د اهل بصري ۲۸۷ آیته ده . او داسورت شپږزره یوسل او یویشت ۶۱۲۱ کلمي دی . او حروف ددي سورت پنځه ویشت زره و پنځه سوه ۲۵۵۰۰ دی کما فی المظهري .

فائده : محدث عبدالرازق رح او ابن ابي شیبه رح وایي چي تسمیه ددي سورت په سورت البقره سره مکروه دی او دغه رنګه سورت النساء مکروه دی بلکه سړی به داسي وایي : السورة التي تذكر فيها البقرة . او یا هغه سورت چي په هغه کي د بنځو ذکر کیږي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي : چي امام بخاري رح په خپل صحیح کي باب مستقل اینبنی دی چي په هغه کي اطلاق د سورت البقره د علیه السلام څخه او د اصحابو کرامو رض څخه نقل کړی دی. فلاجرح فی التسمیة ثم هذه التسمیة من قبیل تسمیة الکل باسم الجزء او دا نومان توله سمعي دي او چا ته اجازه نسته چي پر سورتو د قرآن دخپل ځان دخوا نومان ایږدي. که څه هم تسمیة الکل باسم الجزء په هغه نامه کي هم جوړیږي.

پوه سه! چي سلیمان جمل رح وایي چي بعض صحابه کرامو رح پر بعض سورتو باندي ماسوی د مشهوره نومانو څخه نور نومان اینبي دي لکه چي حذیفه رض پر سورت توبه باندي د فاضحة نوم یا د سورت العذاب نوم اینبی دی . او خالد بن سعدان رض پر سورت البقره باندي د فسطاط القرآن نوم اینبی دی . او یا د سورت الفاتحه ۳۰ نومان چي دمخه تیر سوه .

درویش وایي چي دغه نومان چي مذکور سوه پر طریقه د وصفیت دي نه د اسمیت ، لکه دخدای جل سلطانه نومان چي بالاتفاق توقیفي او پر سماع موقوفه دي لکن پر طریقه د وصفیت د نورو نومانو اطلاق پر خدای ﷻ باندي روا دي صرّح به الفاضل اللاهوري رح فی حاشیة الخیالي . او یا مراد د سمعي او توقیفي څخه دادی چي د آنحضرت صلی الله علیه وسلم یا د اصحابو کرامو رض څخه مسموع وي ، ولي د اصحابو رض نومان محمول پر سماع دي . کما قالوا فی الآثار المسموعة فی الأحکام الدینیة من الصحابة رض انها محمولة علی السماع منه صلی الله علیه وسلم فتأمل .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې علیه السلام وایي چې سورت البقره فُسطاط القرآن ده.

یعني یو جامع بنار د قرآن ده لکثرة الاحکام الشرعیة فیها . ویوئیده ، هغه چې ابن عربي رح په تفسیر احکام القرآن کې وایي ، چې ماد بعض مشائخو څخه اوریدلي دي چې په سورت بقره کې زر امره موجود دي ، او زر نهي موجود دي ، او زر حکمتونه ، او زرخبرونه . هم ددې سببه عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ددې سورت مبارك په زده کړه کې اته ۸ کاله تیر کړه .

فائده : اوږد تر ټولو سورتو د قرآن سورت البقره ده او تر ټولو لنډ سورت الکوثر دی او اوږد تر ټولو آیتو د قرآن آیة المداینة دی چې په دي سورت کې به راسي . او تر ټولو لنډ آیت (والضحی ، والفجر) دی او تر ټولو اوږده کلمه : (فأسقیناکموه) ده . کذا فی روح البیان .

فائده : د قرآن مبارك بعض سورتونه اوږده دي او بعض لنډ او بعض میانه ، په دي کې یو حکمت الهي دادی چې اطفال به په تدریج سره د قصارو سورتو د زده کړې او په یاد کړې او وروسته به اوساط زده او بیا پیاد کړې او تر هغه وروسته به طوال زده کړې او حفظ قابل او مستعد سي . وهذا فضل من الله علی المتعلمین.

او بله فائده یې داده چې څوك توهم ددې ونه کړي چې قرآن مبارك چې مُعجز دی ددې سببه چې سورتونه یې ډیر اوږده دي ، نو خدای ﷻ دا توهم دفع کړی چې سورت کوثر هم مُعجز دی. قال الله تعالی : (إن کنتم فی ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله) یعني که څه هم یو کوچنی سورت وي ثم قال ﷻ (فإن لم تفعلوا ولن تفعلوا . الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿ الفائدة السنية في ترتيب السور القرآنية بحسب النزول ﴾

قال الشيخ الامام جلال الدين عبدالرحمن السيوطي الشافعي رح في تفسيره الإتقان في علوم القرآن ما نصه هذا.

درويش وايي په تفسير اتقان کي دير مختلف روايتونه راغلي دي ، لکن په اتفاق د محدثينو اول حقيقي د قرآن څخه نازل سوره اقرء دي .

(إقرأ بإسم ربك الذي خلق - خلق الإنسان من علق - إقرا وربك الأكرم) لکه چې د اول جلد اول حديثونه صراحتاً دلالت پر کوي . وروسته تر هغه به ام القرى کي پوره سورت نازل سو . يعني سورت فاتحه په مکه مکرمه کي . وروسته سورت اقرء پسي پوره سو ، وروسته تر هغه يا ايها المزمل . وروسته يا ايها المدثر ، وروسته تبت يدا ، وروسته اذا الشمس کورت ، وروسته سبح اسم ربك الاعلى . وروسته والليل اذا يغشى ، وروسته والفجر ، وروسته والضحى ، وروسته الم نشرح ، وروسته والعصر ، وروسته والعاديات ، وروسته انا اعطيناك الکوثر ، وروسته الهکم التکاثر ، وروسته ارئيت الذي يکذب ، وروسته قل يا ايها الکافرون ، وروسته الم ترکيف ، وروسته قل اعوذبرب الفلق ، وروسته قل اعوذبرب الناس ، وروسته قل هوالله احد ، وروسته والنجم ، وروسته عبس وتولى ، وروسته انا انزلنا ، وروسته والشمس وضحاها ، وروسته والسماء ذات البروج ، وروسته والتين ، وروسته لايلاف قريش ، وروسته القارعة ، وروسته لا أقسم بيوم القيامة ، وروسته ويل لکل همزة وروسته والمرسلات ، وروسته ق ، وروسته لا أقسم بهذا البلد ، وروسته والسماء والطارق ، وروسته اقتربت الساعة ، وروسته ص ، وروسته الاعراف ، وروسته قل اوحى ، وروسته يسين ، وروسته الفرقان ، وروسته الملا لکة ، وروسته کهيعص ، وروسته طه ، وروسته الواقعة ، وروسته طسم ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته طس ، وروسته القصص ، وروسته بني اسرائيل وروسته يونس ، وروسته هود ، وروسته يوسف ، وروسته الحجر ، وروسته الانعام ، وروسته الصافات ، وروسته لقمان ، وروسته سبا ، وروسته الزمر ، وروسته حم ، وروسته المومن ، وروسته حم السجدة ، وروسته حمعسق ، وروسته حم الزخرف ، وروسته الدخان ، وروسته الجاثيه ، وروسته الاحقاف ، وروسته الذاريات ، وروسته الغاشية ، وروسته الكهف ، وروسته النحل ، وروسته إنا أرسلنا نوحا ، وروسته سورة ابراهيم ، وروسته الانبياء ، وروسته المومنين ، وروسته تنزيل السجدة ، وروست الطور ، وروسته تبارک الذي ، وروسته الحاقة ، وروسته سأل سائل ، وروسته عم يتسائلو ، وروسته النازعات ، وروسته اذاالسماء انفطرت ، وروسته اذاالسماء السماء انشقت ، وروسته الروم ، وروسته العنکبوت ، وروسته ويل للمطففين .

نو دا ټوله سورتونه په مکه مکرمه کي خداى پاك نازل کړي دي .

بيا په مدينه منوره کي دغه سورتونه په ترتيب نازل سول : سورة البقرة وروسته الانفال ، وروسته آل عمران ، وروسته الاحزاب ، وروسته الممتحنة ، وروسته سورة النساء ، وروسته إذا زلزلت ، وروسته الحديد وروسته القتال ، وروسته الرعد ، وروسته سورة الرحمن ، وروسته سورة الانسان ، وروسته الطلاق ، وروسته لم يكن الذين ، وروسته سورة الحشر ، وروسته اذا جاء نصرالله ، وروسته سورة النور ، وروسته سورة الحج ، وروسته سورة المنافقون ، وروسته المجادلة ، وروسته الحجرات وروسته التحريم ، وروسته الجمعة ، وروسته التغابن ، وروسته الصف ، وروسته سورة الفتح ، وروسته المائدة ، وروسته برائة .

مجموعه سورتونه ۱۱۴ سوه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه ! چي هغه اختلاف چي په ترتيب کي د سُور مذکوره وو بيان نه کړی په سبب د غايت تطويل .

فائـــده : دا سورتونه چي بعض مکي او بعض مدني دي تفسير اتقان وښوول ، ددي دا معنا نه دي چي ددغو سورتو ټوله آيتونه مکي يامدني بلکه دا فرق په اعتبار د اغلب آيتو دی ، ورنه عين ممکنه ده چي په بعضَ مکي سورتو کي دي بعض مدني آيتونه په ښوونه د امين جبرئيل اينبوول سوي وي . وكذالك العكس . فتأمل هداك الله.

فائده : درويش وايي چي چونکه سورت بقره يو اوږد سورت دی ، نو غواړم چي د مجموع سورت فضائل او خواص دمخه تر شروع په تفسير د هغه سورت په قدر د ضرورت خپلو پښتنو وروښو او خوندو ته وړاندي کړم . البته فضائل او خواص د بعض آيتو ددي مبارك سورت به په رسيدو وه تفسير د هغو آيتو وړاندي کړم انشاء الله تعالى وماتوفيق الا بالله العلى الكريم .

في الحديث النبوی ﷺ انه نزل ملك من السماء فقال للنبی صلى الله عليه وسلم البشر : خوشحاله اوسه بنورين په دوه نوره سره أُوتيتهما چي تاته درکړل سوي دي لم يؤتهما نبی قبلك چي نه دي ورکړه سوي هيڅ نبي ته ترتا دمخه فاتحة الكتاب يوه الحمدلله شريفه ده وخواتيم سورة البقرة او آخري آيتونه د سورت بقره او هغه ټولي دعاوي چي په فاتحه کي دي . او يا په آخر د سورت بقري کي دي هغه په دربار کي د خدای جل سلطانه قبول دي . روی معناه الشيخان رح .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د ابي مسعود رض څخه روایت دی چي نبی علیه السلام وویل هغه دوه آیته د آخر د سورت بقري چي څوك یي د شپي ووایي ، بس یي دي . یعني د تهجد دلمانځه څخه . رواه الأئمة الستة رح.

وعن النعمان بن بشیر ﷺ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : چي خدای تبارك وتعالی دمخه تر پیدا کیدو د آسمانو او ځمکو دوه زره کاله یو کتاب لیکلی دی چي په هغه کتاب کي دوه آیته څواتیم د سورت بقري دي . نو دا دوه آیته نه ویل کیږي په یو سرای چي هغه ته دي شیطان نژدي سي . رواه البغوي .

وعن ابی سعید الخدری رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: السورة التی تذکر فیها البقرة فُسطاط القرآن . یعني جامع ښار د قرآن دی . فتعلموها فإن تعلمها برکةٌ وترکها حسرةٌ ولن تستطیعها البطلة قیل وما البطلة قال السحرة. یعني طاقت نه لري چي سحر دي وکړي پر قاري دسورت بقره. اخرجه الدیلمي فی مسندالفردوس.

او روایت کړی دی بهیقي په شعب الایمان کي ثُوج تَاج فی الجنة . او ابن حبان وغیره د سهل بن سعد رض څخه داسي روایت کړی دی چي : هر شي لره سنام ستنه یعني لکه بوك د اوښ لوړ ځای ستنه وسنامُ القرآن سورة البقرة .

که یو چا دا مبارك سورت په یو کور کي د ورځي ووایه ، شیطان هغه کور ته دري ورځي نه ورځي او که چا د شپي په خپل کور کي ووایه ، نه داخلیږي شیطان وه هغه کورته دري شپي . روح البیان ، تفسیر مظهري ، مشکات .

داوه مشت نمونه خروار فضائل ددي مبارك سورت اوس په هم شروع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړو په تفسیر ددې مُبارک سورت په توفیق د ارحم الراحمین .

﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ الٓمّٓ ۝﴾

درویش وایي چې چونکه دا اول ځای دی چه مقطعات د قرآن مبارک پکښې راغله ، او په بل عنوان متشابهات القرآن پکښې ذکر سوله . نو درویش غواړي چې تولـه مـذاهب د مجتهـدینو رح او تولـه اقـوال د مفسـرینو او تولـه تاویلونـه د هغـه امامـانو چې تاویـل د متشـابهاتو روا بولي ذکر کړي او وروسته چې په نورو سورتو کې متشابهات راسي په هغو کې به متابعةً لجلال الدين السيوطي الشافعي رح و لجلال المحلي الشافعي رح في تفسيريهما . په دغه سره به کفایت وکړي ، يعني الله اعلم بمراده بذالك يعني تفويض د علم د متشابهاتو وه خدای جل سلطانه ته وکړي او په ایمان اجمالي آمنتُ بما اراد الله بذالك . سره به کفایت وکړي قال الله عز سلطانه پاره تلك الرسل اوائل سورة آل عمران : (هوالذي انزل عليك الكتاب منه آيات محكمات هن ام الكتاب و أخر متشابهات فأماالذين في قلوبهم زيغ فيتبعون ما تشابه منه ابتغاء الفتنة وابتغاء تأويله ومايعلم تأويله إلا الله والراسخون في العلم يقولون آمنا به كل من عند ربنا الآية .

درویش وایي چې منشاء د اختلاف د مذاهبو چې تاویـل د متشـابهاتو بیله خدای جل شانه چاته معلوم دی او که نه همداغه آیات مذکوره دی کما سياتي في تفسيرها إنشاء الله تعالى .

پوه سه ! چې بعـض علمـاء رح وایي چې دا مقطعات په هر سورت کې چې وارد دي دهغـه سـورت نـوم دی . او دا مـذهب ضعیف دی ولـي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددي څخه دا معلومیږي چي یو واضع چي خدای ج یو نوم دی ډیرو شیانو دپاره وضع کړی دی لکه (الم) په څو سورتو کي راغلی دی وهکذا غیرها او دا اشتراك الوضع د یوه واضع باطل دی للزوم الإلتباس فی المسمیات والغرض من الوضع دفع د التباس ده . او دا فساد په دغه قول کي هم سته چي دا حروف مقطعه چي هر یو په نامه ویل کیږي نحو (الف لام میم) مثلاً ، نو چي دوی د سورت نوم سي نو خو ددغه سورت دري اسمه یو نوم سو ولم یأت فی الأسماء ذالك العربیة . بلکه (المص) تسمیه د یوه سورت په څلو اسمه سره لازمیږي . او په (کهیعص) او (حمعسق) کي یو سورت په پنځه اسمه سره مسمی سو . وذالك مستکره جداً . إن القرآن الکریم نزل موافقاً للغة العرب . قال الله تعالی (إنا أنزلناه قرآناً عربیاً)

او بل دا فساد هم لازمیږي چي بعض سُور قرآنیه د متشابهاتو نومان لري او بعض یي نه لري ، نو په دي کي څه حکمت دی . او بعض مفسرین وایي چي دا مقطعات زائد دي ، صرف ددي دپاره دي چي هغه مخکي کلام پای ته ورسیدی اوس نوی کلام شروع کیږي . او دا وجه هم ضعیفه ده.

اما اولاً چي قرآن کریم لکه چي تیره سوه موافق د لغت د عربو نازل سوی دی . او دا حروف مقطعه په عربي ژبه کي دپاره د انقطاع د یوه او استیناف د بل کلام نه دی راغلی .

و اما ثانیاً نو دا انقطاع او استیناف خو په هر سورت کي موجود دي ، نو څه حکمت دی چي په بعض سُورو کي دا حروف مقطعه نه لیدل کیږي.

واما ثالثاً : څه حکمت دی چي د انقطاع او استیناف دپاره په بعض سُورو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي يو حرف راغلی دی نحو (ق، ص) او په بعض کي دوه حرفه راغلي دي نحو (طه، طسٓ) او په بعض کي دري حرفه راغلي دي نحو (الم، الر) او په بعض کي پنځه حرفه راغلي دي لکه: (کهيعص، حمعسق) او بعض مفسرين وايي چي دا حروف مختصر دي د نورو کلمو ځخه. لکه د ابي العاليه ځخه روايت دی چي (الف) په (الم) کي مختصر د (الآء الله) ځخه او (لام) د لطفه ځخه او (ميم) د مُلکه ځخه. او يا ابی العاليه وايي: (الر و حم و ن) مجموع الرحمن دي او يا بغوي رحمه الله روايت راوړی د ابن عباس رض چي (المص) مخفف دی ددغو الفاظ ځخه (اناالله أعلم و أفضل) او (الر) د اناالله اری ځخه مخفف دی. او (المر) د اناالله أعلم و أرَی ځخه مخفف دی إلی غير ذالك. قالوا الإقتصار على بعض الحروف معهودٌ في اللسان العربي كما في قول الشاعر: قلتُ لها قفي فقالت لي قاف. ای وقفتُ

ورده القاضي ثناء الله في تفسيره الجلدالاول بأن الاقتصار على بعض حروف الكلمة غير مستعمل في اللغة العربية. او شعر مذکور شاذ دی. او بل په شعر مذکور کي (فقلتُ لها قفي) قرينه ده پر دي چي قاف مختصر د (وقفتُ) ځخه دی. اوپه اول کي د سورتو چي دغه مقطعه حروف پکښي موجود دی هيڅ دليل ددي نسته چي دا حروف د فلاني لفظ ځخه مختصر دي. وإلا لم يختلفوا في الألفاظ المختصر عنها. او سره ددي چي بعض وايي چي (الم) مختصر دی د (الآء الله) او (لُطف) او (مُلکه) ځخه. او بعض وايي چي مخفف دی (الم) د (اناالله اعلم) ځخه الی غير ذالك.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض مفسرین وایي : چې دغه مقطعه حروف دپاره د بیان د مدو د اقوامو او د آجال دی په حساب د (ابجد) چنانچه نجاري په تاریخ کي په ضعیفه سند سره راوړي دي چې علیه السلام ته یو وخت.یهودان راغله او علیه السلام (الم) تر آخره د سورت بقري ودوی ته تلاوت وکړی .

نو دوی چې په حساب د (ابجد) حساب ورته وکړي ۷۱ ځني جوړ سوه ، نو دوی وه علیه السلام ته وویل چې موږ په داسي دین کي څرنګه داخل سو چې موده یې ۷۱ کاله ده . علیه السلام ورته وخندل . دوی ورته وویل چې نور هم څه سته ؟ علیه السلام ورته وویل . (الـمر، الرّ) نو یهودیانو ورته وویل چې موږ دي حساب کړوه کړی ، موږ کوم یوه ته حساب وکړو . دوی وایي چې علیه السلام چې ورته وخندل دا یې ددوی تقریر وکړی پر دغه حساب باندي . او دا قول مردود دی ، ولي چې قرآن مبارك خو پر لغتو د عربو نازل سوی دی او حساب د ابجد هغه وخت عربو نه پیژندی . او خندل د علیه السلام دپاره د تقریر ددوی نه وه بلکه دپاره د تعجب د حماقت ته ددوی وه چې عربي قرآن دوی پر حساب د ابجد حل کړي چې هغه عربي نه دی .

سوال : هغه قول چې حروف مقطعه مختصر د بعض کلماتو څخه دي خو مروي د صحابه کرامو رض او د تابعینو رح څخه لکه ابن عباس رض ، ابوالعالیه رح ، نو څرنګه هغه قول ضعیف وګڼل سو ؟

قاضي ثناءالله رح د هغه جواب داسي ورکړي دي چې هغه اقوال د ظاهره څخه مصروف دي یعني د صحابه رض او تابعینو رح شرف ددغو مقطعاتو غرض دی په دي معنا چې دغه حروف مقطعه دداغسي مبارکو الفاظو ماده د ترکیب ده . ولهذا إختلفوا فی اختصار الم کما مرّ آنفاً . او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که ماول نه وي نو په سبب د تعارض په هغو روایاتو موږ عمل ونه کړی.
والله اعلم.

او بعض مفسرین وایي چې دغه مقطعه حروف مقسم بها په سبب د شرافت ددوی چې دغه حروف مواد د اسماء الله تعالی دي، او مواد د کلام الهي دي.

درویش وایي چې دا توجیه هم ضعیفه کښل سوي ده، که څه هم دا حروف شرافت لري او قسم په اخسته هم جائز دي، لکن په قرآن کریم کې سړی د ډیر تکلیفو سره مخامخ کوي. یعني حرف قسم به په هر ځای کې وزسره مقدره وي او په اکثرو ځایو کې وه تقدیر د جواب د قسم ته هم ضرورت پیدا کیږي. ولاضرورة إلى هذه التكلفات بلافائدةٍ خصوصاً في القرآن المجيد.

درویش وایي: قاضي ناصرالدین البیضاوي رح په خپل تفسیر کې یوه په زړه پوري معقوله توجیه د حروف مقطعه وو قرآنیه و کړې ده چې یو خو ډیره طویل الدیل توجیه ده. او بل ډیره سخته توجیه ده چې د منتهی طالبانو چې بیضاوي وایي کما حقه، سر یې نه په خلاصیږي، نو ځکه درویش د هغې توجیه د بیان څخه صرف نظر وکړی شفقةً علی متعلمي هذا التفسير.

او بعض علماء وایي چې دا مقطعات قرآنیه نومان دي د خدای ﷻ. قال المظهري رحمه الله اخرجه ابن جرير رحمه الله وابن المنذ رحمه الله وابن ابي حاتم رحمه الله وابن مردويه في الأسماء والصفات، عن ابن عباس رض بسند صحيح. وروى ابن ماجة عن علي رضي الله عنه انه كان يقول يا كهيعص اغفرلي وضعه المظهري. چې دغه مقطعات که چیرې نومان د خدای ج وایي. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو پر یو صفت د صفاتو د خدای ج به یې دلالت کولای لکه عالم و قادر و رحمن وغیره . او د علی رض د قول معنا داده : یا منزل کهیعص اغفرلي او عبدالرازق په نقل د قتاده رض وایي چې دا توله مقطعات اسماء د قرآن دي واستدل بقوله تعالی : (قٓ ۚ والقرآن المجید) و (الم ذالك الکتاب لاریب فیه) او دا توجیه هم ضعیف ده چې که دغه مقطعات اسماء د قرآن وایي نو پر یو صفت د قرآن به یې دلالت کولای لکه (قرآن ، فرقان ، نور) وغیره .

وقال البیضاوي رحمه الله وصاحب روح البیان رحمه الله : چې دا حروف مقطعه ددي دپاره راوړي دي چې کفار مکه پـه دي پوه سي چې کلام الهي ستاسي د عربي ژبي د حروفو څخه جوړ دی مفرد یا مرکب ، نو که من عندالله نه وای ،نو ولي تاسي د اتیان څخه د مثل عاجزه کیدای . لکن روح البیان او مظهري دواړو د اتوجیه رد کړي ده ، ولي چې ددي توجیه څخه دا معلومیږي چې دا حروف مقطعه په خپل ځان کې هیڅ معنا نه لري . او دا باطله ده ولي چې بغوي رحمه الله د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه څخه روایت کوي : فی کل کتاب سرٌ و سرُّ الله فی القرآن اوائل السُور یعني التي فیها تلك المقطعات . وقال علیٌّ رضي الله عنه لکل کتاب صفوة و صفوة هذاالکتاب حروف التهجي . او صاحب د روح البیان او قاضي ثناء الله رح دا مختاره کړي ده ، چې دا حروف مقطعه سر او پټ راز دی په مابین کې د خدای ﷻ او دده دنبي ﷺ ، نو دا حروف مقطعه د قسمه څخه د معمیاتو او د قرارداد دی په مابین کې د خدای پاك او دده د حبیب ، په داسي وخت کې چې هلته نه ملکه مقربه او نه نبي مرسل خایي دی . او د مقام عالي سره د آنحضرت ﷺ دا توجیه مناسبه ده . او د هغه حدیث سره هم سمون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوري ، چي هغه وخت چي جبرئيل عليه السلام ته راوړی : (کهیعص) نو چي جبرئيل عليه السلام وويل : (کاف) عليه السلام به ورته وويل : علمتُ . فقال جبرئيل (ها) قال علمتُ . قال (يا) قال علمتُ ، قال (عين) قال علمتُ . قال (صاد) قال علمتُ . نو جبرئيل عليه السلام ورته وويل چي څرنګه ته په پوه سوي چي زه يي راوړونکی يم نه په پوهيږم .

اوددي سر مکتوم مثال هم موجود دی په قرآن کريم کي : (وعلم آدم الأسماء کلها ثم عرضهم علی الملائکة . الآية . نو که په وخت کي دا تعليم الاسماء وه ، آدم عليه السلام يوځوک د مقربو ملکو څخه به موجود وای . او يا دا تعليم په واسطه د ملکو وای ، نو په هغه وخت کي چي خدای ﷻ ملکو ته وويل : (أنبئوني بأسماء هؤلاء . الآية) نو هغه ملکو چي د تعليم آدم عليه السلام په وخت کي موجودي وي ، هغو د اسماء معروضه وو بيان خدای جل سلطانه ته کړی وای او دا به يي نه ويلای : (سبحانك لاعلم لنا. الآية)

او بعض مفسرين وايي چي د متشابهاتو او مقطعاتو قرآنيه وو علم صرف د خدای جل سلطانه سره دی حتی نه عليه السلام په خبر دی نه يي اتباع .

درويش وايي لکه چي دغه مذهب د قول څخه د جلال الدين السيوطي رحمه الله او د جلال الدين المحلي رحمه الله هم فهميږي چي دوی د هر سورت د متشابهاتو د تفسير په وخت کي داسي وايي : الله اعلم بمراده بذالك و بس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا بعض مفسرین رح وایي چي زمونږ برخه په متشابهاتو کي فقط ایمان دی پر ماأرادالله بذالك . او تفویض د علم دی وه خدای جل جلا له ته . او دوی دا هم وایي چي په آخرت کي به علم د متشابهاتو کشف سي علیه السلام او مسلمانانو ته . قاضي ثناء الله رحمه الله وایي چي دا قول بعید دی جداً . ولي یو څوك چي د چا سره خطاب کوي دپاره د پوره کولو د مخاطب به یي کوي کما هو ظاهر ، نو که هیڅ څوك په مقطعاتو نه پوهیږي ، نو خطاب بالمهمل دی . او یا لکه د عربي خالص سره سه هندي ژبه څوك خبري کوي . او قاضي رحمه الله زیاته کړي ده چي ددي مذهب پر مقتضی تولـه قرآن مبارك بیان او هدیً نسو . او ده دا هم ویلي دي چي خدای جل جلا له د علیه السلام سره وعده کړي ده : (ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ) آه نو ددي آیت څخه خو ظاهراً دا معلومیږي چي د محکم د قرآن او د مجمل او مشکل او متشابه د تولو خدای ﷻ وعده د بیان کړي ده او د وعدي څخه خلاف کول پر خدای ﷻ محال دي .

درویش وایي چي هغه آیت چي مونږ یي بیان وکړی چي دا منشاء د اختلاف دی ، یعني : (هوالذي أنزل علیك الکتاب. الآیة) په اصول الفقه الحنیفي کي وایي ي په مذکوره آیت کي وقف پر (الا الله) باندي لازم دی. والراسخون) مبتداء ده او (یقولون آمنا به کل من عندالله) آه یي خبر دی، نو معنا یي داده چي نه دي خبر په تاویل د متشابهاتو هیڅ څوك بیله خدای ﷻ وهو مذهب اکثرالعلماء رح . نو پر دي تقدیر خو آنحضرت صلی الله علیه وسلم او علماء راسخین او صحابه کرام رض هم په تاویل ددي مقطعاتو خبر نه دي . وهذا یخالف الحدیث المذکور آنفاً فی کهیعص . او دا مذهب والا وایي چي په آیت مذکوره کي خدای ج برخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د زائغینو اتباع د تاویل د متشابهاتو وکړخول . (فأماالذین فی قلوبهم زیغ فیتبعون ماتشابه منه ابتغاء الفتنة وابتغاء تأویله . وروسته یې وویل : ومایعلم تأویله الاالله ، نو د راسخون فی العلم برخه باید داوي آمنابه کل من عندربنا. یعني تفویض د علم د متشابهاتو وه خدای جل سلطانه ته .

او څرنګه چې ثناء الله وایي چې متشابهات اسرار بین الله ورسوله لم یفهم بها افهام العامة بل أفهام رسوله صلی الله علیه وسلم ومن شاء افهامه من کمل اتباعه .

والجواب : پر تقدیر د وقف پر الاالله باندې معنا د آیت داده : (والله اعلم) چې په تاویل د متشابهاتو خوهرڅوك نه دی خبر لکن د علیه السلام خبرتیا خو په سبب د اتصال تام او په داسې قرب کې ده چې په هغه کې نه بني مرسل ځای لري او نه ملك مقرب . نو علم د علیه السلام منافي د وقف سره نه دی .

سوال : پر تقدیر د وقف مذکور نو قاضي ثناءالله رح کُمل اتباعو ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم څرنګه علم د متشابهاتو ثابت کړی دی او سره ددې هغه اتصال تام چې علیه السلام درلودی د خدای جل جلاله سره بل چاته یې حصول تقریباً د حدالامکان څخه وتلی دی .

جواب : اولیاء کمل په سبب د متابعت تامه د علیه السلام لکه مرایای متقابله دي د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره . نو هغه تاویلونه او اسرار چې په سینه نبوي ﷺ کې وه . ددوی په زړو کې هم کشف کیږي ، که څه هم اتصال نبوي ﷺ ددوی په برخه نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي څوك تاویل د متشابهاتو وغیر ته د علیه السلام وایي په کشف جلي روحاني سره او په فیض روحاني سره او عقل سلیم صیقلي سره وایي ، هغه پر الاالله وقف نه کوي بلکه راسخون پر عطف بولي او یقولون حال بولي . وهومذهب اکثرالصوفیة الکرام رح کالمجدد الالف الثاني الشیخ احمد السرهندي رحمه الله . والشیخ عبدالرحمن البسطامي رحمه الله وهو مذهب کثیر من علماء الشافعیة .

وروی عن ابن عباس رضی الله عنه انا من الراسخین فی العلم و انا ممن یعلم تأویله .

درویش وایي چي زما په عقیده حق دادی لکه بعض محققین رح چي واي چي دا اختلاف په تاویل کي د مقطعاتو قرآنیه وو لفظي دی ، هغه څوك چي وایي چي تاویل د مقطعاتو بیله خدای ج وه هیڅ چاته نه دی معلوم د هغو مراد تاویل یقیني واقعي دی . او هغه کسان چي تاویل د دغو مقطعاتو قرآنیه وه علماء راسخینو ته هم حاصل بولي د هغو مراد تاویل ظني دی ،ددي سببه ددوی تر مابین اختلاف په تاویلو کي موجود دی کما مرّ سابقاً .

درویش وایي چي بناء پر دي تحقیق وقف پر راسخون باندي هم روا دی او پر الاالله باندي هم روا دی ، کماذهب الی هذا صاحب روح البیان فی تفسیر هذه الآیة فی آل عمران

پوښتنه : تاویل کوونکی د اوائل السُّور د مقطعاتو د زیغ د تهمته او د ابتغاء تاویله د تهمت څخه لکه په آیت مذکوره کي چي اشاره ورته سوي ده: فاماالذین فی قلوبهم زیغٌ . الآیة څرنګه سړی خلاصوي او سره ددي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د تاویلو نقل د لویو صحابه کرامو رض سوې دي او د لوړو تابعینو څخه نقل سوی دی او داولیاءالله الکرامو رح څخه په ثبوت رسیدلي دي.

وحله علی ماتقررتُ به ولم تجده انشاءالله تعالی فی مطاوی الکتب الکبار. دادی چې متشابهات تر مُقطعاتو عام دي. ولي چې الرحمن علی العرش استوی د متشابهاتو څخه دي او د مقطعاتو څخه نه دي. وکذالك : یدُالله فوق أیدیهم د متشابهاتو څخه دی او د مقطعاتو څخه نه دی. وکذالك کل شیئٍ هالكُ إلا وجهه. د متشابهاتو څخه دی. وکذالك قوله تعالی : وهل ینظرون الا ان یأتیهم الله فی ظُلَلٍ من الغمام د متشابهاتو څخه دی. وفی الأحادیث المبارکة امثال ذالك کثیرةٌ. نو یوه ډله چې د مجسمه ورته وایي او دوی خدای جل شانه جسم بولي او اعضاء ورلره وایي، یعني مکان، جهت، لاسونه او مخ او پښې ورلره وایي او مذکوره آیات او احادیث پر ظاهر حمل کوي چې په بل نامه وهابیه هم ورته وایي د زائغینو او د فتنه والاڅخه په آیت کریمه کې هم دغه کسان مراد دي، ولي چې همدوی د مسلمانانو په زړو کې همدغه فتنه او زیغ و ضلال او شکوك او شبهات ور اچوي که چیرې خدای جسم نه وای نو دغه الفاظ په قرآن مبارك کې ولي راوړه. او اهل السنت والجماعت پس له دي څخه چې په کتابو د عقائدو لکه شرح العقائد او شرح المقاصد للعلامه التفتازاني رح والمواقف للقاضي عُضدالملة والدین رح او په شرح کې د هغه للسید الجرجاني رح او په نورو ډیرو کتابو کې ډیر محکم دلائل پر عدم جسمیت د خدای تعالی راوړي دي، نو دوی وایي چې دا هر آیت د خدای جل شانه پر یو صفت دلالت کوي چې هغه وه آنحضرت صلی الله علیه وسلم او دده کمل تابعانو او اولیاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله دخدای جل سلطانه کشف کړي دي ، نه وه عام مسلمانانو ته . او دا هم ډیره صحیح توجیه ده ، ولي چې په مقطعات قرآنیه وو کې ځای د زیغ او ضلال او ابتغاء الفتنه دومره نسته لکه په آیاتو مذکوره وو کې چې ظاهراً دلالت پر جسمیت د خدای پاك دي کوي. التي هي محال على الله تعالى فتأمل غاية التأمل لان هذا المقام من زلة الأقدام و من الله التوفيق وعليه التكلان.

درویش وایي چې په مقطعات قرآنیه وو کې یوه نوي فائده چې درویش په هغه مُوفق سوی دی بفضله تعالی داده ، او دا یوه داسي فائده ده چې ما په تجربه هم رسولي ده .

چې مجموع مقطعه چې په قرآن پاك کې راغلي په اسقاط د مکرره حورف دغه دي . (الم ، المص ، الرآ ، المرآ ، کهیعص ، طه ، طسمَ ، طسَ ، یسَ ، صَ ، حمعسقَ ، قَ ، نَ)

دا حروف وه دغو اسماء الهیه وو ته اشاره کوي . په دي معنا نه چې ددغو اسماء الهیه وو څخه مختصر دی ، بلکه معنا دا چې دغه حروف په دغو اسماء الهیه وو کې سته : (یاالله ﷻ ، یاأحد ﷻ ، یا آخر ﷻ ، یالطیف ﷻ یا ملك ﷻ یامؤمن ﷻ ، یامبدئ ﷻ ، یا معیدُ ﷻ ، یامحیي ﷻ ، یا ممیت ﷻ یا ماجد ﷻ ، یا مقتدر ﷻ ، یامقدم ﷻ ، یا مؤخر ﷻ ، یامنتقم ﷻ ، یا متعال ﷻ ، یامالك الملك ﷻ ، یا مقسط ﷻ ، یا مغني ﷻ ، یامعطي ﷻ ، یا مانع ﷻ ، یاصمد ﷻ ، یاصبور ﷻ ، یا رحمن ﷻ یارحیم ﷻ ، یارزاق ﷻ ، یارافع ﷻ یارقیب ﷻ ، یاروف ﷻ ، یارشید ﷻ ، یاکبیر ﷻ ، یاکریم ﷻ ، یا هادئ ﷻ ، یاعزیز ﷻ ، یاعلیم ﷻ ، یاعدل ﷻ ، یا عظیم ﷻ ، یاعلي ﷻ ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاعفوﷺ ، یاسلامﷺ ، یاسمیعﷺ ، یاحلیمﷺ ، یاحفیظﷺ ، یاحسیب ، ﷺ یاحکیمﷺ ، یاحقﷺ ، یاحمیدﷺ ، یاحی ﷺ ، یاقادرﷺ یاقیومﷺ ، یاقوي ﷺ ، یاقهارﷺ ، یاحسیب ﷺ ، یاقدوسﷺ ، یانورﷺ ، یانافعﷺ ، یاطیبﷺ .

نو دغه مقطعات او دغه اسماء الهیه او سره د هر اسم الیه سره جل جلا له هم ووایي . او په آخیر کي درود پر علیه السلام هم ووایي او کوم مُهم او حاجت چي لري وه خدای جل شانه وه دربار ته یي عرض کړه . او دري شپي یا ورځي پرله پسي داغسي وکړی انشاءالله په اسقاط د مکررو حروفو په حساب د ابجد ۶۹۳ واره کي دا حساب کړی نو به دا ورد پوخ سي . والله المستعان ، والمعطي لکل سوال

پوښته : په عمومي کتابو کي د تفاسیرو (الم) وغیره مما فی أوائل السُور حروف مقطعه وایي ، ایا ربښتیا دا حروف دي او که څرنګه ؟

جواب : قاضي بیضاوي رح په خپل تفسیر کي وائي که د حرف څخه معنا لغوي مراد ده یعني طرف یا ما یتلفظ به خو دغه مقطعات حروف دي ، او که د حرف څخه مراد اصطلاح متجدده د نحاتو مراد وي ، نو دغه مقطعات حروف نه دي بلکه اسماء دي ، لکن مدلول یي حرف دی مثلاً مدلول د الف (آ) او مدلول د لام (لآ) او مدلول د میم (م) دی ، نو شاید چي اصطلاح د نحاتو حروف ورته ویل به تسمیه د دال په نامه د مدلول وي .

درویش وایي چي دلیل د اسمیت ددي الفاظو دادی : اول خو امام النحات خلیل بن احمد رحمه الله او امام ابوعلي رحمه الله تصریح په اسمیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددغو الفاظو کړي ده . او دوهم قاضي بيضاوي وايي چې تعريف د اسم نحوي پر دوی صادق دی . يعني كلمةٌ دلت على معنى فى نفسها غير مقترنٍ باالأزمنة الثلاثة . او دريم خواص د اسم په دغو الفاظو کي ستة . لکه تعريف نحو اللام وغيره او تنکير و تنوين لکه لامٌ و ميمٌ ، ونحوهما وغير ماذكرنا من خواص الإسم .نو بناء على اسميتها په حديث د ابن مسعود ﷺ کي چې راغلي دي چې که څوك يو حرف د قرآن قرائت کړي هغه لره حسنة ستة والحسنةُ بعشر امثالها .الحديث ، نو که څوك (الم) ووايي ديرش ۳۰ نيکی يې ثواب دی ، ولي الألف حرف ، واللام حرفٌ ، والميم حرفٌ يعني مدلول

فائده : ددغو مقطعاتو سره که عامل موجود وو ، نو پر مقتضى د عامل اعراب ورکول کيږي نحو هذاميمٌ مثلاً بالرفع . وكتبتُ الباءَ بالنصب ، وبدنتُ بالألف بالجر او که يې عامل نه وو موجود ، نو بيا په وقف ويل کيږي نحو الفْ ، لامْ ، ميمْ ، وعندالوقف يجوز التقاء الساكنين فيها على غير مده نحو قافْ ، صادْ .

سوال : ستا په دي تفسير کي ډيري عسير الفهمه خبري راځي لکه چې په بيان د مقطعات قرآنيه کي چې مو کړي دي ، او د مقطعات قرآنيه وو او متشابهاتو قرآنيه په فرق کي چې بحث طويل کړی دی . ايا ګمان کوی چې په ورته بياناتو ټوله مطالعه کوونکي د تفسير وپوهيږي ؟

جواب : هو ، زه هم دا خيال نه لرم چې خواننده ګان محترم نر او ښځي دي ټوله د تفسير په ټوله مسئلو او په سوال جواب دي وپوهيږي کن الحمدلله د فقير ټوله تصنيفونه عوامو او طالبانو او ملايانو ټوله مطالعه کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض د استفادي دپاره او بعض چي حاسدان وي د عيب او غلطيا د فقير دپاره يي مطالعه كوي ، تر څو چي د غيبت موقع په لاس ورسي ، نو د قرآن پاك د فهم سره موافق هره خبره چي زما په نيز لازمه وي زه يې ذكر كوم .

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

دا كتاب دى هيڅ شك نسته پكښې كي اوهدايت دى دپاره د پرهيزكارانو .

پوه سه ! چي اكثر مفسرين رح وايي اى هذا الكتاب يعني دغه كتاب چي محمد عليه السلام يي وايي او مشركان يي درواغ بولي . ددي تفسير څخه غرض دادى چي ذالك خو اشاره وه بعيد ته وي او قرآن پاك خو نژدي دى او نژدي شي ته خو اشاره په لفظ د هذا كيږي ، نو حاصل د جواب دادى چي چونكه قرآن مبارك عظيم الشانه كتاب دى ، نو د عظيم رتبي په سبب يي لفظ د اشارة البعيد پكښې استعمال كړى تنزيلاً الرتبي مكان البُعد المكاني .

سوال : قرآن مبارك خو په وخت كي د نزول د سورت البقره نه وو تكميل سوى ، نو څرنگه اشاره ورته كيږي .

جواب : په ذالك كي اشاره ده و هغه بعض القرآن ته چي تر سورت البقره دمخه نازل سوي وه .

درويش وايي چي تا دمخه واوريدل چي سورت تر ۸۷ سورت چي په مكه مكرمه كي نازل سوي وه ، وروسته سورت بقره اول سورت مدني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چي نازل سوی دی او یا وه ټوله قرآن مبارك ته اشاره ده اقامةً للجزء مقام الكل .

د ترکیب د لاړي بعض مفسرین وایي چي ذالك مبتداء ده او الكتاب يي خبر دی . په علم معاني کي وایي چي مبتداء او خبر چي دواړه معرفه وي ، نو خبر به په مبتداء کي حصر وي او سره ددي چي کتاب خو جنس دی او قرآن مبارك يي يو فرد دی ، نو حصر د جنس په يوه فرد کي څرنګه کیدای سي ؟

جواب : په علم معاني کي دا هم وایي چي حصر د جنس په داسي فرد کي روادی چي هغه د جنس کامل فرد وي مثل هو الرجل ای زید مثلاً ولاریب أن القرآن الكريم اكمل من جميع افراد الكتاب. او داسي جواب هم سته چي د الكتاب تعریف دپاره د عهد دی أی الكتاب المعهود الموعود په قرآن کریم کي قال جلّ ذکره : (إناسنلقي عليك قولاً ثقيلاً) او یا موعود په تورات او انجیل کي دی ، نو پر دي تقدیر ذالك الكتاب پوره جمله ده . او لاریب فیه جلا جمله ده . او داسي هم روا ده چي الكتاب دي صفت د ذالك وي او خبر دي وروسته جمله وي یعنی لاریب فیه .

او بعض مفسرین وایي چي مبتدا محذوفه ده یعني (هذا) او ذالك الكتاب يي خبر دی او د کتاب تعریف دپاره دعهد دی . حاصل د معنا دادی چي دغه کتاب چي تاته يي وحی کیږي دا هغه کتاب معهود دی چي موعود په تورات او انجیل کي وو . بیضاوي ، تفسیر مظهري ، روح البیان ، روح المعاني ، درویش .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه ! چي لفظ د کتاب مصدر دی په معنا د مکتوب دی او اصل معنا د کتب جمع او ضم دی ، نو کتاب هم یو لفظ وه بل ته جمع کوي او هم ددي سببه لښکر ته کتیبه وایي **لإنضمام افراد العسکر فیه** . م ، ب ، ر

فائده : هغه ترکیب چي روح البیان والا کړی دی چي (الم) نوم سي د قرآن ، نو (الم) مبتداء ، ذالك الکتاب یي خبر دی ، ضعیف ترکیب دی، ولي چي دمخه تیره سوه چي حروف مقطعة په اوائلو کي د سورو نومان د قرآن کنل ډیره ضعیفه توجیه ده . فتذکر .

پوه سه ! چي کلمه د (لا) په لاریب فیه کي دپاره د نفي د جنس ده او ریب یي اسم دی مبني پر فتحه دی . کما هو القانون النحوي او فیه خبر دی . او هدی للمتقین حال دی .

سوال : نفی د جنس شك د قرآن څخه څرنګه صحیح کیږي **مع أن الکفار باجمعهم منکرون عن کون القرآن الکریم کتاب الله والمبتدئة من أهل القبلة**. شك دی په معانیو کي د متشابهات القرآن ، حتی پر ظاهر یي وجه او ید وغیره حمل کړي دي کما مرّ تفصیله.

والجواب : چي خدای پاك خو نفي د شك د قرآن څخه کړی دی په دي معنا چي قرآن د شك ځای نه دی . که څوك انصاف وکړي او د قرآن پاك په معانیو او په کلماتو د حسد څخه په پاك زړه غور وکړي او د خلګو څخه یي نفي د شك نوي کړي ، نو دا داسي مثال لري چي سړی ووایي چي په عسلو کي تریخ والی نسته . که څه هم په خوله د صفیراتي ترخه معلومیږي . **فالشمس شمسٌ وان لم یرها الضریر . و أمثال ذالك کثیرة.**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او داسي جواب هم ممکن دی چي لاریب فیه په ظاهره جمله خبریه ده لکن دلته په معنا دی نهي ده یعني لاترتابوا فی القرآن . نحو قوله تعالی : (فلارفث ولافُسُوق ولاجدال فی الحج) یعني د حج په ایامو بدي خبرې او فسق او جنګ مه کوی . کذا فی روح البیان

قوله هدیً للمتقین: هدیً یا منصوب دی او حال د ضمیر څخه د فیه دی او للمتقین متعلق به او یا مرفوع دی خبر د مبتداء محذوف دی ای هو هدیً. او پرهر تقدیر حمل یي پر کتاب یا مبالغتاً دی لکه زیدعدل اویا هدیً. په معنا د هادیاً دی .

پـوه سـه ! چي هدایت معنا کـه ارائة الطریق سي یعني الدلالة علی مایوصل ، نو که څه هم هدایت دقرآن په دي معنا عام دی ولهذا قال الله تعالی : (هدیً للناس . لکن تخصیص د متقین به ددي کبله وکړی چي په هدایت د قرآن تقوی دارو انسانانو نفع اخستي ده بالإیمان به والعمل بأحکامه .

او که هدایت دلالت موصله سي ، نو تخصیص د متقین ظاهر دی او تقوی په اصطلاح د شرع شریفي کي څان ساتنه دهغه شي څخه چي د سړي ضرر وي په آخرت کي ، نو که عقائد وي او که اعمال وي روح په روح البیان کي وایي چي د تقوی شرعي دري دري درجي دي .

اول ساتنه د څان د د ابدي دوزخ چي هغه په کلمه د لاالـه الاالله محمد رسول الله پورې مربوطه ده صدقا من قلبه یعني چي د هر قسمه کفر څخه سړی څان وساتي ، نو هم په دي معنا کلمه طیبي ته کلمة التقوی ویل کیږي کما فی قوله تعالی : (و ألزمهم کلمة التقوی) وهذه المرتبة أدنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من مرتبة التقوى .

دوهمه مرتبه ځان ساتنه د هري ګناه څخه . که دفسمه د فعل وي لکه زنا وغیره او که د ترک وي لکه ترک د صلات وغیره . یعني کول د ټولو اوامر الهیه وو او ترک دټولو منهیاتو . وهذا التقوى هو المتعارف فی العرف العام کما یقال فُلان متقیٌ او دغه معنا مراد ده په هغه آیت کي . (ولو أن أهل القرى آمنوا واتقوا) .

او دریمه مرتبه د تقوی چي تقوی د خاصو بندګانو د خدای ﷻ ده لکه په دي آیت کي چي اشاره ورته سوي ده : (یاایهاالذین آمنوا اتقواالله حق تقاته. الآیة) هغه تقوی داده چي د سړي زړه په غیر پوري د خدای جل سلطانه مشغول نه وي . چي وه دي مرتبي ته انبیاء الله صلی الله علیه وسلم و اولیاء الله رح علی تفاوة درجاتهم رسیدلي دي . ومن الله التوفیق.

په رساله قُشیریه کي ددغسي تقوی مثال یي په ابن سیرین رحمه الله ویلی دی . چي دده څلویښت منګیه غوړي وي او دده مریي د یوه منګي څخه مړ موږك راکښلی وو . نو ده پوښتنه خندي وکړه چي د کم منګي څخه دي موږك راوکښی ؟ مریي ورته وویل چي زما هغه اوس په یاد نه دی ، نو ابن سیرین رح څلویښت سره منګي توی کړه .

او د امام اعظم رح تقوی هم ددي تقوی مثال دی چي دی مبارك په عین ګرمي کي وه سایي ته د دیوال د پوروړي نه دریدی . او د ابه یي ویل چي په حدیث شریف کي راغلي دي : کلُ قرضٍ جرَّ به خصعاً فهو ربی

او ویل کیږي چي بایزید بسطامي رح یو وخت قمیص پریولی او یو شاګرد هم ورسره وو ، شاګرد ورته وویله چي په دغه دیواله کي لرګی ټك وهم او دا قمیص به پوري وخړوم . ده مبارك ورته وویله چي دا خو د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

صاحب الجدار تاوان دی . شاګرد يې ورته وويل چې ددي درختي پر ښاخو به يې اوار کړم . ده رح ورته وويل چې په دي سره به بعض نازك ښاخونه د درختي ړوبل سي ، نو هغه ورته وويل : نو څه په وکړم ؟ ده رح ورته وويل چې زما پر شا يې يو طرف اوار کړه چې هغه وچ سي بيا به يې بل طرف پر اوار کړي .

دغه رنګه په تاريخ بغداد کې د امام اعظم رح په مناقبو کې راغلي دي چې دده مبارك پر يو يهودي پور باندي وو ، نو امام اعظم رح دپاره د پور د يهودي کور ته ورغلی او د پښو په چپلی پوري خوشايي يا بل مرداري مښتي وه ، ده چې څپلی وځندول ، هغه مرداري د يهودي د سرای پر ديوال ولګيدله . امام اعظم رح ورته حيران سو چې دغه مرداري که په يو شي د ديواله څخه جلا کوي ، خو د ديواله خاوري ورسره جلا کيږي ، او که يې پريږدي ، خو د ديواله بدنمايي ده ، نو د خان سره يې دا فيصله وکړه چې يهودي ته به دروازه ور وټکوم او دهغه څخه به مشوره واخلم چې دغه مرداري څرنګه پاکه کړم ؟ دروازه چې يې ور وټکول ، يهودي چې راووتی هغه امام ته د پور عُذر کاوه ، امام اعظم رح ورته وويل چې ته د پور عُذر پريږده ، ماته مشوره راکړه چې دا ستا ديوال د مرداری څخه ژه څرنګه پاك کړم ؟ يهودي چې د امام المسلمين رح وه دي انصاف او تقوی ته وکتله امام رح ته يې وويله چې د ديوال تر پاکی دمخه ژه خان خپل د نجاست څخه درته پاك کړم . لا اله الا الله محمد رسول الله يې وويل او مسلمان سو .

ګرانو لوستونکو ! که تاسي غواړی چې د امام المسلمين سراج الامت ابوحنيفه رحمه الله بښ پر تاريخ او دده تقوی کارنامي غواړی چې زده کړی نو د درويش پبنتو شرح پر ابوالمنتهی مطالعه کړی ، نو انشاء الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالی د زړه به مو اطمنان او دخپل امام مُحبت کلي به درته حاصل سي

اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ

او متقين هغه کسان دي چي ايمان لري پر غيب

پوه سه ! چي الذين مبتداء ده او يومنون بالغيب يي خبر دی . او ټوله جمله صفت دی د المتقين ده.

فائده : بعض اهل التفسير د تقوی تفسير په دي سره کوي چي هغه کار چي په شرع کي مناسب نه وي هغه کار پريږدي ، من الكفر بجميع أنواعه و الأعمال السيئة كالزنا وغيره بجميع افراده ، نو پر دي تقدير الذين يومنون آه صفت مقيده د متقين ی ، يعني دا صفت قيد دی د متقين دپاره ، ولي تقوی پر دغه تفسير متقين ايمان بالغيب آه ته نه شامله ، نو ځکه يي متقين په قيد مقيد کړي تر څو چي دلالت وکي پر دي چي متقين به سره د ترکه د مالاينبغي فی الشرع په دي اوصافو سره هم موصوف دي يعني ايمان بالغيب آه . او بعض مفسرين رح تفسير د تقوی په ترك د مالاينبغي فی الشرع من الكفر وغيره من المعاصي .او کول د ما ينبغی فی الشرع من الايمان وسائر الحسنات الشرعية . نو چونکه متقين پر دغه تفسير والذين يومنون آه ته هم شامل دی ، نو دا صفت قيد نه دی بلکه توضيح او بيان د متقين دی.

پوښتنه : دا صفت به څرنګه بيان سي د متقين . او سره ددي چي په دي صفت کي بعض ماينبغي من الايمان بالغيب و اقامة الصلوة والانفاق ذكر دي ، نو روژه او حج وغيره کم دي چي ذکر دي او دغه رنګه د مالاينبغي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه هیڅ شی پکښې ذکر نه دي ؟

نو ددي سوال جواب قاضي بيضاوي رح او روح البيان والا و تبعه قاضي ثناء الله په دي ډول ورکوي چي په دي صفت کي اصول د اعمال باطنه چي ايمان دی ذکر سوی چي ټوله عقائد حقه وو ته شامل دی . او د اعمال خبيثه باطنه وو چي کفر دی ترک لره يي مستلزم دی . او بل اقامة الصلوة ذکر سوی دی . چي اصل د اعمالو بدنيه وو دی او د ټولو اعمال سيئه لکه زنا وغيره ترک لري مستلزم دی كما قال الله تعالى : (إن الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر) چي معنا يي داده چي لمونځونه چي څوک د شريعت سره برابر ادا کوي هغه به د ټولو بدعملو څخه منع وي . او عليه السلام وايي : الصلوة عمادالدين . او په دي آيت کي صفت د انفاق ذکر دی ، چي ټولو عبادات ماليه وو ته شامل دی . خکه عليه السلام وايي : الزكاة قنطرةُ الإسلام.

حاصل د جواب دادی : چي ددي آيت په مذکوره دري امورو کي ټوله ترک د مالاينبغی او اتيان په ماينبغي چي مفهوم دتقوی وو نغښتي دي و لهذا يكون هذه الآية صفت موضحة للمتقين.

او بعض مفسرين رح چي تفسير ثاني دتقوی کوي دا هم وايي چي الذين يومنون آه دي صفت مادحه د المتقين دی چي په صفت مادحه کي ذکر د ټولو اوصافو د موصوف نه غواړي ، بلکه د عالي صفاتو د موصوف ذکر غواړي وهنا كذالك كما سمعت آنفا . تحقيق الإيمان.

پوه سه ! چي ايمان د بابه د افعال دی مجرد يي امن دی ، نو مومن خدای ﷻ او رسول عليه السلام په امن کي کوي د تکذيب څخه او ياځپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خان دعذاب النار څخه بیغمه او په امن کي کوي او د خدای ﷻ په اسماء کي مومن راغلی دی په دي معنا چي خدای جل شانه خپل مومنان بنده ګان بیغمه او په امن کي کوي د عذاب النار څخه په فضل او کرم سره .

پوهه سه ! چي ایمان په نیز د ابوحنیفه رحمه الله او دده د متابعانو په نیز: هوالإقرار او تصدیق دی په تولو هغه شیانو چي یقیناً معلوم دي چي دا شیان د دین څخه د علیه السلام دي لکه خدای ﷻ یو بلل او نبوت حق ګنیل او بعث بعد الموت او جنت او دوزخ رشتیا بلل وغیرها من العقائد الحقه ، لکن اقرار جزء لازم نه دی بلکه په عذر سره ساقطیږي کما فی وقت الاکراه .

او بعض حنفیان رح وایي چي ایمان فقط تصدیق مذکور دی او اقرار یي شرط دپاره د اجراء د احکام شرعیه وو دی لکه نکاح د جنازي ، لمونځ او دفن په مقابرو کي دمسلمانانو وغیرها وذالك لان التصدیق القلبي مبطنٌ و یؤیّده ظاهر الاحادیث النبویة ﷺ .

او ایمان په نیز د جمهورمحدثینو رح او معتزله وو او خوارجو مجموع دري شی دي . التصدیق بالقلب والإقرار باللسان والعمل باالارکان وهو مختار الشیخ الاشعري رحمه الله واتباعه نو که څوك اعتقاد قلبي نه لري اقرار باللسان به کوي . هغه کافر منافق دی . او که څوك اقرار نه کوي یعني سره د قدرته او د طلب د اقرار ، نو هغه کافر مجاهر بولي . او که عمل باالارکان څوك نه کوي هغه فاسق دی په اتفاق د اهل الحدیث والمذاهب الصحیحة . او په نیز د خوارجو هغه سړی کافر دی . او په نیز د معتزله وو دا سړی مومن نه دی لإنتفاء جزء الإیمان وهوالعمل فیه . او کافر هم نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی لِعدم الانکار ددوی په نیز په کفر کي انکار شرط دی.

نو دوی په مابین کي د ایمان او کفر واسطه وایي - دا نه وایي چي په مابین کي د جنت او دوزخ واسطه سته لأن مرتکب الکبائر مخلدٌ فی النار عندهم اذا مات بلاتوبة کما فی حاشیة المولی الخیالي علی شرح العقائد.

درویش وایي چي تفصیل ددي مذاهبو بلکه د نورو مذاهبو د ضلال په کتاب الملل والنحل لمحمد بن عبدالکریم رح مطالعه کړه. اود بعض مذاهبو لکه مذکوره مذاهب په کتابو کي د عقائدو مطالعه کړه لکه شرح العقائد النسفي للعلامة التفتازاني رح و حاشیة النبراس علیه و کتاب شرح المقاصد ایضاً للعلامة التفتازاني رحمه الله والمواقف للقاضي عضدالملة والدین رح وشرح السید الجرجاني رح علیه و شرح العقائد الجلالي او کتب التفاسیر الطویلة الاذیال تفسیر للامام الهمام الرازي رح المسمی بالتفسیر الکبیر، والتفسیر المسمی بروح المعاني و غیر المذکور من کتب العقائد والتفاسیر. والله الموفق للحق الیقین فی امورالدین.

وفی روح البیان الغیب مصدرٌ اصلاً، لکن پر غائب شي اطلاق کیږي مجازاً و توسعاً. او غائب دوه قسمه دی، یو قسم هغه دی چي هیڅ دلیل نه وي باندي نه عقلي او نه نقلي وهوالمراد فی قوله تعالی: (وعنده مفاتیح الغیب لایعلمها إلاهو) ددي قسم د علم دعوه کول کفر دی او بل قسم هغه دی چي پر هغه باندي دلائل عقلیه او نقلیه موجود وي لکه صانع العالم وصفاته من القدرة والعلم وغیرهما. والنبوة ومایتعلق بها من الاحکام والشرائع لکه لمونځ، روژه، حج، وغیرها والیوم الآخر و احواله من البعث بعدالموت والحساب والجزاء بالجنة اوالنار وغیرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد دلته دغیب څخه دوهمه معنا ده ، نو (باء) د بالغیب صله د ایمان ده .

سوال : ایمان خو په خپله متعدي دی نو حرف جر څه کوي ؟

واجـــاب عنـه البروسـوي رحمه الله ان التعدية بالبـاء لتضـمين الايمـان معنـى الاعتراف اى يؤمنون معترفين بالغيب . او یا ایمان مجازاً په معنا د وثوق دی أی موثقین بالغیب . حاصل دا چې پر تقدیر بالغیب دمفعول به په خای کې دي او که چیرې غیب پر خپله معنا مصدري پاته سي ، نو (باء) دپاره د ملابست ده . تقدیر یې دادی : یؤمنون متلبسین بالغیب ، نو معنا داده چې دوی د خلګو څخه غائب وي هم ایمان یې وي لا کالمنافقین : (إذا لقوالذین آمنوا قالوا آمنا و إذا خلوا إلی شیاطینهم قالوا إنا معکم . الآیة.

او یا دامعنا د غیب ده چې د مومن به څخه چې علیه السلام دی غائب وي یعني آنحضرت صلی الله علیه وسلم اودده معجزات یې نه وي لیدلي . لکه صحابه کرامو رض تر زماني وروسته خلګ إلی یوم القیامة . وردً فی الخبر چې حارث بن مغیروه عبدالله بن مسعود ﷺ ته وویل چې موږ تاسي اصحابو ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم لیدل دا لوی شرافت او د ثواب شی ګڼرو چې په موږ کې نسته ، یعني لیدل او صحبت د علیه السلام . نو عبدالله بن مسعود ﷺ ورته وویل چې موږ تاسي ته دا شرافت ثابته وو چې تاسي سره ددي چې علیه السلام مو نه دی لیدلی او ایمان پر لری . قال و ان افضل الإیمان ایمانٌ بالغیب ثم قرء : (ألذین یؤمنون بالغیب) نو ددي خبرې څخه دا معلومیږي چې د غیب څخه غیبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د مومن په مراد دی والله أعلم بالصواب

او بعض مفسرین رح وایي چې د غیب څخه ژړه مراد دی لأنه غائب مستور ، نو معنا د آیت داده: (یؤمنون بقلوبهم یعني لا کاالذین یقولون بأفواههم مالیس فی قلوبهم ، نو کلمه د (باء) پر دي تقدیر دپاره د آلة لکه کتبتُ بالقلم.

ښهانه فائده : درویش و ایي چې که څه هم د عقائدو په کتابو کې وایي چې ایمان او اسلام یو دي ، لکن په عرف کې ایمان په عقائدو کې ډیر مستعمل دی او اسلام په عباداتو کې سائع دی ویدل علیه الحدیث الذي رواه البخاري رحمه الله ومسلم رحمه الله عن عمربن الخطاب رضي الله عنه بینا نحن عند رسول الله صلی الله علیه وسلم (په دي مابین کې چې موږ په نیږ د علیه السلام سره حاضر وو) إذ أقبل رجل شدید بیاض الثیاب شدید سواد الشعر (چې ناګاه راغلی یو سړی چې سخت سپین کالي یې وه او ډیر سخت تور وریښتان یې وه) ما یُری علیه أثر السفر لایعرفه أحد منا (او نه معلومیدی پر ده اثر د سفر ، ولي چې نه یې کالي خیرن وه او نه یې ښې سپیري وي او په موږ کې هیڅ چا هم نه پیژندی ، یعني دا سبب د حیرت زموږ وګرځیدی ، که مسافر وایي نو خو به څه ناڅه اثر د سفر پر معلومیدای او که د مدیني سړی وای موږ به یو چا پیژندای) حتی جلس بین یدی رسول الله صلی الله علیه وسلم و رکبته لمس رکبته (حتی دا سړی راغلی په مخ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښیناستی او دده زنګون د علیه السلام د زنګون سره ومُښتی) فقال یامحمد أخبرني عن الإسلام فقال النبي صلی الله علیه وسلم أن تشهد ان لاإله الا الله و أن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمدرسول الله و تقيم الصلوة و تؤتى الزكوة وتصوم رمضان و تحج البيت إن إستطعت إليه سبيلاً (نو هغه سړي وويل : ماته خبر راکړه د اسلام . نو عليه السلام ورته وويل چي ته به شاهدي اداء کوي په دي سره چي لااله الا الله و ان محمدرسول الله او پنځه وخته لمونځ به کوي او زکات به ورکوي او ېوه مياشت روژه به نيسي او حج د بيت الله شريفي که دي طاقت دلاري يعني دخرڅ وو کوي) فقال صدقت فتعجبنا من سواله وتصديقه (نو هغه سړی ورته وويل : رښتيا دي وويله . عمر رض وايي نو موږ تعجب وکړی وه سوال ته دده او تصديق ته دده . وجه د تعجب داده چي څوک چي سوال کوي هغه خو بايد ناخبره وي . او څوک چي تصديق دچاکوي هغه خو لازمه داده چي دمخه هم خبر وي) ثم قال فماالايمان؟ قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله والبعث بعدالموت والجنة والنار والقدر خيره وشره فقال صدقت (نو بيا هغه سړي وويل چي نو ايمان څه شی دی ؟ نو عليه السلام وويل چي ايمان دادی چي ته تصديق لري پر خدای ج يعني خدای سته او واحد دی بي شريکه ، يعني نه په ذات کي او نه په صفاتو کي او ته به ايمان لري پر ملائکو دخدای ج يعني ملکي عِبادٌ مُكْرَمُوْن دخدای ج دي لايعصون الله يعني د خدای ج لونړي به يي نه بولي لکه مشرکينو د مکي چي به ويل كما قال الله تعالى انكاراً عليهم : (ألكم الذكر وله الأنثى تلك إذاً قِسمة ضِيزَى)

پوه سه ! چي ملائکه يو لوی مخلوق د خدای ج دی چي نه په مثال د انسانانو نر دی او نه ښځي او خورك او چښك هم نه کوي او توالد هم نه لري . او ته به ايمان کوي پر ټولو کتابو د خدای جل جلاله چي يو سل او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دیارلس ۱۴ کتابـه دي . او ته به ایمان لري پر ټولو رسولانو دخدای ج یعني چي ټوله پر حق دي او دخدای ج دخوا دپاره د هدایت او دعوت د خلکو را استول سوي وه . (لانُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ ،) په نفس نبوت لکه یهودو چي علیه السلام او محمد علیه السلام په رسالت نه منې . یا نصاری چي موسی او محمد علیهما السلام په رسالت نه منی . موږ داسي نه وایو .

فائـده : په ټولو کتابو کي وایي چي رسول هغه څوك ښولي چي نوی شریعت لري . او نبي عام دی . که نوی شریعت لري او که د دمخه نبي په کتاب او شریعت عمل کوي ، نو نبي عام دی تر رسول . په حدیث شریف کي رسول په دغه معنا نه دی ، ولي په دي معنا رسولان ۳۱۳ دي ، نو نور ټوله انبیاء ع د ایمان څخه خارجیږي بلکه رسول په حدیث مذکور کي په معنا د نبي دی .

فائده : د انبیاء علیهم السلام صحیح تعداد نه دی معلوم . په احادیث مبارکه وو کي مختلف عددونه راغلي دي لهذا په ایمان کي د انبیاء ع په عدد معین نه یادوي او انبیاء علیهم السلام د یولك څلیرویشت زره ۱۲۴۰۰۰ په شاوخوا کي دي . او ته به تصدیق لري پر بعث یعني ژوند پس له مرګه ، یعني په ورځ د قیامت کي . او مشرکان بعث بعدالموت نه منې . او ته به ایمان لري چي جنت دپاره د مومنانو او دوزخ دپاره د کافرانو سته . او ته به ایمان لري پر تقدیر د خیر او شر د طرفه څخه د خدای ﷻ دی او داسي به نه وایي چي دخیر او شر خالق بندګان دي او خدای پاك هیڅ کار نه پوري لري . لکه معتزله چي وایي . او داسي به هم نه وایي چي بنده او بد کارونه ټوله خدای جل جلا له په بندګانو کوي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بندګان صرف مجبور محض دي لکه جبریه چي وایي بلکه خالق د افعالو د بندګانو که د خیر عمل او که د شر وي خدای جل سلطانه دی . او بندګان کاسبان دي د خپلو عملو ، په دي معنا چي بنده په خپله اراده کوي د کار د خیر یا د شر ، نور نو خالق او موجد خدای ج دی وهذا هو مذهب أهل السنة والجماعة رح وهو المذهب المتوسط بین افراط المعتزلة وتفریط الجبریة.

پوښتنه : ضمیر د (خیره وشره) خو په اتفاق وه قدر ته راجع دی او قدر د خدای ج فعل دی . دخدای ج په فعل کي خو د شر لاز نسته ؟

جواب : هو، دخدای ج کارونه ټوله خیر دي ، لکن په دي ځای کي قدر په معنا د مقدور دي ، نود عبارت معنا داسي ده چي ته به ایمان لري چي مقدور که خیر وي لکه عبادت او که شر وي لکه معصیت د جانبه د خدای ج دی یعني خالق یي خدای جل شانه دی . او که قدر پر خپله معنا پریږدي ، نو خیروالی او شروالی یي په اعتبار د مقدور دی والمآل واحد فتدبّر (بیا هغه سړی وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل :) فماالإحسان؟ قال أن تعبدالله کأنك تراه فإن لم تکن تراه فإنه یراك قال صدقت (چي احسان څه شی دی ؟ مراد دده د احسان څخه اخلاص په عبادت کي دی . علیه السلام ورته وویل چي احسان دادی چي ته به عبادت دخدای داسي کوي لکه ته چي خدای ج وینې یعني په حضور قلبي او عجز ظاهري کما یفعله العبیدُ فی محضر ملوکهم بل أعلی منه لأنه تعالی مَلِك الملوك لامَلِك حقیقةً إلاّالله (او که ته خدای ج نه وینې خدای ﷻ خو تاوینې یعني ستا په عبادت او په اخلاص سره علم لري)ثم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال فاخبرني عن الساعة قال ماالمسئول عنها بأعلم من السائل . قال صدقت (بیا هغه سړي ورته وویل : ماته خبر راکړه د قیامت یعني تعیین یې راته وکړه چې کله به قیامت وي؟ علیه السلام ورته وویل چې نه دی هغه څوك چې دا سوال ځندي وکړه سو یعني نفسه ډیر خبر په قیامت سره تر سائل چې ته یې . یعني ماوتا په عدم علم د تعیین د قیامت سره برابر یو . هغه ورته وویل صدقت) قال فأخبرني بأماراتها (نو هغه سړي ورته وویل چې نو ماته خبر راکړه د علاماتو د قیامت . یعني د ټرډي والي د قیامت) قال إذا ولدت الأمة ربتها و ان ترى الغُرات الحفات رعاء الشاء يتطاولون فى البُنيان . قال صدقت (نو علیه السلام ورته وویل چې یوه علامه داده چې وزیږوي مینځه خپل بادار .

پوه سه ! چې د زیږیدو د خپل رب شارحینو د احادیث مبارکه وو رقم رقم ترجمې او تاویلونه کړي دي ، خو آسانه تاویل یې دادی چې عقوق د امهاتو به ډیر سې او لور به پر مور داسې حکمونه کوي لکه بادار پر مینځه . او بله علامه د قرب القیامت داده چې ته به وویني هغه کسان چې لخ بدن او لخې پښې به کرځیدلـه والمراد والله أعلم چې غایت مسکینان به وه . دوی به اوس غټې غټې بنکلي او لوی جګې جګې کوټې لري . هغه سړی ورته وویل صدقت . نو هغه سړی ولاړی . درویش وایي چې ددغه په باقي برخه کې روایات مختلف راغلي دي په یوه روایت کې داسې راغلي دي چې هغه سړی چې د مسجدنبوي ﷺ څخه ووتی علیه السلام خلکو یعني صحابه کرامو رض ته وویل چې رُدُّوْهُ عَلَيَّ چې داسړی بیرته راولی . صحابه رض چې پسې ور ووتل سړی ورك سو ، نو علیه السلام وه صحابه رض ته وویل چې داسړی جبرئیل امین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وو . ددي دپاره راغلی وو چي تاسي ته دين در وښيي . يعني چي دده مهمي پوښتنې او زما جرابونه او دده تصديق زما د خبرو تاسي مشاهدتاً په خپلو غوږو واورئ والله أعلم بمراد رسوله ﷺ.

وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ

او ادا کوي دوی پنځه لمونځونه د شريعت عزار سره موافق په فرائضو په واجباتو ، په سنتو او مستحباتو کي او په آداب باطنه وو کي لکه خشوع او خضوع او پر طريقه د احسان کمامرّ في الحديث النبوی ﷺ کي.

پوه سه ! چي حضرت الشيخ الكامل فی علم الباطن والظاهر اسماعيل حقی البرسوی رح په تفسير روح البيان کي وايي چي لفظ د صلوة په لغت ددغو معاني دپاره وضع دی الدعاء كما فی قوله تعالى: (وصلّ عليهم) او دعاء کوه وه دوی ته يعني اصحاب صدقه ته الثناء كما فی قوله تعالى (ولاتجهر بصلاتك) ای قرائتك . الرحمة كما فی قوله تعالى : (اولئك عليهم صلوات من ربهم ورحمة) يعني پر دوی باندي رحمتونه دخدای ج دی او په شرعه شريفه کي نوم دی د افعال مخصوصه وو چي هر چاته معلوم دي . او مناسبت د معنای لغوي او معنای شرعي ظاهر دی . ولي چي په ولاړه کي قرائت سته او په ناسته کي دعا سته او په رکوع او سجده کي ثناء دخدای سته په تسبيحاتو کي درکوع اوسجدي او پر فاعل د لمانځه خدای جل سلطانه رحمت نازلوي .

درويش وايي چي دا تولي لغوي معناوي صحيح دي او هغه معنا لغوي چي علامه الزمخشري ذکر کړي ده په تفسير کشاف کي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صلات په لغت کي ښورول د کناتو د هډوکو ده او مناسبت دشرعي لمانځه سره يي دادی چي لمونځ کوونکی هم په لمانځه کي د کناتو غټ هډوکي ښوروي . هغه ډيره بعيده معنا ده وي صلوين اسم جامد دی د اسم جامد څخه اشتقاق ډير نادر دی نحو تَفرعنَ فلان ای فعل فعل الفرعون . او بل دا چي بايد د جنازې لمانځه ته دي صلاة شرعاً نه ووېل سي ولې چي تحريك د صلوينو يعني کناتو پکښې نسته . او بل دا چي صلّى يصلي باب د تفعيل دی او باب د تفعيل دپاره د تحريك ډير نادر دی والعجب من القاضي البيضاوي حيث اَيَّد رأی الزمخشری فی تفسيره فحق القول أن لكل عالم هفوة ولكل صارم نبوة ويجب عليه الاحتياط فی مأخذ الالفاظ القرآنية فی اللغة العربية . وهيهات للمعتزلة ذالك.

پوه سه ! چي درويش چي قول د صاحب کشاف او تائيد د بيضاوي رد کړی او دا رد هم درويش د انصاف د لارې او احتياط د لارې په الفاظ قرآنيه وو کي لکن چونکه درويش وايي حاسدان په همجنسو کي موجود دي او دهغو عادت دادی چي حق په رجالو سره پيژني نه رجال په حق سره ولنعم ماقيل : چشم بداندیش که برکنده باد ٭ عیب نماید هنرش در نظر .

نو عين ممکنه ده چي دوی به وايي چي عبيدالله د څانه څخه نوی شخص جوړ کړی چي پر علامه زمخشري او محقق بيضاوي يي رد وکړی

نو ددوی دپاره د امام فخرالدين رازي رح قول چي په تفسير کبير کي يي کړی دی رانقل کوم ، نو چونکه حاسدان د درويش به عالمان وي ، نو ددي کبله هغه عربي عبارت رانقل کوم او په پښتو يي ترجمې ته يي نه اړوم ، تر څو چي ددوی دغه ګمان دفع سي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال الإمام رحمه الله أن هذا الاشتقاق الذي ذكره صاحب الكشاف يفضى الى طعن عظيم فى كون القرآن حجةً وذالك لان لفظ الصلوة من اشد الالفاظ شهرة و اكثرها دوراناً على السنة المسلمين . واشتقاقه من تحريك الصلوين من أبعدالأشياء اشتهاراً فهما بين اهل النقل . ولوجوزنا ان يقال مسمَّى الصلاة ومعناه فى الأصل ماذكره الزمخشري ثم انه خفى و اندرس اى المعنى الاصلي حتى صار بحيث لايعرفه الا الاحاد لكان مثل ذالك فى سائر الالفاظ القرآنية جائزاً . ولو جوزنا ذالك لما قطعنا بان مراد الله تعالى من هذه الالفاظ ماتتبادر اليه افهامنا لاحتمال انها كانت فى زمان رسول الله صلى الله عليه وسلم موضوعة لمعانٍ أُخر كان مرادالله تلك المعانى الا ان تلك المعانى قدخفيت فى زماننا واندرست كما وقع مثل ذالك فى هذه اللفظة يعني لفظ الصلوة على مقتضى قول الزمخشرى . فلما كان ذالك باطلاً بإجماع المسلمين علمنا ان الاشتقاق الذي ذكره الزمخشرى مردودٌ باطلٌ انتهى قوله بالتلخيص و بعض الزيادة فافهم وقل ايهاالحاسد فى شأن الفقير ماتستطيع ان تقول . وچونکه گفته اند مشت نمونه خروار است باید حاسدین در تفسیر فقیر انگشت نمایي مذکور . درویش هرچه میگوید دیده میگوید . والله المستعان وعليه التكلان وانا أرجوا ان هذاالحسد ينقطع بموتي و اسأل تعالى من فضله وكرمه التوفيق لاتمام هذا التفسير من اوله و آخره بالتعجيز والعافية والصحة والسلامة آمين .

او د اقامة الصلوة معنا بيضاوي رحمه الله اوثناءالله رحمه الله او اسمعيل بروسوی رحمه الله په اتفاق سره داسي کړي ده چې :

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۱: مراد همیشه توب دی پر لمانځه .

۲: او یا دا چې په لمانځه کې به سستي نه کوي او ده ته په په جدوجهد سره چمتو وي .

۳: او یا هغه معنا چې درویش په ترجمه د آیت کې وکړه .

او دغو دري سرو مفسرینو رح ویلي دي چې دغه معنا اظهر او وه حقیقت ته نژدې ده او تر ټولو فائده منه معنا ده . ولي چې مستحق د مدح هم داغه سي لمونځ کوونکی دی .

ابراهیم رحمه‌الله وایي که چا په لمانځه کې تعدیل الارکان نه کاوه نو سړی دي دده پر عیال رحم وکړي چې د ضیق الرزق سره مخامخ نسي

فائده : په تفسیر تیسیر کې وایي چې خدای جل شانه خپل بندګان په خو شیانو په لمانځه کې امر کړي دي

۱: نفس کول د لمانځه . بقوله تعالی : (و اقیموالصلوة)

۲: بل همیشه توب پرکول بقوله تعالی : (الذین هم علی صلاتهم دائمون)

۳: بل پر خپل وخت کول بقوله تعالی : (إن الصلوة کانت علی المؤمنین کتابا موقوتا).

۴: بل په جماعت کول بقوله تعالی : (وارکعوا مع الراکعین)

۵: او بل په خشوع سره بقوله تعالی : (الذین هم فی صلاتهم خاشعون).

پوه سه ! چې د جماعت لمونځ په نیز د روح البیان فرض کفایي دی ، نو که سړی لمونځ یوازې وکړي روا خو دی لکن ثواب دجماعت څنې فوت سو . او اکثر کتابونه دفقه حنفي پر دي دي چې جماعت سنت موکد دی او کمال الدین الهام رح وایي چې واجب دی . دلیل یې هغه آیت مذکوره ګرځولی دی . او احمد بن حنبل رح وایي چې جماعت پر نرو فرض عین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی ، حتی که پیله عذره یې شرعي سړی لمونځ یې جماعته وکړي . نه دی روا

فائده : په روح البیان کي وایي چي تارك الجماعت بد دی تر شراب خوره . او بد دی تر قاتل النفس ناحق او بد دی تر عاق د مور او پلار . او بد دی تر غیبت کوونکي . او ملعون دی په تورات او انجیل او زبور او فرقان کي . او ملعون دی پر ژبه د ملائکه وو ..

درویش وایي چي والله اعلم بصحة هذه الاحکام او سره ددي چي دغه ټوله شمیرلي کنهونه ګناه کبائر دي . او جماعت یا سنت موکد یا واجب دی زمونږ په نیز. روح البیان یې حواله وه روضة العلماء ته کړي ده او زه نه پوهیږم چي دا څنګه کتاب دی ، البته په صحیح حدیث کي راغلي دي چي : تارك الجماعة لیس مني ولا انا منه ولایقبل الله من صرفا ولا عدلاً ای نافلةً ولافرضیةً

فائده : تارك الجماعة هغه نر دی چي ترك الجماعت بیله هیڅ عذر عادت وي او د جماعت لمونځ یې نادر وي . ګاهي ګاهي چي پر پیښ سي د خلګو د شرمه یا په اوداسه یا بې اوداسه د جماعت لمونځ اداء کړي . داسي تارك الجماعت بدترین د تارك الجماعت دی او شاید کلام او احکام د روح البیان به پر دغسي تارك الجماعت محمول وي . او داسي تارك الجماعت په بنارو کي د مسلمانانو زما په ټوله عمر کي ما یو سړی په کوبه کي ولیدی چي سره ددي چي دده د سرای دروازه او د جامع مسجد دروازه تقریباً سره مخامخ وي ، په شل کاله کي چي درویش په دغه جامع مسجد کي پر لمانځه نه ولیدی بلکه په نږدي مساجدو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کي هم چا پر جماعت نه دی لیدلی حتی د جمعي شریفي په ورځ او د عیدګاه په ورځ چا نه دي ویلي چي فلانی ما په مسجد کي پر جماعت ولیدی . په کور کي یي خدای خبر چي ده لمونځ کاوه او که یي نه کاوه. اما تارك الجماعت یوازي دغسي سړي ته نه وایي بلکه تارك الجماعت هغه سړی هم دی چي بیله عذره دري څلور لمونځه بي جماعته کوي.

فائـــده : د جماعت د ترك عذرونه سته چي بیا د سړي غاړي نه دي بنديي.

۱: ډیر سپین ږری وي چي بعض لمونځو ته نسي راتلای .

۲: ړوند وي او قائد نه لري .

۳: مریض و ي چي دجهته د ناجوړی مسجد ته نسي تلای .

۴: دښمنان لري چي د بعض لمونځو په وخت کي د مسجد په تلو کي د هغو څخه بیریږي .

۵: په کور کي یوه بڅه او کوچنی عیال وي چي دی بیریږي چي د بعض لمونځوپه وخت کي لکه د ماخستن یا سحار وختي غل وه کور ته رانسي. بائیسکل یا موټرسائیکل وغیره غلا نه کړي .

۶ : سخت یخ باد او تاریکه د بعض لمونځو په وخت کي .

۷: باران یا واوره په شدت سره اوري .

۸: ګوډ یا شل وي .

۹: طبیبانو او ډاکټرانو په سبب د بعض مرضیو دی په آرام سره امر کړی.

۱۰: سلسل البول وي چي په حرکت سره بولي څڅي تویږي وأمثال المذکورات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دا اعذار نه وي ، نو په صحیح حدیث کې د بخاري مسلم وغیرهما کې راغلي دي چې د جماعت لمونځ پر یوازې لمانځه په یوه روایت کې ۲۵ درجې په ثواب کې بالادي او په بل روایت کې ۲۷ درجې بالادي .

فائده : دغه پنځه لمونځه زمونږ ددغو انبیاء علیهم السلام څخه منقول دي .

اول د سحار لمونځ آدم علیه السلام کړی دی .
او اول د ماپښین لمونځ ابراهیم علیه السلام اداء کړی دی .
او اول د مازدیکر لمونځ یونس علیه السلام کړی دی .
او اول د مابنام لمونځ عیسی علیه السلام کړی دی .
او اول د ماخستن لمونځ موسی علیه السلام کړی دی .
او اول صلاة الوتر رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی دی په شپه د معراج کې . نو چونکه آنحضرت چې سیدالمرسلین دی ، خدای جل سلطانه و ده ته پنځه سره لمونځونه جمع کړه په شپه د معراج کې . په اول کې یې پنځوس لمونځونه پر فرض کړه . په پنځه پنځه یې کموله حتی چې پر پنځه ودریدله . او چونکه حسنات د امت محمدي ﷺ یو په لس دي نو دغه پنځه په معنا کې بیرته پنځوس کیږي وهذا کله په اوږده حدیث کې د معراج نبوي ﷺ چې بخاري و مسلم وغیرهما یې روایت کړی موجود دي درویش وایي چې په دې بیان سره راز د پنځو لمونځو زمونږ معلوم شو . والله اعلم بالصواب .

پوه شه ! چې په احادیثو صحیحه وو کې راغلي دي چې په عصر نبوی ﷺ کې چې منافقین په مشري د عبدالله بن ابی تر دري سوه ۳۰۰ کسه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوري يې تعداد رسيدی د ماپښين او مازديگر او ماښام لمنځو ته به ريا، او د بيري د مسلمانانو به راتله ددي دپاره چې دا ښکاره کړي چې موږ هم مسلمانان يو او د سحار او ماخستن لمانځه ته به نه راتله ، ولې چې د عليه السلام د ماخستن لمونځ څه ناوخته کيدی او د سحار لمونځ به څه وختي کيدی ، نو منافقينو خوب نسوای پر پرېښولای . او اخلاص او صداقت خو ددوی نه وو .

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳

او دهغه ماله څخه چې موږ په رزق ورکړی دوی ته ، دوی صدقات يا فرضي لکه زکوة يا واجب لکه صدقه فطر يا نفلي کوي .

پوه سه ! چې په نسبت د رزق چې خدای پاك ځان ته وکړی اشاره ده وه دي ته چې په انفاق د مال فی سبيل الخير يعنې لله تعالی دي څوك بخل نه کوي ، ولې چې د خدای ﷻ درکړی رزق دی ، نو ته يې ولې فی سبيل الله نه صرفوي ؟

فائده : اهل السنت وايي چې : رزق هغه شي ته وايي چې حيوان يې خوري ، که حلال وي او که حرام . او معتزله وايي چې حرام شی رزق نه دی . دوی په مذکوره آيت سره دليل وايي ، ولې په دي آيت کې په اتفاق حلال مراد دی موږ ورته وايو چې په دي آيت کې چې حلال مراد دی په قرينه د مقام دمدحې ، ولې د حرامو په اتفاق سره مدحه نه ده روا . او (من) چې دپاره د تبعيض په (مما) کې چې اصل (من ما) وو اشاره ده وه دي ته چې بعض دمال به نفقه سړی کوي . اما فی الفرض فظاهر لان الزكوة فی ای مال كان بعضه و اماالنفلی فللنهی عن الاسراف.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي : چي د ټولـه مـال نفلي خیرات چي منهی عنـه نظر وه اوساطو د مسلمانانو دی ، ورنه په حدیث کي چي بخاري وغیره راغلی دي چي یو وخت علیه السلام صحابه ﷺ امر کړه په انفاق فی سبیل الله سره ، حضرت عمر ﷺ وایي چي په دغه وخت کي ښه پراخه رزق مي درلودی ، نو ما په خپل زړه کي دا وویل چي که دي یو وخت پر ابوبکر ﷺ سبقت په انفاق کي کاوه په دي وخت به یي وکړي ، نو کور ته ولاړم خپل ټوله مال دهري نوع څخه چي وو سم نیمی کی . نیمی مي کور پریښوی او نیمی مي حضور ﷺ ته راوړی . نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم چي دي مختلفو اموالو ته وکتل ، نو یي ماته وویل چي کور دي څه شی پریښوی ؟ ما ورته وویل دغونه قدر مي کور پریښولـه . مور حاضر یو چي ابوبکرالصدیق ﷺ په ډیر کثرت سره مختلف اموال راوړه . علیه السلام ورته وویل چي کور دي څه شی پریښوی ؟ ابوبکر ﷺ ورته وویل : الله ورسوله . چي خدای او رسول علیه السلام مي پریښول ، نو علیه السلام ده ته نه وویل چي دا خو اسراف دی ، بلکه قبول یي کړی ، ولي چي دده توکل علی الله وعلیه السلام ته معلوم وو . عمر ﷺ وایي چي ما قصد په زړه کي وکړی چي د آئنده دپاره به زه قصد د سیالي د ابوبکررض ونه کړم .

او ضمیر د متکلم یعني (نا) خاص یوازي د خدای جل جلالـه دپاره دی . ولي قرآن پاك مطابق د عرف سره د عربو نازل سوی دی . (إنا أنزلناه قرآناً عربیاً) او عرب ګاهي دخپل ځان د فعل څخه په مفرد ضمیر سره حکایت کوي ، مثل فعلتُ کذا . او ګاهي دځان دفعل څخه حکایت په متکلم مع الغیر سره کوي نحو فعلنا کذا . او ګاهي دخپل ځانه څخه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسم غائب تعبير وکړي . کقول السلطان لوزرائه : سلطانکم يأمرکم بکذا بدل قوله إنا أء مرکم بکذا . او کاهي په فعل مجهول سره تعبير وکړي نحو : رُسم لکم کذا بدل قوله رسمتُ لکم کذا.

او قرآن مبارك هم پر دغو څلورو سرو طريقو راغلی دی .

الاول : (ذروني ومن خلقت وحيدًا)

والثاني : نحو قوله تعالى : (إناأنزلناه في ليلة القدر)

والثالث : نحو قوله تعالى : (الله الذي خلقكم)

والرابع نحو : (كُتِبَ عليكم الصيام) .

پـــوه ســـه ! چي بعض مفسرينو رح تفسير د (ممارزقناهم ينفقون) په يوازي زکات سره کړی دی . شايد دغه مفسر به افضل د انواعو د انفاق راوړی وي و إلا فقد مرّ منا انّ المراد اعم من الفرضي والواجب والنفلي او عين ممکنه ده چي دغه مفسر دي دصلات لفظ ته کتلي وي ، ولي چي په قرآن مبارك کي (اقيموالصلوة وآتوالزکوة) ډير ځايونه ملګري سره راغلي دي . او صوفيه کرام رح تر دغه لاعام معنا څني اخلي او وايي چي هر نعمت که ظاهري وي لکه اموال او که باطني وي لکه علم چي دا نعمت خدای پاك وه سړي ته ورکړی بايد دهغه څخه انفاق وکړي .

د نعم ظاهره وو انفاق خو بيان سو، د نعمت باطني چي علم دی مثلاً انفاق يي دادی چي طالبانو ته د علم ښوونه کوي . قال عليه الصلوة والسلام : إن علماً لايُقال به ككنزٍ لايُنفق منه. او صوفيه رح دا هم وايي چي که رب جل وعلا د يو شيخ ذاکر پر لطائفو باطنه وو دده په خپل فضل او کرم سره فيوضات او انوار متنوعه فيض کړي وه ، بايد هغه شيخ دا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فیوضات په خپله توجه سره دخپلو مریدانو سره شریك کړي . هم دا دده انفاق دی .

فائده : درویش وایي په ابتداء کي د تفسیر ددي آیت ما وویلـه چي اهل السنت والجماعت حرام هم رزق بولي او معتزلـه یي رزق نه بولي او د دلائلو د تفصیله څخه د طرفینو مي صرف نظر ددي کبله وکړی چي هغه دلائـل او جوابونـه د هغـو طویـل الاذیـال وه او دا زما تفسیر یـو مختصـر تفسیر دی . نو څکه حواله د هغو دلائلو او جوابو وه علم الکلام تـه کـوم ، اعنی شرح العقائد او شرح المقاصد للعلامة التفتازانی رح ، او مواقف د قاضـي عضـدالملی والـدین رح او دهغـه شـرح للسـید الجرجـانی رح او کتاب الملل والنحل لمحمد بن عبدالکریم الشهرستانی رح .

او په تفاسیرو کي وه تفسیر ته د امام همام فخرالدین الرازی رح چي تفسیر کبیر یي بولي او تفسیر ته د امام محقق آلوسی چي روح المعانی یي بولي حواله کوم . ومن لطائف القرآن الکریم انّه تبارك وتعالی ذکر فی هذه الآیة الایمان الذی هو اُسُّ العبادات وموضعه اُسُّ البدن وهو القلب ویرتبط بالایمان جمیع المعتقدات ثم ذکر الصلوة التی ام العبادات البدنیة وینسلك معها جمیع العبادات من نوعها ثم الانفاق الذی هو منبع جمیع العبادات المالیة . ففی هذه الآیة قد ادرج جمیع الشریعة الغراء .

قال صاحب روح البیان : ففی الإیمان النجاةُ ، وفی الصلوة المناجات وفی الإنفاق الدرجات ، وفی الإیمان البشارة ، وفی الصلوة الکفارة ، وفی الانفاق الطهارة ، وفی الإیمان العزة ، وفی الصلوة القربة ، وفی الإنفاق الزیادة وهذه العبادات من بلاغاته رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت :

ابی عبدالله الرازی رح وایي چي خدای جل سلطانه بعض انبیاء علیهم السلام ته وویل چي د فلاني سړی پاته عمر به نیمایي په غني توب کي وي او نیم عمر به یي په فقر کي ، نو دی راوغواړه او ده ته اختیار ورکړه چي کومه حصه دمخه درکړم ، یعني غنا او که فقر ؟ نو هغه نبی علیه السلام هغه سړی راوغوښتی او خبر الهي یي ورته بیان کړی ، هغه سړي ورته وویل : چي زه به د ماینې سره مشوره وکړم - سړی چي دماینې سره مشوره وکړه . ماینې یي ورته وویل چي دغنا ژوند دمخه وغواړه . نو میړه یي ورته وویل خطاوتي ، ولي چي وروسته تر غنا فقر زور غواړي او غنا وروسته تر فقر تر آخره د عمر ډیر ښه خوند کوي . ماینه ورته ټینګه سوه چي په دي باب کي به زما په خوله کوي . نو هغه سړي نبي علیه السلام ته ورغلی چي زمور دغنا ژوند دي دمخه خدای جل جلاله راکړي ، نو خدای جل شانه د رزق دروازه ورته خلاصه کړه . ورځ په ورځ دنیا او غنا ډیریدله ، نو بیا ښځي ورته وویل میړه ته ، که ته غواړي چي زمور ژوند دي تر آخره د عمر داغسي پراخه پاته سي ، نو دمخلوق او مسکینانو سره سخاوت کوه . نو سړی هم داغسي لار غوره کړه یعني که بي کوره ته کالي راوړي دغونه کالي فقراوو ته ورکول . وهکذا المطعومات وغیره . نو هغه نیمی عمر چي نبي هم دخدای جل جلاله دغوا ورته تاکلی وو په غنا کي پای پر رسیدو سو ، نو نبی ته خدای ﷻ پیغام ور واستاوه . چي دغه سړی خبر کړه چي چونکه تا د غنا په وخت کي زما شکر ووایه ، یعني زما د مخلوق سره دي ښه وکړه ، نو دا زیری پر وکړه چي مړتا تر مرګه عمر به په غنا کي وي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال المولوی المعنوی فی المثنوي.

هر که کار دگر دد انبارش تهی ✣ لیکش اندر مزرعه باشد بهی

وانکه در انبار ماند وصرفه کرد ✣ اسپش وموش حوادث هاش خورد

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ

او هغه کسان دي متقین چي ایمان لري پر هغه کتاب چي نازل کړه سوی دی وه تاته چي قرآن کریم دی او ایمان لري پر هغو کتابو چي نازل کړه سوي دي تر تادمخه لکه تورات او انجیل او نور کتب آسماني یعني چي پر نورو نبیانو ع نازل سوي وه .

پوه سه ! چي ابن جریر د ابن مسعود رض او ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چي دا آیت په مومنانو د اهل الکتابین نازل سوی دی . او روح البیان وایي چي دمخه آیت تر (وممارزقناهم ینفقون) پورې په مومنانو کي د عربو نازل سوي دي ، نو دواړه آیته تفصیل د متقین دی . بخاری او مسلم .

د ابی موسی اشعری ✣ څخه روایت کړی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چي درې قسمه خلکو لره دوه ثوابه دي . یو هغه سړی د اهل کتابو څخه چي ایمان یې راوړی پر خپل نبی و آمن بمحمد ﷺ تر پایه د حدیث .

مسئله : ایمان پر ټولو کتابو اجمالاً یعني ټوله آسماني کتابونه حق من عندالله وه فرض عین او پر قرآن شریف باندي ایمان تفصیلاً یعني حکماً حکماً او آیتاً آیتاً فرض کفایي دی او اجمالاً فرض عین دی . ددي سببه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر ټولو مسلمانانو نر او ښځو د قرآن پاك ایمان تفصیلاً فرض عین سي. نو پر مسلمانانو حرج عظیم دی او ژوندانه چارو ته خلل بیښ دی.

سوال : قرآن مبارك خو په وخت د نزول ددغه آیت ټوله نه وو نازل سوی، نو تعبیر یې په ماضي صیغه څرنګه ځني وکړی ؟

جـواب : چې په دي آیت کي تغلیب د محقق پر مقدر کړی دی. او په تفسیر کواشي کي یې داسي جواب ورکړی دی چې قرآن مبارك حکماً شیئ واحد دی، نو ایمان پر بعض یې ایمان پر کل دی. روح البیان.

فائده : ماأنزل إلیك عام دی تر قرآن کریم چې وحی متلو یې بولي او شامل وه وحی غیر متلو لره دی چې احادیث نبویه دي ولي چې مراد انزال مطلق وحی دي او که مطلق وحی سي، دواړو ته قال الله تعالی: (وماینطق عن الهوی° إن هو إلاوحی یوحی) مثال د وحی غیر متلو تعداد د رکعتو دلمونځو او وختونه د هغو او تعداد دی د زکاتو د اموالو او بیان د نصابو ددوی او حدود او جنایات الی غیرذالك مماجاء فی الأحادیث النبویة فقط.

پوه سه ! چې انزال چې د لوړې وه کښته را استول دي لکه ډبره چې د لوړې ځخه را ایله کړي. نو انزال خو حقیقتاً صفت د ذواتو دی او قرآن پاك خو الفاظ او معانی دی نو انزال د قرآن مبارك په اعتبار د ذات حامله له دي چې جبرئیل علیه السلام وغیره ی. قال الله عزوجل :

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝۴

او پر ورځ د آخرت د متقینو ایمان او تصدیق دی. مراد د آخري ورځي څخه د قیامت دی.

پوه سه ! چي آخرت يي مونث راوړی ، که څه هم ورځ يعني يوم خو مذکر دی . په تاويل د دار آخرت او دار مونث سماعي دي . كما ورد في القرآن العزيز : (تلك الدار الآخرة . الآية).

فائده : ايقان چي مصدر دی د يُوْقِنُوْنَ ، معنا يي محکمه علم دی پر شي خفي بيله شك او د شبهې او په نظر او استدلال سره ، خکه علم ته خدای ج يقين نه وايي . ولي چي استدلال علم نه دی . او علوم بديهيه وو ته هم يقين نه وايي . روح البيان . يعني اهل کتاب به پر آخرت داسي علم قطعي لري چي ددوی اوهام خرافات پکښې نه وي ، چي بعض د خرافاتو څخه ذاوه چي يهوديانو به ويل : إن الجنة لايدخلها الامن كان هوداً او نصاری به ويل چي نسي داخليدای جنت ته مګر نه نصاری . او يا به يي ويل : لن تمسنا النار إلا أياما معدودة. او نور ورته خرافات او اختلافات

فائده : څوك چي يقين پر آخرت لري بايد څان د آخرت د نعمتو او جنتو دپاره آراسته کړي . په تفسير تيسير کي وايي چي لس قسمه خلګ ډير مغروره او خطاوتلي دي .

۱ : چي خدای ج خالق خپل بولي او عبادت يي نه کوي .

۲ : او چي خدای ج رازق بولي او زړه په رزق کي مضطرب وي .

۳ : چي دنيا فاني بولي او بيا هم د دنيا پر نعمتو تکيه کوي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

۴: چې ورڅه خپل دښمنان بولي او بيا هم ددوی دپاره په درواغو او په سود او خيانت وغيرذالك دنيا جمع کوي. سعدي :

تو باخود ببر توشه خويشتن ٭ که شفقت نيايد ز فرزند و زن

۵: چې د سړي يقين وي چې پر ما مرګ يو وخت راځي او بيا هم د هغه دپاره توښه نه برابره وي.

۶: چې د سړي يقين وي چې آخر قبر زما ځای دی او قبر نه آباته وي او روضة من رياض الجنة نه ځني جوړوي.

۷: او چې د سړي يقين وي چې خدای ج زره په زره زما سره په ورځ د آخرت حساب کوي او بيا په دنيا کې دخپل ځان سره حساب نه کوي. وقد ورد : حاسبُوا قبل ان تُحاسبوا .

۸ : چې د سړي يقين وي چې جنت ته لار يوازې پل صراط دی او خپل بار د ګناه نه سپکوي.

۹ : چې د سړي يقين وي چې دوزخ ځای د فجارو دی او بيا په نيك عمل سره نه ځني تښتي.

۱۰: چې د سړي دا يقين وي چې جنت دار الابرار دی او بيا د ابرار د جملي څخه په اعمال صالحه وو ځان نه جوړوي. انتهى مافى التيسير مع زيادة من العبدالعاصى. قال الله تبارك وتعالى :.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾

او دغه کسان چې دغه اخلاق او عقائد مذکوره پکښې وې ثابت پر هدایت دی د جانبه ځخه د رب ددوی او همدغه کسان فلاح د عذابو ځخه د خدای ج وه دوی ته حاصله ده .

پوه سه ! چې که اول موصول یعنې (الذین یؤمنون بالغیب . الآیة) یا دوهم موصول یعنې (والذین یؤمنون بما أنزل إلیك) آه د متقینو ځخه جلا کړې یعنې د متقینو صفت یې نه کړې نو هغه موصول مبتداء ده او دا جمله یعنې (اولئك علی هدیً) آه په محل کې د رفع د خبر د هغه موصول ده . او که چیرې هغه دواړه موصوله صفت د متقین وبولې ، نو دا جمله یعنې (اولئك علی هدیً) آه جمله مستانفه ده او محل د اعراب نه لرې . نو ګویا دا جمله حاصل او نتیجه د دمخه احکامو ده .

فائده : (اولآء) جمع ده ، مفرد دخپله لفظه نه لرې او مبنی پر کسره ده او کاف د خطاب دی لکه په ذالك کې یعنې دغه کسان چې دمخه ذکر سول یعنې متقین چې موصوف په ایمان باالغیب او نورو صفاتو چې ذکر سول .

فائده : (اولئك) په محل کې د رفع مبتداء ده او (علی هدیً) یې خبر دی أی ثابتون علی هدیً.

فائـــده : هدیً چې نکیره راوړې ،دپاره د تعظیم یعنې پر دوئه لوی هدایت دی چې څوك یې په حقیقت د هغه هدایت پیله خدایه نه پوهیږی .

وفیه غایة التعظیم لهولآء المتقین الموصوفون بالصفات المذکورة لیقتدی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بهم غیرهم هذا حاصل ما فی روح البیان والتفسیر المظهری مع زیادةٍ من العبدالعاصی .

وقوله من ربهم متعلق دی په محذوف پوري ، صفت د هدیً دی یعنی (هدیً کائنٍ من ربهم. او په کلمه کي د ربهم اشاره وه دي ته ده چي دا صفات کائنه په متقین کي د اثار څخه د تربیه معنوي د مولی جل سلطانه دی .

وقوله واولئك هم المفلحون.

سوال : اولئك په تکرار کي څه حکمت الهی دی ، یعني داسي هم کافي وه چي مفلحون یي پر علی هدیً عطف کړی وای . یعني داسي : (أولئك علی هدیً من ربهم والمفلحون).

جواب : حکمت الهي او فائده د تکرار د اولئك داده چي اشاره وه دي ته راسي چي هر یو د وصف څخه د علی هدیً من ربهم او د مفلحون مستقل دي په امتیاز کي د متقین د نورو کسانو څخه . یعني په صورت کي د عطف به دا توهم کیدی چي په مجموع دوو وصفو سره امتیاز د متقینو د نورو څخه کیږي .

فائده : د (هُم) په مابین کي د مبتداء چي اولئك دی او د خبر المفلحون داده چي دلالت وکړي پر دي چي المفلحون خبر دی صفت د اولئك نه دی. کما هو فائدة ضمیر الفصل بین المبتداء والخبر المعرفین او سیبویه رح وایي چي بله فائده د ضمیر فصل داده چي خبر چي مفلحون دی حصر دی په مبتداء کي چي اولئك یعني متقین . په دي معنا چي په یهودو او نصاری وو کي دا صفت د فلاح نشته . نو دا قصر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صفت پر موصوف دی لا بالعکس، ولي چې متقینولره نورصفات فاخره هم سته کما لایخفی

فائده: د فلاح حاصل:

۱: پر نفس غلبه چې متابعت د هوا نفسانې به نه کوي.

۲: د دنیا په جاه جلال به نه غره کیږي.

۳: د شیطان په وسوسو کې بند نه پاتیږي.

۴: د بدو خلکو سره به مجالست او اړیوالي نه کوي.

۵: د کفر او ضلالت او بدعت څخه به بیزاره وي.

۶: د غرور النفس او جهل څخه به پاک وي.

۷: د زوال د ایمان څخه به پاک وي.

۸: د وحشت څخه د قبر به خلاص وي.

۹: د بیري څخه د ورځې د قیامت به بیغمه وي.

۱۰: او پر پل صراط به یې پښې نه بنورې بلکه په امن به تیریږي.

۱۱: په همیشه نعمتو کې د جنت به ابدالابدین پاته وي.

۱۲: د غمه او د حزنه څخه په سبب د دارالسرور جنت خلاص وي.

۱۳: څوانې به یې په زوړوالي ابدالآباد نه بدلیږي.

۱۴: صحت او عافیت به یې برقراره وي.

۱۵: نعیم د جنت به یې بې حسابه وي.

۱۶: ملاقات د رب العزت به یې بې حجابه په نصیب سي.

۱۷: تکالیف د عباداتو به ځنې مرفوع وي إلا ما شاء من تحمیدٍ وتسبیحٍ و تهلیلٍ لفرط البهجة والسرور.

۱۸: حوري د جنت او غلمان به یې دل خواه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

۱۹: اوهیڅ جنتي به د بل جنتي په حال سره د خپل په حال ناخوښه نه وي.
۲۰: نِعم غیر متناهیه به ورته مهیا وي.

پوه سه ! چي وعیدیه چي ددوی مذهب دادی چي فُساق د مسلمانانو چي بي توبي مړه سي ابدي به يي خای دوزخ وي. په مذکوره آیتو سره دلیل وایي. او دوی وایي چي فلاح د ورځي د قیامت د عذابو څخه خو مربوط په دغو صفاتو سره چي په مذکوره آیتو کي ذکر سوه او فاسق دغه مذکوره صفات تولـه نه لري، نو فلاح د عذاب څخه هم وده ته نسته، بلکه همیشه به مُعذب وي.

والجواب : چي دغه صفات مذکوره فی الآیات المتلوة د هغو مفلحینو دي چي کامل الفلاح وي، نو فساق به کامل الفلاح نه وي، بلکه یا په رحمت د ارحم الراحمین، یا په شفاعت د سیدالمرسلین به د عذاب د دوزخ خلاصون ورته حاصلیږي. او یا به تر وخت محدود پوري په دوزخ کي وي، بیا به وه جنت ته نقل کیږي، لکه په دي دنیا کي چي یو څوك په حبس موقت بندي وي، نو هغه وخت چي پوره سي، خپل کور ته به خي او حبس ابد یوازي او یوازي په دوزخ کي د کفارو په برخه وي. دلیل ددي دادی چي خدای جل سلطانه وایي : (**فمن یعمل مثقال ذرةٍ خیراً یَرَهُ**) یعني که څوك په اندازه د یوي زري کار د خیر وکړي، ثواب دهغه به وینې، نو د فاسق نفس ایمان خو عمل د خیر دی، بلکه اعلی عمل د خیر دی. نو ددغه عمل د خیر ثواب به کله ده ته ورکول کیږي، دا خو په اجماع الامت بلکه د وعیدیه د ډلي هم په اتفاق داسي خو نسي کیدای چي رب جل وعلا دي معاوضه فاسق ته اول په جنت کي د ثواب ورکړي او بیا دي دوزخ ته د ابد دپاره بوزي، ولي چي جنت دارالخلود دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معلومه داده چې وروسته تر دوزخ به جنت دارالخلود ته ځي .

درویش وایي چې په نجات د فساقو د اهل القبله کې احادیث متواترة المعنی په صحاح سته و کې موجود دي . اما پر مترکو او عقلو د وعیدیه و پرده د خپل بدعت او ضلال اواره ده .

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦

په تحقیق هغه کسان چې کافران دي برابره وه دوی ته که یې ته وبیروې او که یې نه بیروې خو دوی ایمان نه راوړي .

پوښتنه : ډیر داسې کسان وه چې په وخت کې دنزول د آیت کافران وه ، وروسته مشرف په ایمان سره ګرځیدلي دي ؟

جواب : بعض مفسرین وایي چې موصول یعني الذین دپاره د عهد دی یعني مراد د الذین کفروا څخه معین کفار دي ، لکه ابي لهب ، ابوجهل ، او ولید بن مغیره په مکه مکرمه کې او علماء د یهودو په مدینه منوره کې .

او بعض مفسرین وایي چې موصول دپاره د جنس دی هغه کفارو ته چې تر پایه پورې د عمر پر کفر کلك ولاړ وه لکه مذکورین کفار . هغو ته هم شامل دي او هغو کفارو ته چې په وخت د نزول کافران وه . او وروسته یې ایمان راړی وي هم شامل دي . او دا وروسته قسم کافران یې په سواء علیهم آه سره وایستل ، ولې چې هغو نه خو انذار فائده وکړه یعني مسلمانان سوه .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

﴿ تحقيق الكفر ﴾

پوه سه ! چې کفر په لغت کې ستر او پټولو ته وايي . لکه دهقان ته چې کافر وايي چې تخمونه د غنمو وغيره په مځکه کې پټوي او په شرعه شريف کې انکار دی د هغه شي څخه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم راتګ په کړی وي يقيناً يا په امر سره لکه لمونځ روژه زکات وغيره من المامورات او يا په نهي سره لکه زنا ، لواطت ، قتل نفس بغير حق وغيرها من المنهيات اليقينية .

پوه سه ! چې د يقين د قيد فائده داده چې که يو مامور به يا منهی عنه په خبر واحد يا قياس سره ثابت وو د هغه انکار کفر نه دی ، که څه هم ګناه ده .

سوال : بعض افعالو ته په شريعت کې کفر ويل سوی دی که څه هم افعال دي ، انکار قلبي نه دي . لکه اغوستل د غيار او ټرل د زنار ؟

جواب : دا کارونه خو رشتيا فی نفسه کفر نه دی لکن په سبب ددې چې عليه السلام نهي څنې کړې ، نو بيله ضرورته دغه کارونه علامه د تکذيب د عليه السلام بلل کيږي . نو ددې په سبب سره د کفر حکم ورکړه سو .

بيضاوي ، روح البيان او امام بغوی رح وايي چې کفر پر څلور قسمه دی .

۱ : **کفر الانکار** : کفر يو د انکار دی . هغه دادی چې خدای هيڅ نه پيژني او نه خدای ج او خالق العالم منې لکه دهريه چې دوی وايي مايهلكنا إلا الدهر يعنې موږ نه وژنې مګر زمانه . او يا وايي : إنماهی هذه الدنيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نموت و نحیی. زمونږ دپاره دغه دنیا دِه مونږ په څوک مرو او څوک به زیږو یعني هیڅ خدای ج نسته .

۲: **وکفرالجحود** دی . کفر جحود دادی چې په زړه کې خدای ج پیژني او په ژبه اقرار نه کوي لکه کفر د ابوطالب چې دی وایي : **ولقد علمتُ بأن دین محمد من خیر الأدیان البریة دیناً . لولا الملامة او حدَّار مسبَّة لَوَجدتني سَمحاً مُبیناً .**

۳: **وکفر العناد** : یعني چې د عناد او حسد د سببه وي لکه کفر د ابلیس او د احبارو ملایانو د یهودو .

۴: **وکفرالنفاق** : چې په خوله اقرار کوي او په زړه کې منکر وي .

بغوی رح وایي چې په هر قسم ددغو څلورو اقسامو چې خدای ﷻ ته څوک ورسي په ورځ د آخرت بخښنه نه ورته کیږي . انتهی . اعراب الآیه .

درویش وایي ددي آیت تفسیر او اعراب په بیضاوي ، تفسیر مظهري او روح البیان کې داسي بیان سوی دی چې : **الذین کفروا** یعني موصول سره د صله اسم د إنَّ دی چې د حروف مشبه څخه دی او **سواء** مصدر دی په معنا د استواء چې دي ته اسم مصدر وایي او حمل یي پر **الذین** مبالغةً دی لکه زیدٌ عدلٌ او یا استواء په معنی د مستوی ده . او جمله د انذرتهم آه مرفوع محلاً ده فاعل د سواءٌ ده کانه قیل مُستو علیهم انذارك وعدمه . او یا جمله د انذرتهم آه مبتداء ده او سواءٌ یي خبر مقدم دی یعني انذارك وعدم انذارك سیان علیهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال : أَ أَنْذَرْتَهُمْ آه خو فعل دی ، نو څرنګه به مسندالیه واقع سي ، یعني چې فاعل د سواء سي او یا مبتداء سي ، ولې چې مسندالیه وایي خاصه د اسم ده کما فی کتب النحو ؟

جواب : مسند الیه وایي د فعل په معنای تضمني دی ، یعني چې حدث دی یعني د نسبت او زماني څخه مجرد لحاظول کیږي او معنای تضمني د فعل خو مستقله ده مسندالیه کیدای سي کما فی کتب النحو .

سوال : ولې یې صریح مصدر نه وایه ؟

جواب : ددي دپاره چې فعل پر تجدد دلالت کوي ، نو معنا داده که متجدد انذار وه دوی ته ورکړه سي هم دوی ته فائده نه کوي .

پوښتنـــه : همزه او ام په آیت مذکوره کې خو دپاره د استفهام دی او استفهام خو په جمله پوري تعلق نیسي ، نو څرنګه په آیت مذکوره کې جمله په معنا د مفرد أی إنذارك وعدم إنذارك ترجمه کړه سوه ؟

جواب : حضرات مفسرین رح وایي چې همزه او ام په دي آیت مبارك کې مجرد او خالي د معنا څخه د استفهام دي او په معنی د تاکید د معنا د استواء دی .

فائده : خدای جل سلطانه یوازې إنذار ذکر کړی چې تخویف د عذاب الله څخه یې معنا ده او بشارت یې نه کی ذکر چې معنا یې زیږی په نعمت او جنت سره دی ، ددي سببه چې دفعه د ضرر اهم ده تر جلب د نفع ، نو چې إنذار وه دوی ته فائده ونکړه نو بشارت په طریق اولی نفع نه کوي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده : خدای ﷻ وویل : سواءٌ علیهم او داسي یي نه وویل سواءٌ علیك ددي جهتنه چي انذار او عدم انذار خو علیه السلام ته برابر نه دی . بلکه په انذار کي خدای جل شانه وده ته ثواب د انذار ورکوي که څه هم دوی ایمان نه راوړي . وعلی هذا قس انذار علماء الأمة رح یعني چي ددوی په انذار خدای ج وه دوی ته ثواب ورکوي که څه هم ددوی په انذار سره عمل ونه کړه سي . فلاینبغی لعلماء الأمة المرحومة ان یترکوا الوعظ والتبلیغ والانذار والتخویف بعلة انه لاینفع فی السامعین ولایترکوا ثوابهم فی التخویف والانذار والترغیب والترهیب . بلکه امکان لري چي یو انذار او تخویف که فائده سامعینو ته ونه کړي بلکه په کراتو مراتو سره به فائده وکړي لکه ډیره خیرنه چامه چي په کراتو مراتو یي د پاك والي امکان ستة.

قوله لایؤمنون : دا جمله مستقل جمله ده محل د اعراب نه لري . ددي دپاره راوړه سوه چي په سواء علیهم آه کي اجمال دی یعني څه شی برابر دی او دوی د انذار او عدم انذار په حال کي پر څه حال دي . نو جواباً خدای ج وویل چي د دوی حال دادی چي لایؤمنون .

پوښتنه : چي ددغو کافرانو په حال کي چي خدای ج خبر وو چي ایمان نه راوړي نو د څه حکمت دپاره علیه السلام په امر کړي چي ته دوی ته تبلیغ د اسلام وکړه ؟

جواب : حکمت الهي په دي کي دادی چي پر دوی حجت او دلیل قائم سي چي په ورځ د قیامت دوی څه عذرونه وایي چي ددي حکمت بیان په هل آیت کي خدای جل جلا له بیان کړی دی (لئلا یکون للناس علی الله حجة

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بعدالرسل) او بل آیت کې خدای ج داسې ارشاد فرمایلی دی - (ولو أهلكناهم بعذاب من قبله لقالوا ربنا لولا ارسلت الينا رسولاً فنتبع آياتك)

سوال : چې خدای خدای جل شانه خبر وو چې دغه معهودین کفار ایمان نه راوړي ، نو ولې يې دوی دمخه نه هلاکول لکه قوم نوح علیه السلام چې هلاک کړه سوه ، وروسته تر دې چې خدای جل شانه نوح علیه السلام ته خبر ورکړی (إنه لن يؤمن من قومك الا من قد آمن)

جواب : رسول کریم صلی الله علیه وسلم خو رحمت للعالمین وو لکه چې قرآن چې شاهدي ورکړي ده (وماأرسلناك الا رحمة للعالمين) وقال الله تعالى ايضا (وماكان الله ليُعذبهم وانت فيهم الآية)

او بل جواب دادی چې هلاک د قوم نوح علیه السلام خو په دعا د نوح علیه السلام مابین ته راغله چې (ربِّ لاتذر على الارض من الكافرين ديَّاراً) او آنحضرت صلی الله علیه وسلم داسې په عمومي ډول ښرا نه ده کړې ، بلکه ورته دعاء يې دَ شفاعت د امت دپارَه سائلي ده كما جاء في حديث البخاری وغيره.

شهانه فائده : بعض جاهلان کسان وایي چې خدای جل سلطانه چې اخبار وکړی په عدم ایمان سره د معهود او مذکورو کافرانو نو خلاف د اخبار څخه دخدای ج خو ممتنع دی ، نو تکلیف ددغو کافرانو په ایمان سره خو تکلیف په مالایطاق سره دی وهو مرفوع شرعاً . لقوله تعالى : (لايكلف الله نفسا إلا وسعها) فكيف يصح تكليف هؤلاء الكفرة بالايمان)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجـواب : عنه كما فی البیضاوی و روح البیان و روح المعانی والتفسیر الکبیر للإمام الرازی رح . وشرح العقائد و شرح المقاصد للعلامة التفتازانی رح. والمواقف للقاضی عضدالملة والدین رح وشرحه للعلامة السید الجرجانی رح وغیرها . دادی چې اخبار دخدای جل شانه په وقوع د یو شي او یا په عدم د یو شي په اختیار د بنده سلب د اختیار د بنده نه لازموي چې هغه فعل به نو ضروري وي او د قدرته د بنده به خارج وي . لکه چې خدای جل سلطانه چې اخبار وکړی د خپل فعله څخه په خپل قدرت او اختیار او اراده ، نو دا فعل خو دخدای ج د قدرت څخه خارج نه کړځي بل اخباره تعالی وعلمه تعالی عن فعل العبد باختیاره یؤکد الاختیار ولایوجب الاضطرار . وهذا مقامٌ وعرٌ لایفهمُه الکافةُ . د مثال په توګه یو سړی د بل سړي لاسونه او پښې ور تړي او پر خره مثلاً یې بار کړي او یو خای یې یو سي ، دا رسیدل د سړي اضطراري بولي . او که یو بادار وه مربي ته ووایي . یا پلار وه خوی ته ووایي او یا استاذ وه شاګرد ته ووایي چې ته به حتماً فلانی خای ته ځي . نو هغه سړی د جهته د مراعت د بادار او یا د مراعت د پلار وغیره په اختیار سره که یې څه هم په زړه نه وي خوښه او ورته تکلیف وي ، نو په دې کار کولو دی مسلوب الاختیار نه دی بلکه اختیار یې پر خای دی ولهذا القسم کثیرة من الأمثلة لو تفکّر العاقل فیها عرف الفرق بین الاضطرار والاختیار فافهم هداك الله

پـــوه ســـه ! چې د انسانانو استعدادات مختلف دي ،ددې خایه باید اختلافات د استعدادانو سړي ته بداهتاً معلوم وي چې په مکه مکرمه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم اعلان د کلمة التوحید وکړی ، په اول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملاقات کي سیدنا ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه بیله درنګه او بیله د معجزي د طلبه قبول د توحید وکړی ، نو د صدیق نوم یې د جناب الهي څخه په برخه سو . او په مسلمانانو کي الی یوم القیامة په صدیق اکبر سره شُهرت په نصیب سو . او په حدیث شریف کي راغلي دي چې په ورځ د قیامت به بیرغ د صدق په لاس کي د ابوبکر صدیق رض وي وهذا فضلُ الله یؤتیه من یشاء . او تولـه صدیقین د امت محمدیه ﷺ به دده تر بیرغ لاندي جنت ته روان وي . او بالعکس ابوجهل لعین چي آنحضرت صلی الله دده پر ایمان ډیر حریص وو ، په دي سبب چي دی مشر د اهل مکه وو او دده په ایمان راوړو سره ډیر اهل مکه وو اقتداء کول او ددي کبله هره معجزه چي به ابوجهل وغوښتله ، علیه السلام به هغه معجزه ورته ښکاره کوله ، لکن سره د هغه ابو جهل ایمان نه راوړی . سعدی رح

چون بود اصل جوهري قابل ✣ تربیت را درو اثر باشد
هیچ چیڈل نکند اندکرد ✣ آنهي راکه بد گهر باشد

حکایت :

چي استعداد کامل وي ، په لږ تنبیه سره انسان و پایي ته د کمال رسیږي . عارف بالله المولی جلال الدین الرومی قدس سره د سلطان ابراهیم بن ادهم رحمه الباری څخه په مثنوی معنوی کي داسي نقل کړي دي چي یو شاه عادل مقبول عندالرعیة وو یعني جوهر یې اصل وو او استعداد یې کامل وو ، نو دی یوه ورځ چي د شاهي درباره څخه کور ته راغلی نو ده په یوه برج کي د قصر شاهي یوه خوا او پله خواته وکتل ، د نژدي غره په لمن کي یې یو سړی ولیدی چي هغه د بغل د توبري څخه یو شی راوکښی او په پیاله کي د مشکولي څخه یې او به واچولي او هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شی یي پکښي واچاوه . او پر سر یي پورته کړی او وي چیښی ، بیا یي یوه ډبره راکش کړه ، سر یي پر کښیښودی پیله سو . د شاه پکښي سودا سوه چي دا د بغل ه خولی څخه یي چشي په اوبو کله کړی او وي خوړی ، نو عسکر یي ور واستاوه چي ورسه د غره په لمن کي چي هغه سړی پروت دی رایي وله . عسکر ورغلی ملنګ یي دخوبه راویښ کړی چي شاه دي غواړي ، ملنګ حیران سو چي شاه نو ما څه کوي ؟ خیر خو ملنګ خپله توبره وه بغل ته واچول او پیاله و مشکوله یي هم راواخیستل شاه ته راغلی .

شاه پوښتنه خني وکړه چي تا چشي وخوړی؟ ملنګ توبره ورته خلاصه کړه چي زه په میاشت کي یو وار د مسلمانانو پر کورو ګرځم . یو څه ډوډی ټوله کړم او هغه وه لمر ته کښیږدم ، چي وچه سي نو یي میده کړم، په دي توبره کي یي واچوم ، هر وخت چي وړی سم یو څه په اوبو ګله کړم خان په مور کړم .

شاه ورته وویل چي ولي هره ورځ د مسلمانانو پر کورو نه ګرځي ، چي کم ازکم پسته توده ډوډی به درپیدا کیدای او خوړلای به دي ؟

ملنګ ورته وویل چي زه خدای ج د عبادت دپاره پیدا کړی یم . نه د هر روزه فقر دپاره ، نو شاه ورته وویل چي په ورځ د قیامت به خدای ج ستا څخه باز خواست ددغو شیانو هم وکړی . ملنګ ورته وویل چي هو ، د سالم بدن او ددغي وچي ډوډی او اوبو د شکر بازخواست به راڅخه کیږي ، خیر شاه ملنګ چي رخصتاوه عطیه د روپو یي ورته پیش کړه ، خو ملنګ یي د اخستو څخه انکار وکړی . ملنګ ولاړی . سلطان ابراهیم رحمه الله د خان سره فکر وواهه چي دا دونه نعمتونه چي خدای پاک تاته درکړي دي تا یي نو څه شکر ویلی دی ، او حساب هم داغسي سخت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی ، تر مانښامه په داغه فکر کي غرق وو، چي مانښام سو او د ماخستن لمونځ يي اداء کړی ، نو يي مصلی اواړه کړه څو رکعته لمونځ مثلا ځه تلاوت د قرآن عظيم الشان يي وکړی دپاره د شکر د نعمتو دخدای ﷻ ، چي سترې سو نو پر پلنګ شاهي بيده سو ، نيمه شپه پر بام د قصرشاهي د ګوتو کړپی دی

شاه سراسيمه راوغورځيدی چي دا څرنګه ترپی دی ، دخوني راووتی دغ يي پر وکړی چي څوك ياست؟

شنيدستم که ابراهيم ادهم ❊ شبی برتخت دولت خفته خورم

زسقف خود شنيد آواز پای ❊ زجا برجست چون آشفته رايي

بندی گفت اوکين کيست بربام ❊ که دارد برسپهر قصر ما گام

جواب آمد که ای شاه جهان گير ❊ شتر گم کرده مرد مفلسم پير

زخنده گشت شاه برجای خود سست ❊ که بر بام آدمی هرگز شتر جست

دگر بار پاسخ آمد که ای جوان بخت ❊ خدا جويی کسی کردست برتخت

چو بشنيد اين پيام از هاتف غيب ❊ فراغت کرد از دنيا بلاريب

رسيد از راه تجريدی بمنزل ❊ پس از دربار شد مقبول و مقبل

داوه څو خواږه بيتونه د مثنوی معنوی قصه تجريد سلطان ابراهيم بن ادهم چي غيبی پيغام واوريدی ، نو دځان سره يي دا فيصله وکړه چي د تخت شاهي سره سره د خدای جل شانه محبت او شکر نه سي پر خای کولای ، نو د تخت شاهي څخه يي لاس پر سر کړی او د سپيدو سره يي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سحار لمونځ په کورکي وکړی او د اهل عيال او د ټولو نعمتو څخه او د شاهي تخت څخه يې الوداع وکړه او د کوره ووتی په نيت د حرمينو شريفينو او په لار کي يې شاهي کالي ديو غريب سړي په کالو بدل کړه ، او نن دلته سبا هلته روان سو او حب الهي ورځ په ورځ زړه کي ډيريدی. حاصل دا چي هر څو زمانه چي په لار کي پر تيره سوه . آخر حرمينو شريفينو ته ورسيدی او هلته يې نيت د اقامت الی آخر العمر پوري وکړی .

نو پر مقتضا د هغه حديث قدسي چي خدای پاك وايي : من تقرب إلَيَّ شِبراً تقربتُ اليه ذراعاً ومن تقرب إلَيَّ ذراعاً تقربتُ اليه باعاً الی آخر الحديث . سلطان ابراهيم رح پس له کمي مودي په حرمينو شريفينو کي مقبول شخص وګرځيدی او ډير عقيدت مندان او مخلصان او مريدان يې پيدا کړه .

واوره ! چي بادشاهي دده څرنګه سوله ؟ چي شاه لادرك سو او وزيرانو په ټوله مملکت کي تلاش وکړی پيدا يې نه کړی . او دا هغه وخت وو چي نه په دنيا کي خصوصاً په اسلامي مملکتو کي تلفون وو او نه تلويزون وغيرهما لکه رادیو وه ، نو وزيرانو په سبب د عدالت د شاه ، د شاه يو نابالغه خوی برای نام پر تخت شاهي کښيناوه . کاروبار د مملکت دوی پر ذمه واخيستی ، او دا يې فيصله وکړه که شاه پيدا سو خو خپله بادشاهي به سمبال کي او که نه سو پيدا خوی به يې خدای ج لوی کړي ، خپله بادشاهي به پخپله پر مخ بيايي . لکن پلار خو په سبب د عزم د اقامت د حرمينو شريفينو نسو پيدا او خوی خدای ج خوان او دتخت شاهي لائق وګرځاوه ، نو وزيرانو ټولو په اتفاق واګي د سلطنت من کل الوجوه وده ته وسپارلي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویـش وایـي چـي ددي عبرتنـاکي او حیریـت د قصـي څخـه بایـد مسلمانان نصیحت حاصل کړي. ویل سوي دي : مَالایُدرَکُ کُله لایُترکُ کله.

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوبِهِمْ

خدای ﷻ مهر لګولی ددوی یعني دهغه کفارو چي ددوی حالات او صفات دمخه تیر سوله، یعني دا نو اوس ذکر د عذابو ددوی دی

پوه سه! چي په بیضاوي او تفسیر مظهري او روح البیان کي ددي آیت په تفسیر کي وایي چي حاصل د ټولو دادی : چي ختم په لغت کي پوتولو ته وایي او پر لفافه وغیره چي مهر ولګول سي ، نو په دي مهر سره هم پوتول د مکتوب دی ، ترڅو چي تر مُرسل الیـه پـوري رسیږي ، اوپـه حقیقت کي پر زړه د کفارو حسي مهر خو نسته بلکه مراد څني مهر معنوي دی چي په زړو کي ددوی په سبب د کفر ددوی او په سبب د تقلید د نیکه ګانو او د قبیلو د مشرانو او یا د حاسدانو ملایانو یو کیفیت پیدا سوی وو چي د هغه د سببه دوی ته کفر او عصیان ښه معلومیږي او د ایمان او طاعت څخه یي بد راځي. نو ددغه هیئت د پیدا والي په سبب پر دوی نصیحت د ناصح او انذار د نبی تاثیر نه کوي او په معجزاتو کي د نبی یي نظر صحیح نه کوي ، نو دغه هیئت قلبي ته د دوی مجازاً ختم وویل سو . او په قرآن کریم د پیدا والي څخه ددغه کیفیت په ډیرو الفاظو سره تعبیر سوی دی . په یوه آیت کي په طبع تعبیر څني سوی دی کماقال الله تعالی : (اولئك الذین طبع الله علی قلوبهم.الآیة) اوپه بل آیت کي د اغفال په نامه یاد سوي دي کما قال جلّ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذکره (ولا تُطِعْ من أَغْفَلْنا قلبه عن ذکرنا) او په اقساء سره هم قال الله تعالی : (وجعلنا قلوبهم قاسیةً)

په قرآن مبارک کې ددغه هیئت و خدای ج ته نسبت راغلی کما فی الآیات المذکورة. دا اسناد په دې سبب دی چې دا هیئت د ممکناتو د جملې دی او ممکنات ټوله په قدرت الهي عالم وجود ته راځي .

پوښتنه: چې دا هیئت د خدای جل شانه دخوا پیدا دی ، نو د کافرانو په دې کې څه عیب دی . او بل دا چې خدای ج چې ددوی په زړو کې دا هیئت پیدا کړی ، نوخو خدای ج دوی منع کړه د هدایت او ایمان څخه ، نو بیا دوی ته عقوبت څرنګه ورکوي ؟

جواب: په حدیث مبارک کې راغلي دي : کل مولودٍ یُولد علی فطرة الاسلام . الحدیث. نو ددوی زړونه د ابتدائي خلقت څخه دا هیئت نه وو پکښې تر څو چې دوی معذور وګڼل سي او دعذاب مستحق نه وګرځي ، بلکه دا هیئت ددوی د اختیاري کفره څخه پیدا سو . قال الله تعالی : (بل طبع الله علیها بکفرهم) وقال فی موضع آخر : (ذالك بأنهم آمنوا ثم کفروا فطبع علی قلوبهم .

حاصل د جواب دادی چې دا ختم ددوی پر زړو ددوی جزاء ده د استمرار ددوی پر کفر وعدم النظر الصحیح ، نو ځکه د اددوی دپاره عیب سو او دوی مستحق د عذاب وګرځیدله . د مثال په توګه یو سړی چې روغو جوړو سترګو په قصد لاس ونیسي او وه څاه ته ولوېږي ، خلګ دا سړی ملامت بولي ، نو ددغو کفارو بعینه دغه مثال دی . البته که څوک په سترګو نه وینې او څاه ته ولوېږي خلګ منت نه پر کوي او وایي چې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

معذوره وو ، یعني که ددغو کفارو په زړو کي خلقتاً دا هیئت وای نو به معذور وای . وإذ لیس الهیئة المذکورة خلقیة من جانب الله فلیس ای لیسوا بمعذورین بل مُعَذّبین عذاباً.

درویش وایي چي معتزله ددي آیت د توجیه څخه سخت حیران دي په دي سبب چي ددوی مذهب دادی چي خلق د قبیح قبیح دی . نو دا څنګه پر زړو او پر ستر ګو او پر غوږو خو قبیح دی او د قبیح اسناد وخدای ج ته که څه هم خلقاً وي ممتنع دی . نو دوی ددي آیت په بیان کي څو توجیه ګاني د عقل او نقل څخه لري کړي دي چي د هغو بیان قاضي بیضاوی په خپل تفسیر کي او علامه تفتازانی رح په شرح عقائد او شرح مقاصد کي کړی دی . او اهل د هغو ټولو رد کړی دی .

او درویش وایي چي موږ ضرورت نه لرو وه نقل د هغو توجیهاتو او بیا ورده ولوده توجیهاتو لانها بناء الفاسد علی الفاسد یعني چي دوی چي وایي : خلق القبیح قبیحٌ دا خبره غلطه ده . لانه تعالی خالق د عبادو او ددوی د عملو دی . قال عزّمن قائل (والله خلقکم وماتعملون) نو خلق د قبیح قبیح نه دی ، بلکه کسب د قبیح قبیح دی . والتفصیل فی کتب العقائد فراجعها ولایسع المقام لتفصیل تلك الدلائل من الجانبین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ

او خدای ﷻ مهر لکولی دی پر غوږو ددوی
چې دحق اوریدو څخه یې بد راځي او په سماع د قبول سره یې نه
اوري که څه هم ظاهراً یې اوري

پوه سه! چې علا سمعهم عطف دی پر قلوبهم او تر ختم الله لاندې دی ، نو په دې ختم کې پر غوږو ددوی هم هغه خبره ده چې دمخه تیره سوه ، یعنې چې مراد د ختمه څخه د غوږو ختم حسي نه دی بلکه یو هیئت معنوی ددوی په غوږو کې چې هغه هیئت مانع د اوریدو څخه د تبلیغ نبوی ﷺ او دا ختم جزاء د عمل ددوی ده چې همیشه به یې غوږونه وه سماع الباطل او کفر ته نیولي وه .

او دا ختم هم خلقتاً نه دی حتی یرد الاعتراض المذکور فتذکر جمیع ماقلنا سابقاً

فائده: چونکه ادراک د زړه د ټولو جوانبو څخه کیدای سي او سماع د غوږو هم د ټولو جوانبو او اطرافو څخه کیږي ، نو مانع د ادراک د زړو ددوی او مانع د اوریدو ددوی یې ختم وګرځاوه ، چې ختم پر شي ټوله شی پټوي کما سبق أن الختم هو الکتم

او په خلاف د سترګو لیدل چې هغه خاص د جانب مقابل څخه کیږي ، نو خکه مانع د ابصار غشاوة چې معنا یې پرده ده پر سترګو وګرځوله کما سیأتی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! سمعه په معنی مصدري یعني اوریدل هم راغلي ده او په معنا د قوت سامعه چي یو قوت الهي خارج عن طوق البشر دی چي د غوږو د سوریو په پای کي یوه غوښه لکه د بنځي د تیو سرونه خدای جلت قدرته پیدا کړي ده او پر هغه غوښه یوه پرده یعني پوست اوار دی چي په هغه پوست کي قوت سامعه خدای جل شانه ایښي ده . یعني په هغه سره اوریده کیږي کذا فی هدایة الحکمة والتفصیل فی شروحه .

او سمع په معنا د خود غوږ هم راغلي ده او همدغه معنی دلته مناسبه ده ، ولي چي ختم پر جسم کیږي او غوږ هم جسم دی بخلاف المعنیین الاولین لانهما معنویان کمالایخفی علی اُولی النهی.

فائـــده: تفاسیر وایي چي ولي یې سمع مفرد راوړي او سره ددي چي مضاف وه جمع ته دی ، نو یوه سمعه خو د ډیرو کسانو نه وي ؟

بعض اهل التفسیر جواب داسي ورکوي چي سمع مصدر دی او د مصادر جمع کول بي فائدي دي ، ولي چي مصدر صالح د تثنیه او جمع دی .

پر دي جواب دا سوال واردیږي چي ابصار یې ولي جمع کړي او سره ددي چي مفرد یې بصر دی او هغه هم مصدر دی . په روح البیان کي چي دا جواب ورکړی دی چي بصر د سترګي نوم او هغه اسم دی مصدر نه دی لکن دا جواب صحیح نه دی ، ولي چي بصر سترګي ته هم وایي او لیدو ته د سترګو هم وایي ، چي معنا مصدري ده لکه سمعه . او د اصل سوال بل جواب دادی چي مضاف محذوف دی ای مواضع سمعهم یعني چي غوږونه دي . کمافی قوله تعالی : (واسئل القریة) ای اهل القریة .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ولایخفی مافیه من التکلف . او د تکلف خلاص جواب هغه دی چې امام النحات سیبویه رح ورکړی دی . هغه وایي : چې سمع په مابین کې د دوو ضمیرو ده جمع راغله چې یو د قلوبهم ضمیر دی او بل د سمعهم ضمیر دی ، نو که څه هم سمع مفرد دی په معنا د جمع دی کما هو القانون چې مفرد چې په مابین کې د دوو جمعو راسي کما فی مانحن فیه او یا وروسته تر دوو جمع راسي هغه مفرد په معنا د جمعي دی والثاني کما في قوله تعالی : (یُخرجونهم من الظلمات إلی النور) ای الی الانوار لکن یرد علیه چې مفسرین رح د ظلمات د جمع والي او د نور د مفرد والي ، وجه خو دا وایي چې مراد دظلماتو څخه انواع د کفر دی او انواع د کفر خو ډیري دي کالشرك والیهودیة والنصرانیة وغیرذالك . او د نور څخه اسلام مراد دی . اسلام خو یو دین دی .

فائده: ختم د قلوب یې دمخه کړی ، ولي اصل د عدم ایمان ددغو کفارو زړونه ددوی دي او سمع چې تر بصر دمخه سوه ، په سبب د اشتراك د قلوبو سره په ختم کې لري کما مَرَّ . او سمع تر بصر افضله هم ده . ولي چې په قرآن مبارك کې هر ځای سَمِیعٌ بَصِیرٌ راغلي دي . او هغه چې بعض اهل تفسیر وایي چې سمع شرط نبوت ده . نو ځکه په انبیاء علیهم السلام کې کوڼ نبي خدای ج نه دی را استولی . او هغه څوك چې پر دغه وجه سوال کوي چې ډوند نبي خو هم نسته . جواب یې یعقوب علیه السلام دی چې د فراق څخه د یوسف ع په سترګو ډوند سو . ویدل علیه قوله تعالی : (و ألْقُوْهُ) أی (القمیص علی وجه أبي یأت بصیراً) فتأمل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ

او پر سترګو ددغو کفارو پرده ده.

پوه سه! چې غشاوة مبتداء ده متاخره او علی ابصارهم يې خبر مقدم دی ، ولې قانون نحوي دی چې مبتداء چې نکیره وي تقدیم د خبر پر واجب دی تاچه مبتداء ته تخصیص کیدای سي راجع کتب النحو . او دا جمله عطف ده پر دمخه جمله او سړی به وقف کوي پر علی سمعهم ترڅو چې دا جمله جلا جمله سي . او علی ابصارهم عطف پر علی سمعهم نسي کیدای ، ولې چې بیا علی ابصارهم تر ختم الله لاندې کیږي او د سترګو دا ختم نه بولي ، بلکه غشاوت يې بولي کمامرّ تحقیقه.

فائده: د تنکیر د غشاوة معنا داده چې دا غشاوة چې پر سترګو د کفارو ده دا یوه غشاوة عظیمه ده د حبس څخه د غشاوت متعارفه چې حسي غشاوي نه ده . بلکه دا غشاوة معنوي ده چې په سبب ددې چې دوی د معجزاتو ته د نبي علیه السلام ته په نظر د عبرت او نصیحت نه ګوري بلکه په نظر د سحر او کفر ګوري وهذه الغشاوة ایضاً جزاء لکفرهم وعداوتهم النبی صلی الله علیه وسلم و تسمیتهم ایاه ﷺ بالساحر والکاهن والشاعر والمجنون . وقد مُرَّ تحقیق هذا الجزاء فی تفسیر ختم الله علی قلوبهم فتذکره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝

او دوی لره عذاب دی لوی

پوه سه! چي عذاب او نکال لفظاً و معناً سره یو شی دي . په محاورد عربي کي وایي أعذبُ عن الشیئ چي سړی به د هغه شي څخه منع کوي او عذاب هم عاقل سړی د جنایت څخه منع کوي .

روح : په تفسیر یسیر کي وایي چي دعذاب عظیم معنا کبیر ده یعني د کیفیت د لحاظه او یا کثیر د مقدار د حیثیت او یا دائم وهو العذاب فی النار ابداً .

او بعض مفسرین رح وایي چي عذاب عظیم قتل او بند دی په دنیا کي او اور دی په عقبی کي ، نو پر مسلمان عاقل باندي دا لازم ده چي همیشه والی پر ګناهو ونه کړي ، ولي خدای نخواسته منجر وه انکار ته ونه ګرځي یعني کفر چي د عذاب عظیم سبب دی او په طمع د دنیا او زکات وغیره باید وه ظالمانو ته سر تیټ نه کړي او د ظالم پر ظلم سترګي پټي نه کړي او د حرام خور سړي څخه باید نه دنیا څنې وغواړي او نه یې دوډی وخوري .

بعض کسان ښه خبر وي چي د حاجي صاحب دنیا حرامه ده لکن په مزه مزه یې خوري .

سعدي شیرازي رحمه الله :

بګمراه ګفتن نکو میروی ✣ ګناه بزرګست وجور قوی

مګو شهد شیرین شکر فائق است ✣ کسی را که سقمونیا لائق است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال النبی ﷺ هذه القلوب يصدءُ كما يصدءُ الحديد. يعني زړونه زنګ کوي لکه چې زنګ کوي اوسپنه. قيل وما جلائها ؟ فقال تلاوة القرآن وكثرة ذكرالله ﷻ وكثرة ذكر الموت.

په روح البيان کي وايي چې د ټولو ګنهو سرچشمه دري شي دي

۱: حرص ۲: حسد ۳: کبر

د حرص څخه ډيره ډوډی خوړل او ډير خوب کول او ډير استراحت پيدا کيږي. او د حسد څخه حب المال وحب الجاه و حب الرياسة پيدا کيږي. او د کبر څخه انکار الحق مع علمه حاصليږي. وه عزازيل ته د کبر څخه ملعونيت ابدي پيدا سو. سعدي رحمه الله

تکبر عزازيل را خوار کرد ✣ بزندان لعنت گرفتار کرد

تکبر مکُن زينهار ای پسر ✣ که روزی ز دستش برآيي بسر

و أما حب المال وحب الرياسة هغه وو چې علماء د يهوديت وه کفر ته په خپل کتاب تورات سره مبتلا، کړه او د حب الجاه څخه دريدل په صف کي د کفارو پيدا کيږي كما يدل عليه التجربة اليومية. او دغه رنګه حب المال والرياست ډير خله سړی يعني مسلمان وه کفر ته نعوذبالله من ذالك کشوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت:

وایي چې یو خوان بادشاه وو ، یو چانه یې وویل چې زه په بادشاهي کې دیر خوند او لذت نه وینم ، ایا تولـه شاهان ماغوندي دي او که زه یوازي دغه سي یم ؟ نو هغه سړي ورته وویل چې تولـه دغسي دي لکه تـه. نو بادشاه ورته وویل چې دا لذت زه څرنګه حاصل کړم ؟ هغه سړي ورتـه وویـل چـې اطاعـت او عبـادت د خـدای جـل شـانه کـوه او ګنـاه مـه کـوه . بادشاه د خپل ملك دیر علماء او صالحان کسان راوغوښتل چې تاسي بـه زما سره همیشه ناست پاست او ملګري پاست . نـو هر کار چـې طاعـت د خدای ج وي ما به په امر کوی او هر کار چې معصیت د خدای ج وي ما به څنې منع کوی . نو هغو علماوو او صلحاوو هم داغسي کولـه بادشـاه ته په بادشاهي ډیر لـوی لذت او سُرور پیدا سو . نـو څلور سوه کالـه یـې بادشاهي وکړه .

اخیر الامر ابلیس په رنګ د سړي ورتـه راغلـی او بادشـاه تـه یـې وویـل چې ته څان پیژنې چې ته څوك یې ؟ شاه ورته وویل چې زه یو سړی د بنـي آدم څخه یم . شیطان ورته وویل : که تـه بنـی آدم وای نـو تـه بـه وخـت لامـر وای لکه نور بنی آدم چې وینې چې ستا د بادشاهی په دوران څونـه مـړه سوي دي . شیطان ورته وویل چې ته خدای یې ، خلك وه خپل عبادت تـه راوبولـه . بادشاه تـه دي خبرې ډیر خونـد ورکړی چـې تر بادشـاهي بـه دي نور جاه و جلال لوړ سي چې خلك تا په خدایي ومني . نـو شـاه منبر تـه پورته سو او خلکو ته یې اعـلان وکړی ، مـا ستاسـي څخـه یـوه خبـره تـر دا اوسه پټه ساتلي وه هغه دا خبره ده ، که زه د بنی آدم د نسـل څخـه وای نـو زه به هم لکه نور اولاد آدم چې مړه کیږي ، زه بـه هـم وخـت لامـر سـوی وای، لکن زه خدای یم زما به عبادت کوی . نو نبی ته د هغې زمانې خدای پاك

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحی راواستولي چي دغه بادشاه ته ووایه چي ته چي د استقامت څخه واوښتی او زما نوم دي پر ځان کښیښود ، نو زما دي په خپل عزت و جلال قسم وي چي زه پر تا بخت نصر بابلی مسلطه وم . هغه وو چي لږ زمانه بعد بخت نصر حمله پر وکړه فضرب عنقه . او ددغه شاه د خزانو څخه يي اويا کښتی سره زر یو وړه . په روح البیان کي دغه قصه په لږ تغیر سره موجوده ده .

قال المولی جلال الدین قدس سره فی المثنوی :

جُز عنایت که کشاید چشم را ✣ جز محبت که نشاند خشم را

جهد بی توفیق خود کس را مباد ✣ درجهان والله اعلم بالرشاد

مکتبة القرائة والتجوید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او بعض د خلکو څخه داسي کسان دي چې په خوله وايي مونږ ايمان راوړی دی پر خدای ج او پر ورځ د آخرت چې قيامت دی.

فائده: خدای جل جلا له (۱) اول حال د قرآن عزيز د حق والی بيان کړی.

بقوله : (ذالك الكتاب)

(۲) آه او بيا يي په مناسبت د حال د قرآن کريم حال د مخلصينو بنډگانو چې ظاهراً و باطناً مومنان دي بيان کړی بقوله : (هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ).

(۳) او بيا يي هغه کسان بيان کړه چې ظاهراً او باطناً دخدای ج او د قرآن او د اسلام دښمنان وه . بقوله تعالى : (إن الذين كفروا).

(۴) آه اوس حال د هغو کسانو بيانوي چې ظاهراً او په خوله مسلمانان دي ، دبيري د تُوري د اسلام او په باطن کي همهغسي کافران دي لکه دويم قسم چې وه دي ډلي ته منافقين وايي چې : (لاإلى هؤلآء ولا إلى هؤلآء) بل مُذبذبين بنهما . او همدغه ډله خبيث ټره دټولو کفارو ده. ولي چې سره د کفرباطنه په اسلام او مسلمانانو استهزاء او پسخند يې واهه. كما سيأتي في بيان احوالهم بالتفصيل ، نو ددي سببه خدای ج بيان د مختوم على قلوبهم کفارو په بيان کي د احوال ددوی دوه آيته راوړي دي او په باب د منافقينو کي يي ديارلس ۱۳ آيته ذکر کړي دي.

پوه سه! چې منافقين اکثر يهودان وه ، چې نامورې کسان يي دغه دي: (عبدالله بن ابی بن سلول ، معتب بن قشير ، اوجدبن قيس او ملګري ددوی تر دري سوه پورې رسيده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: کلمه د مَن موصوفه ده ، ولي چې معهود کسان نسته .

سوال: په (یقولُ) کې ضمیر د مفرد راغلی دی او په (ماهم) کې ضمیر د جمع دی ؟

جواب: نحات وایي چې کلمه د مَن صالح د مفرد او د جمع دواړو ده . او بعض مفسرین رح وایي چې کلمه د مَن موصوله ده او دپاره د عهد ده او معهود هغه دمخه کفار دي یعني (إن الذین کفروا) آه . ولي چې منافقین په عدد کې د هغو کفارو چې (ختم الله علی قلوبهم) آه داخل دي ، لکن دوی تر هغو کفارو یو خبیث صفت بالالري چې هغه خداع د مسلمانانو سره ده او دکفر او اسلام سره یو خای کول دي ، ددي سببه ددوی مَقَر په دوزخ کې اسفل السافلین دی . او مجاهر کفار پر دوی سربیره طبقه کې وي .

فائده: تفسیر مظهري وایي چې اصل د ناسٌ أُناسٌ وو . نو همزه یې خنې حذف کړې ، عوَض یې حرف تعریف وګرځاوه ، ځکه الأُناس نه دی روا چې جمع د عوض او معوض عنه لازمیږي .

بعض مفسرین رح وایي چې ناسٌ جمع د انسان ده ، لکن صحیح داده چې ناسٌ اسم جمع ده ولي فُعال په اوزان کې د جمعې نه دی راغلی . او په وجه کې د تسمیت د انسان په ناس سره اختلاف دی .

ځوك وایي چې مشتق د اُنس ځخه دی په معنا د الفت دی ، ولي انسانان یو د بله سره الفت لري او یا روحان د بدونو سره ألفت لري وبالعکس .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض وايي چې مشتق د آنس څخه دی په معنا د ظهور دی ، ولي انسانان ظاهر او په سترګو لیدل کیږي لکه جن چې جن بولي په سبب د پټوالي د سترګو څخه . او بعض وايي چې د نسیان څخه ما خوذ دی. قال الله تعالى : (ولقد عهدنا الى آدم من قبل فنسى . الآية)

پوښتنه: تفسیر مظهري وویل چې الأناس نه ویل کیږي او سره ددي چې په شعر عربي فصیح کې دا سي راغلي دي :

إن المنايايطلعن على الأناس الآمنينا ٭ فترزهم شتّى وقد كانوا جميعاً وافرينا

ترجمه: په تحقیق مرګونه زاخیږي یعني زاخي پر خلګو چې دوی دمرګه ځان بیغمه بولي ٭ نو دا مرګونه دوی وګرځوي فراګنده او حال دا چې دوی وه سره جمع یعني ټوله ژوندي کامل وه .

جواب: قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې دا شعر شاذ دی . یعني د قیاس مذکور څخه مخالف دی . درویش وایي چې دا شعر د ضرورت شعري په سبب راغلی دی .

تنبیه: منافقانو ولي دا دوه جزء د ایمان په ذکر سره خاص کړه یعني ایمان بالله و باليوم الآخر ، او ایمان بالرسل والكتب يې نه کی ذکر ؟

جواب: دوی مسلمانانو ته په خیال کې دا ورکول چې موږ د ایمان سر چې ایمان باالله دی او پای چې ایمان باليوم الآخر دی دواړه سره جمع کړي دي نو مابین ته د بیان ضرورت نشته .

او حکمت الهي په ذکر کې ددغو دوو ۲ مؤمن به دادی چې ایمان په دغو دوو سره اګر چه مُشترك دی په مابین کې د قرآن او تورات . او دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دغه دوه کي ځان مخلص په خپل زعم سره بولي . خو بيا هم په دغو دوو جزء کي دوی منافقين دي ، ولي چي دوی مسلمانانو ته دا په خيال کي ورکوي چي زمونږ ايمان بالله داسي لکه ستاسي ايمان بالله ج او سره ددي چي دوی دروغ وايي ، ولي چي يهود (عزير) ابن الله بولي او نصاری (عيسی ع) ابن الله بولي . او ددوی ايمان پر يوم الآخر باندي هم داسي نه دی لکه د مسلمانانو چي دی . ولي چي دوی خو وايي : (لن يدخل الجنة إلا من كان هودا او نصارى) او دا صريح دروغ دي .

پوه سه! چي قول او کلام دواړه مصدرونه دي په معنا د تلفظ بما يفيد دی او په معنی د مقول او متکلّم به هم راغلی دی . بلکه په معنا د معنی مقصود فی الذهن هم راغلی دی چي په اصطلاح د علم کلام يي کلام نفسي بولي . قال الشاعر :

إنما الكلام لفی الفؤاد ٭ وانما جُعل اللسان على الفؤاد دليلاً.

او په اصطلاح د منطقيو يي قضيه معقوله بولي . او رای او مذهب ته هم مجازاً ويل کيږي كما يقال هذا قول ابی حنيفة رحمه الله ای رأيه ومذهبه او يو سړی وايي چي زما قول خو دادی يعني زما رايه داده .

فائده: مراد د يوم آخر څخه پس له حشره الی غير النهاية دی قال البيضاوی رحمه الله وسمی بالآخر لتأخره عن الدنيا.

شهانه فائده: نفاق اوس هم نه دی ختم په دعوه کوونکي د اسلام اوس هم منافقان سته ، ولي چي په عصر نبوی ﷺ کي چي بهترين د زمانو وه دا خبيثان موجود وه ، نو به وروسته څرنګه نه وي ؟ غاية الفرق أنّ المنافق فی زمان رسول الله صلی الله عليه وسلم يُعلم بالوحی وبعد انقطاع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الوحی لایستطیع احد ان یحکم علی شخصٍ بالمنافق بالمعنی المذکور یعني المنافق الکافر . إلا بالقرائن الواضحة الصادرة من شخصٍ .

پوه سه! چي نفاق دوه قسمه دی . یو نفاق دعقیدي دی چي بیان یي تیر سو . او یو نفاق د عمل دی . په حدیث صحیح کي د بخاری او مسلم وغیرهما راغلي دي : (اَرْبَعَةٌ مَن کُنَّ فیه کان منافقاً خالصاً ومن کان فیه خصلة منها کان فیه خصلة من النفاق حتی یدعها . مَن اُوتمن خان ، مَن وعد اخلف وَمَن عاهد غدر ومن خاصم فجر او کما قال ﷺ .

ترجمه: څلور خویه چي په سړي کي وي هغه خالص منافق دی او که په سړي کي یو خوی ددغو څلورو خویو وي نو په هغه کي یو خوی د نفاق سته تر هغو چي هغه خوی پریږدي . هغه خویونه دادي : چي ته دی آمن وبولي دی خیانت کوي . ۲) چي وعده ورسره وکړي خلاف د وعدي کوي . ۳) چي یو قرارداد درسره وکړي په هغه کي غدر او چم کوي . ۴) او چي د چا سره یي جنګ سي فحش بښکنځل کوي .

درویش وایي : چي دیرو مفسرینو رح په ترکیب کي د (ومن الناس من یقول) آه تفصیل او بیان نه دی کړی . لکن چونکه دا یو مُغلق ترکیب دی نو دپاره د ورونو طالبانو د بیان څخه یي چاره نه لرم ، که څه هم وه اطناب ته منجر سي .

پوه سه! چي مشهوره ترکیب خو دادی چي مَن یقول آه مبتداء ده او من الناس یي خبر دی او ټوله جمله په عطف قصه عطف ده پر قصه د إن الذین کفروا آه لکن علامه تفتازانی رح په حاشیه کي د کشاف پر دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترکیب دا سوال کړی دی چې څای د فائده په جمله خبریه اسمیه کې خو خبر وي ، نو ددې اخبار چې من یقول انسانان دي څه فائده ده ؟

جواب: أنّ ناس په عرف عام کې د تحقیر دپاره دی یعنې من یقول آه صرف په جنس او په زیې انسانان دي او د انسانیت دخواصو څخه په دوی کې هیڅ علامه نسته ولاشك ان هذا الخبر فی غایة البلاغة والفائدة.

پوښتنه: څه دلیل دی چې لفظ ناسٌ دپاره د تحقیر دی ؟

جواب: یو ستر عالم که پر لار روان وي ، بل پسې ور ډغ کې آسریه ! دغه عالم په دې نداء وه هغه ته خوشکه کوي ، نو خو دا عالم په دي پوهیږي چې دا د تحقیر لفظ دی ورنه ملاصاحب خو په رښتیا بسږی دی خر او غویی خو نه دی .

او بل دلیل دادی چې علماء د احنافو رح د امام بخاری رح څخه کیله لري چې دی ولي چې د امام اعظم رح قول رانقل کوي ولي داسې وایي و قال بعض الناس او ذهب بعض الناس کم ازکم داسې به یې ویلې وای : وقال بعض العلماء او بعض الفقهاء او په څیله علامه تفتازانی رح په حاشیه مذکوره کې وایي چې من تبعیضي په معنی د بعض دی نو معنا داده : وبعض الناس نو دا مبتداء د آو من یقول تر آخره خبر دی ، نو دا خبر بلاشکه فائده مند دی . لکن بعض حواشي د شرح العقائد للعلامة التفتازانی رح وایي : إنّ ابتدائیة من التبعیضیة مما اخرجه الشارح من القوة الی الفعل و عبارة هذا المحشی یحتمل المدح والذم وایضا یحتمل القبول والرد وهذا تحقیق هذا القرآنی . ومن الله التوفیق

درویش وایي : وما انا من کید الحسد بآمن

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هم يحسدونني وشر الناس * من عاش في الناس يوما غير محسود!

لکن په مقابله کي د حاسد فوائد مقصود دي

وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ۝

او هيڅ کله دوی نه دي مومنان

ولي اصل مُعتبر په ايمان کي تصديق قلبي دی او هغه په دوی کي نسته بلکه صرف د خولي اقرار دی ، هغه صرف د مسلمانانو د خداع ديباره او فقط د دفع د دنيايي ضرر ديباره .

په روح البيان کي وايي چي هره دعوه چي بي دليله د صحت وي هغه مردوده ده لکه دعوی ددغو منافقانو .

حکايت:

يو شيخ کامل مکمل چي ډير مريدان يي درلوده او يو مريد يي وو چي دعوی د ډير اخلاص د شيخ سره درلوده او دا يي غوښتل چي په اسرار الهي وو ما خبر کړي او ما دخان خليفه هم وګرځوي او ده خان لوی امين معرفي کړی وو . نو شيخ ديباره د امتحان او دده د ابطال د دعوی ديباره يي يو بل مريد راوغوښتی او هغه ته يي وويل چي ته به يو څو ورځي د فلاني اطاق دباندي نه راوزي بيا شيخ را ولاړسو او يو پسه يي را وايستي او ذبح يي کړی په خپل اطاق کي او چاړه او لاسونه او کالي يي دهغه په وينو سره کړه او بيا يي هغه مدعی مريد راوغوښتی او هغه حلال کړی پسه يي په يوه جوال کي اچولی وو . مدعی مريد جي راغلی او د شيخ چاړه يي لاس کي په وينو سره او کالي او اطاق هم په وينو لړلي دي نو مدعی مريد ورته وويل ياسيدی ماهذا ؟ يعني دا څه قصه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده ؟ شیخ ورته وویل چې فلانی مرید عین هغه چې ده پټ کړی وو دلته راغلی او زه یې ودرولم باره مې مړ کړی . او د شیخ غرض د قتله ځخه دفع د شهواتي امورو د مرید وه ترڅو چې د قتل په اخبار کې کاذب نسي، نو شیخ وه مدعی مرید ته وویل چې دادې ستا سره امانت وې او مابنام راسه چې دواړه دا جوال په سرای کې پټ کړو او ډیر پام کوه چې څوك په دې راز خبر نه کړي ؛ نو مابنام شیخ او مدعی مرید د شیخ د اطاق وه شاته یوه غار جوړه کړه او جوال و مافیه یې پکښې بنخ کړی .

او چونکه هغه ژوندی پټ کړی مرید مابنام کور ته نه ورغلی . نو سحار یې پلار پسې ورغلی چې زما خوی برایې کور ته نه راغلی . نو شیخ ورته وویل چې خوی دې زما سره دی او زما په کار دی . پلار یې ولاړی ، نو هغه مدعی مرید ته چې د شیخ قتل ورمعلوم سو نو د شیخ څخه یې عقیده بدله سوه ورغلی دهغه بل مرید پلار ته او ورته وې ویل چې خوی دې شیخ مړ کړی او ما و ده په دواړو د شیخ د اطاق تر شا د شپې بنخ کړی . پلار دهغه بل مرید ورغلی حاکم الوقت ته یې عریضه وکړه چې زه ما خوی فلاني شیخ وژلی دی او بنخ کړی په سرای کې دی . او حاکم الوقت ته چونکه جلالت او بزرګي د شیخ مذکور معلومه وه ، نو حیران سو او د پلار ځخه د هغه بل مرید یې طلب د شاهد الواقعه وکړی . نو هغه مدعی مرید راغلی شاهدي یې حاکم الوقت ته اداء کړه چې ما ورسره بنخ کړی د شپې په جوال کې د شیخ د اطاق سره ، نو حاکم د احتیاط دپاره قاضي د محکمې او بعض علماء او شاهد د واقعې یعنې مرید مدعی دپلار سره د هغه بل مرید ورسره کړه چې تاسې ورسی دغه مدفون راوکاږی ، که دده غه سړي خوی وو نو بیا به د شیخ سره قانون الهي وچلوو. خیر قاضي او ملایان چې شیخ ته ورغله او ورته وې ویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دغه سړی وايي چي زما خوی شيخ وژلی دی . شيخ ورته منکر سو او وي ويله چي ما نه دی وژلی . هغه مدعی مريد ورته راتير سو او ډير سخت بنکنځل يي وه شيخ ته وکړه چي ولي دله دووسه ما و تا د شپي دلته نه کی بنيخ ؟ شيخ ورته وويل چي ورسی هغه خای وشنی . هغو چي هغه خای وشانه او په وينو لړی جوال يي راوکښی ، نو جوال چي يي خلاص کړی ، حلال کړی پسه پکښي کي وو . او شيخ دهغه سړي پټ کړی خوی ته ورړغ کړه . هغه ژوندی راووتی . قاضي او علماء او د هغه بل مريد پلار حيران پاته سوله ، نو شيخ وه قاضي او ملايانو ته دمريد مدعی قصه وکړه او هغه مريد مخ توری سو . او پښيمان سو لکن پښيماني فائده نه ورته کوله .

درويش وايي : چي په اوسنۍ زمانه کي دغه درواغو مدعيان په شاګردانو کي بيخي ډير دي بايد استاذ د خولي په خبرو خطا نه وزي . او که چيري پټ راز وو بايد د هر شاګرد سره يي شريك نه کړي .

په راديو کي يو پټ راز داسي ژر نه نشر کيږي لکه چي بي اخلاصه طالب ته چي پټ راز سړی ووايي خصوصاً که دي وه هغه طالب ته دي دا هم وويله چي پام کوه چي دا خبره چاته ونه کړي .

درويش وايي چي طالبان چي د ناکامی سره مخامخ وي ، لوی سبب بي بي اخلاصي ده إلا ماشذّ وندر.

درويش وايي چي زما تخميناً ۶۰ شپيته کاله د درس کيږي او زه د اميانو دلاسه دونه په عذاب سوی نه يم لکه د شاګردانو د لاسه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُخٰدِعُونَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝

او دوی يعني منافقين چم کوي دخدای ﷻ سره او د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی او دوی نه خطاباسي مکر خپل خانونه او دوی نه پوهيږي

پوه سه! چې حمله د يُخادعون استيناف بياني ده يعني د سوال مقدر جواب دی چې دا سوال د ماقبل څخه پيدا سو . هغه دادی چې ددغو منافقينو څه غرض وو چې سرد د کفرباطني يې اظهار د ايمان وه عليه السلام او مسلمانانو ته کاوه .

فأجيب بان غرضهم فی ذالك للاظهار الخداع .

فائده: يخادعون باب د مفاعلة دی . مجرد يې خدع ده . خدع په پښتو کې چم او فريب دچاسره کول . لکن يخادعون دلته په معنا د يخدعون مجرد دی ، ولې دخدای ج دخوا څخه ددوی چم نه وو لانه قبيح يمنع اسناده اليه تعالى كما يقتضيه باب المفاعلة . لکن دا يک طرفه چم د منافقينو چې په لباس يعني په صيغه د مفاعلي راوړی مبالغة فی خداعهم لأنّ كل فعلٍ اذا كان على طريق المفاعلة يقتضى المغالبة والمغالبة يستلزم المبالغة على ما بيّنه علماء النحو والمعانى .

سوال: چم خو د هغه چا سره کيدای سي چې هغه په باطن د چم کوونکي نه وي خبر ، لکن خدای ﷻ خو په ظاهر او باطن د هرچا خبر دی نو څرنګه منافقان دخدای ج سره چم او خداع کولای سي ؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

جـــواب: بعـض مفسـرين دا عبـارت پـه حذف سره د مضـاف بـولي اى يخادعون رسول الله لكـن خداى ج خداع د رسول كريم ﷺ خداع د حق سره وبلل يعني مضاف يي حذف كړى تعظيماً لشان رسول الله صلى الله عليه وسلم . ددي خبري دليـل دادى چي منافقينو خو هم چم د خداى ج مقصود نه وو بلكه چم د عليه السلام سره يي مقصود وو .

او بعض مفسرين رح وايي چي حذف ته ضرورت نسته بلكه معامله د رسول سره د خداى عيناً معامله دخداى ج سره ده ، ولي چي عليه السلام خليفه د خداى ج دى په محكه كي او ټوله اوامر او نـواهي د عليـه السـلام دخداى ج دجانبه دي (وماينطق عن الهوى ۞ إن هو إلا وحىٌ يُوحى).

او بعض مفسـرين وايي چي بـاب د مفاعلـه پر خپـل ظاهر دى لكـن لا من حيث الحقيقة بل من حيث الصورة يعني ددوى معامله د خداى ج سره چي اظهـار د ايمان يي وكړى او كفر يـي پټ سـاتلى وو . او معامله دخداى ج ددوى سره چي اجراء د احكام د مسلمانانو ددوى سره وكړه او باوجودي چي اخبث د كفارو په نيز د خداى ج او اهل ده تر ټولو كښتي درجي د دوزخ دي استدراجاً لهم . او عليـه السـلام او مسـلمانانو فرمان برداري دخداى ج وكړه پـه اخفاء كـي د حال ددوى او اجراء د مسـلمانانو يـي پر دوى بانـدي معامـلـه د متخادعينو دوطرفـه ده صـورةً ومن حيثُ الظاهر هذا محصل مافى روح البيان.

پوه سه! چي منافقين په خپل مقصد كي كاميابه سوه ، ولـي د قتـل او د بنده او تاړاك څخه د مالو د مسلمانانو دخوا محفوظ سوه ، بلكه علاوه پر هغه د مسلمانانو په ټولو اسرارو او پټو حالاتو هم خبريدل هم او په عـين حال كـي يـي مشـركينو دمكـي جاسوسـي هـم كولـه . او د مسـلمانانو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غنیمتو څخه یي فائدي هم ورلي . او چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم او مسلمانان به غزاوو ته وتل ، دوی به د درواغو په عذرو او قسمو خانونه د غزواتو څخه پاته کوله . او دا ټوله دخدای جل سلطانه دخوا استدراج وو . اللهم احفظنا من حال هؤلاء المنافقين وغيرهم .

قوله تعالی : ومایخدعون فی المظهری (قرائةُ قراء الحرمین) ومایُخادعون علی صیغة المفاعلة . وقرائة غیرهم علی صیغة المجرد . دلیل ددي آیت دادی چي دوی یعني منافقینو په دغه خداع سره د مومنانو خپل خانونه غولولي دي او خطاایستلي دي ، ولي دوی توهم کړی دی او خپل په زړو کي یي دا سنجولي ده چي مونږ په دي خداع د عذاب او رسوایي څخه په امن کي سو او سره ددي چي پر خدای پاك باندي خو پټه نسته او خدای جل سلطانه به علیه السلام او مومنان ددوی په دغه خداع سره خبر کړي نو ضرر د خداع وه دوی ته راجع کیږي .

فائـــده: کلمه د واو د حال دپاره ده ای یفعلون ، مایفعلون والحال ومایخدعون آه اولفظ د نفس په ډیرو معناوو سره راغلی دی . دلته په معنی د ذات دی . قال المولوی المعنوی المثنوی رح.

بازی خودیدي ای شطرنج باز + بازی خصمت به بین دور دراز

قوله تعالی : (ومایشعرون) دا جمله حال ده د ضمیر څخه د ما یخدعون یعني حال دادی چي دوی احساس ددي لاهم نه لري چي ضرر د خداع مونږ ته راجع دی .

پوه سه! چي شعور ادراك ته د حواسو خمسه وو وایي چي د انسان په شمول ټول حیوانات یي لري ، نو دوی تر حیواناتو هم بدتر دي .ته نه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ويني چې سپی چې هر څو جنګره وي او خپل مالك يې هر څو و ډبوي بډ نه ورته کوي بلکه لکی د عاجزي ورته ښوروي او منافقين د مالك حقيقي په مقابل کي ولاړ دي وهكذا سائر الحيوانات مع مالكيها.

پوښتنه: نفی د شعور د دوی څخه خو مستلزم نفي د علم لره ده . نوپه دي آيت کي کويا لايعلمون وه دوی ته وويل سول . او بل آيت په شان کي ددوی داسي راغلی : (وتكتمون الحق و أنتم تعلمون) نو په هغه آيت اثبات د علم وه دوی ته کړی دی فماالتوفيق .

په روح البيان کي وايي چې چونکه دوی په علم سره عمل نه دی کړی نو دوی کويا علم نه لري لأن العلم يوُجب العمل فإذا لم يعمل العالم فهو والجاهل سواء بل الجاهل اسعد حالاً من العالم الغيرالعامل لأن الجاهل قد يغدر فالمنافقون بمنزلة الجمادات.

حکايت:

يو عالم د علم ظاهر ملاقات ته د يو شيخ چې په علم باطن سره آراسته وو ورغلی او د شيخ کور ، مسجد او مهمان خانه وه يوه غره ته نژدي وه ، نو عالم مذکور چې د مانښام لمونځ په شيخ پسي وکړی قرائت يي خوند ور نه کړی او پر خپل راتګ پښيمانه سو . د مانښام تر لمانځه وروسته د غره وه خواته ولاړی د سيل دپاره ، نو عالم چې غره ته ورغلی د غره دخوا يو مخري پسي راميدان کړه . عالم مخ د مسجد د شيخ پر خوا څني راوګرځي کړي دي چې مسجد ته رارسيدی شيخ دمسجد څخه راووتی . عالم په ډيره وارخطايي وه شيخ ته وويل چې دغره څخه په ما پسي مخری پسي دی . په دي حال کي مخری هم راورسيدی . شيخ ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل ظالمه ! ما تاته نه وو ویلي چي زما په میلمنو کار مه لره مخري لکي ورته وښورول او بیرته غره ته ولاړې .

نو شیخ وه عالم مذکور ته وویل چي تا ظاهر آراسته کړی فقط . نو څکه د مخلوقه څخه یعني مخري څخه بیریدلي او زما که ظاهر خراب دی لکن باطن مي د خدای ج په خوف آباد دی ، نو ددي سببه مخلوق زما څخه بیریږي یعني نو عالم مذکور دخپلي بدګمانی څخه توبه وکښل او نادم سو .

فائده : پر هر عالم لازمه دي چي دعلم سره عمل خاصتاً لوجه الله ولري او د ریا او سُمعت څخه خلاص عمل او عبادت وکړي . وفی الحدیث: قال علیه الصلوة والسلام مخاطباً للأمة هغه چي زه ډیر بیریږم پر تاسي باندي هغه شرك اصغر دی قالوا ومالشرك الاصغر ؟صحابه وو ورته وویل چي شرك اصغر څه شي دی یارسول الله ؟ قال الرِّیاءُ . علیه السلام زیاته کړه چي په ورځ د قیامت چي خدای پاك وه بندګانو ته جزاء د اعمالو د خیر ورکوي مُراینونو ته به وایي چي ولاړ سئ هغه چاته چي تاسي دهغه لیدو دپاره عملونه کوله په دنیا کي . ایا تاسي د هغو سره یو خیر او ثواب پیدا کولای سی .

په حدیث قُدسي کي راغلي دي خدای ﷻ وایي : أنا أغنی الشرکاء عن الشرك . سعدي رح :

بروی دریا خرقه سهلت دوخت ٭ وګر برخُدا در فروشی نیکوست

والخلوص من الریاء صعبٌ جداً . قال عز قائلٌ

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾

په زړو کي ددغو منافقينو ناجوړي سته، خدای ﷻ يي هغه ناجوړي ور زياته کړه په سبب ددي چي دوی درواغ وېله .

پوه سه! چي قاضي بيضاوی رح او قاضي ثناء الله رح او صاحب د روح البيان رح په يوه خوله او اتفاق دا وايي چي مرض حقيقتاً ود هغو عوارضو ته وايي لکه د سر درد ، محرقه تبه ، د نس درد وغيره ته چي بدن انساني ته عارض سي . او د اعتدال خاصه څخه يي وباسي . او ضعف ورته پيښ کړي . او ګاهي مفضی وه مرګ ته وګرځي . او مجازاً وه اعراضو قلبيه ته هم وايي چي روح د اعتدال څخه وباسي .

او د روح د کمالاتو او د فضائلو مانع سي لکه جهل بالله او حسد او کبر وغيرها . او چي دغه اعراض وه نهايت ته ورسيږي چي کفر دی ، نو سبب د هلاک ابدي وګرځي چي ژوند د دوزخ دی . نو په دغو منافقينو د عصر نبوی ﷺ کي دواړه قسمه امراض موجود وو . امّاالأمراض المجازية فقد حسدوا مع النبی ص والمؤمنين فی كلمة الحق وكانوا على أخبث الامراض النفسانية حتى اوصلهم الى الكفر بمحمد صلى الله عليه وسلم والكفر بالقرآن والكفر بالتوراة وذالك هوالهلاك الابدی.

و اما الأمراض الحقيقة د منافقين مذکورون زړونو به حسي درد ګاوه او طبيعتونه به يي خراب وه چي ددوی رياست دلاسه ووتی او دوی ثبات او قوت د دين محمدي ليدی او د خدای جل سلطانه دخوا څخه دواړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرضه دوی ته مخ پر زیاتیدو وه .

اماالاول هر حکم الهي چي به پر علیه السلام نازلیدی ،دوی به انکار خني کاوه او عداوت به یي نور د علیه السلام بسره مخ پر ډیریدو وو . نو خدای ج پر زړو ددوی طبع او رین زیات کړی لعلمه تعالی بأنهم لایؤثر فی قلوبهم الانذار والتذکیر .

واماالثانی فلأنه یزداد تألم قلوبهم وحرقها علی ازدیاد الله تعالی نصر نبیه ﷺ والمؤمنین علی اعدائهم و تبسُّط دین الإسلام فی القُری والبلاد و دخول الناسِ فوجاً فوجاً فی دین الله والإتفاق والإتحاد بین المؤمنین .

قوله عذابٌ أليم : أی فی الآخرة په داسي ډول چي بدنونه او زړونه ددوی به ټوله سوځي .

روح البیان او تفسیر مظهري وایي چي أليم فعیل په معنی د مَفعَل دی یعني په معنا د مفعول دی .

سوال : درد کړده شده خو اهل النار دي خودي او خو درد دهنده دي نو وصف د عذاب په مفعول سره څرنګه دی ؟

جواب : دا مفسرین وایي چي وصف د عذاب په أليمٌ سره مبالغه ده په شدت کي د عذاب . او بعض مفسرین رح وایي چي فعیل یعني الیم په معنا د مُفعِل علی صیغة اسم الفاعل دی یعني درد دهنده . نو پر دي تقدیر خو اتصاف د عذاب په الیم سره حقیقت دی . لکن فعیل په معنا ده مفعِل نه دی راغلی .

درویش وایي چي فعیل په معنا د مفعل خو راغلی دی کده څه هم شاذ دی . کما فی قول الشاعر :

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَمنِ ریحانة الداعی السمیع + یورقنی و اصحابی هجوع.

دغه سمیع په معنا د مُسمِع پر صیغه د اسم فاعل . ریحانه د شاعر خور وه چې چا په زور خنې نیولې وه . نو شاعر ته د هغې دفراق د سببه خوب نه ورتی . نو دی وایي چې ایا د ریحاني دخوا یو څوك په ما خبري اوري چې ماته خوب نه راځي او زما ټوله ملګري بیده دي . داتجاهل د عارف دی ولي چې په حقیقت کې دی پوهیدی چې سمیع نسته بلکه د پریشانی د سببه ده ته خوب نه ورتلی .

قوله بما یکذبون . پوه سه ! چې کلمة الباء سببیه ده او لفظ د کانوا زائد دی دپاره د استمرار د کذب دی ای سبب کذبهم المستمر فی قولهم آمنا آه **پوه سه** ! چې د کوفي قراء یي په تخفیف وایي نو معنا مامرٌ آنفا او باقی قراء یي په تشدید د ذال وایي یعني (بما کانوا یُکذِّبون) ای الرسول صلی الله علیه وسلم لکن دا تکذیب الرسول ﷺ صرف په زړه کې ددوی وو .

فائده :کذب یعني درواغ ګناه کبیره ده. اوپه حدیث مبارك کې راغلي دي چې درواغ دري ځایه روا دي . یو د میړه او د مایني تر مابین چې یو وه بل ته وایي چې ته پر ما ډیر ګران یي او په حقیقت کې داغسې نه وي صرف دکورنی چارو د اصلاح دپاره دا درواغ وایي . او بل په اصلاح کې د ذات البینی عداوت کې دخلګو درواغ وایي . او بل په جنګ کې درواغ وایي لأن الحرب خُدعة.

فائده : خبري دپاره د مقاصدو واسطه دي نو که هغهٔ مطلب مباح وو نو درواغ په هغه کې ویل ګناه ده . او که هغه مطلب واجب وو نو که په رشتیا ویلو سره حاصلیدی نو درواغ ویل پکښې حرام دی . او که بې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درواغـو نـه حاصـليدی ، نـو درواغ ويـل يکښـي واجب دی کما فی انقاذ البری من الظالم السفاك . او تعريض يعني په ظاهره کِذب او په بـاطن کي رشتيا کذب منهی عنه نه دی . لکه په يوه حديث کي چي راغلي دي . چي عليـه السـلام او ابـوبکر رض سره ملګـري وه . يـو کـافر چـي عليـه السلام يي نه پيژندی وه ابوبکر رض ته يي وويل چي دا سـتا سره ملګری سړی څوك دی ؟ ابوبکر رض ورته وويل : رجل يهدني السبيل دهغـه کـافر دا خيال سو چي ظاهر لار رابنيي لکن د ابوبکر رض مراد الهداية الی الله وو .

وما ورد فی الخبر اَنَّ ابراهيم علی نبينا عليه الصلوة والسلام کذب ثلاث کذبات فهو ايضا محمول علی التعريضات و تسميتها بالکذب انما هـو باعتبار الظاهر . يو دا وو (إِنِّي سَقِيْمٌ) بل داچي : (بل فعله کبيرهم) بل دا چي د ماينی په باره کي چي ساره يي نوم وو ده وه هغه ظالم جبار باچا ته وويل (هذه اُختی) .

د اول تعـريض سـبب داوو چـي نمرود يـانو ده تـه بلنـه ورکـړه چـي زمـوږ سره د اختـر پـه ورځ ولاړسـه زمـوږ د ملايـانو شـوکت بـه ووينـي ، ده ورتـه وويل چي زه ناجوړی يم ، غرض يي دا وو چي ژه په سـبب ددي چـي تاسـي ستوري خدايان بـولی ، نـو زه قلبـي نـاجوړی يـم . پـه دي تعـريض کـي دده اصلي غرض دا وو چي ددوی څخه ځان پاته کړی تر څو چي بتـان مات کړي .

درويش وايي : دهغو مشرکانو د ابراهيم عليه السلام د زمـاني د اختـر د ورځي عادت دا وو چي دوی بنه بنه خواړه به يي کـورو کـي پـاخـه کـړه او لوی بت خانه چي ددوی وه ، وير بـه يـي پـه مفروشـانو عاليـه شـائسـته کـړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بتان به يي هم ډير صفا کړه او هغه ماکولات به يي راوړه د بتانو په مخ کي به يي دپاره د تبرک کښيښول . او دوی به ټوله خني ولاړل . او په صحراء کي به يي خوشحالي او ساتيری کاوه . چي نبه به يي خانونه سنړي کړه او وږي به هم سوه ، نو به بيرته بتخاني ته راغله او هغه ډوډی چي ددوی په عقيده بتانو برکت پکښي اچولی وو په مزه مزه وخوړله او بتانو ته به يي د تعظيم سجدي وکړي ، نو به کورو ته ولاړل .

نو ابراهيم عليه السلام چي ددوی څخه خان په بهانه د (إني سقيم) پاته کړی ، نو د موقع څخه په استفاده سره چي دوی ته وښيي چي دا ستاسي خدايان څومره بي وسه او ضعيفه دي چي د خپل ځانه څخه ضرر نس دفع کولای،نو تاسي ددا سي ضعيف جماد مخلوق عبادت ولي کوی؟ په دي اميد چي موږ ته به يي نفع راورسيږي او دفع د ضرر د موږ څخه وکړي . نو هغه وو چي تبر يي ور واخيستی او ټوله کوچنی کوچني خدايان يي ټوټه ټوټه کړه او په ابتداء کي يي ورته وويل : (مالكم لاتاكلون) او تبر يي د هغه لوی خدای بت وه مخ ته کښيښودی او ماکولات يي ټوله سره چپه کړه . او خني ولاړی .

دوی چي غرمه راغله بُت خانه ټوله لړلي ده او بُتان ټوله ټوټه ټوټه پراته دي نو يي وويل : (من فعل هذا بآلهتنا) او دوی سره وويل چي دا کار د ابراهيم عليه السلام دی . نو مشرانو ددوی وويل : (فأتوا به) آه نو ابراهيم عليه السلام يي راوستی او ورته وي ويل چي دا کار تا زموږ دخدايانو سره کړی دی ، نو ابراهيم عليه السلام ورته وويل : (بل فعله كبيرهم) چي دا کار دهغه لوی خدای دی چي تبر يي وه مخ ته پروت دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابراهیم په دي قول کي چي : بل فعله کبیرهم دا غرض وو چي دا د بتانو ماتول ما په سبب ددغه لوی خدای د بُغض او عداوت د سببه وکړی.

درویش وایي : نو پس له دغه کاره د ابراهیم علیه السلام نمرود امر وکړی چي د فلاني غره په لمن کي تاسي ټوله بوتي او لرګي جمع کړی چي ابراهیم پکښي وسوځو او دخپلو خدایانو کومك وکړو . او خلګو هم د بوتو په جمع کیدو پیل وکړی او میل په میل کي یي لرګي جمع او ابراهیم علیه السلام یي ورواچاوه . خدای پاك ده ته نجات ورکړی لکه داقصه به وروسته په قرآن شریف کي په تفصیل راسي .

نو نمرود چي په دي کار کي پاته راغلی نو یي ابراهیم علیه السلام ته حکم ورکړی چي زما د مملکته ووزه . هغه وو چي ابراهیم علیه السلام سره د خپلي همسفري سارة مجبوراً د ملك د نمرود ولاړی .

درویش وایي چي د (هذه اختي) تعریض بیان به په وروسته کي چي د ابراهیم علیه السلام پوره قصه په قرآن مبارك کي راسي درته وبه کړه سي . انشاء الله العزیز . حاصل د حال د منافقینو دادی چي دوی د حضرت سید المرسلین صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو سره په درواغو ویلو سره خپلي شپي او ورځي سباح کولي . او د ځان او مال حفاظت یي په درواغو سره کاوه . لکن د درواغو میدان لنډ دی . کما سیأتی فی قصة غزوة تبوك إنشاءالله تعالی . سعدي شیرازي رح وایي :

گر راست سُخن گویي و در بند بمانی به زانکه دروغت دهد از بند رهائی

قال الله عزوجل :

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ

يعني چې وبه ويل سوه د مسلمانانو دخوا وه دغو منافقانو ته

لَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ

تاسي فساد مه کوی په مځکه کې

پوه سه ! چې فساد هر ضررناکه قول او فعل ته وايي او ضد دده صلاح ده چې هر فعل او قول ته چې فائده پکښې وي وايي .

سوال : مفعول مالم يُسم فاعله ده قيل خو جمله ده لاتُفسدوا ده ، نو جملي ته څرنګه اسناد صحي دی ؟

جواب : اسناد وه جملي ته په تاويل د هذالقول دی . فافهم.

سوال : د يهود فساد فی الارض څه وو ؟

جواب : يهود به اهل مکه او نور قبائل د مشرکانو به يې وه جنګ ته د مسلمانو آماده کول او باعث کول به يې حتی چې مکي مکرمي ته به يې وفدونه استول او مشرکانو ته د مکي به يې ويله چې که تاسي جنګ د مسلمانانو سره شروع کړی موږ مو هم ملګري يو . او دا به يې هم ويله چې مسلمانان زموږ او ستاسي ګډ دښمنان دي ولي موږ او تاسي ټوله کافران بولي . او د مسلمانانو احوال به يې په طور د جاسوسی کفارو او مشرکانو ته استوله . او د مسلمانانو د اوس او خزرج د قومو ده انصاربه يې د بې اتفاقی او يو د بل سره د جنګولو کوشش کاوه . إلى غيرذالك

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من سُوء اقوالهم وافعالهم.

قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾

دوی به ناصح مذکور ته په جواب کي ویل مونږ نه یو مکر اصلاح کوونکي.

پوه سه ! چي دا جمله جواب دی د إذا ده او په ډیر کلکه اومبالغه یي جواب ورکړی یعني د مفسد خطاب گر سره وه مونږ ته نه بنایي ولي چي زمونږ حال په اصطلاح کي حصر دی.

سوال : دغه مذکوره فسادونه خو په دي کوله او دوی چي معلوم هم وه نو دوی څرنگه ویله : (إنمانحن) آه.

جواب : ددوی په عقیده دا ټوله کارونه چي ذکر سوله عین ثواب او حق بلله . ولي په زړو کي ددوی مرض د کفر او د یهودیت وو او دا کارونه ددوی په عقیده خدمت د یهودیت باله . نو خکه دوی انکار د فساد څخه وکړی . کما قال الله جل سلطانه فی آیة مستقلة : (أفمن زُيِّنَ له سوء عمله فرءاه حسناً).

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾

خبر او آګاه اوسئ اي مسلمانانو چي دغه منافقين دوی دي مفسدان يعني فساد پر دوی حصر او بند دی لکن دوی شعور نه لري .

پوه سه ! چي د يشعرون مفعول محذوف دی يعني إنهم مفسدون.

فائده: په نفي کي د شعور ددوی څخه اشاره خدای ج وه دي ته وکړه چي فساد ددوی لکه محسوس دی لکن ددوی حواس ته د کفر د مرض د سببه آفت رسيده دی .

قال السعدی رحمه الله :

کسی را که پندار در سر بود ✣ مپندار هرگز که حق بشنود

ز علمش ملال آید از وعظ تنگ ✣ شقایق بباران نروید ز سنگ

د سعدي رحمه الله مقصد دادی چي هر سړی چي دده په عقيده ځان پر حق بولي لکه دغه منافقين د عصرنبوی ﷺ نو ددغه سړي طمع مه کوه هېڅ کله چي حق دي واوري . دغسي سړی د بښوني څخه د حق خوابدی کيږي. او د وعظ څخه د واعظ تنکيږي . د مثال په توګه ګل لاله په سبب د باران نه شنه کيږي په ډبره کي . نو ددغو منافقينو زړونه لکه ډبري وه نو څکه په باران د وعظ نبوی ﷺ يا د اصحابو رض ددوی په زړو کي ګل لاله د ايمان او قبول وعظ نه پيدا کيږي . **کما قال الله تعالی :** (اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا) **قال المولی الرومي** رحمه الله :

ای که خود را شیر نر دان خوانده ✣ سالها شُد باسگ در ماندة

چون کند آن سگ برای تو شکار ✣ چون شکار شد سگی آشکار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرض دمولانا رح دادی چي دغو منافقانو خپل خانونـه ددوی په خیال مخران د لاري د حق بلل یعني خپل خانونه یي پر حق بلل مع هذا پیر کلونه د نفس خبیث چي په مثال دسپي دي عاجزه راغلي وه یعني څوك چي د نفس او خواهشات کي د نفس یعني حب الریاسة والدنیا گرفتار وي هغه څرنگه شیر یزدان وي یعني پر حق کیدلای سي . او څرنگه به هغه سپی ستا دپاره د حق ښکار وکړي . چي ته پخپله د هغه سپي نفس ښکاروي په ښکاره . یعني گرفتار په شهواتو کي د نفس اماره یي لکه دغه منافقان چي وه هر گز په سبب د وعظ او تبلیغ وه حق ته نسي رسیدای . ولنعم ماقیل :

آن کس که نداند و بداند که بداند ✣ در جهل مرکب ابدُ الدهر بماند

درویش وایي چي دا بعینه حال د منافقانو د عصر نبوی ﷺ وو نو څکه نصیحت د مومنانو په دوی کي تاثیر نه کوی . او دوی به ویل : (إنما نحن مُصلحون) او هم ورته حال دی د هغه بعض کسانو چي سیاست او چارچلند د غریبانو بالخصوص د امریکایانو او انگریزانو تر قوانینو د اسلام او قرآن او تر سیاست د شریعت غرا نبوی ﷺ په زړو کي خوښ وي هغه هم د اسلام سیاست او قوانینوته غوږ نه نیسي . ولي په زړو کي محبت د سیاست امریکایي موجود دی . قال الله تعالی :

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ

او چې وه به ویل سوه وه دغو منافقینو ته چې تاسي ایمان راوړی لکه چې ایمان راوړی نورو خلکو یعني دا نفاق پریږدی .

پوه سه! چې لام په الناس کې دپاره د عهددی ، مراد خنې مسلمان دی. او یا د منافقینو چې اکثر یې یهود وه قوي کسان دي لکه عبدالله بن سلام ﷺ و اتباعه چې په یهودو کې یو ستر عالم وو .

فائده: کاف د کما په معنا د مثل دی او مثل صفت د مصدر محذوف دی . أی آمنوا إیماناً مثل إیمان الناس نو کاف په محل کې د نصب دی کذا فی روح البیان . او بعض مفسرین رح چې لام د (الناس) دپاره د جنس دی او وایي چې مراد د جنس څخ هغه کامل فی الانسانیت دی .

ډیره ضعیفه توجیه ده کمالایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوٓا اَنُؤۡمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ

منافقينو به ويل ايا مونږ به ايمان راوړو لكه بي عقلان خلكو چې ايمان راوړى دى .

پوه سه ! چې همزه د (أنؤمن) دپاره د انكار دى يعنې داسې ايمان خو مونږ نه راوړو لكه چې بي عقلان خلكو چې راوړى دى .

فائده: لام تعريف دپاره د عهد دى . چې مراد څنې معلوم كسان دي يعنې مسلمانان او يا لام د جنس دى يعنې جنس بيعقلان چې ددوى په ګمان فاسد په دغه جنس كې مسلمانان هم داخل دي .

پوه سه ! چې سَفه قصور د عقل او خِفة د رايې ته وايي .

سوال : مسلمانانو ته منافقانو بي عقلان ولې ويله او سره ددې چې مسلمانان خو كامل العقل كسان وه ؟

جواب : دا ويل ددوى د نهايت حماقت او ضلالت او غوايت څخه كيږي، ولې چې ددوى په فاسده عقيده اسلام يو غلط دين وو ، نو خود يې دوى تابعان د اسلام سُفهاء بالله ، ولې څوك چې ضلال هُدىً بولي نو به خامخا هُدىً ضلال بولي .

او منافقانو خپل دين د يهوديت چې په حقيقت كې ضلال وو هدايت باله نو څكه دين د اسلام چې په حقيقت كې هدايت وو ددوى په فاسده عقيده ضلال وو . نو لازماً ددوى په عقيده تابعان يې سُفهاء وه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او یـا ددي سببه سفهاء وبلـل چـي اکثـر د مسـلمانانو دهغـه عصـر مسکینان او فقراء وه لکه صهیب ؓ او بلال ؓ ، ابوهریره ؓ او اصحاب صفه ؓ.داغنیاووقدیمأوحدیثاً دا وینا ده چي فقراء صرف بي عقلان دي.

سوال : ناصح په دي قول کي (آمنوا کما آمن الناس) خو مسـلمان وه نو منافقین څرنګه مخامخ د مسلمانانو دا جواب ووایه په دي جواب سره ، خو ددوی نفاق د مابین څخه تلی او مجاهرت بالکفر لازمیدی ؟

جـواب : اول دادی چي دوی دا جواب مخامخ وه مسـلمانانو ته نـه وایـه بلکه په خپل مابین کي به يي سره وایـه ، لکن خدای ﷻ دوی بي پردي کړه او ددوی مقاله يي مسلمانانو ته بنکاره کړه .

دوهم جواب : چي منافقانو لعنهم الله تعالی دا جواب په خوله مسـلمانانو ته نـه وایـه بلکـه پـه زړه کـي د خانـه سره دا خبره کولـه . مګر خدای ﷻ ددوی خباثت مسـلمانانو ته بنکاره کړی . دا هم د خدای ﷻ دخوا څخه یو دنیوي عذاب وو چي دوی به يي رسوا کړه .

دریـم جـواب : ابوالسعود ؒ پـه ارشـاد کـي راوړي دي هغـه دا چـي منافقین د عصر نبوی ﷺ په نفاق کي ډیر رسیده خلګ وه ، داسـي خبري به يي د اصحابو کرامو رض سره کولي چي هغو خبرو بـه دوه احتمالـه درلوده . یو احتمال به يي بد احتمال وو چي هغـه ددوی مراد وو . او بل احتمال به يي ښه وو او په هغه احتمال بـه يـي مسـلمانان خطائیسـتله . نـو بناء علی هذا دغه خبره (انؤمن کما آمن السفهاء) هم دوه احتمالـه درلـوده. یو احتمال داوو چي ایا موږ بـه داسـي ایمان راوړو لکـه بي عقـلان یعنـي لکه تاسي مسـلمانان . دا احتمال ددوی مراد وو . او بـل احتمـال داوو چـي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ایا مورِ بي عقلانۍ یو چي د بي عقلانو ایمان به راوړو یعني چي په زړو کي مو ایمان نه وي او صرف په خوله به د ایمان کلمه وایو . دا خو د بیعقلانوکار دی . مورِ خوشکر بي عقلانۍ نه یو . زمورِ خوله او زړه سره برابر دي . په دي احتمال یي مسلمانان خطانیستله . نو دا خبره چي دوی مخامخ وه ناصحانو ته د (آمنوا کما آمن الناس) وکړي نو ددوی کفر جهراً و علانیتاً ته نه راوزي . فافهم .

ددي جواب تائید هغه حدیث شریف هم کوي چي مسلمانانو به علیه السلام چي په یوه خبره به نه سو پوه (راعنا) به یي ویل ، یعني ده زمورِ د حال مراعت وکړی یعني دپوهیدو خیال یي وساته . دا خبره په ژبه کي د یهودو بد ښکنځل وه . یعني دوی به یوبل ته (راعناً) یعني احمقه ویل . نو منافقینو په دي کلمه د مسلمانانو ډیر خوشحاله سوله او دوی به سره ویله چي پخوا به مو علیه السلام ته پشلا ښکنځل کول . اوس به یي مخامخ ورته کوو . نو علیه السلام چي به وعظ او نصیحت مثلاً کاوه یو منافق به ورږغ کړه (رَاعِناً) حتی چي خدای ﷻ ددوی دغه پټ راز ښکاره کړی او مسلمانان یي امر کړه . (یاایها الذین آمنوا لاتقولوا راعِنا وقولوا انظرنا) یعني په (انظرنا) کي بهانه د ښکنځلو د منافقینو نسته بخلاف راعنا .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾

آګاه اوسئ چې دغه منافقين دي فقط بيوقوفان لکن دادی چې دوی په خپله بې عقلي نه پوهيږي .

پوه سه ! چې خدای پاك پر منافقينو رد وکړی او سخت رد چې سفه بې بر دوی په ضمير فصل سره حصر وګرځول . او دا يې ارشاد وکړی چې پر خپله سفه علم نه لري ، ولې چې تر دې لويه بې عقلي به چيرې وي ، چې سړی دپاره د حظوظو دنيويه وو ، يعنې حفظ الدماء والاموال دخپله کتابه تورات څخه منکر سې . او د آخرت ثوابونه او جنتونه د لاسه ورکړي په فاسد ګمان چې زمونږ نيکه ګان انبياء دي او مونږ د دوزخ څخه ساتي . نو دوی د جهل مرکب په مرض اخته دي چې هيڅ علاج يې ممکن نه دی.

قال الشاعر ولنعم ماقيل :

وآن کس که نداند و بداند که نداند او آسپ خود انرگيد فيروزه جهاند

فائده: تفسير مظهري وايي چې حق جل شانه دمخه په حال ي د منافقينو لايشعرون ذکر کړی او په دې ځای کې حال د منافقينو په لايعلمون سره بيان کړی . ددې سبب چې فساد د منافقينو په حس سره معلوميدی کمامرّ سابقاً او هر چه امور د دين دي هغه وه فکر او علم ته ضرورت لري، نو ځکه په امورو کې ددين چې سفيه څوك دی دوی يې په لايعلمون سره اعلان کړه . او ورته بيان په روح البيان کې هم موجود دی لکن په عبارت طويله .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: لکه چې منافقینو د عصرنبوی ﷺ دپاره حفظ د امور دنیویه وو یعني حفظ الدماء والاموال من المسلمین وحفظ الریاسة والجاه عن المجاهدین من اهل جلدتهم یعني قوم ددوی چې یهود وه او د هر فریقه سره په مداهنت او غوړه مالی کولي کذالك بعض علماء الدور الحاضر مداهنون المقتدیین حتی که چیرې مقتدیان ددوی سود خواره وه دوی په خپلو نصائحو کې د سود قبائح نه بیانوي. او که یې مقتدیان د امریکایانو طرف داره وه ، دوی په دې موضوع کې هیڅ بحث نه کوي او قبح او ملامتیا پر دغو خلکو نه بیانوي وهکذا نور قبائح که یې په مقتدیانو کې وي ، نه یې بیانوي ، بیریږي چې د منصب د امامته مې ونه باسي.

فائده: په اوسنۍ زمانه کې پر عمومي خلکو حُب الدنیا و حُب الجاه وحُب الجلال والعمل للریاء والسُمعة غالب دی لهذا مسلمانان ورځ په ورځ مغلوبه کیږي او کافران دوی په نقودو وه خپل ځان ته جلبوي.

(قال حامداللفاف اذا ارادالله هلاك إمرئٍ) چې اراده سې دخدای جل جلاله وه هلاك ته دیوچا. (عاقبه بثلاثة اشیاء) نو ده ته عقاب ورکوي یعني مبتلا کوي یې په درې شیانو سره (الأول یرزقه العلم ویمنعه عن عمل العلماء) اول چه خدای تعالی سړي ته علم ورکړي او محروم یې کړي دعمل څخه د علماوو. یعني په ورکړه سوي علم عمل نه کوي لکه د علماء صالحین رح لکه چه علماء ا احباروته د یهودو علم بالتورات خدای ج ورکړی وو لکن په خپل علم یې عمل ونه کړی (وإلا لآمنوا بمحمد صلی الله علیه وسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(والثانی یرزقه صحبة الصالحین ویمنعه عن معرفة حقوقهم) دوهم داچي په صُحبت د صالحانو عملاوو رح او اولیاوو رح یي خدای جل جلاله مشرف کړي لکن د حقوقو څخه دهغو محرومه پاته وي .

(والثالث یفتح علیه باب الطاعة ویمنعه عن الاخلاص بل ابتلاه بالریا والسمعة) او دریم دادی چي خدای ﷻ د طاعت دروازه پر سړي خلاصه کړي یعني توفیق دعبادت ورکړي لکن محروم یي کړي د اخلاصه څخه په هغه عبادت کي بلکه په بلاء د ریا او سُمعي یي اخته کړي .

قال العارف الشیرازی رحمه الله علیه :

عبادت باخلاص نیت نکوست ✣ وگرنه چي آید زریي مغز پوست

چي زنار مغ درمیانت چي دلق ✣ که درپوشي اله بهر پندار خلق

وفی موضع آخر:

بروی در یا خرقه سهلت دوخت ✣ اگر برخدا درفروشی نکوست

وفی موضع آخر:

که داند چو در بند حق نیستی ✣ اگر بیوضوء درنماز ایستی

اگر جز بحق ﷻ میرود جاده ات ✣ در آتش فشانند سجاده است

درویش عبیدالله وایي :

که فاسق یم که فاجر یم یاالله! ✣ اشاعت د دین مي خوښ دی یا الله

هذا إشارة الی الحدیث النبوی ﷺ ان الله قدیؤید الدین بالرجل الفاجر اوکماقال ﷺ.

ماکامیابه په تفسیرکي د قرآن کي ✣ وروسته هرڅه چي سوه پیښه زما رضاده

پر اسلام باندي مرګ غواړم دخدایه ✣ دتفسیر تکمیل هم غواړمه دخدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پـــوه ســـه! چې تر دې اوسه خدای ﷻ بیان د مذهب د منافقانو کاوه او ددوی د نفاق او کفر اثبات یې کاوه. همدا اوس بیان د معامله ددوی کوي سره د مسلمانانو او سره د کافرانو. یعني مجاهر کفارو د یهودو. ولې چې منافقانو د دواړو ډلو یعني د مسلمانانو او ددوی د مجاهره کافرانو رضا مد نظر وه. او کافران مجاهرو ته یې خپل او هم عقیده والی ور ښوی. او مسلمانانو ته یې دپاره د امن او امان د ځان او د مال او عیال په اظهار د ایمان ورښوله. او په دې لار کې څه نا څه دوی کامیابه هم وه.

فقال عز من قائل:

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا

او چې دوی ملاقی او یوځای سي د هغو کسانو سره چې ایمان بې راوړی وو (یعني المهاجرین والانصار) دوی وایي چې مونږ ایمان راوړی دی (یعني لکه ستاسي ایمان)

وهذا منهم کذبٌ محضٌ . په حدیث مبارک کې راغلي دي چې یوه ورځ رئیس المنافقین عبدالله ابن ابی سره د څو کسانو هم نفاقو روان وه چې د لیرې یې مسلمانان ولیدله، نو ابن ابی وه ځپلو ملګرو ته وویل: چې تاسي ګورئ چې زه دغه سُفهاء څرنګه ترخان تیروم او تاسي خندي خلاصوم. خیر چې سره نژدې سوله، ابن اُبی اول ابوبکر صدیق ﷺ ترلاس ونیوی یعني د روغبړ دپاره او ورته وي ویل: (مرحبابسیدبنی تمیم الصدیق وشیخ الاسلام وثانی رسول الله فی الغار الباذل نفسه وماله لرسول الله ﷺ) او بیا یې عمر ﷺ ترلاس ونیوی او ورته وي ویل : (مرحبا بسیدبنی عدی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الفاروق القوی فی دینه الباذل نفسه ومالـه لرسـول الله ﷺ) او بیا یې علی رضی الله عنه ترلاس ونیسوی او ورته وې ویل: (مرحبا بابن عم رسول الله ﷺ وسید بنـی هاشـم ماخلا رسـول الله ﷺ وختنـه) نو علی رض ورتـه وویـل یاعبدالله ده خدایـه وبیریـره او منافقـت مـه کـوه، ولـي چـي منافقـان بـد دمخلوق دي. ابن اُبی ورتـه وویـل: تـه ودریـره یـا اباحسین تاځرنګـه ماتـه داخیره وکړه. قسم په خدای چې زمونږ ایمان لکه ستاسـي ایمـان دی. بـاره سره جلاسوه.

نو ابن اُبی وه خپلو ملګرو ته وویل چې وګورئ څرنګه مـي ترخان تیر کړه او تاسـي هـم هرځای چـي مسلمانان په مخه درسـي دغسـي معاملـه ورسره کوی لکه ماچې ورسره وکړه. نو ملګرو ورته وویـل چـي مونږ بـه تـل په خیر سره یو چې ته ژوندی یې. نو دا آیت نازل سو.

درویش وایي: چې دا قصه روح البیان او قاضی بیضاوی رح او نـورو مفسرانو هم رانقل کړیده. او هغـه سوال چـي په حاشیه کـي د بیضـاوي راغلي چـي داقصـه موضوعي ده په دلیل ددي چې سورت بقره پـه اول کـال کـي د هجرت نبوی ﷺ نازل سوی دی او حضرت علی رضی الله عنه خو فاطمـه رضی الله عنها پـه سنه دوهم کـي د هجرت په نکاح کړیده. نو څرنګه ابن اُبی حضرت علی تـه ختن وویل او ختن خو دلور میړه بولي.

عاصي وایي چې بعیـد نـه ده چـي لفظ ختن دي سهواً دبعض رُواتو څخه ویل سوی وي او بل داچـي سـورت بقره کـه څـه هـم په مدني سـورتو کـي حسابول سوي ده. لکـن تولـه سـورت پـه یـوه پـلا نـه دی نـازل سـوی. پـه دلیـل ددي چـي منافقـان وروسـته ترغـزا د بـدر پیداسـوله پـه اتفـاق د مفسرانورح او دبدر غزا د سنه دوه۲ په اول کـي پیښـه سـوېده، نوپـه دغـه وخت کـي یعنـي پـه اول د سـنه ۲ دهجرة دي امکـان لـري چـي علی رضی الله عنه دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعليه السلام زوم كرخيدلى وي. او دمنافقانو وجود دي هم په سنه ۲ كي وجودته راغلى وي والله اعلم.

او حافظ ابن حجر دا قصه د راويانو درواغ بللي ده. بعضي محدثين سند ددغي قصي سلسلةُ الذهب بولي. او ابن حجر رحمه الله وايي چي سند ددغي قصي سلسلةُ الكذب دى. والله اعلم بالصواب.

وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ

او چي دوى جمع او يوځاى شي (نو إلَى په معنى د مع دى او يا چي دوى تنها سي نو الى په معنا د باء دى) دخپلو شيطانانو سره.

پوه سه! چي مراد د شيطانانو څخه هغه مُجاهرين يهودان دي چي دشيطان سره په عناد او سركښي كي مشابه دي. او دشيطانانو اضافت چي يي و دوى ته وكړى دجهته د اشتراك په كفر كي.

فى روح البيان (كل كاهنٍ مُتمردٍ فهوشيطانٌ) او ضحاك رحمه الله وايي چي مراد د شيطانانو څخه ددوى كاهنان چي په قُريظه وو كي كعب بن اشرف وو. او بنى اسلم كي ابوبرده وو او دجُهينه وو په قبيله كي عبدالدار وو. او په بنى اسدو كي عوف بن عامرووو او په شام كي عبدالله بن اسود وو. او ددوى او د عربو دا عقيده وه چي دغه كاهنان په غيبو او په اسرارو خبر دي. او دا يي هم عقيده وه چي دهر كاهن سره شيطان ورسره دى او هغه يي په غيبو او اسرارو خبروي. كذافى التيسير.

خبوتيا! په كويته او اطرافو بلكه په ټوله پاكستان كي دغسي غيب گويان سته. نر لاځه كوي په نبخو كي هم ورته نبخي سته چي په اصطلاح پتهي خبري معلوموي. په نرو كي په نامه د ملافلانى، خليفه فلانى ورته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وايي او په بښځه کي بي بي فلانی ورته وايي. او د بښځو خو ټولو دا عقيده ده چې داغه ملايان او خليفه ګان او بښځي په غيبوڅخبر دي. او بعضي نران چه د بښځو په شان دي هغه هم دا عقيده لري او دوی وايي چې ورسه په فلاني ملا او فلانی بي بي کښته وکړه.

حکم الهي: (قُل لايعلم الغيب الا الله) دغه مدعيان د غيبو د علم او هغه معتقدان ددوی ټوله کافران دي.

د مُلا يا خليفه دماينې سره يې نکاح قطع ده او د بښځي د ميړه سره نکاح قطعه ده. او وروسته تر قطع د نکاح ټوله په زنا اخته دي. او عيالونه اولاد الزنا دي.

سوال : دي ملايانو ياخليفه ګانو يابي بي فلانی ولي خانونه دخدای ﷻ و غضب ته او د عليه السلام و مخالفت ته سپارلي دي؟

جواب : که دعربو کاهنان وه او که ديهودو کاهنان وه او که د اوسنی زماني کاهنان دي. دخلګو څخه پردغه غيب ګوبي دراهم او روپی غواړي. حاصل داچه حُب الدنيا په دغه کار دوی اخته کړي. (فصدق رسول الله ﷺ حب الدنيا رأس کل خطيئة) د تعجب کار دی چې زمونږ کاهنان پنځه وخته لمونځ کوي. علاوه ترهغه په دغو روپو حج ته هم ځي.

قيل : چوکفر انزکعبه برخيزد کجا ماند مسلماني؟ په افغانستان کي دمخه ترانقلاب او اوس هم دا کسب هيڅ وجود نه درلودی. زمونږ افغاني کاهنانو دا کسب په پاکستان کي زده کړی.

آنچه مردم ميکنند بونزينه هم. لکن څوك به ددغه کهانت څخه تائب سي؟! خدا ﷻ خبر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تتمه: بعضي غيبي شيان په وحی د رب ﷻ دخواڅخه معلوميدای سي لکه انبياء عليهم السلام. او د بعضي غيبي شيانو علم د سترګو په لیدو سره هم حاصليږي لکه چي آنحضرت صلی الله عليه وسلم ته په شپه د معراج کي جنت او دوږخ، سدرة المنتهی وغيره خدای پاك دده په سترګو ور ولیدل. او دغه رنګه بعضي بنه شيان په کشف صحيح سره اولياء رح او صلحاوو ته معلوميږي لکه چي په صحيح کتابو کي دحديث مبارکه وو راځي چي اميرالمومنين عمررضی الله تعالی عنه يووخت په مشري د ساريه ﷺ يولښکر نهاوند ته استولی وو چي دمدينې څخه ډير ليري واقع وو. نو يوه جمعه اميرالمومنين ﷺ دخطبې په دوران کي نعره وکړه (ياسارية الجبل الجبل) په دغه ورځ جنګ په نهاوند کي شروع وو او کفارو د غره دخوا څخه په پټه حمله کوله. نو اميرالمومنين ﷺ خپل امير د لښکر ته نعره وکړه او امير د لښکر هم دده نعره واوريدله او لښکر ته يي حکم ورکړی چي غره ته وخيژئ.

او بعضي وخت پټ شی په الهام صحيح سره و اولياءالله کرام رح ته معلوم سي. او بعضي وخت په قرائنو عقليه سره يو پټ شی معلوم سي لکه دحاجيانو د راتللو په وخت کي په يو کور خلګ وژي و ټنوژي او دهغي خواڅخه يي مختلف اقسام تسبيح په لاسو کي وي، نو سړی پوهيږي چي دي کورته يو حاجي راغلی دی. فتدبر هداك الله.

جواب ته دسوال اشاره ده. سوال دادی که د اوسنی زماني غيب ويونکي هم ورته بهاني دخپلي غيب ګويي دپاره وکړي نو دوی ولي مُتهم بالکفر دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجواب : دوی خو دوحی دعوه نسي کولای ولي نبیان خو به ځان نه بولي. او دمعراج دعوه نسي کولای کمالایخفی. او دحضرت عمر او ساریه رضی الله تعالی عنهما دسترګو او غوږو دعوه هم نسي کولای او دغه رنګه الهام، که څه هم حق دی، لکن د اوسنی غیب ګویانو د شان ځخه ډیر لیري دی بلکه تقریباً بي امکانه دی، ولي چي دوی د ورځي ۲۰ کسه نر یا ښځي او دی وهریوه ته جلاجلا غیب وایي. چاته وایي په تاسحر سوی دی او بعض په تا یوې ټوری ښځي مثلاً تعویذ آه او بعضي پیغلو ښځو ته وایي ستابخت د نکاح یي در بند کړی دی وغیره (من خرافاتهم و امثال هذه الالهامات الکثیرة لایتصور لمثل هؤلاء الطالبین للدراهم والنقود و بل الالهام انما یکون لاولیاءالله والصالحین من اُمة محمدصلی الله علیه وسلم. والقرائن العقلیة علی دُعاویهم الکثیرة ایضاً غیرمتصورة کمالایخفی) نو په لاسو ددغو غیب ویونکو او پتې معلوموونکو نه سوه پاته بي له دعوي د علم الغیب (وهو کفر بواحٌ قال الله تعالی تعلیماً لرسوله صلی الله علیه وسلم : لوکنت اعلم الغیب لاستکثرت من الخیر ومامسّنی السوء)

حکایت : یو منجم وو چي هغه به د ستورو د حساب ځخه وخلګو ته غیب بیانوه. آخر یو ورځ یي پر ماینه باندي سړی ونیوی یعني چي د منجم د ماینې سره یي زنا کوله او منجم رسواسو. یو دوست دخدای ﷻ ددغه ماجری ځخه خبر سو نو یي وژړل چي دغه منجم د آسماني ستورو په حالاتو ځان خبر باله او په خپله ماینه چي شپه او ورځ دده په کور کي وه په فحاشي د هغي نه وو خبر . انتهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُمْ

نو دوی‌ورته وایي وخپلو شیطانانو ته مورِ په دین کي قلبأستاسي ملګري یو

إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴿١٤﴾

پوه سه ! چه داجمله مستانفه ده. جواب دسوال ده چي ګویا شیطانانو ودوی ته وویل چي تاسي که زمورِ سره په دین او اعتقاد کي موافق وای نو ولي د مسلمانانو په حضور کي کلمه شهادت وایاست او مسلمانانو ته خپل موافقت فی الدین ښکاره کوی. نو منافقانو خپلو شیطانانو ته داسي وویل چي مورِ په اظهار کي د کلمة التوحید او اقرار په رسالت د محمد ﷺ په مسلمانانو پُسخندوهو. یعني د مسلمانانو په خیال کي دا ورکوو چي مورِ ستاسي سره په دین کي موافق یو ترڅو چي د مسلمانانو څخه دنیایي ګټي تراسه کړو لکه په غنیمتو کي ددوی اشتراك او نکاح دښځو ددوی او حفظ د ځانو او اولادو او ښځو او مالو ددوی څخه. او دغه رنګه د مسلمانانو په پټو رازو ځان خبرکو او ترتاسي پوري یي راورسوو. (والإستهزاء = الإستخفاف والسخرية) ته وایي.

سوال : منافقانو دمسلمانانو سره په مخاطب کي داسي وویل : (آمنّا) او په مخاطب کي دخپلو شیطانانو یي داسي وویل : (انامعکم) یعني په اول مخاطب کي یي جمله فعلیه راوړه او په دوهمه مخاطبه کي یي جمله اسمیه راوړه. ددي سر څه دی؟

جواب : جمله فعلیه په نیز د نحاتو پر حُدوث او تجدد دلالت کوي. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی خو هم دعوی د نوي ایمان کوله مسلمانانو ته .

او جمله اسمیه پر دوام دلالت کوي او دوی وخپلو شیطانانو ته دا ښوله چي مونږ پر خپل پخواني دین ثابت او قائم او دائم یو یعني په مونږ کي هیڅ تغییر او تبدل دخپله حاله څخه نه دی راغلی.

سوال : مسلمانان خو پردوی بدګمانه وه نو دوی باید چي په مخاطبه کي د مسلمانانو یا په قسم سره او یا په جمله اسمیه او د (انما) په راوړو سره د مسلمانانو بدظنی دفع کړي وای، نو دوی ولي په مخاطبه کي دشیطانانو. کلمه د (انما) چي دلالت پر حصر کوي او جمله اسمیه چي هم د موکداتو څخه شمیرل کیږي او کلمه د (إن) تحقیقیه یي استعمال کړه.

جواب : چونکه مخاطبه دمسلمانانو په خپل ایمان سره ددوی د زړه د کومي نه وه نو ددوی زړو یي تاکید نهِ غوښتی او مخاطبه د شیطانانو چونکه ددوی د زړو د بیخ څخه ده نو څکه یي تاکید وکړی. او بل دا چي دوی بیریدله چي که مونږ مسلمانانو ته قسمونه او تاکیدونه وکړه نو به راباندي بدګمانه سي. كماهو المتعارف فی اهل السرقة وغيرها كذا فی البيضاوی والمظهری والكبير لأن السارق والزانی مثلاً يمتنع عن اليمين الكاذبة قبل الوقت لاجل تهمة الناس عليهم بايمانهم الكاذبة .

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ

خدای جل سلطانه استهزاء کوي په دوی سره.

فائدة: چونکه استهزاء چي په پښتو يي معنا پُسخند دی د جل سلطانه سره مناسب نه ده، ولي چي استهزاء د افعالو څخه د جُهال الناس ده، نو ددي آيت مبارك وه تاويل ته ضرورت سته، نو مفسرين حضرات يي قسم قسم تاويل کوي.

اول : معنا داده چي خدای ﷻ ودوی ته جزاء د استهزاء ددوی په دنيا او آخرت کي ورکوي. په دنيا کي په رسوايي او ذلت سره او په آخرت کي په عذاب النار سره، نو چونکه دغه جزاء الهي په جواب کي ددوی د استهزاء راغلي وه، نو يي تعبير په استهزاء څندي وکړی. (کمافی قوله تعالی: وجزاء سيئةٍ سيئةٌ بمثلها) او سره ددي چي جزاء خو سيئه نه ده.

دوهم : معنا د آيت داده چي وبال د استهزاء ددوی ودوی ته راجع دی. مسلمانانو ته هيڅ ضرر نه لري (لأنه تعالی حافظهم ومُنيهم) د.

دريم : چونکه د استهزاء سره ذلت د مستهزء به لازم او غرض د استهزاء څخه هم ذلت دی، نو معنا د آيت مبارك داده چي خدای عز اسمه پر دوی باندي حقارت او ذلت نازلوي.

پـوه شـه! چي دا دري جوابونه په مثال کي سره نژدي دي. او بعضي حضرات وايي چي په دي آيت کي استعاره تمثيليه ده، چي معنا يي تشبيه د يوه حالت په بل حالت سره ده لکه په دي قول کي د سړي چي يو بل متحير سړي ته وايي : (رئيتك تُقدِم رِجْلاً و تؤخر اُخری) وتحقيقها فی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فی البیان دی.

نو دلته هم معامله د خدای پاك ددوی سره په دنیا کي باوجودیکه دوی دا خبث د کفره و دی، سره دهغه یي احکام د مسلمانانو پر جاري کړي دي او دَم ددوی او اموال ددوی محفوظات کړي دي او مهلت یي ورکړی دی او نعمتونه یي هم ورکړي دي. داسي معامله ده لکه یوڅوك چي په بل چا پسخند وهي. کمالایخفی.

وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾

او خدای ﷻ پریږدي او مُهلت ورکوي ودغو منافقینو ته په سرکښي کي او تر حد تیریدو په کفر او عصیان کي.

پوه شه! چي مد او آمداد په یوه معنا دي لکن مد ډیر استعمال په شر کي دی لکه په دغه آیت کي او د آمداد اکثر استعمال په خیر کي دی. نحو: (وامددناکم باموالٍ وبنین) او عمه په عقل کي داسي ده لکه عمی په سترګو کي، هذا مافی المظهری.

او روح البیان وایي چي دوی ته خدای ﷻ زیادت او قوت ورکوي. کما فی مدالجیش = ازاده وقواه. و بالجمله مراد زیاتوب د عمر دی، ولي چي هغه متعدي په (الی) سره دی. بیضاوی.

فائدة: دا تحیر ددوی دپاره یو عذاب دی، ولي چي دواړي غاړي د اسلام او کفر یي په ذمه کي اخیستي دي، نو حیران دي چي څرنګه چار چلند وکړي.

فائدة: د اعراب د لاري (یعمهون) حال دی د ضمیر منصوب څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

(یمدهم) او هغه چې بعضې مفسرین رح وایي چې د ضمیر مجرور څخه د (طغیانهم) هم حال کیدای سي تکلف دی بحیث لایحتاج الیه، ولي چې نحات وایي چې حال به یا د فاعل څخه او یا د مفعول څخه وي. د (طغیانهم) ضمیر خو مجروردی بیا توجیه ته او جواب ته ضرورت لري یعني چې (طغیان) مصدر دی، نو ضمیر یې حکماً مرفوع دی.

پوه سه! چې خدای ﷻ مسلمانان نه کړه اړ وه جواب او مکافات ته د استهزاء د منافقانو، بلکه خدای جل سلطانه په خپله مکافات خندې واخیستی په (**الله یستهزء بهم**) سره **وفی ذالك شرف عظیم للمؤمنین فی تعالی وتقدس.**

فائدة : استهزاء او پسخند په خلګو پورې وهل ګناه ده **قال الله تعالی:** (**لایسخرقوم بقوم**) نو پسخند په خدای ﷻ سره به څونه بدکار وي. **قال علیه الصلوة والسلام:** (**المستغفرُ من الذنب وهو مصرٌ علیه کاالمستهزء بربه**) یعني هغه څوك چې دیوي ګناه څخه دخدای ﷻ څخه بخښنه غواړي او پر هغه ګناه دی ټینګ ولاړ وي، داسي دی لکه سړی چې په خدای ﷻ استهزا کوي.

درویش وایي : که په دغه حدیث مبارك کې کاف د تشبیه نه وای، نو به دغه عاصي کافر وای لکن سره ددي تشبیه یې ګناه کبیره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال جل سلطانه:

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى

دغه منافقين چې ددوی بد افعال او اقوال او د کفر عقائد ذکر سوله دوی هغه کسان دي چې رايي نيول ګمراهي او کفر په هدايت سره او په ايمان سره (يعني ايمان او هُدی يي پر کفر او ضلال دلاسه ورکړه او ايمان يي ثمن د کفر وګرځوله)

پوښتنه! چې اشترا په اصل لغت کې داده چې سړی ثمن يعني نقود ورکړي او مطلوبه مبيعه لاس ته ورولي، اما چونکه دلته نه هُدی مال دی او نه ضلالة مال دی، نو په آيت مبارک کې مراد تشبيه د معاملې د منافقينو ده چې دمخه ذکر سوله، يعني په دغه آيت کې د معاملې سره دهغه چا چې شراء د مال په مال سره کې، يعني لکه مُشتری چې د ثمن يعني د نقود څخه تيريږي او مطلب يي بيعه وي دغه رنګه دغو منافقينو هُدی او ايمان دلاسه ورکړی او په مقابل کې د هغه يي کفر او ضلالت و خان ته حاصل کړی.

پوښتنه: مشتری خو روپی په لاس کې لري نو مبيعه په رانيسي او دغو منافقينو خو هدايت او ايمان نه درلودی، بلکه پر خپل کماګان کفر باندې وه، نو څرنګه ودوی ته مشتريان د کفر ويل کيږي؟

ځواب: دغو منافقينو که په معجزاتو کې د عليه السلام فکر کړی وای او خطابات قرآنيه يي سنجولي وای بلکه په خپل تورات که يي عمل کړی وای، نو دوی به ايمان او اسلام قبول کړی وای يعني دوی ته کامل اسباب د هدايت او ايمان حاصل وه، نو دغه حصولي د اسبابو د هدايت يي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خای کي دهدایت وګرځاوه، ګویا دوی ته هدایت حاصل وو، مګر دوی هغه ثمن د ضلالت او کفر وګرځاوه، یعني پر خپل ضلالت او کفر باندې قائم او ثابت پاته سوه. دا تولـه معامله ودوی تـه د حـب الـدنیا، حـب الریاسة، حب الجاه والجلال څخه پیښه سوه.

فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾

نو ګټه ونه کړه دغه تجارت ددوی (یعني چې په عِرَض د هُدی یې ضلالت مختاره کړی او په عوض کي دایمان یې کُفر غوره کړی) او نه وه دوی لارموندونکي (دتجارت وچارو ته)

ولي چي د تجارت څخه اصل مقصد دادی چي اصـل راس المـال محفوظ پاتـه سي او پـه بیـع و شـراء سره څـه ناڅـه ګټـه هـم حاصـل کـړي. او دي منافقینو په شراء کي د ضلالت په هدایت سره ګټه خو چیري بلکه خپل ایمان په تورات او خپل استعداد فطری چي لکه راس المـال وو هم دلاسه ورکړی،

فائدة : اصل ګټه کوونکي خو تاجران دي، لکن چونکه تجارت سبب د ګټې د تاجرانو وو، نو ددي سببه یې مجازاً إسناد د ګټې وه تجارت ته وکړی. بیضاوی ، مظهری ، روح البیان ، تفسیرکبیر وغیرها.

پوه سه! چي کلمه د (فاء) په آیت کي جزاء د شرط محذوف ده ای اذا اشتروا فماربحت آه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا

او حال عجیب د منافقانو لکه حال عجیب د هغه چا دی چې اور بل کړي (یعني په شپه کې کمایدل علیه مابعده او دا اور هم دپاره ددې وې چې شاوخوا مخکه به راته روښانه سي او د درندګانو څخه په امن کې سو او د لارې درک به هم راته معلوم سي)

پـوه سـه! چې (مَثَل، مِثْل او مثیل) په معنا د نظیر دي. او بیا دا لفظ استعاره سو د یوي داسي خبري دپاره چې هغه خبره څوک په یوځای کې مستعملوي، هغه ځای به مشابه وي د هغې خبرې د اصلي یعني اول ځای سره دهغې چې په پښتو یې خلګ متل بولي. لکن مثل په یوي نادري خبري او حالت کې ویل کیږي. او مثل د خپل اصلي حال چې مورد یې بولي په مضرب کې نه بدلوي نه په تذکیر او تانیث کې او نه په افراد او جمعیت کې الی غیرذالك. لکه په کتابو کې د ادبو چې راغلي دي چې یو سپین ږری سړی چې ډیر مالداره وو او لنګې غواوي یې درلودي، یوه پیغله ځوانه ښځه یې په نکاح کړه. چونکه طبعاً د ښځې خصوصاً چې ځوانه هم وي د سپینو ویښتانو څخه یې بدراځي. همدا سبب دی چې خلګ چې سپین ږیري سي، ږیري تورووي. او هغې ځواني ښځې د سپین ږیري میړه سره ډیر بد وضعیت او نشوز یعني نافرماني کوله. نو اخیرالامر یې سپین ږیری و طلاق ته مجبور کړی. او طلاقه یې کړه. او دغه وخت هم د دوبي وو. د ښځې چې عده یې تیره سوه یو ښه ځوان لکن مسکین سړي سره نکاح وکړه. خیر د جماع حاجت خو یې حاصل سو. لکن یوه ورځ په ژمي کې د زاړه میړه د کور شیرچای او شیدي و غوړي ور په یاد سوه، نو ښځې بله ښځه د زاړه میړه کور ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورواستوله چي ته خو يو څه شيدي ماته راواستوه چي ډيره مي اوا ورته کيږي . سپين ږري د راستولي ښځي په لاس دغه پيغام ورکړی چي ودي ته ووايه چي (لقد ضيّعتِ اللبن بالصيف) يعني تا په خپله شيدي دلاسه وايستي په دوبي کي. يعني چي زماڅخه دي طلاق وغوښتی. نو دا خبره په عربو کي متل سوه، ولي چي دا يوه غريبه او نادره واقعه وه. او دغه ښځي ته مورد ددي خبري وايي.

نو دا مثل په داسي څای کي مستعملیږي چي مثلاً دوه کسه سره آشنايان وي. او دي يوه اشنای وه هغه بل ته په وار واره ډيري روپی مثلاً ورکړي وي. بيا دا دوهم آشنای د اول څخه خوابدی سي او خبري او ملاقات نه ورسره کوي، لکن يو وخت ډير مجبور سي، نو هغه زاړه انډيوال او اشنای ته يو سړی ورواستوي چي ته يو څو روپی را واستوه چي زه ډير مجبوره يم، نو هغه زوړ اشنای وه قاصد ته ووايي چي ده ته داسي ووايه: (لقدضيعتِ اللبن بالصيف) نو که څه هم دي سړي خو روپی غوښتي دي، نه شيدي او سړی خو نر دی لکن مثل ته به تغير نه ورکوي. په کسره د تاء به يي وايي چي د مونث خطاب دی که څه مخاطب دلته نر دی. او لبن به وايي که څه هم سړي دلته روپی غوښتي دي . دا تولـه عدم تغير ددي کبله دی چي په تيره سوي قصه غريبه باندي دلالت وکړي او دا يي (مضرب) بولي. و امثلة هذا المثل كثيرة فی كتب العلماء وعدم التغيير فيها مجمعٌ عليه، بلکه په پوره ژبه کي متلونه سره وايي.

فائدة : وروسته بيا لفظ د مثل پر هغه حال او قصي او صفت ته مستعار سو چي په هغه کي غرابت وي. كمافی قوله تعالی: (ولله الْمَثَلُ الاعلی) ای الوصف الذی له شانٌ وقال جل جلاله (مثل الجنة التی وُعدالمتقون) ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حالها وقصتها)

فائدة المثل : داده چي وهم دعقل سره موافقت وکړي په هغه شي چي عقلي وي، نو وهم مساعده د عقل سره او موافقت نه کاوه. لميله الى المحسوسات، نو چي مثال دمعقول په محسوس سره وويل سي، نو وهم ته قناعت حاصل سي او هغه معقول ومني او ددي سر دکبله په آسماني کتابو کي امثال ډير دي. حتى چي په انجيل شريف کي پوره سورت سته چي سورة الامثال يي بولي او په قرآن کي زر آيته د امثال سته. او په احاديثو نبويه و کي بيخي ډير مثالونه سته. او دغه رنګه په خبرو کي د نورو انبياوو عليهم السلام او په خبرو کي د علماوو او حکماوو هم په لکو مثالونه سته. روح البيان، مظهري و بيضاوی، روح المعانی، تفسير کبير او درويش.

فائدة مهمة : قاضي ناصرالدين البيضاوی رحمه الله وايي چي لفظ د الذی په معنا د الذين دی لکه په هغه آيت کي (وخُضْتُم كالذى خاضوا)

پوه سه! چي که مرجع دضمير د (بنورهم) دغه الذی وګرځوی، نو دغه خبري ته د بيضاوی ضرورت سته اوکه مرجع الضمير منافقين وي، بيا ضرورت نسته. په هر صورت داخبره تحقيق غواړي چي الذين جمع د الذي ده اوکه نه قاضي بيضاوی وايي چي جمع نه ده بلکه الذين ذوالزيادة دی دپاره د زيادت فی المعنی په جمع کي مستعمليږي، ولي که جمع وای نو بايد په حال د رفع اللذون ويل کيدای وليس كلك على اللغة الفصيحة التى جائت عليها القرآن الكريم. حاصل داچي الذيی په مفرد او تثنيه او جمع ټولو کي جائز الاستعمال دی لکه مَن و مآ فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال : په القائم کي لام موصوله دی او القائم په خای کي د القائمین نسي راتلای، نو الذي خو هم موصول دی، نو په خای کي د الذین یي څرنګه استعمال صحیح دی؟

جواب : القائم خو مستقل وصف دی او په اوصافو کي مفرد په خای کي د جمعي نسي راتلای بخلاف الذی، ولي چي دا لفظ په خپله صفت نه دی بلکه اصلي صفت هغه جمله ده چي وروسته تر الذی راځي لکن چونکه جمله بنفسها صفت نه سوای واقع کیدای یعني د مفرد کماتقرر فی النحو نو الذی یي ورته واسطه کړی، او اصلي مقصود بالتوصیف صله ده او واسطه چي هرڅو کوتاه وي ښه ده. نو ددي کبله الذین نحاة جمع نه بولي کمامرّ.

فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ

پوه سه! چي (اضاء) متعدي هم راغلی دی، نو ترجمه د آیت داسي ده چي (څه وخت چي روښانه کړي ماحول د اور بلوونکي یعني شاوخوا ځایونه)

نو د (اضائت) ضمیر و اور ته راجع دی. هغه فاعل دی تانیث یي په سبب ددي چي (نار) مونث سماعي دی او (ماحوله) یي مفعول دی او د (حوله) ضمیر و (مستوقد) ته راجع یا (والذی) ته دی. او مفردوالی یي په اعتبار د لفظ د (الذی) دی او وروسته چي ضمائر د جمعي ورته راجع دي په اعتبار د معنا د (الذی) چي جمع ده.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او دغه رنګه (اضاء) لازمي هم راغلی دی نو معنا د آیت داسي ده: (څه وخت چي روښانه سو اور) نو پر دي تقدير (ماحوله) منصوب محلاً دی ظرف دی. او یا څه وخت چي روښانه سوه ماحول د (مستوقد) نو پر دي تقدير (اضافت) مسند دی وه (ماحوله) ته او تانیث يي په اعتبار ددي دی چي ماحول د مستوقد خو ډير شيان او اماکن دي.

اوپوه سه! چي په (ضوء) او په (نور) کي اختلاف دی. روح البيان وايي چي (ضوء) قوي ده تر (نور) په دليل ددي قول دخدای ﷻ (هوالذي جعل الشمس ضياء والقمرنوراً) او بل په دي سبب چي د لمر رڼا ذاتي ده او د قمر رڼا د لمر څخه ده. لقولهم نورالقمر مستفاد من نورالشمس.

او هغه چي بعض علماء وايي چي نور قوي دی تر ضوء په دليل ددي قول دخدای ﷻ (الله نورالسموات والارض) والتفصيل فی حاشية شرح الچغينی صفحه ۱.

حاصل دهغه جواب دادی چي په آيت مذکوره کي نور پر خپله معنا نه دی بلکه د آيت معنا داده. (الله منور السموات والارض) يعني په لمر سپوږمی او ستورو سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ

خدای پاک ددوی څخه بوزي نور ددوی یعنې اور بي یک لخته مړسي

پوښتنه : خدای پاک داسي نه وویل چي (ذهب الله بنارهم).

جواب : مقصود د مستوقدینو خو اور بلولو څخه نور وو، هغه مقصود خدای پاک ذکر کړی چي هغه د مابین څخه ولاړی.

پوښتنه : نسبت د ذهاب یي و خدای پاک ته ولي وکړی؟

جواب : په دي سبب چي خالق د ټولو شیانو خدای دی جل سلطانه. او یا دا چي سبب د ذهاب یو امر سماوي وو لکه باد یا باران او د امور سماویه وو نسبت عادتاً و خدای ﷻ ته کیږي. او یا په دي سبب چي کم شی چي قادر مقتدر خدای ﷻ یو سی د بیرته راګرځیدو احتمال یي هم نسته بخلاف ماذهب به غیره تعالی فانه یحتمل عوده بقدرة الله ﷻ کما لایخفی علی العاقل.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾

او پریښودل خدای ﷻ دوی په تاریکیو کې چې شئ په سترګو نه وینې

پوه سه! چې تاریکی یې په جمع سره راوړه او نکیره یې هم وګرځولې او سره ددې چې د تاریکی ذات خو یو دی، دپاره د مبالغه په شدت کې ددغې یوې تاریکی یعنې د سببه د سختی ددغې ګویا ډیرې تاریکی سره جمع سوې دي چې معرفت یې نه کیږي او د اعراب د لاړې کې (ترکهم) پر خپله معنا پریږدی چې متعدي وه یوه مفعول ته دي نو هغه مفعول یې ضمیر د (هم) دی او کې (ترکهم) په معنا د (صیّر) کې نو لکه افعال قلوب دوه مفعوله غواړي اول یې ضمیر د (هم) دی. او دوهم (فی ظلمات) دی. او د (لایبصرون) مفعول محذوف دی ای (شیئا) او یا نازل منزلة لازم یې ګرځولی دی أی لایقع منهم الابصار اصلاً او پر هر تقدیر جمله د (لایبصرون) حال دی. او یا استیناف بیاني دی. یعنې په داسې تاریکیو کې نو ددوی څه حال وو. او روح البیان وایي چې (لایبصرون) مفعول ثانی بعد المفعول الثانی د ضمیر دی لکه وېر خبرونه د یوه مسند الیه.

تصویر معنی الجمع فی المنافقین دادې چې یو ظلمت د کفر دی او بل ظلمت د نفاق دی او بل ظلمت د غضب الهي دی او بل ظلمت د ورځې د قیامت دی او بل ظلمت د عذاب ابدي دی. په تفسیر عیون کې وایي چې منافقینو په ویلو سره د کلمه نورانی د (لا اله الا الله محمدرسول الله) خان ته یې فائده د حفظ او سلامتیا په خان، عیال او په اموالو کې پیدا کړه. او دوی ته عزت اسلامي لکه د نورو مسلمانانو ور په برخه سو. او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قسمت کي د غنائمو يي شراکت پيدا کړی. الی غير ذالك من مزايا الاسلام وفوائده. لکن چي آخر ته د عمر ورسيدله. د نور ايماني څخه بي برخي سوله او پر ظلمت د کفر او نفاق د دنيا څخه ولاړه او په ظلمت کي د سخت الهي او عذاب سرمدی داخل وهذا هوالخسران المبين نجنا الله تعالی بفضله ومنه و احسانه منه.

فائدة: دامثال د هغو کسانو هم دي چي ده ته په سبب د مريدي د يو شيخ کامل څه نور د ارادت حاصل سي، لکن د تکبر او غرور په سبب هغه نور بيرته خندي قطع فيبقى متحسراً فی هاوية الظلمة

صُمٌّ

خبر د مبتداء محذوفي دی.

سوال : منافقين خو کاڼه نه وه بلکه خبري يي اوريدلي ؟

جواب : هغه اوريده د قرآن او د مواعظو د عليه السلام چي قبول قلبي نه وي ورسره هغه لکه نه اوريده ګڼل کيږي.

بُكْمٌ

او دوی د ويلو څخه د کلمة الاسلام ګونګيان دي.

سوال : منافقينو خو کلمه مبارکه په خوله او ژبه ويله؟

جواب : هغه دخولي وينا چي مواطات القلب نه وي ورسره لکه نه وينا شميرل کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

عُمْیٌ

او دوی ړانده دي (چې دوی په سترګو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم و معجزاتو او کمالاتو ته په کتو د عبرت او کتې اخیستو نه کوري، نو دوی فاقدالابصار ورته ویل صحیح دي

نو خدای ﷻ دوی په ورځ د قیامت هم دوی په دغو دروۍ صفاتو سره موصوف حشر کوي (جزءًا بماکانوا یکسبون) ولیعلم اهل المحشر ان هؤلاء کانوا منافقین فی الدنیا. قال الله عز وجل فی موضعٍ آخر من القرآن (ونحشرهم یوم القیامة علی وجوههم عُمیا وبکما وصُما).

فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ

نو دوی د ضلالت څخه نه راجع کیږي وه هدایت او ایمان قلبي ته (یعني دوی مسلوب الاختیار نه دي بلکه رجوع وه ایمان نه کولای سي، لکن په خپل سوء الاختیار اوحب الدنیا او حب الریاست په سبب رجوع نه کوي)

قال العارف الشیرازی رحمه الله

زبان آمد اندر بهر شکر وسپاس ✣ به غیبت نه گرداندش حق شناس
گر بر گاه قرآن وپندست گوش ✣ به بُهتان باطل شنیدن مکوش
دو چشم اندر بی ضع باری نکوست ✣ زعیب برادر فرو گیرو دوست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ

پوه سه! چي په دي مثال کي مضاف محذوف دی والتقدير کاصحاب صيبٍ تاچه مرجع د ضمير د (يجعلون اصابعهم) پيداسي او د (صيب) اصل (صيوب) وو . زُرادي، واو و يا ٔ بهم آمدند، نخستين ايشان ساکن بود، واو را بيا بدل نمودند و يا ٔ را در يا ٔ ادغام کردند. مشتق د (صوب) څخه دی. (صوب) سخت تويېدو ته د باران وايي، نو د (صيب) ماده هم دپاره د مبالغي ده او صيغه يي هم دپاره د مبالغي ده او تنکير يي دپاره د تعظيم دی. نو معنا ډيرسخت باران.

او کله دا (او) نه دپاره د شک ده او نه دپاره د تشکيک ده، بلکه دپاره د تخيير ده کمافی خصال الکفارة.

حاصل : څوک چي حال د منافقينو چي مفصل ذکر سو وپيژني نو هغه اختيار لري چي ددوی حال او قصه د مستوقدينو د حال او قصه سره مشابه بولي کمامرَّ. او که يي د حال اوقصي سره د اصحاب صيِّب تشبيه ورکوي کما سياتی.

نو حاصل د معنادادی چي يا حال د منافقينو دحال سّره دهغو کسانو چي تر ډير سخت باران لاندي راغلي وي وسيأتي وجه التشبيه بين الحالين انشاء الله تعالی.

فائدة : الف و لام په اسماء کي دپاره د استغراق دی يعني چي دټولو اطرافو څخه د آسمان باران اوري، يعني وريځ مُطبق وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة : مظهري وايي چې د حسن بصري رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چې باران د آسمانه اوري او که د وريځي څخه ؟ ده رحمه الله ورته وويل چې باران د آسمانه اوري، وريځ يې علامه ده.

درويش وايي چې حکماء د علم طبيعي ټوله دا وايي چې باران، واوره، ژلې او وريځ او پيلبو او تالنده په طبقه زمهريه د هوا پيدا کيږي چې تفصيل يې په هغو کتابو کې مطالعه کړه. او ظاهر د قرآن او احاديثو مبارکه پر دې دلالت کوي چې باران وماذکرنا معه آنفاټوله له آسمان څخه نازليږي . پر وريځ او د وريځې څخه په مثال د غلبيل نويږي، لکن بعضې جزوي بارانونه تر آسمان لاندې د وريځې څخه اوري، ولې چې په تجربه ثابته ده چې بعضې اوقات پر لوړ غره سړی ناست وي هلته لمر وي او لاندې باران اوريږي. او يا په طياره کې خلګ سپاره وي، تر طياري لاندې وريځ وي او باران اوري، مګر طياره خوش خوش په ختلې لمر کې روانه وي. والله اعلم باالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ

او په باران کي تاريکي وي او تالندي و پلبو وي

پوه سه! چي روح البيان ضمير د (فيه) و (صيب) ته راجع کړي دي يعني باران ته، نو سوال دا پيدا کيږي چي رعد او برق خو په وريځ کي وي، په باران کي خو نه وي، نو جواب دادی چي چونکه رعد او برق په مُخَدَر کي د باران دي، نو گويا چي په باران کي دي

او مظهري ضمير د (فيه) هم وه (صيب) ته او هم و (سماء) ته روا کړی دی، نو د (صيب) سوال خو هغه وو چي تير سو او د سماء د ارجاع ده سببه دا سوال واردیږي چي سماء خو مونث دی، نو مذکر ضمير څرنگه ورته راجع کيږي؟ نو ددي سوال ددفعي دپاره مظهري وايي:

چي لفظ د سماء مذکر او مونث دواړه په قرآن کي راغلی دی. (إذاالسماء انفطرت) او بل ځای وايي (والسماء منفطربه)

پوه سه! چي ظلمات چي په صيغه د جمعي راغلی دی قاضي بيضاوي، تفسير مظهري او روح البيان داسي وايي چي باران چي پيوسته و اوري هوا تاريکوي او بل توره مُطبق وريځ چي لوړه وي دا هم تاريکه جوړوي او بل ظلمت د شي دی.

پوښتنه : چي په دي آيت کي شپه د کمه ځايه څخه فهميږي؟

جواب : د سياق څخه د آيت معلوميږي يعني ددي قوله څخه د خدای ﷻ (كلما أضاء لهم مشوا فيه و اذا أظلم عليهم قاموا) ولي چي په رڼا کي د پيلبو تګ کول، او چي پيلبو ورکه سي ددوی دريدل. دا خو په شپه کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت پیدا کولای سي ، یعنې چې د پیلبو رڼا سي، نو دوی لاړ وویني، نو څغلي او چې پیلبو ورکه سي دوی ودریږي، ولې خو لاړ نه وینې، دا خو په شپه کې کیدای سي، او د ورځې که هرڅو تاریکه وي خلګ لاړ وینې او و رڼا ته د پیلبو انتظار نه کوي کمایدل علیه العقل والتجربة.

او د برق او رعد تفسیر خو قاضي بیضاوي رحمه الله د حکماوو پر دول کړی دی وایي: سببه ای الرعد اصطکاك اجرام السحاب اذا حدتها الریح. او برق هم د شدت څخه ددغه اصطکاك پیدا کیږي. او دی وایي چې چونکه رعد او برق دواړه په اصل کې مصدر دی والمصادر لاتجمع نو ددې سببه یې رعد او برق جمع نه کړي لکه ظلمات، لکن صحیح هغه خبره ده چې په حدیث کې د ابن عباس ﷺ چې ترمذي یې روایت کړی دی راغلي دي چې یهودیان وه علیه السلام ته راغله او ورته یې وویل: (اخبرنا عن الرعد قال علیه السلام مَلَكٌ من الملائکة ای صوت ملكٍ موكّل بالسحاب معه مخاریقُ من نارٍ) یعني غمچنی د اور ورسره وي یسوقه بها الی حیث شاء الله فقالوا ماهذا الصوت الذی یُسمع؟ قال زجره حتی ینتهی ال ی حیث اُمر قالوا صدقتَ.

درویش چې ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چې رعد آواز د زجر د هغي ملکي دی او د برق سوال که څه هم یهودو نه وو کړی لکن د حدیث څخه صفا معلومه سوه چې برق د وهلو څخه د هغي ملکي چې جرم السحاب په مخاریقوووهي پیدا کیږي. دتولومفسرینورح پردغه اتفاق دی

سوال : بیضاوی رحمه الله خو د احادیث نبویه ﷺ پابند دی؟

جواب : بیضاوی هغه مخنی خبره په داسي لفظ راوړي ده: والمشهور آه په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

صفحه ۳۶ حاشیه ۱۳ کي وایي چي بیضاوي رحمه الله په لفظ کي مشهور اشاره ودي ته وکړي چي دغه خبره خلاف التحقیق ده، لکن بیضاوی رحمه الله دیر خایونه تطبیق د قرآن مبارك پر قول د حکمانو کوي کذا فی مرئة التفسیر. والله اعلم بالصواب.

فائدة : درویش هیڅ مدان صرف اقوال د مفسرانو رح راجمع کوي. حق د اعتراض وخپل خان ته پر اهل الاتفاق والتحقیق ددغو مفسرانورح نه ورکوي. بلکه قبول او نه قبول په علماوو پوري اړه لري.

يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ

نو دوی ګرځوي یعني ننباسي ګوتي په غوږو کي خپل

پوښتنه! چي دا جمله استیناف بیاني دی. جواب د سوال مقدر ده. یعني کیف حالهم فی تلك الحالة الشدیدة؟ فاجیب بانهم یجعلون آه. او دوه ضمیره د (یجعلون) او (اصابعهم) راجع دي اصحاب الصیب ته چي په سر کي د کلام مقدر وو کما مر.

پوښتنه : ټوله ګوته خو په غوږ نه ننوزي؟

جواب : هو، مراد د اصابعو څخه انامل دي، دپاره د مبالغي په حرص کي ددوی د غوږو په بندولو کي اصابع ذکر کړه.

پوښتنه : په عادت کي خو دا سبابه ګوته په غوږ چخل کیږي او دلته اصابع مطلق ذکر سوله؟

جواب : چي دوی دومره حیرت او خوف زده دي چي د سبابي او نورو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کوتو په فرق نه پوهیږي. او په روح البیان کي وایي چي چونکه سبابه د (شب) څخه مشتق وه چي معنا یي بنکنځل دي نو ددي ذکر د قرآن کریم د زینت او آدابو سره لائق نه وو.

پوښتنه :د سبابي ګوتي خو بل زیبا او ښائیسته نوم هم وو یعني (مُسَبِّحة یا مُهَلِّلَة) نو هغه به یي ذکر کړي وای؟

جواب : هغه نومان په وخت کي د نزول القرآن مروج نه وه بلکه مستحدث نومان دي.

مِّنَ الصَّوَاعِق

په سبب د ټکو

پوه سه! چي لفظ د من تعلیلي دی متعلق په (یجعلون) سره دی.

فائدة : (صواعق) جمع د (صاعقة) ده او (تاء) یي دپاره د مبالغي ده. لکه په علامت کي د تانیث نه ده ولي چي موصوف یي مذکر دی یعني الصوت او (صعق) سخت آواز ته وایي چي سامع یي یا بیهوشه کیږي او یا مري. او مرګ او بیهوشتیا ته هم وایي. قال الله تعالی: (فصعق من فی السموات) حاصلٌ للتفسیر المظهری.

پوه سه! چي صاعقه چي په پښتو یي ټکه بولي د سختي تالندي سره ګاهی ګاهی پیدا کیږي او یو ډیر تیز اور هم ورسره وي چي خدای ناکرده پر سړي ولویږي کالي یي نه ور وسوځي مګر سړی مړ کي. او که پر درخته ولویده درخته سوځي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائدة : ابن عباس رض وايي كه چا په دوران او وخت كي د (رعدتنا) دا آيت وويه: (سبحان الذي يُسَبّح الرعد بحمده و الملائكة من خيفته وهو على كل شيئ قدير) نو كه دغه سړی به د يكي دهلاك څخه مامون وي.

او په حديث شريف كي راغلي دي كمانقله روح البيان عن تفسير الشيخ چي عليه السلام چي به آوازونه د (رعد) واوريدله نو دا دعاء به يي كوله. (اللهم لاتقتلنا بغضبك ولاتهلكنا بعذابك وعافنا قبل ذالك).

حَذَرَ الْمَوْتِ وَاللّٰهُ مُحِيطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾

دوی گوتي ددي سبب په غوږو كي نيولي وي چي د مرګ څخه بيريدله او خداى ﷻ په قدرت سره احاطه كړي پر كافرانو باندي (نو په حيلو د خداى څخه نسي خلاصيدلاى)

نو (حذرالموت) منصوب دى مفعول له د (يجعلون) دى.

پوه سه! چي احاطه حقيقتاً په اجسامو كي مستعمليږي دخداى ﷻ په باره كي مجاز دى. د احاطه څخه د علم او قدرت. (روح... مظهري)

فائدة : (والله محيط بالكافرين) جمله معترضه دپاره ددي چي سد الآذان ودوى ته هيڅ فائده نه كوي، ولي چي تقدير الهي په حيلو او تدبيرو سره نه دفع كيږي او دپاره د تنبيه پر كفر ددوى لفظ د كافرين پر ځاى د (بهم) كنبيبنود. فافهم

پوښتنه : بندول د غوږو ودوى ته د صاعقي د وژلو څخه څه فائده كوله؟

جواب : بندول د غوږو دوى ته دا فائده كوله چي سخت آواز خوبه د تنا نه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اوري. يعني ددوی دا بيره وه چې په ډير سخت آواز د تنا مړه نسو کماقيل الفريق يتمسك بكل حشيش.

يَكَادُ الْبَرْقُ

نژدي ده چې پيلبو

دابله جمله مستانفه ده چې ددوی د پيلبو کانو سره څه حال وو.

يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ

چې پيلبو دي به حمله کي او ډير چابک سترګي ددوی حمله کړي (يعني په سترګو دي راښده کي)

كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا

هروخت چې به روښانه کړه پيلبو ودوی ته لار نو دوی په رنا کي د پيلبو روان سوه او هر وخت چې پيلبو تاريکه جوړه کړي پر دوی (يعني پيلبو به ورکه سول) نو دوی ودريدل (ولي خو لار نه وښي توره تاريکه وي)

پوه سه! چې ضمير د فيه راجع وه برق ته دی. په پيلبو کي خو تګ نه کيږي نو مراد دادی چې دوی به روان سوه په لار کي چې پيلبو به روښانه کړه. نو مضاف محذوف دی ای فی مطرح لوزه.

پوه سه! چې دغه مذکوره معنا پر تقدير ددې وه چې (اضاء) په طرف کي د (کلما) راوړي چې دلالت پر تکرار کوي. او د اظلام سره يې (اذا) راوړي، ددې سبب چې دوی خو حريص پر تګ دي چې تر خايه خانونه وژسوي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تګ خو په رښا کي د پيلبو کولای سي او د اظلام په وخت کي خو مجبوراً دريږي . دل ناخواسته.

فائدة : (کلما) ظرف زمان دی او عامل يي لفظ د (مشو) دی.

پوښتنه : لفظ د (مشو) استعمال سو چي عادي تګ ته وايي او ددوی د حرصه سره خو مناسب (سعوا) وو؟

جواب : ځغاسته خو په سبب د ډير دهشت او خوف نسي کولای چي نبايد په يوه کنده کي ونه لويږو.

وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

او که چيري اراده وای دخدای جل شانه ذهاب د اوريدو ددوی او د سترګو ددوی (نومفعول دشاء محذوف دی په دلالت د جواب د «لو» چي لذهب آه دی، يعني په سبب د رعد او برق) نو به يي سمع ددوی او ابصار ددوی نابود کړي وای (لکن مشيت الهي نه وو چي سمع او ابصار ددوی پاته سوه، ولي چي دتولو اسبابو تاثير په حقيقت کي په مشيت لهي پوري مربوط دی) نو في الواقع خالق او موثر په جواهرو او اعراضو او په افعالو کي دخدای جل شانه قدرت دی و بس او اسباب صرف او صرف علامات ظاهره دي. لااله ولاخالق وقادره الاهو. وهو مذهب اهل السنة والجماعة.

نصيحت : د حسن بصري رحمه الله تعالیٰ چي په شريعت او طريقت کي ناموری شخصيت وو او د خيرالقرون د زمانې لوی عالم وو. يو چا پوښتنه وکړه کيف اصبحت؟ څرنګه دي سحار کی؟ يعني شپه څرنګه درباندي تيره سوه؟ قال الحسن بخير هغه سړي ورته وويل : کيف حالك؟ نو حسن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بصري رحمه الله کرار ورته وخندل او ورته وي ويل : لاتسأل عن حالي زما دحال پوښتنه مه کوه. ماظنكَ نباسٍ؟ ستاځه ګمان دی؟
پر هغو خلګو چي د درياب مابين ته ورسيږي. فانكَسَرت سفينتهم نو کښتی يي ماته سي فتعلق كل انسان منهم بخشبةٍ، نو لاس ټينګ کي هر سړی په يوه لرګي پوري. على اَيِّ حالٍ هُمْ؟ قال الرجل على حالٍ شديدٍ هغه سړي ورته وويل چي دا خلګ خو به په سخت حال کي وي. قال الحسن حالي اشد من حالهم حسن رحمه الله ورته وويل چي زما حال دهغو خلګو تر حال سخت دی. فالموت بحری مرګ زما درياب دی. والحياة سفينتي او ژوند زما کښتی ده. والذنوب خشبتی او ګنهونه زما د لاس ټينګولو تخته ده. فكيف يكون حال من وَصْفه هذا يابُنَيَّ!؟ نو څرنګه به وي حال دهغه چا چي دا يي بيان د وصفت دهغه وي اي زويه!؟
درويش وايي چي دخدای جل شانه نيکان او اولياء الله رح په ګناه دغسي معترف وي او د حساب د ورځي د قيامت دغسي حيران او پريشان وي لکه د حسن البصري رحمه الله بيان چي مو واوريدی. هو دخدای جل سلطانه د دوستانو ماسوی يعني ما وارو غافل بنده ګان ګناه داسي بولي که څه هم کبيره وي لکه د سړي پر پڑه چي مچ کښيني او دی لاس ورته وښوروي او مچ ولاړ سي او دخدای عزَّ برهانه نيک بنده ګان صغيره ګناه داسي بولي لکه يو سړی چي په هواء کي غروي او دده پر سر برابر وي او سړی بيرېږي چي اوس به دا غر زما پر سر را ايله سي. په دي باره کي خواجه عبدالله انصاري رحمه الله چه خوش ګفته :

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلا در کار خود میکن نظرها ✣ که در راه تو میبینـد خطرها
کُشاانر خواب غفلت چشـم ✣ بیدار بگوش وهوش تو گویـم خبرها
نگردرخلـق گورسـتان فگـده ✣ زیـک پترفتـا جملـه سـپرها
بسـا شـاهان مـه رُویـند درخـاك ✣ کزیشـان درجهـان مانـده اثرهـا
معاصی زهـر قهـر است ونموده ✣ بکـام نفس تو همچون شـکرها
گـزرگاهسـت ایـن دنیـای فـانی ✣ نمانـدمرد عاقـل در گـذرها
چو در پیش است مرگ اي پیر انصار ✣ تماشای جهان کـن درسفرها

پوه سه! چي د پیر انصار رحمه الله مخاطب خپل ځان دی رحمه الله تعالی.

پوه سه! چي شئ مصدر دی. (شاء) ګاهی په معنا د فاعل راځي ای الشائي نو شئ په دي معنا خدای پاك ته هم شامل دی لکه په دي آیت کي (قل ايُّ شیئ اکبر شهادةً قل الله). او ګاهي په معنا د مفعول هم راځي ای المشئ وجـوده وهـو الممکـن کقولـه تعالی: (خـالق کـل شـیئ) ای الممکن . نو هم په دغه آیت کي په معنی مفعول دی د (یشیئ) په دي آیت کي یعني (ان الله علی کل شیئ قدیر). او استثناء ته خدای پاك په دي دوو آیتـو کي ضـرورت نسـته لکـه معتزلـه چـي وایـي . تفسـیر بیضـاوي والمظهري آخذاً منه کما لایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ

اي خلکو عبادت کوی د ترتیبوونکي ستاسي (چې خدای جل شانه دی)

پوه سه! چې دا خطاب الهي عام دی ټوله خلکو ته چې اهل د خطاب وي، که موجود وي په وخت د خطاب او که وروسته پیدا کیږي الی یوم القیامة.

قانون : هره جمع یا اسم جمع چې الف و لام د تعریف پر داخل وي دواړو قبیلو ته شامل دی وعلی هذا جمعت الصحابة رضوان الله علیهم اجمعین.

ابن عباس رض وایي چې (یاایهاالناس) خطاب دی و اهل مکي ته او (یاایهاالذین آمنوا) خطاب دی واهل مدیني ته، ولي چې په وخت کي د نزول د آیت اهل مکه اکثر کافران وه او مسلمانان پکښي لږ وه، نو و دوی ته خطاب عام چې مسلمانانو او کافرانو ته شامل دی په (یاایها الناس) وکړی او اهل مدینه چونکه اکثر مسلمانان وه، نو دپاره د اظهار د شرف ددوی په (یاایهاالذین آمنوا) خطاب ورته وکړی. قاله المظهری.

پوه سه! چې دا آیت تر پای پوري دپاره د اثبات د توحید الهي او د اثبات د نبوت د علیه السلام راغلی دی. او الناس مسلمانانو، کافرانو او منافقانو ټولو ته شامل دی.

حضرات مفسرین رح جمیعاً وایي چې خدای جل سلطانه نو خلک په (یاء) د نداء حاضر کړه او په شرف د خطاب یي خپل مشرف کړه. او امر د عبادت یي ورته وکړی، ددي کبله چې په عبادت الهي کي چې لوامر او نواهي ټولو ته شامل دي خامخا کُلفه او مشقت پکښي ستمه، نو هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کُلفت يي په لذت او خوند د خطاب ددوی څخه پورته کړی لأن خطاب رب السموات والارض له لذةٌ.

فائـــدة : چونکـه کمـامر (نـاس) مشـرکينو ،مهاجرينو، منـافقينو او مسلمانانو ټولو ته شامل وو، نو مشرکينو ته امر د توحيد فی العبادة ورکوي او منافقينو ته امر د اخلاص په عبادت کي ورکوي يعني ترك د نفاق او مسلمانو ګناه کارانو ته د توبي د عصيان څخه امر ورکوي او مطيعانو مسلمانانو ته امر د ثبات او دوام پر اطاعت ورکوي. نو لفظ د عبادت د کلم جامعه څخه دی، هيڅ انسان ددي امر څخه خارج نه دی کمالايخفی. دعبادت تحقيق په تفسير کي د سورت فاتحي تير سو.

دياد ور خبـره : دعبادت معنا صرف تعظيم د ماسوی الله نه دی لکه وهابيـه چي وايي. دوی وايي چي تعظيم د ماسوی الله عبـادت دی او عبادت د غيردخدای ﷻ شرك دی ، چي په عقيده ددوی د نړۍ ټولي ډلي بيله خپلي ډلي ټوله مشرکان بولي. دا ددوی لوی جرئت دی.

د احاديث مبارکه د مطالعي څخه په ډاګه دا ثابتـه ده چي اصحابو کرامو ﷺ د آنحضرت صلی الله عليـه وسلم بيحده لوړ احتـرام او لوی تعظيم کاوه بلکـه خـود وهابيـان د خپلـو اميرانـو او ددوی د عقيـدي د رهبرانو ډير غټ تعظيم کوي. بعضي شيخ الاسلام بولي، بعضي امام المسـلمين بـولي وهکـذا. بلکـه عبـادت تعظـيم د غيـرالله دی پر وجـه مخصوصه . يعني وضع د اشرف د اعضاوو چي مخ دی پر اخس د ځايو چي مخکه ده کماکان المشرکون يفعلونه فی الجاهلية فی محضر آلهتهم من الاصنام. او هغه خبره چي وهابيان يي کوي چي يو شرکت په الوهيت کي دی يعني په وجوب الوجود او خالقيت او رازقيت وغيره کي دی هغه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

شرك خو مشركانو د مكي هم نه كاوه. (ولئن سألتهم من خلق السموات والارض ليقولن الله) الى غيرذالك من الآيات الدالة على عدم شركهم فى الالوهية.

او بل شرك فى العبادة دى چې هغه مشركانو د مكي كاوه او هغسي شرك په نامه مسلمانانو كي هم سته وهو تعظيم ما وراء الله عزوجل. مورِ وايو: هو شرك خو دوه قسمه دى لكن شرك فى العبادت هغه دى چې مشركانو د مكي كاوه يعني السجود للاصنام وهذا الشرك لاوجود له فى احدٍ ممن يدعى الاسلام.

افسوس : دوى مورِ ته په صرف تعظيم د مور او پلار يا استاد يا شيخ الطريقت كافران بولي. اودوى پخپله تعظيم د خپلو مشائخو تر مورِ بالا كوي. البتتاً بعضي جاهلان عوام وه خپل پيرته د عالم الغيوب عقيده او دوى پر هرشي قادر بولي. هغه مورِ هم غلط بولو، بايد پوه كړه سي. او دمخه تر پوه كولو بايد په غشي د شرك نه وويشتل سي. او كه پس له نصيحته او پوه كولو دوى بيا هم پر خپله فاسده عقيده مصر وي بيايي نو مشرك وبوله.

فائدة : علماء وايي چې عالم او ناصح چې هرڅو بنه عالم او بنه سړى وي تر موسى او هارون عليهما السلام خو يقيناً بالانسي كيداى. او عاصي گناه كاره كه هرڅو بد سړى وي تر فرعون مدعي الربوبيته خو حتماً بد نه وي. نو څه وخت چې خداى پاك موسى او هارون عليهما السلام فرعون ته د دعوت دپاره ور استوله نو دوى ته يې داسي وويله : (وقولا له ليّناً الآية).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې خدای جل سلطانه امر دعبادت مربوط په (ربکم) سره وکړخاوه ددې سببه چې تربیه خو نعمت دی او شکر د منعم عقلاً لازم دی نو باید عاقل د منعم حقیقي حق د تربیه ور اداء کړي او دده وه حکم ته غاړه کښیږدي.

الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾

هغه خدای او رب چې تاسي یې پیداکړي یاست (یعني د نیست څخه و هست ته رااېستلي یاست) او هغه کسان یې پیدا کړي دي چې تر تاسي دمخه وه شاید تاسي به دعقل څخه کار واخلئ (اوپوه به سئ او خپل معبود حقیقي به وپېژنئ، نو به دهغه عبادت وکړی)

پوه سه! چې دا موصول صفت دی د (ربکم) دپاره د تعظیم د رب او تعلیل د عبادت د رب ﷻ. او د خلق ترجمه روح البیان او مظهري دواړو په پیدا کولو د شي بیله دمخه مثاله دهغه . او د (الذین من قبلکم) ترجمه روح البیان په (اُمم سابقه) سره کړي ده. نو (من قبلکم) صله د (الذین) او (من) جاره متعلق په محذوف پوري دی. یعني (کانوا من قبلکم) لکن پر دي تقدیر ترجمه د خلق چې ذکر سوله د مفعول سره د (خلقکم) سمون نه خوري، ولي چې اُمم سابقه خو مثل زمونږ د امت وه یعني انسانان وه.

او مظهري ترجمه د (الذین من قبلکم) په هغه مخلوق سره کړي ده چې تر انسانو دمخه خدای جل جلاله پیدا کړي لکه ملائکه او جن وغیره. نو پر دي تقدیر د (کُم) اول څخه ټوله بني نوعه د انسان مراد ده. نو پر دواړو مفعول د خلق په معنای مذکور سره صحیح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ســوال : نحـات وايـي چـي صـله د موصـول بايـد داسـي جملـه وي چـي مخاطب پـه خبر وي . نـو مسـلمانان مخاطبين کـه پـه دغـه صـله علـم لـري مشرکان خو يي نه پر لري؟

جواب : مشرکان هم دغه خلق مني لقولـه تعـالى : (ولئن سألتهم من خلق السموات والارض ليقولن الله) بلکه د (خلق الانسان) نسبت هم مشرکانو و خدای جل جلالـه تـه کـاوه. کـه څوک آيـات قرآنيـه مطالعـه کـړي نـو د مشرکانو اقـرار پـه خالقيـت د خدای جل شـانه د ټولـو کائنـاتو دپـاره بـه پکښي ووينـي. او بـالفرض والتقـدير کـه مشـرکان پـه خالقيـت د خـدای ﷻ اقرار هم ونه کي بلکه منکره وي، لکن چونکه دلائـل د خالقيـت د خدای جل شـانه ډيـر واضـح دي کـه دوی لږ فکـر پکښـي وکـړي نـو دوی بـه هـم اعتـراف پـه خالقيـت د خـدای ﷻ وکـړي. نـو دا تمکـن ددوی پـر علـم د خالقيت دخدای قائم مقام العلم يي وګرځاوه او جمله د (خلقكم الآيه) صـله د موصول يي راوړه . فتدبر!

درويـش وايـي چـي مشـکل اعـراب او معـرکة الآراء اعـراب د (لعلكـم تتقـون) دی. نـو زه بـه حتـى الوسـع کوشـش وکـړم چـي ددي اعـراب حـل او حاصل ورونو طالبانو او وطنوالو تـه وړانـدي کـړم . ومن الله التوفيق.

قاضي البيضـاوي رحمه الله وايـي چـي بعضـي مفسـران رح ودي تـه تللـي دي چـي (لعل) پـه معنـى د (کـى) تعليلـي دی. او دا تعليـل دی د خلق . نـو معنـا داده (خلقكم لكى تتقون) كما فى قوله تعالى (وماخلقت الجن والانس الا ليعبدون). يعنـي پـه دي آيت کـي خـو تصريح پـه تعليـل د خلق الجن والانـس پـه عبادت سره سوي ده. بيضـاوي رحمه الله وروسـته ويلـي دي (وهـو ضعيف اذ لم يُثبت مثله فى اللغة) لکـن دا تضـعيف د بيضـاوي رحمه الله بـي خايـه دی. د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر بیضاوي شارحان وایي چي دا تفسیر په ډیرو آیاتو حضراتو مفسرینورح کړی دی. او علماء د نحوي هم په دغه تصریح کړي ده، یعني چي (لعلّ) په معنا د (کَیْ) ثابت دی. او دوی استشهاد په اقوالو د فصحاء العرب کړی دی.

پوښتنه : چي علماء وایي چي افعال د خدای جل سلطانه معلل بالاغراض نه دي. نو څرنګه به صحیح وي چي (لعل) په معنا د (کَیْ) تعلیلي دی او دا تعلیل د (خلقکم) به وي.

جواب : اول په قرآن کي تصریح په تعلیل د خلق سوي ده کما فی (وماخلقت الجن الآیة)، نو څرنګه انکار د تعلیل څخه د افعالو دخدایﷻ صحیح دی؟

دوهم علامه عبیدالله په شرح کي د تنقیح الاصول او نور محققین رح د فن الاصول هم وایي چي حق په مسئله کي د تعلیل د افعالو دخدایﷻ داده چي د انزاع په تعلیل او عدم تعلیل کي نزاع لفظي ده، ولي که تفسیر د علت او غرض په دي سره وکړه سي چي په هغه سره فاعل کاملیږي او فائده وه فاعل ته راجع وي، نو دا په باره دخدایﷻ کي ممتنع دی لانه تعالی تام الفاعلیة دی او هیڅ شي ته محتاج نه دی. هغه علماء چي تعلیل نه وایي دهغو دغه معنا د غرض څخه مراد ده. او که د علت تفسیر په حکمت او فائده سره وسي چي پر فعل د خدای جل شانه مرتبیږي فلاشبهة فی وقوعها لأن افعاله تعالی مُعَلَّلة بمصالح العباد عندنا قال تعالی : (أفحسبتم أنما خلقناکم عبثاً الآیة)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سیبویه وایي چي (لعل) دپاره د ترجی دی. نو پوه سه چي (لعلکم تتقون) یا حال دی د فاعله څخه (اُعبُدوا) ای راجین الوقایة من عذاب الله یعني رجا راجع وه عابدینو ته ، نه وه خدای جل شانه ته.

سوال : عابدین چي عبادت هم وکړي او اوامر الهیه ټوله پرځای کړي او د منهیاتو څخه پرهیز وکړی بیاخو به نو یقیناً متقین وي، نو د رجاء څه معنا ده؟

جواب : ایمان په مابین کي د خوف او رجاء دی او هیڅ عابد ،زاهد ،سالك او صالح ته دا نه ښائي چي په خپل عبادت او زهد او سلوك دي وغولیږي او پر ځان دي د متقي یقین وکړي کیف وحقیقت التقوی وهو التبرء من کل شیئ سواه تعالی الیه تعالی وهو منتهی درجات السالکین والعابدین والزاهدین بل غایة امر السالك والعابد الرجا الی رحمته تعالی کما قال الله تبارك وتعالی فی حق العابدین: (یدعون) ای یعبدون (ربهم خوفاً وطمعاً) ثم بَیّن جل جلاله الخوف والطمع بقوله تعالی : (یرجون رحمته ویخافون عذابه) صدق الله العظیم.

او یا جمله د (لعلکم تتقون) د مفعول څخه د (خلقکم) ومامعُطف علیه حالٌ.

پوښتنه : نو پر دي تقدیر خو رجاء حقیقتاً نه د متکلم چي خدای جل شانه دی ممکنه ده. لان الترجی لایحصل الا عندالجهل بعاقبة الامور وهو محالٌ علی الله عزوجل کماهو المجمع علیه فی جمیع الادیان والمذاهب ولایتصور الترجی الحقیقی عن المخاطبین وقت خلقهم ، ولي چي دوی په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخت د خلق اهل د رجاء نه وه کما لایخفی . و اشار القاضی البیضاوی رحمه الله الی دفع هذا الاشکال بقوله علی معنی اِنَّهُ خلقکم ومن قبلکم فی صورة من یُرجی منه التقوی) ولي چي امر د تقوی راجح دی ولي اسباب يي جمع دی او بواعث يي نهايت ډير دی .

درويش وايي چي حاصل ددي جواب دادی چي خدای ﷻ د مکلفينو هغه کارونه کړي دي، که غيرد خدای ﷻ ددوی سره کړي وای نو به داسي معلوميدلای چي دهغه غير اميد او رجاء د حصول د مقصود لري، يعني خدای جل شانه ودوی ته قدرت پر خير او شر ورکړی وو. او عقول هاديه يي ورکړي وه . وازاح يعني زائل کړي وو خدای ﷻ عذر د نقصان دعقولو ددوی په را استولو د انبياء عليهم السلام او په انزال د کتب الهيه هاديه وو. ومحصول الجواب انه شبَّه فعله تعالی بهم بفعل المترجی فاُستعمل فيه حرف الترجی وهو لعَلَّ .

فائدة : فی اعراب الآية صاحب کشاف علامة زمخشری په خپل تفسير کي او قاضي ثناء الله په تفسير مظهري کي او په روح البيان کي تولـه دا وايي چي (لعل) دپاره د اطماع دی يعني چي خدای جل شانه خپل بنده‌گاه په طمع کوي د تقوی. وروسته تولـه دا وايي چي (اطماع) دخدای ﷻ دخوا واجب وي حصول د مقصود لان الکريم لايطمع غيره الا فيما يفعل.

درويش وايي چي پر دي خبره يو دقيق سوال واردیږي چي قاضي ثناءالله رحمه الله په دي قول سره په هغه سوال تصريح کړي ده. قُلْتُ ان کان کذالك لزم وجود التقوی من الناس کلهم وليس کذالك انتهی. يعني که اطماع دخدای ﷻ دخوا واجب الحصول وای نو بايد تقوی د تولو خلګو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

څخه پیدا وای او دغسي نه ده، ولي په انسانانو کي کافران سته او په انسانانو کي ګناه کاران سته.

درویش وایي چي قاضي ثناءالله ددي سوال په جواب کي یو د تکلف سره مخامخ جواب راوړی دی. عاصي خو نه په پوهیږي، تاسي یي وګورئ او مطالعه یي کړی شاید په پوه به سئ. والله اعلم باالصواب والیه المرجع والمآب ومنه الهدایة والتوفیق وهوالمسئول عنه فی کل مضیق ومشکل.

درویش وایي چي لفظ د لعل په قرآن مبارک کي ډیر ځایونه راځي خو جامع بیان یي دغه دی چه درویش دلته بیان کړی، نو په هر ځای کي چي (لعل) راسي باید ودي جامع بیان ته رجوع وکړه سي او آئنده په هرځای کي طمع د تفصیل به نه سره کوو.

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً

هغه خدای ﷻ چي ګرځولی ستاسي دپاره مځکه لکه فراش اواره او ګرځولی یي دی آسمان بناء (یعني لکه قبه او بام)

پوه سه! چي (جعل) په معنا د (صَیَّر) دی چي دوه مفعوله غواړي اول مفعول یي (ارض) دی او دوهم مفعول یي (فراشاً) دی او لام د (لکم) دپاره د نفع دی وعلی هذا قِس والسماء بناءً.

او لام تعریف په (سماء) کي دپاره د جنس دی او (سماء) یوه او ډیر ته ویل کیږي. او مخکي ته (فراش) ویل په دي اعتبار دي چي ځای د قرار او سکونت دی نه داسي دی لکه اویه او نه داسي دی لکه ډبري چي بیا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو قابل د قرار او سکونت په نه وای اوربناء) په اصل کې مصدر دی. مراد ځندې مبني ده.

پوه سه! چې (الذی جعل) آه دوهم صفت دی د (ربکم) اویا مبتداء ده، جمله ده (فلاتجعلوا) یې خبر دی. او یا محلاً مرفوع دی (هو) مبتداء ورسره محذوفه ده او یا منصوب دی اعني ورسره محذوف دی چې په اصطلاح د نحاتو یې مرفوع علی المدح او یا منصوب علی المدح بولي.

فائدة : قال اهل اللغة: چې مځکه بساط العالم ده چې تخمیناً پر دروۍ ربعو یې بحر محیط راګرځیدلی دی او یوه ربعه یې دپاره د حیواناتو او نباتاتو سره د خرابو مځکو او غرو خالي ده.

سوال : حکماء وایي چې مځکه کروي ده. ایا کرویه او فراش منافات نه سره لري؟

جواب : د حکماوو مراد علی مافی کتبهم کرویه حسي دی. یعني که ځوك دآسمان ځخه مځکي ته فرضاً ولګوري، نو به کُره په خیال کې ورسي، نو فراش والی بلکه غرونه او غاري و کرویه حسي ته د مځکې تاوان نه رسوي. په کتابو کې د هیئت وایي چې د ترټولو د لوی غره چې جبل نهاوند یې بولي نسبت وه قطر ته د مځکې لکه نسبت د اووسي حصې د اوربشي دپاره وهغه کري ته چې قطر یې یو ګز وي. والتفصیل فی شرح الچغمینی کذا قال البیضاوی رحمه الله وروح البیان والتفسیرالکبیروغیرها

پوه سه! چې آسمان لکه ګنبده ده پر مځکه باندې. درویش وایي چې روح البیان د تفسیر د ابی اللیث رحمه الله ځخه داسې نقل کړي دي: والسماء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الدنيا ملتزقة اطرافها على الارض انتهى. يعني د اول آسمان اطراف جوت دي په مځکه پورې. پر دي خبره دا سوال واردیږي چې هرڅو چې طیاره شرقاً یا غرباً یا جنوباً یا شمالاً سفر کوي، آسمان هغونه لوړ دی لکه چې دهغه ځایه ځخه چې لوړ وو چې طیاري سفر شروع کاوه او هیڅ د آسمان اطراف په مځکه پورې مښتي نه دي.

والجواب : چې د ابواللیث رحمه الله مراد التزاق حسي دی یعني هرځای په سترګو د خلګو کې داسې ور ځي چې د آسمان اطراف په مځکه پورې مښتي دي. ولاریب انه کذالك فی کل اطراف الارض ولیس مراده الالتزاق الحقیقی.

وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

او راتوی کړي خدای ﷻ د آسمان ځخه اوبه

پوه شه! چې په قرار د احادیثو نبویه ﷺ وو د باران اوبه د آسمان ځخه پر وریځ راتوییږي او د وریځي ځخه پر مځکه راتوییږي.

درویش وایي چې ددي خبري پوره تحقیق وړاندي تیرسو فتذکر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ

او بیا خدای ﷻ را ایستلي دي بعضي د میوي په سبب د باران د اوبو دپاره د رزق ستاسي

پوه شه! چي په دي آیت کي رد دی پر حکماوو چي هغه وایي چي توله بارانونه د طبقه زمهریره څخه د هوا اوري. وقدمرً بیان ذالك.

فائدة : د ثمراتو څخه صرف هغه شیان چي د میوو په نامه متعارف دي مراد نه دي، بلکه مراد توله داني لکه غنم، اوربشي، جوار، ورجي وغیره او توله متعارفي میوي لکه انګور، انار، سیب او نور توله فواکه دي.

فائدة : خدای جل شانه په مخکه کي قوت منفعله اینبی دی اوبه اوبو کي قوت فاعله اینبی دی چي ددغو دوو د اجتماع څخه حبوب او ثمار او فواکه زیږي. ګویا په مابین کي د آسمان او مخکي شبه د عقد نکاح سته یعني د آسمان څخه شبه د مني انساني راکښته کیږي او په اعماقو کي د مخکي چي شبه د رحم انساني لري جمع کیږي او ددي څخه نباتات من الحیوان والثمار والحبوب وغیرها چي شبه د اولاد لري پیدا کیږي او دا میوي وغیره انسانانو او حیوانانو ته دپاره د رزق ماکول ګرځي، نو باید خلګ خصوصاً قرآن د خدای ﷻ وه خالقیت او قادریت او رازقیت او رحمت عامه او اعتقاد ته غاړه کښیږدي او دهغه عبادت د وحدانیت دلاري وکړي.

فائدة : اول (من) ابتدائیه دی یعني ابتداء د اوبو د آسمان څخه دی او دوهم (من) تبعیضي دی او تنکیر د (ماء) هم دپاره د تبعیض دی. او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(رزقاً) تنوین او تنکیر هم دپاره د تبعیض دي. او (ثمرات) که څه هم معرفه دي لکن چونکه په مابین کي د دوو نکیرو چي (ماءً او رزقاً) دی په معنا د (بعض الثمرات) دی. وهذا هوالموافق للواقع، ولي چي د آسمان څخه ټولي اوبه نه دي نازلي سوي. او ټولي میوي په اوبو د باران هم نه دي عالم وجود ته راوتلي. لان الجنّات فيها من الثمار مالاعينٌ رئتْ ولا اُذُنٌ سمعتْ ولاخطر على قلب بشرٍ او ټوله مرزوق میوي هم نه دي، غوښي شیدي وغیرها هم مرزوق دي.

فَلَا تَجْعَلُوا لِلّٰهِ اَنْدَادًا

نو تاسي مه کړخوی خدای ﷻ لره امثال (په عبادت کي چي تاسي دهغو هم عبادت کوی لکه دخدای ﷻ. او (ند) په معنا د ضِد هم راغلی دی. خدای ﷻ لره نه مثل سته او نه ضِد)

قال الشاعر:

اتيماً تجعلون الیّ نِداً ٭ وماتيمٌ لِذِي حَسَبٍ نديدُ

فائدة: خدای جل سلطانه اول خلق یعني ناس په عبادت سره خپل امر کړه. بقوله: (یاأیهاالناس اعبدوا ربکم) او علت د امر بالعبادة یي هم ذکر کړی یعني ربکم الذی خلقکم الآیة. اوس یي بیا جمله د نهی د (فلاتجعلوا) آه پر هغه امر عطف کړه بالفاء تنبیهاً علی ان اسباب الامر بالعبادة هی اسباب النهی عن اتخاذ الانداد شبرًا بشبرٍ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

او تاسي هم پوهيږئ (چي خداى لره مثل نسته)

پـوه سـه! جمله د (وانتم تعلمون) حال دضمير څخه د (فلاتجعلوا) او (تعلمـون) مُنزلـة منزلـة الـلازم دی ای انـتم مـن اهـل العلـم او يـامفعول محذوف دی أی انـتم تعلمـون ان خـالق هـذه الاشياء واحـد. حتـي چي تاسي اقرار هم په کوئ. (ولئن سألتهم من خلقهم ليقولن الله) نو تاسي ولي شريك فی العبادة ده لره وایاست.

شاعر وایي:

ابرو مه وباد خورشید وفلك در كار اند ٭ تانوانی بكف آری وبغفلت نه خوری

این همه انر بهر تو سرگشته وفرمان بردارند ٭ شرط انصاف نباشد كه توفرمان نبری

فائدة : په حديث کي د وصيت د عليه السلام وه معاذ ﷺ چي حاصل يي دادی چي خدای ﷻ اوه آسمانونه پيدا کړي دي او دهر آسمان دپاره يوه ملکـه (بـواب) يعنـي د دروازي ساتونکي هـم پيـدا کـړي ده، نـو (کـرام کاتبين) يعني حفظه د بعض بندګانو بنـه بنـه عبادتونـه پورتـه کـوي ترڅو چي جناب الهي ته يي ورسوي او ددي عملو لکه د لمر داسي رڼا وي. نو ملك بواب د اول آسمان ورتـه ووايـي چـي ددي عملـو د پورتـه کيـدو اجازه نسـته. زه خـدای ﷻ امـر کـړي يـم چـي دهغـه سـړي عمـل چـي غيبـت د مسلمانانو کوي مي راپريږده. داغه سړی صاحب الغيبت وو. سعدي رحمه الله وايي:

زبان آمد انر بهر شكر وسپاس ٭ بغيبت نگرداندش حق شناس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چې حدیث مذکور چونکه ډیر طویل وو، نو به یې زه اختصاراً مقصود خایونه درته ذکر کړم.

علیه السلام وایي چې حفظه کرام رض د یوه بل سړي ښه ښه عملونه، روژي، لمونځونه، صدقات تر اول آسمان تیر کړي. د دوهم آسمان ملك بواب یې راوکرځوي او حفظه ته ووایي چې په دغو عملو دغه سړی چې دا عملونه یې کړي پر مخ یې په ووهئ. زه خدای ﷻ ددي دپاره مقرره کړي یم چې هغه عمل چې دپاره د عرض الدنیا چا کړی وي. ماته یې مه راپریږده او ددي سړي عمل د جمع اوري ددنیا وو. ما دپاره نه وو.

چه ریا در میانت چه دلق ✣ که در پوشی از بهر پندار خلق

خلاصه داچې په دریم آسمان کې د متکبر عمل راګرځول کیږي چې پر خلګو به یې کبر او لویي کوله. سعدي شیرازي رحمه الله وایي:

فروتن بود هوشمند گزین ✣ نهد شاخ پُر میوه سر بر زمین

او په څلرم آسمان کې اعمال د صاحب العجب یعني خود بین مفتخر راګرځول کیږي.

چو روي بخدمت نهی بر زمین ✣ خدایرا ثنا گوی وخود را مبین

او په پنځم آسمان کې اعمال د حاسد سړي راګرځول کیږي، چې حسد د اهل علم سره کوي. سعدي رحمه الله:

عُقبه زین صعب تر در راه نیست ✣ ای خنك آن کس حسد همراه نیست

او په شپږم آسمان کې اعمال د هغو انسانانو راګرځول کیږي چې پر چا به یې رحم نه کاوه او دبل په ضرر به خوشحال وو.

رحم خواهی رحم کن براشکبار ✣ رحم خواهی بر ضعیفان رحم آر

او په اووم آسمان کې عمل د ریاکار او شهرت پسنده راګرځوي.

بروی و ریا خرقه سهلست دُوخت ✣ گرش باخدا در فروشی نکوست

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قال علیه الصلوة والسلام ویصعد الحفظة بعمل عبد من زکاة و صوم و صلاة وحج وعمرةٍ وخُلقٍ حسنٍ وذکرالله. او د کردو آسمانو ملکي ورسره همراه وي، حجابونه تولـه پورته سي او ملکي دشاهدي دپاره وحضورته دخدای جل سلطانه ودریږي. نو خدای ﷻ ورته وایي چي تاسي خو پر ظاهر عمل د بندګانو رقیب او مقرر یاست. د زړو د حال مالك زه یم. ددغه عامل په دغو عملو کي مقصود زه نه وم ، بلکه د بل چا دپاره یي کول. فعلیه لعنتي ، نو ملکي تولي ووایي : علیه لعنتك فتلعنه السموات السبع ومن فیهنَّ.

تمهید

چونکه کافران دمکي به آنحضرت ﷺ په نبوت نه، بلکه ګاهي به یي شاعر باله او ګاهی ګاهی به یي کاهن باله او ګاهی به یي مجنون باله او ګاهی یعلمه البشر باله او دغه دوی قرآن مبارك کلام الهي نه باله، بلکه ګاهي شعر ګاهي کهانت باله. نو پس له دي خدای ﷻ خپل توحید په دلائلو ثابت کړی. که دوی قناعت پر کاوه او که یي نه پرکاوه. اوس خدای جل سلطانه د کفارو نه طریقه د پیژندلو د حقیت دقرآن کریم یعني إنه من الله تعالی دی او طریقه د پیژندلو د آنحضرت دیني برحق والی بیانوي او داسي وایي :

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَإِنْ كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا

او که چیري تاسي په شک کي یاست په هغه کتاب چي مورِ نازل کړی پر بنده خپل (یعني محمد علیه السلام)

پوه سه! چي کلمه د (نزلنا) په تشدید د زاء، د بابه د تفعیل دی. او معنا یي نزول د شي دی نجماً نجماً، سورةً سورة، آیةً آیةً. چي دغسي نزول دوی په شك کي اچولي وه او دوی به ویله : (لولانُزِّل علیه القرآن جملةً واحدةً) یعني لکه پر موسی تورات او پر عیسی انجیل علیهما السلام . او دوی به ویله چي نجماً نجماً جوړول کار د شاعرانو دی. نو خدای جل شانه ددوی سره د نجماً نجماً پر طریقه بحث او تحدی ورسره وکړه ترڅو چي ددوی هغه شبهه زائل سي.

فائدة : قرآن مبارك هم په تنزیل سره چي ذکر سو موصوف دی، ولي په ۲۳ کاله زمانه د نبوت کي د علیه السلام نجماً نجماً پایه او تکمیل ته رسیدلی دی.

او په انزال سره موصوف دی او معنا یي نزول دی دفعتاً واحدتاً ده ولي چي قرآن کریم د لوح محفوظ په شپه د قدر وبیت العزة ته په یوه وار راوړه سوی دی او دهغه څای څخه بیا نجماً نجماً بحسب المصالح مخکي ته راغلی دی.

فائدة : خدای پاك تصدیر دجمله په (ان) شرطیه سره وکړی چي د شك په خای کي مستعملیږي او سره دد چي انکار ددوی خو مُحقق وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه : په پُر دي وکړه چي قرآن مبارك په سبب د وضوع البرهان خو د محقق انکار ځای نه دی. غایة الامر د فرضاً شك ځای له کبله وي او ازاله د هغه هم په دي ډول وکړی چي رابه سي. وهذا بعینه هوالوجه فی ذکر لفظ الشك دون الانکار مع ان الموجود فیهم هوالانکار.

فائـدة : د آنحضرت ﷺ په باره کي يي لفظ د (عبدنا) ووايه. (رسولنا، نبیناو امثالها) يي نه ووايه، ولي علماء په يوه خوله وايي چي د نبي په اوصافو وصف د عبودیت تر رسالت بلکه تر تولو اوصافو بهتر او شریف دی ، ولي چي په عبودیت کي توجه د مخلوقه وه خالق ته ده. بخلاف الرسالة . او اضافت وضمیر ته دپاره د شریف د مضاف دی. او بل عبودیت اظهار د عُجز دی، ولي چي اصل معنا د عبد مربی دی، ځکه بایزید بسطامی قدس سره وایي : په خطاب کي د خدای جل سلطانه :

چار چیز آورده ام شاها که درگنج تونیست
نیستی وحاجت عُجز وگاه آورده ام

فائدة : حکمت الهي په نزول کي د قرآن کریم نجماً لادفعتاً دادی چي د آنحضرت صلی الله علیه وسلم شان د نورو انبیاء علیهم السلام څخه جلا وو، ولي چي علیه السلام نبي امي وو یعني خط و کتابت يي نه وو زده، نو د نجماً نجماً په نازلیدو کي علیه السلام ته حفظ دقرآن آسانه وو. بخلاف سائر الانبیاء علیهم السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ

نو تاسي راتګ وکړی په یوه سورت د مثله څخه دده.

سوال : اتیان په مثل سره دسورت قرآني خو محال دی او امر خو امکان د مامور به غواړي؟

جواب : دا امرتعجیز دی یعني دپاره د اظهار د عُجز دکفارو، نو د امر امکان د مامورېه نه غواړي.

پوه سه! چي سورت په لغت کي د ښار دیوالته وایي، نو چونکه دیوال د ښار محیط پر څو دُورو او سرایو باندي دی، نو په دي مناسبت چي سورت یو طائفه د آیات قرآنیه وو چي اول او آخر یي په توقیف د صاحب الشریعة معلوم وي. نو که سړی یو څو آیتنه د سورت بقره سره یو ځای کړي، هغه ته سورت نه وایي، ولي چي توقیفاً اول او آخر نه لري.

او بعضي مفسرین وایي چي سورت په لغت کي شرف او رتبي ته وایي، نو سورت قرآني هم شرف لري. او قاري ته هم شرف ور په برخه کوي.

پوه سه! چي (فأتو بسورة) جواب دي. او مراد د سورت څخه هغه کوچنۍ سورت دی چي دي آیتْ قُصار وي.

پوه سه! چي په نیز د اکثرو مفسرینو رح (من مثله) صفت د سورت دی ای (کائنة من مثله) او کلمه د (من) دپاره د تبعیض ده یعني بعض د مثله څخه او یا دپاره د مثلیت (ای سورة مماثلة)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د اخفش رحمه الله په نیز کلمه د (من) زائده ده ای سُور مماثلةٍ للقرآن.

او ضمیر د (مثله) راجع دی (ومانزلنا) ته یعني (القرآن العزیز)، نو معنا د آیت داسي ده چې تاسي راتګ وکړی په مثل د سورت قرآني یا د قرآن په بلاغت او په نظم حسن کي یعني که چیري دا خبره ستاسي صحت لري چې قرآن کلام البشر دی یعني علیه السلام یي دځانه جوړوي، نو تاسي خو هم عرب یاست، بلکه بُلغاء هم ځانونه بولی، تاسي مثل د سورت د قرآن ومیدان ته د معارضة القرآن راوړی.

سوال : قرآن پاك لره خو مثل نسته، ولي قرآن کلام الله او صفت الله او وحی دی. فکما لامثل له فی ذاته ولا مثل له فی صفاته فکیف یصح (فاءتوا بسورةٍ من مثل القرآن؟

والجواب : ان الکلام ورد علی زعمهم لانهم کانوا یقولون لوشئنا لقُلنا مثل ذالك. کذالك فی التفسیر التیسیر.

او بعضي مفسرین رح وایي چې ضمیر د (منه) راجع دی و (عبدنا) ته، نو (من) دپاره د ابتداء دی فقط ای بسورة کائنةٍ من مثل عبدنا یعني چې بشر دي وي او اُمي دي وي او خط او کتابت دي یي نه وي زده او تعلیم دي هم نه وي کړی. قال البیضاوی ووافقه المظهری : چې ضمیر (ومانزلنا) ته راجع کول یعني قرآن ته ډیره ښه وجه ده.ترڅو چې دهغه آیت سره برابر سي چې په بل ځای کي د قرآن راغلی دی. (فاتو بسورة من مثله)، ولي په هغه آیت کي خو حتماً ضمیر و (مانزلنا) ته راجع دی لعدم ذکر عبدنا هناك.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل سبب د حسن داده چې د سره څخه خو کلام په قرآن کې دی یعني (ان کنتم) په (عبدنا) کې خو خبره نه ده. نو باید نظم نسې سره جلا.

او بله وجه د حُسن داده چې قرآن خو مُعجز فی ذاته دی، نه نسبت وه علیه السلام ته لقوله تعالی: (قل لئن اجتمعت الانس والجن علی ان یاتو بمثل هذا القرآن لایاتون بمثله) یعني ته کافرانو ته ووایه که چیرې سره جمع سې انسانان او پیرانیان پر دې باندې چې دوی دې راتګ په مثل ددې قرآن وکړی، راتګ به ونه کې په مثل د قرآن. دا وه حاصل د بیضاوی. او روح البیان او تفسیر مظهري او د نورو تفاسیرو هم. وبالله التوفیق.

وَادْعُوا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۳﴾

او دعوت ورکړئ (یعني کهمک وغواړی) دشاهدانو څخه ستاسې، یعني خدایان ستاسې چې تاسې بې عبادت کوی او داهم تاسې دعوی کوی چې دغه زمورِ خدایان به زمورِ دپاره شاهدي اداء کوي په ورځ د قیامت چې تاسې پر حق دین واست. یعني که قیامت بالفرض وو (وإلا فهم یُنکرون القیامة حیث قالوا مَن یحیی العظام وهی رمیم) او یا حاضران د مجالسو راوغواړی (من دون الله) یعني ماسوی دخدای ﷻ چې تاسې ته شاهدي اداء کړي چې دغه کتاب یا سورت چې تاسې جوړ کړی دی مثل د قرآن دی. او داسې به نه وایاست چې خدای شاهد دی چې زمورِ جوړ کړی کتاب یا سورت مثل د قرآن دی، ولې دا وینا عادت د عاجز فی المناظرة ده. که چیرې تاسې صادقان یاست، چې قرآن مبارک کلام البشر دی. جواب د شرط محذوف دی چې ماقبل دلالت پر کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پـــوه ســـه! چې شهداء جمع د شاهد ده په معنا د حاضر او ناصر. او شاهدي ادا کوونکی دا دري سره معناوي دلتـه صحيح دی. او مِن دون الله متعلق دی په (اُدعوا) سره فالمعنی ادعوا متجاوزين الله.

هرڅوك چې وي دپاره د کهمك په معارضـه کې د قرآن يا راوغواړئ حاضـران د مجالسو ستاسي يعنې ستاسي رئيسـان او اشـراف ستاسي ددي. ددي معارضة القرآن دپاره، يا راوغواړی هغه کسـان چې ستاسي دپاره به يې په مهماتو کې شاهدي اداء کوله. او يا راوغواړی هغه کسان چې ستاسي سره په وخت د عجز کهمك کاوه ترڅو چې په معارضة القرآن کې هم کهمك درسره وکړي. اوکهٔ (من دون الله) متعلق د (شهداء) وو سره سي، نو مراد ځندي ددوی بتان دي.

فائدة : ماده د شاهد يعني شين او هاء او دال دپاره د حضور ده لکه په معانی مذکوره په ټولو کې چې حضور سته او ددي کبله شهيدفی سبيل الله ته شهيد وايي چې ملائکه ورته حاضريږي. او يا هغه شی چې د اميد ورته درلودی، هغو ته دی حاضـريږي لکه جنت او نعمي دجنت کما جاء فی الحديث الصحيح النبوی ﷺ.

پوه سه! چې په دي آيت کې اشاره ودي ته ده چې (عاجز) دی. د عاجزه څخه کهمك په مهماتو کې ددين او ددنيا نه غواړي، بلکه په حوائجو کې د مُتعال خدای جل سلطانه څخه مدد غواړي الذی لايعجز عن شیئ ولايثقله شیئٌ ولابخل فی جنابه بل هو ارحم الراحمين، نو يا الله يا الله جل جلالك وعظمتٌ قدرتك وعمٌ احسانك. زما عجز او بې علمي ترما تاته بنه معلومه ده. او زما عشق او محبت او حرص د تفسير سره د قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الکریم هم تاته معلوم دی. نو یا ارحم الراحمین ! زما عمر دونه را اوږد کړي سره د صحته او عافیته او توفیق سره چې زه دا تفسیر قرآني پای ته ورسوم. تولـه موانـع جسدي و دمـاغي وغیره د درویش څخه دفع و لري چې زه دغه تفسیر په صحت او خوش حالی وپایه او تکمیل ته ورسوم.

د درویش عقیده خو اوس داده چې که دغه تفسیر پای ته ورسیدی او پر (والناس) باندې ودریدی، نو که په هغـه کړي فرضاً زه ملك الموت په سترګو ووینم چې د قبض الروح دپاره حاضر دی، انشاء الله دونه مهلت او فرصت به څندي ونه غواړم چې زه به یو وار تر خونـه سر وباسم او اهل البیت ته به ووایم دخدای په امان. بلکه که دهشت د مرګ دامن ګیر نسو داسي به ورته ووایم : کما قال المولوی الرومی رح فی المثنوی

پیشتر آ پیشتر آ جان من + پیك درحضرت سلطان من

اللهم اجب دعائي یامجیب الداعین. دجمعې شریفې ورځ د ذوالقعده ٦م تاریخ دی سنه ۱۴۲۴ھ ق ده سحار ترلمانځه وروسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا

او که تاسي په ماضي کي داسي نه دي کړي چي مثل د سورت قرآني يا قرآن مو جوړ کړی وي او تاسي وروسته هم داسي نسی کولای چي مثل دقرآن دي جوړ کړئ.

پوه سه! چي جمله د (لن تفعلوا) جمله معترضه ده په مابين کي د شرط چي (فان لم تفعلوا) دی او دجزاء چي (فاتقوا) دی او دا جمله اخبار بالغيب ده او د معجزاتو څخه د قرآن عظيم الشان ده، ولي که دوی مثل د سورت قرآني جوړ کړی وای د تاريخ ورقي به په هغه ډکي وای خصوصاً تواريخ غير اسلامي، ولي چي مدار د صدق نبوي ﷺ او دحقيقت قرآني هم پر دغو دوو جملو دی. او د مدعيانو د کذب د قرآن او نبوت سترګي هم ودغو دوو جملو ته کړې دي. لکن بحمده تعالی د هجرت نبوي ﷺ ۱۴۲۴ کاله تير سوله، څوک په ټوله نړۍ مدعی د مثل القرآن نسو پيدا، نو ددي کبله قرآن پاک معجزه باقيه ده الی يوم القيامة.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

نو چې تاسو پس له غاية الجهد مثل دقرآن جوړ نه کړی او ښکاره سوله چې قرآن قول البشر نه دی بلکه کلام دخالق القوی والقدر دی او کلام مُعجز دی، نو ایمان پر قرآن او پر حامل القرآن علیه السلام راوړی او په ذریعه د ایمان خپل ځانونه وساتئ د اوره څخه د جهنم په ورځ دقیامت. هغه اور چې د عادي اورو څخه ددنیا چې په لرګو بلیږي جلا دی او دیر جلا دی. او د بلیدو شیان یې خلګ او انسانان دي یعني کفار او بل ډبري دي.

پوه سه! چې په اول صدر کې تفسیر د (حجارة) په ډبرو د تورو ګوګړو سوی دی و بس . او بعضي مفسران چې مراد مطلق ډبري دي یعني نفسي ډبري په جهنم کي لکه کبریت اسود یعني په بدبویي کي او په بدن پوري د سخت منبتو او د غایت التهاب په باره کې. او بعضي مفسران رح وایي چې د (حجارة) هغه بتان ددوی مراد دي چې دوی به د ډبرو څخه جوړ کړي وه او عبادت به یې دهغو کاوه په طمع ددي چې دا بتان به زمونږ د خلاصون سبب سي په آخرت کي، لکن خدای پاك معامله بالعکس وربښکاره کړه یعني هغه بتان یې سبب د تعذیب ددوی وګرځوله. او دوی ته به دا ثابته سي چې زمونږ سبب د دوزخ عبادت ددغو بتانو وګرځیدی او تحسر او غم به یې نور ډیر زیات سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

آراسته کړه سوی دی دغه اور، یعني په اصل وضع کي د کفارو دپاره نو عُصات المومنین چي په بعضي افعالو کي د کفارو سره مشابهت ولري، هغه به هم په جهنم کي وي که څه هم ددوی دپاره نه وو جوړ سوی. وهذا علی تقدیر ان لایدرکوهم الشفاعة العُظمی او رحمة الله تعالی العامة

فائدة : (أُعِدَّتْ) چي ماضي صیغه ده، پر دي دلالت کوي چي جهنم اوس هم مخلوق دی او احادیث صحیحه کثیره هم پر دغه دلالت کوي. او معتزله وایي چي نه جنتونه او نه دوزخونه اوس موجود دي. والتفصیل فی کتب العقائد.

پوه سه! چي د ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي اتباع د ابلیس هر مانبام و ابلیس ته خپل راپور د اضلال المسلمین وړاندي کوي. حتی یو کوچنی تابع یي دا ووایي چي ما داکار وکړی چي د مسلمانانو یو هلك مي د ديني مدرسي څخه منع کړی. ابلیس ور ولاړسي او خپل بغل ته یي کښینوي دخوشحالی د مافعل سره. نو ددي سببه پوهان ددین وایي چي حق د ولد پر مور او پلار دري۳ شیان دي.

اول : پنه پاك نوم پر ایښوول په وخت د ولادت یعني د (عبد) لفظ وه نوم ته دخدای مضاف کړي لکه عبدالله، عبدالرحمن ، عبدالغفار وغیره او یا نوم د آنحضرت صلی الله علیه وسلم، لکه محمد . احمد ، محمود وغیره پر کښیږدي او یا د نورو انبیاء علیهم السلام نومان پر کښیږدي لکه داود ، سلیمان ، ابراهیم وغیره . او غلط نوم لکه عبدالنبی، عبدالرسول، عبدالمحمد ، عبدالغیاث، الله محمد وغیره دي نه پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ايږدي. يا بې معنا نوم دي هم نه پر ايږدي لکه کرنګ ، لونګ، خړ، خټک وغيرها.

او دوهم : حق يي دادی چې قرآن او ادب او امور شرعيه لکه لمونځ، روژه وغيره په زده کړي.

او بل حق يي سنتي ده.

فائدة : جمله د (اعدت) آه جمله مستانفه ده ددي سوال په جواب کي چې دغه اور دچا دپاره دی او يا حال ده د (نار) څخه په حذف د (قد) ولي ماضي چې حال واقع سي (قد) يا ظاهر يا مضمر غواړي کما فی کتب النحو.

فائـــدة : په دي جمله کي اشاره ودي ته ده چې هغه بعضي عصات المومنين چې دوږخ ته داخل کړه سي. ودوی ته هميشه والی په اورو کي لکه د کفارو نسته او داسي سخت عذاب يي هم نه دی لکه د کافرانو، ولي چې مثال د عصاتو المومنين لکه يو بيګانه سړی چې د چا کورته ورسي نو هغه خو د هميشه دپاره په دا کور کي نه وي لکه صاحب الدار چې کافران دي نو په جمله کي د (أعدت للكافرين) ضمناً زيږه دی د مومنانو دپاره په عدم الخلود سره. ددي سببه په وروسته کي صراحتاً زيږه وه مومنانو ته راغلی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او زیرئ وکړه او مبارکباد ووایه اي محمدعليه السلامه وهغو کسانو ته چي ایمان يي راوړی وي يعني پر ټولو هغه شیانو چي ایمان راوړه پر واجب دي من القرآن، والنبي عليه السلام وغيرهما اوسره د ایمان اعمال صالحه يي هم کړي وي من الفرائض والواجبات.

پوه سه! چي ددي آيت څخه دا معلومه سوه چي اعمال د ایمانه څخه خارج دي وإلا فلافائدة فی العطف .

فائدة : بشارت د خوشحالی وه خبر ته وايي.

سوال :نو په هغه آيت کي (وبَشِّرْهُمْ بعذاب أليم) خبر دبشارت سار کړه دی؟

جواب : هغه آيت پر طريقه د تحکم راغلی دی. يعني په کفارو د پسخند دپاره.

فائدة : امر په بَشِّر که څه هم ظاهراً و عليه السلام ته دی لکن مراد څندي هر هغه سړی دی چي اهل د بشارت وي من العلماء و غيرهم، ولي چي آنحضرت صلی الله عليه وسلم خو ټولو امتيانو ته فرادی دا خبري راساً نه دی کړی .

پوه سه! چي لفظ د (صالحات) جمع ده (صالحةٌ) ده. تانيث يي په اعتبار د (خصلةٌ) دی او چونکه لفظ د صالحات د صفات غالبة الاستعمال په ښو اعمالو کي دی نو جاري مجری الاسماء دی. نو ذکر د موصوف نه ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

غواړي. عمل صالح عام دی. هرهغه عمل دی چي شرع شريفي ښه ګڼلی وي. من الفرائض والواجبات والسنن والمستحبات.

سوال :جمله د (وبشرالذين) پر کم ځای عطف ده؟

جواب : دا ټولي جملي چي په بشارت پوري اړه لري عطف دي پر هغو مجموع جملو چي په تخويف کي تيري سوي يعني **عطف القصة على القصة لان العادة الالهية جرت على ان يُشفَّع الترهيب بالترغيب وبالعكس.**

تنبيه : ددي آيت مبارک څخه دا معلومه سول چي اهل د بشارت هغه کسان دي چي ايمان او عمل صالح يي سره جمع کړی وي، ولي چي ايمان لکه تادای د خوني دی او عمل صالح يي لکه بناء پر تادای. او دامعلومه خبره ده چي تادای بيله بناء د بشارت سبب نه ګرځي لکه په عُرف کي چي څوك پر تادای باندي بناء وکړي، نو خلګ مبارکي ورکوي. **لاعلى الاساس فقط فطلب الجنة بمجرد الايمان بدون العمل الصالح حال السُفهاء و مخالف لهذه الآية.**

سوال :ته په مجرد ايمان سره څوك و جنت ته نسي ورتلای؟

جواب : مونږ د دخول الجنت وعدمه په باره کي خبره نه ده کړي. مونږ په بشارت او عدم بشارت کي خبره وکړه . **ولاريب انه تعالى جعل فى هذه الآية اهلُ البشارة الجامعين من الايمان والاعمال الصالحة فغيرهم لايستاهل للبشارة فافهم.** يعني د دخول څخه د جنت د عصات المومنين انکار نه لرو په شفاعت وغيرها.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي چي سره ددي چي عمل شرط عادي د دخول د جنت دی لکن مع هذا ناامیدي ګناه کارانو ده په کار نه ده چي پاك خدای جل سلطانه ارحم الراحمین دی. یعني امکان سته بلکه امید سته چي خدای ﷻ دي په رحمت عامه خپل، خپل بعضي عصات وبخښي.

به بها نمي بخشد ٭ به بهانه مي بخشد

او حضرت سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم شفیع المذنبین دی شفاعت حیث قال شفاعتي لاهل الکبائر من امتي ، لکن مع هذا درجات عالیات په جنت کي په اندازه د اعمال صالحه وو د ژوند دي. نو لکه په دي دنیا کي چي هرڅو مو رزق پراخه وي لکن موږ د (هل من مزید) غوښتونکي یو، نو د جنت د درجاتو.

اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

چي دوی لره جنتونه دي چي بهیږي لاندي ترهغو یعني لاندي تر درختو دهغو جنتي ولي یعني د اوبو، دعسلو، دشیدو او د شرابو.

پوه شه! چي (ان لهم) اصل یي (بأن لهم) نو حرف جر یي ځندي حذف کړی، نو دي ته په اصطلاح کي د نحاتو منصوب بنزع الخافض وایي و تعدی الفعل چي ابشر دی وده ته یعني ګویا دی نو په ځای د مفعول د (ابشر) ودریدی. او بعضي مفسرین رح وایي چي (انّ لهم) مجرور محلاً دی. حرف جر ورسره مقدر دی.

فائدة : (انهار) جمع د (نهر) ده (وهوالشق فی الارض) چي په پښتو یي واله بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال : والله خو نه بهيږي كمالايخفى، ولي واله خو د ظرف د اوبو نوم دى؟

جواب : څوك وايي چي مضاف ورسره محذوف دى (اى مائها) او بعض وايي چي اسناد د (جرى) و والي ته اسناد مجازي دى. يعني اسناد د فعل د مظروف چي اوبه دي و ظرف ته يي وكړى چي ودي ته په اصطلاح د علم بيان مجاز فى النسبة وايي. او په حديث شريف كي چي ابن جرير رحمه الله او ابن المبارك رحمه الله او بهيقي رحمه الله روايت كړى دى وايي چي ولي دجنت خرقُ العادة بيله شقه بهيږي؟ نوپردي تقدير اسناد حقيقي دى.

فائدة : جمله د تجرى صفت ده (جنات) ده. او روح البيان والا وايي چي نهر پراخه شق ته وايي يعني تر جدول چي لښتى يي بولي پراخه به وي او تر درياب كمه وي لكه رود نيل د مصر.

درويش وايي چي هغه تجرى الماء چي په پښتو يي ولي بولي د ولو څخه خارج سوي او دجدول په تعريف كي داخلي سوي، لكن د هرې ژبې خپل اصطلاح ده. مورږ پښتانه د مصر نهر ته رود وايو. دغه رنگه د هلمند نهر ته رود وايو او تر هغه چي كوچنى نهر وي، هغه ته نهر او واله وايو. او تر هغه چي هم كوچنى وي هغه ته لښتى وايو.

نو چي اوبه وچيښي نو جنتيانو ته ژوند ابدي پيداسي چي بيا مري نه او شيدي وچيښي نو په بدنو كي يي صحت كامله پيداسي چي بيا ناجوړي كيږي نه . او چي شراب وچښي نو خوشحالي ابدي ورته پيداسي چي بيا هيڅ غم نه ورته پيښيږي.

فائدة : په روح البيان كي وايي: چي پر ساق العرش باندي په غټو الفاظو (بسم الله الرحمن الرحيم) نوشته ده. نو د اوبو چينه د (ميم) څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(بسم) راوزي او د شيدو چينه د (هاء) څخه د (الله) د لفظ راوزي. او د شرابو چينه د (ميم) څخه د (الرحمٰن) راوزي. او د عسلو چينه د (ميم) څخه د (الرحيم) راوزي. او دا ټولي چيني بهيږي وه کوثر ته د نبي عليه السلام چي هغه اوس په جنت کي دي.

كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوا هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ

هروخت چي رزق ورکړه سي ودوی ته د جنت څخه د يوي ميوي څخه يو رزق. نو دوی وايي: چي دا ميوه خو موږ ته دمخه هم په رزق راکړه سوي وه.

فائدة : جمله د (كلمارُزقوا) دوهم صفت دی د (جنات) نو منصوب محلاً ده. او يا خبر د مبتداء محذوف ده يعني (هی ای الجنات بحيث كلما رزقوا آه) او يا (هم ای اهل الجنة كلما رُزقوا آه) او يا جمله مستانفه ده يعني جواب د سوال ده چي ميوي د جنت مثل د ميوو د دنيا دي او که جنس آخر دي. كذا فی البيضاوي والمظهري و روح البيان.

فائدة :(كلما) منصوب دی ظرف دی د (قالوا) او (رزقاً) په معنا د (مَرْزوقاً) مفعول به دی د (رزقوا) او (رُزقوا) په معنا د (اطعموا) دی او كلمه د اول (من) ابتدائيه ده ای كلما رُزقوا مرزوقاً ناشياً من الجنة. او من الثانية دپاره د بيان دی. او دواړه په خای کي د حال دی.

تو حاصل دمعنا دادی: (كل حينٍ أُطعموا مرزوقاً ناشياً ومبتدأً من الجنة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وذالك المرزوق ثمرةً)

فائدة : مراد د (ثمرةً) څخه یو فرد د میوې نه دی مراد یعني یو سیب یا یو انار وغیره، بلکه مراد نوع د میوې ده یعني انار، سیب، انګور، کیله، خټکئ و امثالها من الثمرات.

سوال : چې دوی څرنګه وایي چې (**هذاالذی رُزقنا من قبل**) او سره ددې چې (مارزقنا) خو دوی خوړلي دي او دا حاضر مرزوق خو موجود دي؟

جـواب : چې عبارت د قرآن پاك د قسمه څخه د (زیدٌ اسدٌ) دی یعني مبالغه ده په تشبیه کې او اصل داسې وو: (**هذا مثل الذی آه**) بیضاوي، روح البیان ، مظهري.

پوه سه! چې په (من قبل) کې اختلاف دی. اکثر مفسرین رح وایي چې مراد (من قبل فی الدنیا) دی یعني دوی ته چې انګور یا انار مثلاً دپاره د خورك راوړه سي، دوی وایي چې دا خو هغه انګور یا انار دي چې مونږ په دنیا کې خوړلې. نو حاصل د آیت دادی چې ټولې میوې د جنت په ظاهر رنګ لکه میوې د دنیا دي، که څه هم په خوند او مقدار کې تر میوو د دنیا ډیرې بالا دي. حکمت دخدای جل سلطانه په دې کې دادی چې په اول وهلت کې جنتي د هغې میوې څخه چې په دنیا کې یې نه خوړلې او نه لیدلې وي منع ونه کړي، ولې طبع دداسې شي څخه چه نه یې وي خوړلی نفرت کوي. په ګمان ددې چې دا به مُضر شی وي او طبع انساني وه مالوف شي ته مائله وي. او بل حکمت الهي دادی چې دوی ته دا معلومه سي چې د دنیا انګور مثلاً څونه په خوند کې او مزه کې تر انګورو د جنت څونه کښته دي. او دجنت انګور څونه په خوند کې پر بالا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دي وهکذا انار چي په جنت کي وخوري فضيلت به يي تر انارو د دنيا ورته بشکاره سي. وعلى هذا فقس غيرهما من ثمرات الجنة.

او دغه رنګه دوی خو انار په دنيا کي ليدلي وو او مقدار يي ور معلوم وو چي مثلاً د يوه سړي کفايت يي کاوه او د جنت انار مثلاً درنه لوی دي چي په يوه دانه يي مثلاً د لسو کسانو کفايت کيږي او دغه رنګ نوري ميوې.

سوال : نو پر تقدير مذکور خو انګور د جنت جنتيانو په دنيا کي ليدلي وه؟

جواب : هو، انګور چي دوی په دنيا کي ليدلي وه هغه ډير په خوند کي او په مقدار کي تر انګورو د جنت کم دي. **فصدق انها لاعين رئت**.

وعلى هذاالقياس غير د انګورو نوري ميوي د جنت چي جنتيانو په دينا کي ليدلي او خوړلي وي.

پوه سه! چي پر تقدير د قبليت في الدنيا د (کلما) لفظ پر عموم باندي صحيح دی. يعني په اوله ميوه کي چي دوی يي په جنت کي خوري هم دا دوی ويلای سي **هذا الذی رُزقنا من قبل يعني في الدنيا**.

فائدة مهمة : درويش وايي چي قبليت د دنيا پر تقدير يو سوال او جواب سته چي هيڅ تفسير د تفاسيرو مروجه وو څخه نه تصريح په کړيده او نه اشاره.

سوال : دادی چي د مخکي په هر کونج کي مسلمانان موجود دي او په بعضي وطنو کي بعضي ميوي سته يا ډيري يا لږ. او بعضي ميوي په هغه خای کي وجود نه لري او نه د هغه خای مسلمانانو خوړلي وي او نه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بي ليدلي. او په بعضي اقطارو کي بيا بل بعضي ميوي وي او بل بعض بيا نه وي. مثلاً په بعضي اوطانو کي انګور، انار، انځر، سيب وغيره وي چي مسلمانانو د هغه وطنو خوړلي وي او بعضي ميوي لکه کيله، مالټه، نارنج وغيره بيا نوي چي دهغه وطن مسلمانانو نه وي خوړلي بلکه ليدلي يي لا هم نه وي، ولي چي په اوسني کلو کي چي وسائل د رسيدو د ميوو من السيارات والطيارات وغيرها د يوه وطن ميوي وبل وطن ته رسيږي سل کاله دمخه چي دا وسائل نه وه او د يوه وطن ميوي نورو وطنو ته نه رسيدي، نو هغه مسلمانان د نړۍ د ټولو اطرافو او اکنافو چي سل کاله بلکه پنځه سوه کاله تر اوسنۍ سټه دمخه مړه وي او جنت ته په ورځ د قيامت ور سي او خداى ﷻ دي ورولي څرنګه به دهغي ميوي چي دوی په دنيا کي نه وي خوړلي بلکه ليدلي يي هم نه وي د احضار په وخت کي دا ويلای سي چي (هذاالذي رُزقنا فی الدنيا)؟

والجواب عنه : چي په هر وطن کي مالوف او غيرمالوف يعني خوړل سوي ميوي او ناخوړل سوي ميوي په هر عصر او زمانه کي او په هر وطن کي وجود لري. نو د هر وطن و مسلمانانو ته په جنت کي هغه ددوی مالوفي ميوي ور وړه کيږي او دوی دا ووايي(هذاالذي رُزقنا من قبل) يعني فی الدنيا ترڅو چي دوی د جنت د ميوو سره اُلفت پيدا کړي. دروسته چي نوري ميوي چي دوی نه وي خوړلي په دنيا کي هم دا ويلای سي چي هذا الذی رُزقنا من قبلُ يعني فی الدنيا. ولي تا دمخه واوريده چي مراد په قرآن کريم کي (مثل مارزقنا من قبل) دی نو د مالوفو ميوو په باره کي مثليت فی النوع مراد دی او د غيرمالوفو ميوو په باره کي مثليت فی عدم الضرر کي مراد دی. يعني هذا ای الغير المالوف مثل ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رزقنا من قبل فی الدنیا فی عدم اضرر قیاساً علی المالوف الماکول والله اعلم بالصواب.

او بعضي مفسرين لکه قاضي بيضاوي رحمه الله د قبليت څخه قبليت فی الجنت هم تجويز کړی دی. دی وايي چي دجنت ميوي سره متشابه الصورت دي مع تخالف النوع. يعني سيب د جنت په شکل او په صورت کي سره د اناره مثلاً مشابهت لري. وهکذا نوري ميوي د جنت لکه چي حسن البصري رحمه الله چي وايي يو جنتي ته چي خادم الجنت يوه ميوه راوړي لکه سيب چي رنګ د انار وي او انار هغه جنتي دمخه خوړلی وي نو جنتي ورته وايي: (هذا الذی رُزقنا من قبل) يعني دا خو هم انار دی، نو ملکه ورته ووايي چي کُلْ فاللون واحدٌ والطعم مختلفٌ يعني وخوره چې رنګ که يي څه هم يو دی. يعني د سيبه سره لکن خوند يي مخالف دی يعني خوند يي د انار دی مثلاً. او په دي تشابه کي حکمت الهي دادی چي عظيم قدرت خپل و جنتيانو ته ښکاره کي او اظهار د تعجب د جنتيانو دی.

سوال : چي پر دي تقدير خو (کلما) پر خپل عموم نه پاتيږي، ولي تر تولو اول ميوه چي جنتيانو ته راوړه سي، نو دوی به څرنګه وايي چي (هذا الذي رُزقنا من قبل) يعنی فی الجنة اِلاّ ان يُحمل عموم (کلّما) علی غير المرة الاولی حملاً علی الاعم الاغلب فی الجنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا

پوه سه! چي پر اول تقدير يعني چي قبليته فی الدنيا مراد سي، ضمير د (به) راجع و (مارزقوا فی الدارين) ته راجع دی يعني مارزقوا فی الدنيا والآخرة سره متشابه دی په نوعه کي يعني انګور، انار، انځر، سيب وغيره.

او د بيضاوي پر تجويز ضمير راجع دی و (مارزقوا فی الجنة) ته او دا جمله معترضه ده د معطوفينو تر مابين.

فائدة : ابن عباس رض او مجاهد رحمه الله ددي آيت ترجمه داسي کوي : (متشابه دي په رنګو کي او مختلفي دي په خوندو کي) او حسن بصري رحمه الله او قتاده رحمه الله وايي چي ميوي د جنت يو دبله سره مشابه په نبه والي کي يعني دجنت ميوي تولي ښي دي، خرابي نسته پکښي لکه د دنيا په ميوو کي يعني چي خرابي پکښي سته. درويش وايي چي دا دواړي ترجمي تائيد د تجويز د بيضاوي رحمه الله کوي کمالايخفی.

فائدة جديدة : امام بغوی رحمه الله په خپل تفسير کي د جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايله چي اهل جنت ياکلون و يشربون : يعني جنتيان خورك کوي او چښل کوي. ولايبولون: او بولي نه کوي، چي د چښلو سره په دنيا کي تعلق لري. ولايتغوّطون: او غټي بولي نه کوي چي په دنيا کي د خوړلو څخه پيدا کيږي. ولايمتخطون: او د پزو څخه يي کرنګ هم نه راوزي. ولايبزُقون: او ناړي هم نه توکي يُلهمون الحمد والتسبيح کما يُلهمون النفس: او دوی ته الهام د حمد ويلو او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تسبیح ویلو کیږي لکه چي الهام د ساه کښلو چي ورته کیږي یعنې لکه په ساه کښلو سره چي سړی په دنیا کي نه ستړی کیږي، جنتیان په حمد ویلو او تسبیح نه ستړي کیږي بخلاف الدنیا. طعامهم جثاءٌ: خوړك ددوی په تیغو سره هضم کیږي. ورشحُهُمْ المسکرُ: او دخولي یي د مشکو بوی خي. یعني په خوله سره یي د بولو چاره کیږي. رواه مسلم فی صحیحه بشارةً.

قاضي بیضاوي رحمه الله او تفسیر مظهری ددي آیت مبارك یوه بله معنا په زړه پوري ذکر کړي ده بأن یکون المعنی هذا یعنې د جنت دغه میوې چي په نوع او په خوند کي سره مخالفي دي. ثوابُ الذی رُزقنا من قبلُ فی الدنیا من المعارف والاعمال. ثوابونه دي دهغو عباداتو چي مونږ ته یي توفیق دکولو راکړه سوی وو په دنیا کي د معارف الهیه وو او اعمالو حسنه و لسانیه او بدنیه او مالیه و یعني لکه زمونږ هغه اعمال متخالف النوع وه کالاعتقادات الحقة والحمد والتسبیح اللسانی والصلوة والزکوة او معنوي خوند یي هم سره مخالف وو. او پر دي تقدیر د تشابه ځخه مراد دادی چي د هر عبادت ثواب د هغه عبادت وقد ورد فی الحدیث النبوی صلی الله علیه وسلم إن الجنة طیبة التربة په تحقیق د جنت خاوري ډیري پاکي دي یعني خوږي د بنرې ځخه خلاصي مخکي دي. عُذبة الماء: او شیریني اوبه یي دي. وانها قیعان: او مخکه د جنت د درختو ځخه یعني د میوه دارو درختو ځخه خالي ده. وانّ غراسها هذه: او درختي د جنت دغه دي: سُبحان الله والحمدلله والله اکبر. یعني د هر حمد او تسبیح او تهلیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په سبب سره یوه میوه داره درخته په جنت کي پیدا کیږي په قدرت الهي سره .

فائدة : نفس دخول د جنت په فضل او جود او کرم دخدای جل سلطانه دی یعني مومنانو ته او درجات د جنت او میوه داري درختي د جنت او حوري وغلمان دجنت اوګلان و ریحان د جنت په اعمالو پوري د مومنانو مربوط دي. که ډیر عبادات وکړی ډیري لوړي درجي او نور مذکوره نعمتونه به ډیر مومي او که یي عبادات لږ وه، ثوابونه به یي لږ وي. د مثال په توګه یو پاچا د مملکت یوخای لویه واله وکاږي او ډیري محکمي چي پخوا به په خړوبه کي وي او تر هغه واله لاندي راولي. او هغه محکمي پر رعایاو خپل په مساوي توګه وویشي او مفتي یي ورکړي او رعایاو ته چي دایي محکمي دا یي اوبه . اوس نو تاسي پوهیږی او آبادول دخپلو محکمو. نو بعضي پوهان او اقویا خلګ په دغه مفت ورکړي محکمه کي په خواری او زحمت سره بنه باغ جوړ کړي د انګورو یا د میوو مثلاً او بنه د ګلانو باغچي جوړي کړي او د کښت دغنمو وغیره دپاره محکمه بنه ودان کړي. لږ موده وروسته ټولي درختي پر میوو راسي، نو دغه سړي خپل د لاسو په خواری بنې بنې میوي تر لاسه کړي او د کښت پر محکمو غتي غتي رشي یي په برخه سي. او یو سړی چي جاهل او تنبل وي په هغه محکمه خواری نه کاږي او لاسونه پکښې نه زهیروي آخر الامر هغه محکمه ځندي بي حاصله چمن سي.

ولهذا قال من قال ولنعم ماقال :

بقدر الکدّ تکتسب المعالی ومن طلب العلی سهرالیالی

تروم الغزّ ثم تنام لیلاً یغوص البحر من طلب اللآلی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

از نصائح پیر خردمند و در راه خدا ﷻ هوشمند و در معرفت خداوند پایه بلند خواجه عبدالله انصاری قدس سره اینست بگوش هوش بشنو! میگوید:

هر که ده خصلت شعار خود سازد در دنیا و آخرت کار خود سازد

۱: باحق ﷻ بصدق ۲: بانفس بقهر ۳: باخلق بانصاف ٤: بابزرگان بخدمت ٥: باخُردان بشفقت ٦: بادرویشان بسخاوت ۷: بادوستان بنصیحت ۸: بادشمنان بحِلم ۹: باجاهلان بخاموشی ۱۰: باعالمان بتواضع

در اخیر میگوید:

درخانه اگر کس است یك حرف بس است.

وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

او دوی لره یعني جنتیانو لره په جنت کي ماینې یعني ددنیا او حوري د جنت سته چې هغه ښه پاک شده وي دهغو شیانو څه چې د ښځي دپاره عیب وي، خواه عیب حسي وي لکه حیض او نفاس او بولي او مني او ګرځنګ او خیره دبدن او ولادت. او یاطبعي وي لکه سوء خلق یا میل وغیر ته د خپلو ازواجو.

پوه سه! چې ازواج جمع د زوج ده. نر او ښځي دواړو ته ویل کیږي کمافی قوله تعالی (اُسکن انت وزوجك الجنة). او هر هغه شي ته هم وایي چې دخپل جنسه څخه ملګری لري لکه زوج الخف یعني د موزې بل پل.

فائدة: (مطهرة) ابلغ دی تر (طاهرة یا متطهرة)، ولې چې د مُطَهَّرَةٌ معنا داده چې یو پاکوونکی دوي پاکي کړي کما یقتضیه صیغة المفعول من باب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التفعيل وليس المطهّر الا عزوجل. په بل قرائت کي مطهرات په صيغه دجمعي راغلی دی. بيضاوي رحمه الله وايي چي دغه دواړه لغت فصيح دي. داسي ويل کيږي : النساء فعلت وفعلن وهُنَّ فاعلةٌ وفاعلاتٌ وفواعلُ.

سوال : فائده د خوراکي غذاء دبدن او د لوږي ضرر او تکليف دفع کول دي. او فائده د ماينو زيږيدل دعيالو او حفظ د نوع انساني ده او دي شيانو ته خو په جنت کي ضرورت نسته لانها دارالخلد والبقاء لادار الفناء.

جواب : مطعومات د جنت او منکوحات د جنت او ټوله احوال د جنت د امثالو سره دهغو په دنيا کي صرف شراکت په بعضي صفاتو کي لري، نه په ټولو احوالو کي. مثلاً په دنيا کي د مطعوم فائده خوند او لذت او غذاء د بدن وه. په جنت کي فائده يوازي خوند او صرف او صرف لذت او خوند او قضاء الشهوت ده. وهكذا باقي نعيم الجنة.

قاضي بيضاوي رحمه الله وايي وتُسمى باسمائها على سبيل الاستعارة والتمثيل ولا تشاركها في تمام حقيقتها هي تستلزم جميع مايلزمها وتفيد عين فائدتها انتهى. خفاجي رحمه الله په شرح کي د بيضاوي وايي كما اشار اليه سيدالبشر صلي الله عليه وسلم بقوله مالاعين رنت ولا اذن سمعت آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾

او دوی به په جنت کي همیشه پاته وي. یعني دوی لره فناء سته او نه خورِ دفناء.

پوه سه! چي دعکرمه ﷺ څخه روایت دی چي جنتیان ټوله نر اونښځي به د ۳۳ کالو په عمر کي وي او جګ والی یي شپیته ۶۰ ګزه وي یعني پر قامت د ابوالبشر آدم علیه السلام او نر به یي ټوله بي ډیري وي او پر بدن به وریښتان نه وي بي له بانوګانو او ورځو. سترګي به یي لکه په رنجو توري وي. الخ روح البیان مع زیادة.

پوه سه! چي خلود او خلد په اصل لغت عربي کي ډیر زمانه درنګ ته وایي. که دوام او همیشه توب ورسره وي او که نه. ددي کبله لوټکیانو د مالدارو چي دوي تبخی یا کټو پر باندي کوي خوالدوایي، ولي دغه مالداران چي د یوځای څخه بار سي لوټکیان یي ډیره زمانه پر هغه ځای باقي وي. او ځکه د انسان ژوند ته خُلد وایي. ولي چي ژوند په اندازه د عمر د انسان که څه هم د نوح علیه السلام عمر وي پر خپل حال حرکت پاته وي او زیږدي نه.

محقق بیضاوی رحمه الله وایي چي که چیري وضع دخلود دپاره د دوام وای، نو قید د (ابداً) وروسته تر خلود فی قوله تعالی (خالدین فیهاابداً) به لغوه وای. لکن درویش داسي نه وایي، بلکه وایي چي قید د (ابداً به تاسیس نه وای، بلکه تاکید به وای. او په آیت شریف کي دلته مراد څندي همیشه توب دی. په دلیل د نورو آیتو او د متواترالمعنی حدیثو. کما هو الظاهر لمتتبع الآیات القرآنیة والاحادیث النبویة. او سره د هغه یوه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کمراه ډله چي جهميه يي بولي دخلود څخه د جنتيانو په جنت کي منکر دي. او دغه رنګه د خلود څخه د کافرانو په دوزخ کي هم منکر دي. او دوی داسي وايي چي وينا (اوهن من بيت العنكبوت) دي. والتفصيل في الخفاجي شرح البيضاوی.

درويش وايي چي دخلود په معنا سره هغه اشکال دفعه سو چي د بعضي کبائر ګناهو سره خالدين راغلی دی. ولي د هغه خلود څخه مکث طويل مراد دی.

پوه سه! چي لويه برخه د لذاتو حسيه وو په استقراء سره حصرده د اوسيدو په ځايو کي يعني چي يو سړی اعلی درجه بنګله او کوټی لري او پر خوراکي شيانو يعني يو سړی ورجي، غوښي او نور خوندور ماکولات خوري او پر ماينو يعني چي يو سړی ډيري ښائسته ماينې لري، لکن دغه ټوله نعمتونه چي د مرګ بيره د سړي سره ورسره وي او يا د زوال د نعمتو فکر ورسره ملګری وي، عاقل سړي ته د زهرو ډك دي او بې خونده دي، حتی چي مملکت د ټولي دنيا لکه د سليمان عليه السلام هم بې خونده دي. نو خدای جل سلطانه د جنتيانو دمانيو او قصور بيان په دي آيت کي وکی (ان لهم جناتٍ تجری الآية) او د مطاعمو بيان يي په دي آيت کي وکړی (کلمارُزقوا الآية) او د ښو ښو ماينو بيان په دي آيت کي وکړی: (ولهم فيها ازواج) آه. آخر يي د جنتيانو د زړه څخه د زوال ددغو نعمتو، په سبب دمرګ ددوی په زيري سره د (هم فيها خالدون) وايستله. نو جنتيانو ته خوشحالي پر خوشحالي او سرور پر سرور په برخه کړي. فلله الحمد ارزقنا ونعمنا آمين.

خواجه عبدالله انصاری رحمه الله چي خوش ميفرمايد:

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الهی این نرندگانی نیست بلکه غذاشست ✣ واین نه عمراست بنیادی بر آب است
اگر نظر عنایت تو نباشد کارخرابست✣ الهی ما در دنیا معصیت میکرده ایم
اگر دوست تو محمد اندوهگین ✣ مي شُد ودشمن تو ابلیس شاد
ودرقیامت عقوبت کني ✣ بازر دوست تو اندوهگین شود ودشمن تو شاد
الهی دوشادي بدشمن خود مده ✣ ودو اندوه بدل دوست خود منه
الهی اگر پرسي حجت نداریم ✣ و اگر سوزي طاقت نداریم

لله دَره ماأحسن دُره.

درویش وایي چي لوی سبب د ګمراهی په دنیا کي ثروت او غنا ده. قال الله عزوجل : إنَّ الانسان لیطغی° ان رآه استغنی) لوی دنیاداران و فقیرانو ته او علماوو ته او اهل الله ته په نظر د حقارت ګوري. او د دنیا په ډیریدو کي نه د ربوا څخه او نه د معاملاتو فاسده وو څخه مخ اړه وي. شراب خوري او زنا هم په ډیري دنیا پوري مربوط دی اِلاَّ مَن عَصِمه الله تعالی. شیطان یي په کولو سره دیو نفلي خیرات غر وګرځوي او ګناه کبائر یي په نظر ډیر ښائیسته وګرځوي او په زړه کي دا وسوسه ورواچوي چي تاخو خیرات وکړی، نو ستا کبائر ګنهونه په سبب دخیرات تاته بخښي . او سره ددې چي د کبائرو ګنهو بخښنه په توبه پوري اړه لري.

حاصل داچي ابلیس قسم قسم حیلي لري. په نفلي کارو مسلمانان د فرضي کارو څخه یا د واجبو کارو بلکه د سنتو کارو څخه مشغوله کړي. او مسلمانان باید پوه سي چي نفلي کارونه او عبادات نه د فرضو خای نیولای سي او نه د واجبو خای نیولای سي. بلکه د سنتو اجراء هم نسي ویلای. اول فرض او واجب او بیا سنت او مستحب کارونه وروسته نفلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا

په تحقیق خدای ﷻ نه پریږدي بیان د یو مثال په غوماشه اوپه هغه شي چي تر هغي بالا وي.

پوه سه! چي په روح البیان کي وایي چي حسن رحمه الله او قتاده رحمه الله وایي چي څه وخت خدای پاك په قرآن پاك کي دمشرکانو دخدایانو په باره کي وویل: (وإن یسلبهم الذباب شیئاً الآیة) او د مشرکانو د چمو مثال یي په عنکبوت سره ووایه، نو یهودانو وخندل او وي ویل چي عنکبوت او مچ د کلام سره دخدای هیڅ مناسب نه دی. نو دا آیت نازل سو.

نو آیت که مدني دی، سوال کوونکي هم ذ مدیني یهودان وه، لکن پر دي تقدیر دا آیت د ماقبله سره هیڅ کار نه لري، ولي چي عنکبوت او ذباب او بعوضه د مخ په آیتو کي نه دي راغلي. نو څکه فراء نحوي وایي چي په سورت بقره کي داسي شئ نسته چي دا آیت دي جواب سي، بلکه ابتداء کلام دی ددمخه سره ارتباط نه لري.

درویش وایي: که څه هم دا آیت مستقل بلل او د ماقبله سره بي ارتباطه کنهل خو روا دي. لکن مفسران دیر دا وایي چي د هر آیت سره مناسب داده چي د ماقبله سره په یو وجه سره ارتباط ولري. نو څکه مظهري د ابن جریر رحمه الله څخه داسي روایت رانقل کړی دی چي څه وخت چي خدای ﷻ د منافقینو په باره کي دوه مثاله وویل (مثلهم کمثل الذی استوقد ناراً، او کصیب الآیة) نو منافقانو وویل چي دخدای ﷻ د شانه سره مثالونه نه بنایي. نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د بیضاوی میل ودي ته دی چي څه وخت چي مثالونه په دمخو آیتو کي ذکر سول په دي آیت کي خدای ﷻ حکمت د مثالو ویلو بیان کړی، قطع نظر ددي څخه چي منافقانو سوال کړی یا نه . او هغه چي په بعضي تفاسیرو کي راغلي دي چي څه وخت چي خدای ﷻ د خدایانو د مشرکانو او ددوی د کیدو مثال په ذباب او عنکبوت سره ووایه، نو مشرکانو وویل چي خدای ﷻ څرنګه عنکبوت او ذباب ذکر یعني دخدای دلوی شانه سره ددغو خسیسو شیانو ذکر کول مناسب نه دي. نو دا آیت نازل سو. داسي شان نزول بیانول غلط دي عقلاً او نقلاً.

اما عقلاً دا آیت خو په مدینه منوره کي نازل دی او مناظره د مشرکینو سره خو په مکه مکرمه کي وه.

و امانقلاً ددي شان نزول روایت خو عبدالغنی کړی دی د ابن عباس رض څخه او عبدالغنی ډیر ضعیف سړی دی کما قال المظهری

فائدة : پوه سه چي په مثال کي شرط دادی چي موافق به وي د مُمثل له سره یعني دهغه شي سره چي څوك یي مثال وایي په عظمت کي او په صغر کي او په خسّت کي اوپه شرف کي او د مُمثل سره یعني د مثال ویونکي سره یي مناسبت نه دی شرط. لکه د کافرانو چي ګمان وو. یعني هغه مثالونه چي ذکر سول دوی به ویله چي داسي مثالونه خو د خدای جل سلطانه سره مناسب نه دي، ولي چي غرض په تمثیل یعني مثال ویلو کي دادی چي معقول شی لکه محسوس وګرځي او همداسبب دی چي امثال په کتب الهیه وو کي ډیر دي او په عباراتو کي د بُلغاوو هم بیخي ډیر دی او دغه رنګه په عباراتو کي د حکماوو هم بي نهایت ډیر دي . نو مثال د عظیم په عظیم سره ویل کیږي او مثال د حقیر به په حقیر سره که څه هم مثال ویونکی تر هر عظیم اعظم وي لکه خدای جل سلطانه .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

امام رازی رحمه الله په خپل تفسیر کي وایي چې خدای پاك په انجیل شریف کي د عداوت د زړه په سپوس سره ویلي دي. د انجیل ترجمه:

(یا ایها الناس لاتکونوا کاالمُنخل یخرج منه الدقیق الطیب وکیُمسك النخالة کذالك انتم تخرجون الحکمة من افواهکم وتبقون الغل فی صدورکم) یعني اي خلکو تاسي داسي مه کړئ لکه غلبیل چې صاف وړه باسي او سبوس ساتي. دغه رنګه تاسي ترخوله د حکمت او شریعت خبري باسی او حقد او حسد مو په خپلو سینو کي خوندي ساتلی دی. او دغه رنګه انجیل د سختو زړو چې په نصیحت سره نه نرم کیږي. په ډبره سره ویل دي. د انجیل ترجمه:

(قلوبکم کالحصاة التی لاتطبخها النار ولاتلینها الماء) یعني سخت زړونه لکه ډبري دي چې په اور نه پخیږي او نه په اوبو لزم کیږي. او دغه رنګه په انجیل شریف کي د بي عقلانو سره بحث کول لکه سړی چې د غالبوزو خای ولټوي او وي کاروي. د انجیل ترجمه:

(لاتشیروا الزنابیر فتلدغکم کذالك لاتتخاطبوا السفهاء فیشتمونکم) یعني تاسي مه کاروئ غالبوزي چې په نیښ به دي ووهي. دغه رنګه د بي عقلانو سره بحث مه کوئ چې بیابه ښکنځل درته وکي او بي آبه به مو کي.

فائدة : حیاء چې په پښتو یي شرم هم بولي، د خواصو څخه د انسان ده چې معنا یي داده چې د انسان نفس قبض سي یعني منع سي د یو کاره څخه چې دده شهوت خو یي غواړي چې وکړي، لکن چونکه هغه کار مذموم شرعاوي نو دی منع خندي وکړي په سبب د حیا او شرم د خدای علاة او خلکو څخه لکه زنا، لواطت وغیرهما نو څکه حیاناکی سړی فاسق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نسي کيدای. او فاسق حيانا که نه کيږي.

او خجل چي په پښتو يي شرمندګي بولي. حيرت او دهشت دی چي سړي ته د ډيري حيا ورپيښيږي، نوداسي فعل نسي کولای چي په عادت کي خو بد وي که شرعاً هم بد وي کما مر او که شرعاً بد نه وي لکه ګوز يا پسکی په مجلس کي.

تفريع : نو حيا ښه صفت دی او ميانه درجه ده په مابين د وقاحت چي سړی پر قبائحو شرعيه و دلاور وي او باك نه په کوي او دخجل چي روا کار شرعاً هم په بعضي وخت کي نسي کولای. کمامرّ من انفلات الريح عند الناس. کذافی البيضاوی، والخفاجی ناقلاً من الراغب الاصفهانی اللغوی رحمه الله.

پوه سه! چي حيا په حقيقي معنا مذکور سره دخدای ﷻ صفت نسي کيدلای لمامرّ انّه من خواص الانسان ولکونه من مقولة الانفعال فهو بمعنی الترك اللازم للمعنی الحقيقی، نو معنا د آيت داده چي خدای جل سلطانه نه پريږدي بيانول د مثال په بعوضه وغيرها سره. کما ورد فی الحديث ان الله يستحيی من ذی الشيبة المسلم ان يعذبه. نو معنا د حديث داده چي خدای ﷻ ترك د عذاب د سپين ږيري مسلمان کوي. وهذا ما اخرجه البهيقی فی الزهد عن انس رضی الله تعالی عنه.

پوښتنه : په آيت شريف کي خدای پاك لفظ د حياء استعمال کړی او سره ددي چي حيا خو خاص په ترك القبيح پوري ده او ضرب المثل خو قبيح نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : هو، لکن لفظ د حیاء په مقابل کي د قول د کفارو استعمال سو چي دوی به ویل چي خدای ددغو امثالو څخه حیاء نه لري. او ددوی په دماغو کي همدي خبري قرار درلودی. نو حیاء ویل په مثال دهغه آیت دی (وجزاء سیئةٍ سیئةٌ بمثلها) او سره ددي چي جزاء د سیئه خو سیئه او بد کار نه دی. لکن مشاکلةً یي د جزاء څخه په سیئه تعبیر وسو فتدبر فی الفرق بینها.

ترکیب الآیة : لفظ د (إنَّ) په اصطلاح د نحاتو د حروف مشبه بالفعل څخه دی چي اسم یي منصوب وي او خبر به یي مرفوع وي، نو لفظ د (الله) منصوب دی، اسم د (إنَّ) او جمله د (لایستحیي) مرفوع محلاً خبر د (إنَّ) ده او (أنْ یَضرب) مجرور محلاً دی په نیز د امام النحاة خلیل بن احمد رحمه الله په تقدیر د (مِن) او په نیز د سیبویه رحمه الله چي هغه هم امام النحاة دی منصوب محلاً ده یعني پر طریقه د حذف او ایصال.

او لفظ د (ه) مثلاً مفعول دی د یضربُ او کلمه د (ما) ابهامیه بولي یعني یو مثال د مثالو. فائده یي داده چي نکیري ته ابهام ډیروي او هغه نکیره چي دغه (ما) ورسره وي قید نه قبلوي. او بعضي مفسرین وایي چي کلمه د (ما) زائده ده ونکیري ته قوت ورکوي. او لفظ د (بعوضةً) ماخوذ دی د بعوض څخه چي وزني فعول دی، نو په (بعوضة) کي تاء د وحدت ده، لکن مراد څني بیخي کوچنی غوماشه ده. او بعوضه عطف بیان دی د مثلاً او یا مفعول دی (یضرب) دی او (مثلاً) حال دی مقدم او یا لفظ د یضرب په معنا د یجعل دی او مثلاً و بعوضةً یي مفعولان دي کذا فی المظهری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او لفظ د (مافوقها) عطف دی پر (بعوضة) او د (فوقیة) څخه مراد بالاوالی دی په بدن کي تر (بعوضة) لکه عنکبوت، نو معنا د آیت داده چي خدای ﷻ نه پریږدي ضرب مثل په بعوضه سره فضلاً عما هو اکبر منها. او بعض مفسران رح وایي چي مراد فوقیت په حقارت او جثه کي دی لکه وزر د غوماشي.

چنانچه په صحیح حدیث کي راغلي دي چي که دنیا قدر د غوماشي د ور درلودای نو کافر ته به شُرب یعني یو غړپ د اوبو نه وای ورکړی.

درویش وایي چي همدا سبب دی چي اوس هم مسلمانان په ټوله نړۍ کي په نسبت د کفارو د ضیق العیش په دام کي دي الاّ من کان علی قدم الیهود والنصاری کمالایخفی علی المتتبع.

لطیفه: امام ابومنصور رحمه الله وایي چي پر قدرت الهي او پر وحدت کردګاري په مخلوق کي د خدای جل سلطانه بعوض او ذُباب دی، ولي سره سره د بیخي کوچني بدن ددوی خدای ﷻ هغه اعضاء او اندامونو ورکړي دي چي کبیر الجسم لکه فیل ته چي یې ورکړی دی. یعني خوله او پزه او سترګي او پښي او لاسونه او دخوراك د تیریدو ځای او د فضله د وتو ځای، حتی که د دنیا ټوله حکماء او پوهان سره غونډ سي په دغسي کوچني جسم کي بې تصویر هم نه وکړي. یعني د مذکوره اعضاء او اندامو. نو هغه اعضاء چي په جسم کبیر کي لکه فیل خدای ﷻ پیدا کړي په غوماشه او مچ کي هم پیدا کړي دي. بلکه وزرونه د مچ او د غوماشي د پروازار قدرت په فیل کي نسته و الاعجب من ذالك چي مخرۍ سره د ډیرد قوته چي خدای ﷻ ورکړی دی لکن په زړه کي دونه جبن او بزدلي خدای ﷻ ور اینبي ده چي د انسانانو څخه بیریږي. او انسانانو ته نژدي لا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نه اوسیږي. او مچ او غوماشي ته خدای ﷻ دونه دلاوري ورکړي ده چې سره ددي چې انسانان يې په لاسو او نور آلاتو د خان څخه شړي او دوی نه ځني کراريږي او نه ځني بيريږي او که چيري مخې دلاوري درلودای لکه د مچ او غوماشي خلګ به يې ټوله هلاک کړي وای. لکن د قدرت الهي نظام مخري ته په زړه کي بيره د انسانانو پيدا کړه او مچ او غوماشي ته يې دلاوري ورکړه.

پوه سه! چې مچ زمونږ پر سترګو او پزه ولاړيږي او کښيني نو ډير مو تنګ کړي او پر ډبرو للديدو خوړو ناست يو او يا په ښو ګلانو کي ناست يو هغه په مونږ پوري مچ اور کړي. نو عجيبه داده چې مونږ هغه کارونه کوو چې سبب د اور د جهنم ګرځي او په هغه اور کي به لړمان او ماران هم وي، نو دهغو سره به زمونږ عيش او ژوند څرنګه وي؟ اعاذنا الله جل سلطانه برحمته وکرمه من عذاب النار.

قصه: هارون رشيد رحمه الله يوه ورځ د جمعې خطبه ويله چې مچ پر پزه دده کښينستی. ده وشاړه، مچ بيرته راغلی پر سترګه يې کښينستی ده بيا په لاس وشاړه. خو هکذا د هارون رشيد خطبه مچ ور بې خوندې کړه. خير چې لمونځ يې وکړی او کورته ولاړی نو يې ابوالحسين د اهل بصري شيخ يې راوغوښتی چې څه حکمت دی دخدای چې مچ يې پيدا کاوه؟ شيخ ورته وويل چې يو حکمت الهي دادی چې متکبران پ مچ ذليل کړي هاوون ورته وويل (صدقت) او هغه شيخ ته يې لويه جائزه ورکړه يعني انعام.

پوه سه! چې عرب ډير عجب امثال لري. مثلا د يو حريص سړي په باره کي وايي چې فلانی ډير جمع کوونکی دمال دی تر ميږي. ددوی دا زعم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی چي میږدی د اوو ۷ کالو خورکه سره جمع کوي. او وایي چي فلانی سړی دلاور دی تر مچ . ولي چي دمخه تیره سوه چي مچ د مخري پر پڑه او ستر گو کښینې . او وایي چي فلانی سړی ډیر اوري تر منگوړ. عرب دا وایي چي منگوړ د اوښانو د پښو ترپی اوري د اوه ۷ میله څخه. او بعض وایي چي اوه شپي او ورځي چي د اوښانو او منگوړ تر مابین وي . او دوی وایي چي دفلاني کلان ساله عمر تر مار ډیر دی. دوی گمان لري چي مار بیله قتله د یو چا نه مري ، هرڅو عمر چي ژوندی وي. او دغه رنگه عرب وایي چي څوك چي ډیر کلان ساله سي چي د فلاني سړي عمر تر منگوړ بالا دی. مبالغةً. ددوی دا گمان دی چي منگوړ اوه سوه کاله عمر درلودلای سي. درویش وایي چي والله اعلم چي عرب دا خبري دڅه درکه څخه کوي. او دوی د بي ثباته او بي قراره سړي په باره کي وایي چي فلانی سړی بیقراره دی تر پتنې . یعني پروانه. او شی چي نه پیداکیږي عرب وایي چي فلانی شی نادر دی تر مغزو د هډوکو دغوماشي. وهکذا غیر ماذکرنا من الامثال المضروبة لهم .

پـــوه ســـه! چي ددغو مثالو نقل د بیضاوی او روح البیان څخه دی. حاصل الکلام چي د امثالو ویل په کتب الهیه وو کي حکم او مصالح لري چي عاقلان خلگ په پوهیږي.

درویش وایي :

خـــدایا ای خـــدایا ای خـــدایا ✣ تـــرحم کـــن تـــرحم کـــن گـــدارا
ترشـــوم نفـــر خـــود غـــرق گـــاه اســـت ✣ بغـــران یـــادکن ایـــن بینوا را
نجـــاتی ده ترشـــر دشـــمن خـــویش ✣ کـــرم فرمـــا بحـــال باگـــاه را

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنداز این غریب از چشم رحمت ✣ عبدالله هم گوید خدایا

ومیگوید:

اگر پهر موی دو صد هنر باشد ✣ هنر بکار نیاید که بخت بد باشد
اگر ز کلك قلمران گهر همی بارد ✣ به هیچ کار نیاید که بخت نگون باشد

ومیگوید:

که هنوز بگو که دنیا بي ګټه است ✣ هنوز بکوکه درواړه عمل باندې است
وهنوز بشنو پند واعظ که شنوېدن برجا است ✣ وهنوز بخواه که درواړه باندې است
وهنوز عذر کن که درواړه غفران واندې است. اللهم وفقني لما تحب وترضى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا

خدای جل شانه دپاره د تفصیل داسي وایي: هرچه هغه کسان دي چي ایمان یي پر خدای او پر رسول کریم ﷺ او پر قرآن وي، نو هغه یقین کوي چي دغه مثل (قرآني) که په عنکبوت وي که په مچ وي او که په غوماشه وغیره وي، حق او ثابت او پرځای دی د جانب څخه د رب ددوی. ولي چي ټوله امثال قرآنیه د ممثل له سره برابر دی او هرچه هغه کسان دي یعني مشرکین او یهود وغیرهم چي کافران دي هغه وایي چي څه اراده لري خدای ﷻ په دغه شي سره از روی (مثل) یعني دا مثل دخدای ﷻ دخوا نه دی.

ترکیب الآیة : کلمه د (فاء) دپاره د تفصیل د حال د سامعانو د امثال قرآنیه وو ده. او (اما) دري فائدي لري. یوه فائده تفصیل د اجمال دی. او بله فائده یي متضمن معنا لره د شرط دی. ځکه په جواب کي یي فاء راځي غالباً. او بله فائده یي تاکید د جملي دی چي په (اما مصدره) وي. او (اما) حرف دی. اسم نه دی. وهو مذهب المحققین. او حرف شرط نه دی و إلاّ لزمها وقوع الفعل بعدها. وباقی التفصیل فی البیضاوی وحواشیه.

او (فیعلمون) جواب د (اما) دی. (انه) مفعول د (یعلمون) دی او ضمیر راجع دی و ضرب المثل ته . او (من ربهم) حال دی د ضمیر څخه چي په حق مستتر دی. چي راجع و ضرب المثل ته دی (ای کائناً من ربهم). او (ما) استفهامي دی. او (ذا) په معنی د (الذی) دی. او (ارادالله) یي صله و

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

موصول خبر دی. او (مـثلاً · منصـوب دی. حـال دی د (هـذا) څخـه . ای ممثلاً. هذا ما فی البیضاوی و روح البیان والمظهری وغیرها.

پوښتنـــه : په مقابـل کـي د قـول د مومنـانو یعنـي (فیعلمـون) آه بایـد د کفارو په قول کي داسي ویل سوي وای : (فلایعلمون انه من ربهم).

جواب : هو، لکن خدای جل سلطانه مذکوره عبارت یعنـي (فیقولون) آه راوړی، ولي چي دا قول ددوی دلیل واضح د جهل او عدم علم ددوی دی. نو پر طریقه د کنایي یعنـي ذکر د ملزوم او مراد څنـدي لازم ذکر کړی. او په کتابو د علم المعانی وایي چي کنایه ابلغ ده تر صریح. ولي چي کنایه دعوی د شي ده سره د دلیله فافهم. درویش

يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

کمراه کوي خدای ﷻ په ضرب مثل سره دیر خلک او یهدي یعني هدایت ورکوي په ضرب مثل سره دیرو خلکو ته. او نه کمراه کوي په ضرب مثل سره مکر نه فاسقان. یعني د امر الهي څخه منکر کسان.

پوښتنه! چي دا دوي جملي جواب د (ماذا) دي او نسبت د اضلال چي معنا یي خلق د ضلال ده وخدای ﷻ ته په اعتبار ددي دی چي خالق د افعالو د بندګانو خدای ﷻ دی که څه هم په اعتبار د کسب د ضلال او هدایت فعل د بندګانو دی کماهو مذهب اهل السنة والجماعة.

پوښتنه : استفهام خو دلته پر خپل حقیقت نه دی، ولي چي جواب ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استفهام خو په قول کي د مستفهم ضرورت سته، او خدای پاک ﷻ خو مستفهم نه دی ولي چي (ماذا ارادالله) آه خو حکایت دی د قول د مشرکانو او یهودیانو دی، نو په قرآن کي جواب ته څه ضرورت سته.

والجواب : چي استفهام په قول کي د کفارو استفهام انکاري دی، نو مراد ددوی دادی چي په مثال ویلو کي په محقراتو شیانو هیڅ فائده نسته، نو خدای ﷻ پر دوی رد وکړی په (یُضل) آه سره نو د جواب څخه مراد جواب معنوي دی یعني رد ددوی د قول. کذا فی حواشی البیضاوی

پوښتنه : یا به اهل ضلال ډیر وي یا به اهل هدایت ډیر وي، نو دواړه به څرنګه په کثرت سره یاد کړه سوه.

جواب : مراد د ډیروالي څخه د دواړو طائفو کثرت نسبت یو و بل ته نه دی چي کثرت اضافي یي بولي، بلکه مراد کثرت د دواړو طائفو دی په خپل ځان کي چي کثرت حقیقي یي بولي. ولاشك ان کلاً من الطائفتین کثیر فی نفسها.

پوښتنه : کلمه د (ماذا) مفرد او اسم دی، نو په جواب کي هم باید اسم راغلی وای، ای اضلال کثیر و هدایة کثیرٍ؟

جواب : قاضي بیضاوی رحمه الله تفسیر د (یُضل) او (یهدی) په مصدرین مذکورینو سره کړی دی. او مظهري یي هم متابعت کړی دی.

پوښتنه :تفسیر د فعل مضارع په مصدر سره څرنګه روا دی؟

جواب : چي (آن) مصدري ورسره مقدر دی او یا بیله حرف مصدري هم مضارع په معنا د مصدر راغلي بتجرید الفعل عن النسبة والزمان کما فی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قول الشاعر: تسمع بالمیعدی خیرٌ من ان تراه. ای سمعك

پوښتنه: د مصدر څخه په فعل سره تعبیر کول په کلام کي د بلیغ نکته غواړي، نو دلته څه نکته ده؟

جواب: نحات وایي چې مضارع پر استمرار تجددي دلالت کوي، نو په تعبیر د مضارع کي دا فائده او نکته ده چې دغه اضلال او هدایت په ضرب الامثال د قرآن مبارك به جاري وي مستمراً.

پوه شه! چې فسق په لغت کي خروج ته وایي. چنانچه ویل کیږي (فَسَقَتِ الرطبة اذا خرجت عن قِشرها). او فسق په اصطلاح کي د شرع شریفي کولو ته د ګناه کبیري وایي. او فسق لره درې ۳ درجي دي.

اعلی درجه یي کفر دی. بمایجب الایمان به، ولي چې کفر علی تفاوت درجاته اعظم د کبائرو دی. وهوالمراد بالفسق په ډیرو آیتو کي.

او دوهم درجه یي انهماك الکبائر دی یعني په کبیره ګنهو کي ډوب والی. یعني چې کبیره ګنهونه په بې پرواهي سره کوي.

دریمه درجه یي کول د کبیره ګناه دی او یا همیشه کول دي د صغیره ګناه، سره د بدبللو په زړه کي وهذا اقرب الی التوبة. کذا فی القرطبی والبیضاوی والمظهری والتفسیر الکبیر وغیرها من التفاسیر.

درویش وایي چې مقابل د فاسق عادل دی. نو د فاسق اول مقابل نفس مومن دی او د فاسق ثانی مقابل هغه مومن دی چې په بې پروایي سره کبیره ګنهونه کوي. او د فاسق ثالث مقابل عادل هغه مومن دی چې پر ګنهو تائب وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ

فاسقان هغه کسان دي چې ماتوي او پرېږدي او مخالفت کوي د وعدې څخه د خدای ﷻ یعنې چې خدای ﷻ ددوی څخه اخستې وه د ایمان او ترک العصیان، پس له تینګولو څخه د وعدې یعنې په قبول سره ددوی

فائدة : میثاق مصدر میمي دی په معنا د توثیق دی. او ضمیر د (ه) راجع دی و عهد ته.

فائدة : (الذین) صفت دی د فاسقین. نو که مراد د فاسقینو څخه کافران وي نو دا صفت موضحه دی یعنې بیان ددوی د فسق دی او دپاره د ذم ددوی دی مثل اعوذبالله من الشیطان الرجیم. او که مراد د فاسقینو څخه معنا عام وي یعنې چې کافرانو او ګناه کارانو د مسلمانانو ته هم شامل وي. نو (الذین) صفت مقیده دی. یعنې مسلمانان په باسي.

فائدة : د (نقض) معنا (فسخ) او خلاصول د مرکب شي و اجزاوو ته د هغه وایي. او په لغت کې ډیر استعمال یې په خلاصولو د تارو د رسۍ دی.

پوښتنه : عهد خو مرکب ذوالاجزاء نه دی، نو څرنګه استعمال د نقض په عهد کې روا دی؟

جواب : عرب و وعدې ته مجازاً (حبل) وایي. نو ماتولو ته د وعدې یې نقض ویل مبني دی پر مجازي استعمال د (حبل) په وعده کې.

پوه سه! چې عهود الهیه درې ۳ دي. یو ۱ عهد دی چې خدای ﷻ د ټولو بندګانو څخه، که کافران دي که مسلمانان دي اخیستی دی. په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکړه د عقل یعنې چې خدای ﷻ تولو بندګانو ته عقل ورکړی، نو ګویا په دغه عقل ورکولو یې ددوی څخه وعده واخیسته چې په دغه عقل سره به تاسي فکر په دلائل کي د توحید د خدا ﷻ او د تصدیق د رسولانو علیهم السلام کوی، ولي چې دغه دوي مسئلي عقل په کښې کافي دی. کماقیل:

ګر انبیا" هم فائدی نامدي نې شرع بودي درجهان

واجب شدی برمردمان ایمان بخالق مقتدر

او بیا رب جل وعلا توثیق ددغه حُجت وکړی په را استولو د معجزاتو پر انبیاء علیهم السلام او په انزال الکتب سره.

پوه سه! چې ناقضین ددي عهد هغه کافران دي چې یا صانع عالَم نه منې لکه دهریان حیث یقولون مایهلکونا الاالدهر. او یا دخدای ﷻ سره شریك فی الذات یعنې په وجوب الوجود کي وایي لکه ثنویه چې دوی وایي چې عالَم لره دوه صانعان: یو خالق الخیرات دی چې دوی وایي چې د هغه نوم یزدان دی او بل خالق المضرات دی چې هغه دهرمن یا شیطان وایي.

او یا دخدای ﷻ سره شریك فی العبادات وایي لکه بُت پرستان یعنې مشرکان. وهذا العهد الماخوذ بالعقل هوالمراد فی قوله تعالی: (واشهدهم علی انفسهم).

۲: او بل عهد دی چې ماخوذ دی د امتو څخه په واسطه د ارسال الرسل. هغه عهد دادی: که تاسي ته داسي رسول راغلی چې دهغه په معجزاتو سره تائید سوی وو. تاسي به یې تصدیق کوی او متابعت به یې کوی او حال به یې دپاره د اغراضو فاسده وو نه پتوی او حکم به دهغه منې. کما

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فی قوله تعالی : (وإذ أخذالله ميثاق الذين أُوتوالكتاب) آه او ددي عهد ماتوونکي يهود او نصاری او منافقين وي حيث كتموا حال النبی ﷺ لاغراض فاسدةٍ يعني حب المال والجاه والجلال.

۳: او بل عهد دی چي د علماو څخه د هر دين اخيسته سوی دی چي دوی به حق بيانوي او نه به يي پوتوي. كماقال الله (وإذ اخذالله ميثاق الذين اوتوالكتاب الآية) او ناقضين ددي عهد علماء د اهل كتابو دي.

پوه سه! چي بعضي ملايان د اخيري زماني دپاره د نقودو تر لاسه کولو دپاره اويا د جاه وجلال د حفظ دپاره د حق په بيانولو کي پاته راغلي دي.

فائدة : نقض العهد ډير لويه ګناه ده. د مالك بن دينار رحمه الله چي برجسته ولی الله وو روايت کوي چي دده د اکاخوی ډير ظالم وو. نو يو وخت ناجوړی سو. نو دخدای ﷻ سره يي وعده وکړه او پر خان يي نذر کړه که زه ددي ناجوړی څخه خدای ﷻ جوړ کړم، نو زه به ددي ظالم حکومت څخه لاس پر سر کښيږدم. هغه چي خدای ﷻ جوړ کړی او څو ورځي وروسته بيرته په هغه ظالم حکومت کي شامل سو. څه زمانه بعد بيا ناجوړی سو. بيايي پرخان نذر او دخدای ﷻ سره يي عهد وکړی که ددي ناجوړی څخه خدا ﷻ جوړ کړم بيا به زه په دي ظالم حکومت کي برخه وانه خلم. خو خدای ﷻ جوړ کړی . څو ورځي وروسته بيرته په هغه ظالم حکومت کي خپل پخوانی چوکی ته ورغلی. او په دي پلا يي په ظلم کي تر اول وار او تر دوهم وار ډير شدت ته اوړه ورکړه. اخير الامر په داسي سختي ناجوړی مبتلاء سو چي و علاج ته يي د وخت طبيبان عاجزه پاته سول. او د ناعلاج زيری يي ورکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو مالك بن دينار رحمه الله يي په دريمي سختي ناجوړی د اکا دځوی خبر سو نو د پوښتنې دپاره د هغه کور ته ورغلی . نو چې د اکاځوی يي په ډيره مهلکه ناجوړي کي وليدی، نو يي داسي ورته وويله: يابُنَيَّ ! که ته يوه کبيره ګناه لري دهغې څخه توبه وکاړه او دخدای ﷻ سره عهد او پيمان وکړه او پر خان يي نذر کړه چې زه به بيا دا ګناه نه کوم. شايد چې ته به ددي ناجوړې څخه خلاص سي.

نو مريض ورته وويل چې زه دخدای ﷻ سره عهد او وعده کوم که زه ددغې ناجوړی څخه خدای ﷻ جوړ کړم، زه به بيا په دي ظالم حکومت کي برخه نه اخلم او جدي استعفاء به ورکړم.

نو مالك بن دينار رحمه الله چې دمريض اکا دځوی دپاره اراده د شفاعت وکړه په دربار کي د رب العزت. هاتفي غيبي آواز يي واوريدی. (يامالك انا قد جرّبناه مراراً فوجدناه كذوباً فلاينفعه نذره فمات من المرض المذكور كذا في روضة العلماء) قال المولوی المعنوی رحمه الله في المثنوی:

نقض ميثاق وشكست توبها موجب لعنت شورد در انبها

پوښتنه : په حديث شريف کي راغلي دي چې يو بنده مسلمان چې ګناه وکړي او بيا توبه وکاړي خدای ﷻ ګناه وربخښي . او که بيا هغه ګناه ته عود وکړي او بيا توبه وکاړي خدای ﷻ يي ګناه بيا ورمعافوي، حتی چې په ورځ کي اويا واره عود وکړي او توبه پر کاړي خدای ﷻ يي قبلوي، نو د مالك بن دينار رحمه الله د اکا د ځوی توبه ولي پر دريم وار رد سوله؟

جواب : مراد په حديث شريف کي توبه د صدق او اخلاص ده او د مالك بن دينار د اکا دځوی توبه د نفاق سره ملګري وه. نو ځکه رد سوله فلامنافات بينهما. يعني توبه يې صرف د ناجوړه د دفع دپاره وه لکه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دخدای ﷻ سره چې چم کوي کما قال الله فی حق المنافقین فی العهد النبوی (یخادعون الله ورسوله) الآیة

وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ

او دوی یعني فاسقین قطع کوي هغه شی چې امر کړی دی خدای ﷻ په هغه شي چې دا جوت کړه قطعه یي مه کوه.

پوه سه! چې جمله د (یقطعون) آه عطف ده پر جمله د (ینقضون) یعني صله بعد الصله د الذین ده. او (ان یوصل) بدل دی د ضمیر مجرور ځخه د (به) والمعنی چې خدای ﷻ امر کړی دی ودوی ته چې تاسي ایمان د ټولو انبیاء علیهم السلام د ایمان سره جمع کړي. یعني پر ټولو نبیانو علیهم السلام ایمان راوړی او داسي ووایاست (لانُفَرِّقُ بین احد من رسله) لکه مونږ مسلمانان چې وایو او سره د امر الهي دوی یعني فاسقان د اهل کتابو وایي (نؤمن ببعض الانبیاء ونکفر ببعضٍ مثلاً) اهل التورات یعني یهود وایي چې مونږ عیسٰی علیه السلام په نبوت نه منو او نه انجیل کتاب الله بولو او دغه رنګه محمد علیه السلام نه نبي بولو او نه قرآن کتاب الله کنړو. وهکذا النصاری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ؕ

او دوی فساد کوي په مخکه کي په سبب د کنهو او د کفر په علیه السلام او قرآن سره. او دغه رنګه یهود د مدیني منوري چي به د مسلمانانو پر کښت ورغله هغه ته به یي اور واچاوه "ویهلکون مواشیهم".

پوه سه! چي هره ګناه کبیره سبب د فساد فی الارض ده حتی که د مسلمانانو ډیر خلګ په کبائرو اخته سوه. خدای ﷻ یا قطع د بارانو پر کوي او یا یي دبله سره په قتل او قتال اخته کوي او یا دښمن یعني کافران پر مسلطه کوي چي ددوی وینې به تویوي. او کورونه به یي ور خرابوي الی غیر ذالك.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾

او همدغه کسان دي خطاوتلي او په تاوان کي، ولي فساد یي رانیوی او صلاح او ایمان پر علیه السلام او پر قرآن سره یي پریښوی. او بل جنت او ثوابونه د آخرت یي په دوزخ او عقوبت بدل کړه. او صلاح یي په فساد بدله کړه. تر دي لوی خسران به نو چیري وي؟

پوه سه! چي هر مومن او کافر په جنت کي ځای لري. یعني که کافران ټوله مسلمانان سي، نوبه په جنت کي ځای وای. نو کافران چي دوزخ ته ولاړل نو ځایونه په میراث مسلمانانو ته پاتیږي. وبالعکس فی النار. وذالك للكفار خُسرانٌ مبين وللمؤمنين بشارة عظيمة اللهم اجعلنا من اهل البشارة لامن اهل الخسران.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة : څه وخت چې خدای جل وعلاشانه په تیرو څو آیتو کې حالات د کفارو بیان کړه او ددوی خبیثې خبرې یې هم بیان کړې، نو اوس پر طریقه د التفات د غیبت و خطاب ته یې دوی مخاطب کړه او په استفهام انکاري یې دوی ته خطاب وکړی په (کیف تکفرون الآیة) سره.

پوه سه! چې انکار د وقوع څخه د کفر نه ده، ولې چې کفر خو ددوی څخه واقع دی، بلکه په معنا د انکار دی پر فعل واقع چې کفر دی. یعنې حالات آتیه خو سبب د کفر نه دی، نو باید ددوی څخه کفر نه وای واقع سوی، نو استفهام د استبعاد د کفر ددوی هم دی او دپاره د تعجیب د عقول سلیمه وو ددوی و کفر ته هم دی.

حاصل دا چې خدای جل سلطانه کفارو ته وایې چې په اول الامر تاسې عناصر اربعه واست او بیاغذا د مور او پلار په بدن کې وګرځیداست او بیا د غذا څخه اخلاط اربعه جوړ سو. یعنې وینه او ژړ او بلغم او سودا جوړه سوه. او دهغو اخلاطو څخه نطفی په پلار او مور کې پیدا سوې. او هغه نطفی پس له استقراره په رحم کې د مور وروسته علقه وګرځیدې. او د علقې وروسته مضغة جوړه سوه. او وروسته تر هغه په قدرت الهې توله اعضاء د بدن پر خپلو خپلو خایو مرتب سوه او اجساد بلا روح پیدا سوه. او وروسته بیا روح په جسدو کې پُو سوه یعنې پیدا سوه. نو پس له جمادیت احیا وګرځیدلاست او بیا وروسته تر انقضاء د اجل الحیوة بیرته روح درڅخه ولاړی او اموات وګرځیداست. او بیا په (یوم نُفخ فی الصور) کې بیرت مو روحان وه بدنو ته راځي او ژوندي کیږئ. نو تاسې ووایاست چې کوم حال ددغو حالات مذکوره وو څخه سبب د کفر او شرک ستاسې وګرځیدی؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا
فَاَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۸﴾

ترجمه: پرځه کيفيت تاسي کفر او انکار د وحدانيته څخه د خدای ﷻ کوئ او تاسي واست ابتداءاً مړه. يعني بي روح شيان کما مر اوخدای ﷻ تاسي ته ژوند درکړی په رحم کي دمور يعني متصل په امواتاً سره، ولي چي په مابين کي د موت سابق او د روح پوه کلو فاصل نسته لهذا عطف بالفاء. او وروسته تر انقضاء الآجال بيرته مړه کړاست. چونکه د حيات اول او د موت ثانی تر مابين زمانه د عمر فاصل ده نو څکه بي عطف په (ثم) د تراخي وکړی. او بيا وروسته ژوند درکوي په آخرت کي او دا هم متراخی دی. او بيا خدای ﷻ ته دپاره د جزاء راجع کړه کيږئ

فائدة : مفسران رح د (ثم يحييكم) څخه ژوند د قبر اخلي، دپاره د سوال د (مَن ربك ومن نبيك ومادينك) نو دوی په دي سره دفع دهغه سوال کوي چي بعضي منکران د عذاب القبر وايي چي خدای ﷻ په دي آيت کي يو حيوة الدنيا ذکر کړی او بل حيوة الآخرة او په مابين کي بل حيوة يعني د قبر نه کړی ذکر، نو معلومه سوه چي حيوة فی القبر دپاره د سوال د نکير او مُنکر نسته.

حاصل د جواب دادی چه د حيوة ثاني څخه مراد حيوة د قبر دی. دوی دليل دا وايي چي که مراد حيوة فی الآخرة وای نو عطف په (ثم اليه ترجعون) سره نه صحيح کيدی، ولي چي تر حيوة اخروي وروسته بلا فصل زمان رجوع وخدای ﷻ ته د حساب دپاره کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه :د موت دوهم او د حیوة القبر تر مابین خو فاصل نسته، نو څرنګه (ثم یحییکم) عطف په (ثم) صحیح کیږي.

جواب : د دوهم موت او د حیوة القبر تر مابین زمانه فاصل سته وهو زمان الغسل والتکفین والتجهیز والدفن وهذا القدر من الفصل یکفی للعطف بثم لان التراخی مقولٌ بالتشکیك کمالایخفی. او بعضي مفسرین رح مراد د حیوة ثاني څخه حیوة اخروي بولي.

پوښتنه : نو عطف د (ثم الیه ترجعون) په (ثم) د تراخي سره څرنګه صحیح کیږي؟ ولي چي دا وړاندي تیره سوه چي تر حیوة ثاني وروسته دستي رجوع وخدای ﷻ ته کیږي.

جواب : دغه مفسران رح د رجوع څخه و خدای ﷻ ته رجوع وثواب او عقاب ته اخلي. نو د رجوع الی الله په دي معنا او د حیوة ثانی تر مابین طویل ورځ د حساب فاصل ده. چي ډیر لوی وخت دی کما ثبت فی الآحادیث النبویة ﷺ .

پوښتنه : حیوة القبر خو ددي آیت څخه ددغو مفسرانورح پر تقدیر نسو ثابت ؟

جواب : پر دي تقدیر خو حیوة القبر په آیت مذکوره کي نه سو ذکر وعدم الذکر لایدل علی العدم فی الواقع او عذاب القبر خو په احادیث صحیحه چي تقریباً متواتر المعنی دي په صحاح سته وو کي ثابت دی.

پوښتنه : سوق د آیت مذکوره یعني(کیف تکفرون الآیة) خود دوو شیانو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دپاره دی. یو اظهار د قدرت عظیم الهیه دی او بل بیان د نعیم ربانیه وو دی، نو موت ثاني که د قدرت الهي لوی دلیل دی لکن نعمت نو څرنګه دی؟

جواب : نعمت والی په دي دی چي موت وسیله ده و نعمي خلیده وو ته د آخرت . یعني جنتونه ومافیها مما لاعین رنت ولا أُذُنٌ سمعت ولاخطر علی قلب بشرٍ کما ورد فی الحدیث عن خیر البشر صلی الله علیه وسلم.

پوښتنه : دکفارو دپاره خو موت ثانی وسیله د وقوع ددوی په سقر کي ده. فکیف یکون نعمة لهم؟

جواب : داخو په سبب د سوء اختیار ددوی کفر لره پر ایمان وفی المثنوی

بس رجال از نقل عالم شادمان زهر بقایش شادمان این کودکان

او په شروحو کي د مثنوی داسي هم راغلي دي چي حضرت مولانا روم رحمه الله چي په وخت کي د زکندن خدای جل سلطانه عزرائیل په ده ولیدی. نو ده مبارك داسي ورته وویل:

پیش تر آپیش تر جان من پیك در حضور سلطان من

پوښتنه : مشرکانو ته که څه هم موت اول خو معلوم دی او دارنګه حیوة اول هم ور معلوم ووا و موت ثاني هم ورمعلوم وو لکن د حیوة ثانی څخه که قبر وي او که آخرت وي خو دوی منکر وه او د رجوع څخه وخدای ﷻ ته هم منکر وه نو حیوة ثانی څرنګه خدای ﷻ ودوی ته ذکر کړی.

جواب : بیضاوی رحمه الله وایي چي چونکه دوی قادر وه پر علم د حیوة ثانی او پر علم د رجوع وخدای ﷻ ته په سبب د هغو دلائلو چي خدای ﷻ ودوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته درولي وه پر قدرت خپل پر دغو دوو کارو باندي هم په انفُس کي ددوی او هم په آفاقو کي که دوی د عقل سلیم څخه کار اخیستی وای نو دغه قدرت پر علم مذکور یې پرځای د علم ددوی ودراوه. نو دوی له عالمان بالامرین یې وبلل. خصوصاً چې په آیت مذکوره کي هم دلیل سته پر علمینو مذکورینو باندي یعني احیائهم اولاً ولي چې خدای ﷻ قادر پراحیاء اوله دی. لکه دوی چې هم مني، نو هغه خدای ﷻ قادر پر احیاء ثاني هم دی لأنَّ بدء الخلق لیس باهون علیه من اعادته (ولئن سألتهم من خلقهم قالوا الله العزیز الحکیم)

پوه سه! چې تفسیر مظهري ددي آیت په تفسیر یو تصوفي تفسیر کړی دی چې د فهم څخه یې علماء اکثره عاجزه پاته دي. طالبان او عوام خو پریږده. نو درویش دهغه تر بیان عدم بیان خیر وباله نو ځکه یې صرف نظر کړی لأنه ورد فی الخبر (کلّموا الناس علی قَدرِ عقولهم حتی لایکون فتنةً لهم) فافهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُوَالَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا

خدای ﷻ هغه څوک دی چې ستاسې دپاره يې پيدا کړي دي هغه شيان چې په مځکه کې دي ټوله.

پوه سه! چې (لام) د (لكم) دپاره د نفعې دی. او دا بل نعمت دی دخدای ﷻ دټوله مخلوق دپاره. او مراد د نفعې څخه عامه ده. که دنياوي نفع وي لکه خورك، اغوستل، سپريدل، چنبل او نور ورته شيان که دا نفع بالذات وي او که بالواسطة وي.

او که اخروي او معنوي نفع وي يعني په دين کې چې دليل به يې وګرځوی پر خالقيت او وحدانيت او قادريت وغير ذالك من صفاته. قال السعدی الشيرازی رحمه الله :

برگ درختان سبز در نظر هوشيار هر ورقش دفتريست معرفت کردگار

پوښتنه : په وخت د نزول ددې آيت خو ټوله مافی الارض نه وه پيدا کړې خدای ﷻ مثلاً طياره، موټر، توپ او ډير نعم ارضيه او اسلحه، نو صيغه د (خَلَقَ) يعني ماضي صيغه څرنګه ده؟

جواب : روح البيان وايي أی قدّر خلقها يعني تقدير ازلي خو خدای ﷻ کړی وو لوکان خلق بعضها فی المستقبل. په تفسير تيسير کې وايي چې يو د جاهلانو په نامه صوفيانو چې اباحيه يې بولي. چې ددوی مذهب دادی چې سړي ته چې معرفت دخدای او محبت دخدای ﷻ ورته حاصل سي نو دهغه څخه ټوله تکاليف شرعيه ساقطيږي يعني نه ده ته حرمت د شي ستة که زنا کوي او که شراب خوري او نور ورته محرمات. او نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مامور دی په عباداتو سره لکه لمونځ او روژه وغیرهما. دوی وایي اذا تحققت المعرفة وتاكدت المحبة سقطت الحرمة وزالت الخدمة لأن الحبيب لايكلف حبيبه ما يتبعه ولايمنعه عما يُريده ويشتهيه. او دوی دغه آیت خپل دلیل برلي. دوی وایي (لام) د نفع دی او مراد د نفعي څخه نفع على العموم والاطلاق ...

درویش وایي چي دا مذهب کفر دی او قائلان یي کافران په اجماع او اتفاق د امت محمدیه اوپه اجماع د ټولو مذاهبو اربعه وو. او په اتفاق د ټولو کتابو د عقائدو دینیه وو او په اتفاق د ټولو مفسرانو د قرآن عظیم الشان او په اجماع د ټولو صوفیه وو کرامو که اهل سلوك دي او که اهل جذبه دي. دلیل یي دادی چي عارف کبیر او محب اعظم محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم تر آخر پوري د حیات د اوامرِ الهیه او منهیاتو شرعیه وو بي غمه نه وو. او بل دلیل یي دادی چي د قرآن عظیم الشان اوامر او نواهی ټوله پر دي مذهب بي فائدي دي.

فائدة : بعضي جاهلان کسان چي د فوائدو څخه د خدای ﷻ د مخلوقاتو ناخبره وي وایي چي د فلاني شي څه فائده او فلانی شی خو ضرر محض دی وهکذا. نو دغه جاهلان باید پوه سي. چي خدای جل وعلاشانه د مخلوقاتو تر حیواناتو نباتاتو او نورو مخلوقاتو ټولي فائدي یو خدای ﷻ ته معلومي دي. د حکماوو طبیبابو او د ریاضی والاوو او د اوسنی زماني سائنس دانانو معلومات د هغو فوائدو پای ته نه دي رسیدلي.

دمثال په توګه څه موده وړاندي یعني پنځه سوه کاله دمخه په اوسپني کي مثلاً یوازي د تبر د چړي د ساتول وغیره فائدي لیدلي وي او د توپ، ټینك، طیاري، موټران او کلاشنکوفو مثلاً او د نورو آلاتو جدیده وو چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د اوسپنو په ذریعه لاس ته راغلي دي نوي ورمعلومي. اما قادر متعال جلت قدرته چي اوسپنه پیدا کوله د ټولي فوائد په اوسپنه کي خدای ته معلومي وي وهکذا نباتات زهریه او حیوانات مضره لکه لړم، مار، غونډك وغیره د پخوانی زماني خلکو بیله ضرره هیڅ فائده نه پکښي لیدله، لکن وروستنی حکماوو او طبیبانو په هغو کي فائده ناکي خواص هم پیدا کړي چي ادویه سُمیه په نامه یادیږي چي په اوسنی زمانه کي یې هیڅ دواخانه او کلینك والا بیله نسخي د ډاکټر وچاته نسي ورکولای. نو خدای عظمت حکمتُه چي دغه زهریري شیان پیدا کوله وخدای ﷻ ته ددغو فوائد معلومات حاصل وو. وهکذا او به د پخوا خلکو په عقیده هپه اوبو چینبلو او د نباتاتو او د کښتو د اوبولو مثلاً ماسوی بله فائده نه پکښي لیدله یعني د برق بجلی فائده یي نه پکښي لیدله، مگر د اوبو په اول خلقت کي خدای ﷻ په اوبو کي مذکوره فائده ایښي وه. وعلی هذا قیس المخلوقات الارضیة او مور دا هم نسو ویلای چي د مخلوقاتو ارضیه وو فوائدي به د زماني پوهانو پای ته رسولي وي. (ولایعلم جنود ربك الاهو)

حکایت : د یو ولی الله زاهد عابد نقل راغلی دی چي دی یوه شپه د تهجد پر لمانځه ولاړ وو او څراغ ورته لګیدی چي یوه خزدکه چي تور رنګ یي دی او اوږدي پښي یي دي او ډیر بدبویه هم ده چي پیدا سوه چي پر څراغ به راغله او د شیخ زاهد د سجدي پر ځای به ودریده. زاهد به د سجدي په وخت کي په لاس پوري وهله ، چي دی به رکعت ته ولاړ سو خزدکه به بیرته کرار کرار دده د سجدي ځای ته بیرته راغله. حاصل داچي د شیخ نفس یي ډیر ور تنګ کړی او ناڅاپه یي دا ترخوله ووتله چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدایﷻ ددغي خزد کي خو نه ښه رنګه دی او نه يي ښه بوی دی، نو ددي په خلق ستا څه حکمت وو؟ خیر څو ورځي بعد د شیخ زاهد پر لاس یوه کوچنی دانه پیدا سوه او ډیر درد يي کاوه او کرار کرار غټیدله او درد يي په زیاتیدو کي وو. آخر الامر ودي اندازي ته ورسیدی چي د ډیره درده ښه يي دشپي خوب نسوای کولای. او هرڅه چي د طبیبانو څخه يي علاج وکړی فائده يي نه کوله. درد يي زیاتیدی او پارسوب يي ډیریدی. مریدان او شاګردان يي شپه او ورځ ورته ناست وه. او طبیبانو د جوړیدو امید ور قطع کړی. حاصل دا چي د طبیبانو يي امید وختی نو شافي حقیقي وخواته يي توجه سوه او د رب العزت په دربار کي يي عریضه د شفاء خپله پیش کړه.

خو پخوا زمانه کي به بعضي په نامه طبیبان به پر آسانو سپاره او خورجین به يي پر آس پوري تړلی وو او بعضي دواګاني به ورځخه وي او په کوڅو به يي نعري وهلي چي که څوك مریض لري زما سره دهر مرض دوا سته. او خلګو به دغه طبیبان تګان بلل. یعني صرف خلګ خطاباسي، نه طبیبان دي نه شی. دغسي طبیب د شیخ زاهد مریض په کوڅه کي هم نعره د مریض او د دوا وکړه. شیخ مریض وشاګردانو ته وویل چي تاسي ورسئ او دغه طبیب ماته راولئ ګوندي یوه دواء راکړي شاګردانو ورته وویل چي استاذه دا خو دکوڅو تګان دي تاته خو مور لوی طبیبان راوستلي او هغه په علاج کي ناکامه سوه. نو دا تګ طبیب به ستا څه علاج وکړي، خو په مقتضی د (الغریق یتعلق بلك حشیش) شیخ اصرار وکړی چي حتماً دغه طبیب راولئ. بعضي شاګردان ورغله طبیب يي راوستی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طبیب چې راغلی او دشیخ دانه او د لاس پارسوب یې ولیدی. د شیخ شاګردانو ته یې وویله چې تاسې ژر ژر د دیوالو په بیخو کې وګورئ یو څو دانې هغه خزدکې راپیدا کړی چې داسې رنګ یې وي او داسې یې پښې وي او بدبویه هم وي. شاګردانو وخندله چې خزدکې نو څه کوي؟ طبیب چې د خزدکو خبره وکړه د شیخ مریض هغه خپله خبر چې دشپې یې کړي وه ور په یاد سوه یعنې په لمانځه کې هغې خزدکې دی په عذاب کړی وو او د خدای ﷻ څخه یې طلب د حکمت وکړی. نو پوه سو چې دا امتحان الهي وو. زما د سوال په جواب کې پر شاګردانو یې ډغ وکړی چې ژر دغه خزدکې پیدا کړی چې طبیب پر دوا برابر سو. حاصل دا چې شاګردانو د یوې خوا او دبلې خوا د دیوالو په بیخو کې څو دانې خزدکې ور پیدا کړي. طبیب هغه خزدکې مړي کړي او سره چختانې یې کړي. دشیخ پر دانه یې وتړلې. او ورته کښینستی. لږ ګړی بعد دانې خوله وکړي او نونو او بدبویه اوبه تر دانې را ایله سوې. درد کرار کرار ارامیدی. او دانه کرار کرار پارسوب یې کښته کیدی او شیخ جوړ سو. او دخدای جل شانه حکمت په خلق دهغې خزدکې په تجربه ورته معلوم شو.

پوه سه! چې په تفسیر کواسې کې وایي چې ددې آیت څخه دا مسئله هم معلومیږي چې اصل په اشیاوو کې اباحت دی انتهی وقد ایّده صاحب روح البیان، لکن بنه عبارت هغه دی چې بیضاوی ﷺ ویل دی. هغه و ایي چې اصل په اشیاء نافعه وو کې اباحت دی. دلیل ده بنه والي یې دادی چې په عبارت د بیضاوی قارورات او سموم خارج سوله.

پوه سه! چې ددې مسئلې مختلف فیها معنا داده چې په یوه شي کې چې دلیل ه حرمت او کراهت نه وي هغه شی مباح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة : (جميعاً) حال د موصول ثاني څخه دی.

فائدة : هغه ګمراه ډله د اباحیه وو دا هم وایي چي دهرچا شی یعني مال او ماینه وغیرذالك و هرچا ته روا ده او ددا آیت یې دلیل ګرځولی دی. یعني (خلق لكم مافی الارض جميعا) نو (لكم) ددوی په خوله لام دپاره د نفعي دی او (كم) خطاب وټولو انسانانو ته دی. نو هرشی په مخکه کي وهرچاته روا دی چي نفع په واخلي. ودي ډلي ته اشتراکیه هم وایي معنا دا چي ټوله خلګ په ټولو شیانو کي سره برابر دي. کم شی که مخکه وي او که مال، په یوه سړي پوري تخصیص نه لري لکه دا چي د روسانو قانون هم دی.

قاضي بیضاوي دا دلیل ددوی په داسي عبارت ور رد کړی دی چي دا آیت یدل علی اَنَّ الکل للکلِّ لا ان کل واحدٍ لکل واحدٍ. یعني دا آیت صرف پر دي دلالت کوي چي ټوله اشیاء نافعه د ټولو انسانانو دي. پر دي خو دلالت نه کوي چي هرشی د اشیاء نافعه وو څخه وهر سړي ته روا دی. نو دا آیت ددي سره منافي نه دی چي بعضي اشیاء نافعه دي په بعضي انسانانو پوري خاص وي. یعني بعضي انسانانو ته دي په بعضي اشیاء نافعه وو سره نفع ورته روا وي او بل انسان ته دي نفع پر هغه شي روا نه وي، په سبب د اسبابو عارضه وو. لکه چي یو چا مخکه مثلاً رانیولي وي او یا چا وز هبه کړي وي. او یا یوچا یوه ښځه په نکاح غوښتي وي. و امثال ذالك.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال الله عزّوجلّ:

ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ ۱۱

وروسته بيا يې قصد وکړی خدای ﷻ و آسمان ته يعني و خلق ته د آسمان، نو برابر يي کړه اوه۷ آسمانونه، يعني پيدا يي کړه مستوي بيله سُستی يعني محکمه او بيله چاکو.

درويش وايي چي په خلق د مخکي و د آسمانو چي کم يو دمخه دي او کم يو وروسته دي قديماً وحديثاً اختلاف په مفسرينو کي موجود دی.

فائدة : ابن عباس رض او ډير مفسرين رح د سلفو رح معنا د (استوی الی السماء) داسي کوي (إرتفع) خدای پورته سو و آسمان ته. نو پر دي تقدير دا آيت د متشابهاتو څخه دی، ولي چي پورته کيدل خو صفت د اجسامو دي. خدای ﷻ جسم نه دی عند اهل السنة والجماعة. نو د قبيلي څخه د (الرحمن علی العرش استوی) دی

او ابن کيسان رحمه الله او فراء رحمه الله او ډير نحات يې تفسير داسي کوي ای اَقبلَ وقصدَ الی خلق السماء. پر دي تقدير آيت پر خپل ظاهر باندي او د تشابه څخه خالي دی. قاضي بيضاوی رحمه الله وايي چي کلمه د (ثم) په دي آيت کي دپاره د تراخي د زماني نه ده. يعني چي خلق د آسمانو دي په زمانه کي وروسته وي تر خلق د مځکي. بلکه دپاره د تراخي د رتبي ده يعني خلق د آسمانو پر خلق دمځکي فضيلت لري، ولي چي آسمانونه اجسام علويه دي او معدن د نيراتو دي. او د تغير او سستي څخه خالي دي. او په قدرت د خدای جل سلطانه موثر دي په سفلياتو کي، نو هغه قول سره دخدای ﷻ منافات نه لري چي وايي (والارض بعدذالك دحاها).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چي ددي آيت څه خو تقدم د دحوی دمخکي تر خلق د آسمان ظاهراً فهميږي. او امام بغوی رحمه الله په تفسير کي ددي قول دخدای ﷻ (والارض بعد ذالك دحاها) داسي وايي چي رئيس المفسرين عبدالله بن عباس رض وايي چي اولاً خدای ﷻ مخکه سره د خپلو اقواتو پيدا کړه يعني لکه يو مجمل شی وروسته تر هغه يي اوه ۷ آسمانونه پيدا کړه او بيا وروسته تر هغه مخکه سره وغوړول يعني پراخه يي کړه لکه يو مجمل شی چي وروسته مُفصل کړي او سره ټول شي چي اوار يي کړي. قال المظهری وهو المستفاد من اقوال السلف رح والله اعلم بحقيقة الحال.

فائدة : د (دحوي) معنا پر مذهب د سلفورح داده چي خدای ﷻ په مخکه کي غرونه پيدا کړه او رودونه يي پکښي اوبيوله او دريابونه يي پکښي پيدا کړه. او قسم قسم درختي يي پکښي شني کړي، نو په هغه آيت کي (والأرض بعدذالك دحاها° اخرج منها ماءها ومرعاها)آه قوله تعالی (اخرج منها) آه بدل يا عطف بيان دی د (دحاها) اود (دحاها) مراد يي بيان کړی. حاصل داچي ذات د مخکي تر آسمانو دمخه پيدا دی. او دحوه د مخکي بالمعنی الذی ذکرناه آنفاً تر خلق د آسمانو وروسته ده.

فائدة : بعضي مفسرين رح تفسير د (ارض) په متعارفه مخکه سره کوي نو مراد د (سماء) څخه آسمانونه دي يعني (سماء) اسم جنس دی. ټوله آسمانونه ځني مراد دي. او بعضي مفسرين رح دمخکي څخه جهت د سفل اخلي نو د (سماء) څخه مراد جهت د (علو) دی.

فائدة : ضمير د (هُن) راجع دی و (سماء) ته چي د (سماء) څخه اجرام علويه مرادسي، ولي (سماء) څوك وايي لفظي جمع د (سمائة) ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او زجاج رحمه الله وايي چې لفظ د (سماء) مفرد دی او معنا يې جمع ده يعنې يا اسم جنس دی چې اطلاق يې پر کثير او قليل روا دی او يا اسم جمع ده لکه قوم او رهط.

او که چيرې د (سماء) څخه جهت العلو مرادسي نو ضمير د (هُن) مبهم دی او سبع سموات يې تفسير دی لکه (ربّه رجلاً).

فائدة : قوله سبع سموات، بدل دی د ضمير څخه د (هُن) چې سماء ته راجع دی کمافی الاحتمال الاول . اويا تفسير دی د (هُن) که ضمير مبهم سي کما فی الاحتمال الثانی.

قاضي بيضاوي رحمه الله سوال کړی دی چې اهل ارصاد يعنې الرياضيين خو نه ۹ فلك وايي او په قرآن کې سبع سموات راغلی دی؟ او جواب يې داسي ورکړی دی چې په دلائلو کې د اهل رياضی وو شکوك او شبهات سته. آه يعنې د رياضينو دليل دادی چې مونږ په خپلو رصدو کې د علوياتو نه ۹ حرکته ليدلي دي. نو د هر حرکت دپاره محرك ضروري دی. لأنها متخالفة قدراً و جهةً، نو محرکات يعنې افلاك هم نه ۹ دي . په دي کې شبهه داده چې محقق طوسی وايي چې د نو۹ حرکاتو دپاره اته ۸ فلك هم کفايت کوي او دده شاګرد قطب الدين الشيرازی وايي چې د نو۹ حرکاتو ضبط په اوه ۷ فلکه سره هم کيدای سي. او بعض رياضيين وايي چې ضبط د نو۹ حرکتو په دوه آسمانه سره هم کيدای سي. والتفصيل بما له وعليه په تصريح او په حواشي وو کې د تصريح دی. او په شرح الچغيني کې هم بعض تفصيل موجود دی. وروسته قاضي بيضاوي ويلي دي: که د اهل ارصادو خبره صحيح هم سي نو په قرآن کې خو نفی د زائد عن السبع نه دي راغلي. وقد شاع ان التصريح باسم العدد لاينفی الزائد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او وروسته يي ويلي دي چي که عرش او کرسي د سبع سمٰوات سره ضم سي، بيا خو اختلاف نسته.

درويش وايي چي دا ضم د عرش او کرسي و آسمانو ته خلاف د شريعت غراء دی او د احاديثو مبارکه وو دی کما تقرر فی محله.

شکايت : بعضي حاسدان شايد ووايي چي تا قول د اکتفاء باالثمانية او اکتفاء بالسبع والاثنين د تصريح او شرح چغميني څخه نقل کړی، دا خو د کتابو سره د تفاسيرو مناسب نه وو .

درويش وايي چي ته تفسير مظهري وګوره چي په ورقو تفصيل د اقوالو د راضيينو يي د کتابو څخه د رياضي نقل کړي دي. زما لږ نقل عيب بولي د هغه تفسيرٌ ډير نقل عيب نه بولي. که حاسد ووايي چي ستا تفسير خو پښتو دی. پښتانه د رياضي په خبرو څه پوهيږي؟ او تفسير مظهري خو عربي دی نو علماء خو په رياضي پوهيږي.

جواب : د تفسير مظهري په منقوله خبرو هم امامان بلکه ډير علماء هم نه پوهيږي، چي پوره رياضي دانه نه وي. وعلى تقدير التسليم زما تفسير که په پښتو دی لکن صرف د عوامو دپاره خو نه دی، نو علماء خو زما په منقوله خبرو هم پوهيږي وقدمرّ ذالك الجواب قبل ايضاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ ع

اوخدای پاک په هرشي ښه خبر دی.

پوه سه! چي داجمله په اتفاق د بيضاوي او مظهري او روح البيان لکه دليل دی پر خلق د آسمانو او مځکي پر دغه نظام اکمل او اصلح. يعني چونکه خدای جل سلطانه د هر شي په ماهيت او حقيقت خبر دی، نو ځکه يي پر داسي نظام عجيب او طرز غريب يي دا نظام سماوي او ارضي قائم کړي. ولي چي د يو فاعل فعل او د يو صانع مصنوع چي مشتمل وي پر حکم بديعه وو او پر منافع کثيره وو چي هرچاته اظهر من الشمس دی. او دچا د عيب ويلو پکښي امکان نه وي او د منافعو څخه يي انکار نه وي، نو هغه صنع عجيب او فعل غريب دلالت کوي پر علم عظيم د فاعل او صانع کمالايخفى على اولى النُهى

پوښتنه : ابدان د انسانانو چي په خاوره کي سره متفرق سي او په نورو خاورو سره گډ سي، بلکه گاهي هغه خاوري د بدن انساني خښتي څني جوړي او په ديوال کي کار سي. او يا يو سړی وي چي ماهی وخوري او دهغه غذاء او جزء وگرځي اويايي درندگان وخوري او دهغو جزء وگرځي، نو دغه انسانان به څرنگه بعينه معاد سي په آخرت کي؟

ددي سوال جواب په دغه آيت کي خدای جل سلطانه ورکړی چي زه په هرشي خبر يم او د هر انسان اجزاء راته معلوم دي. نو جمع کول يي ماته گران کار نه دی. لکه اول خلق ددغو انسانانو چي دگټم څخه د عدم و عرصی ته وجود ما وکړی. لأن اول الخلق ليس بأهول من الاعادة بل العادة فی صنع البشر ان العادة تكون اهون عليهم من الصنع ابتداءًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة : مراد د حشره څخه د انسانانو، که کافران وي او که مسلمانان وي، دا نه دي چې هغونه لکه په دنیا کې چې دوی وه پر هغه قدر و قامت او پر هغونه سرو او لاسو او غوښو به حشر کیږي. ولي په حدیث صحیح کې راغلي دي چې تولـه جنتیان پر قد د آدم علیه السلام به وي یعني شپیته ګزه او دا هم په صحیح حدیث کې راغلي دي چې یو غابنې د کافر په جهنم کې لکه جبل اُحُد به وي. او پُنډوالی د پوست د کافر به کذا وکذا ګزه وي.

نو بناء علی هذا علماء کرام رح وایي چې اصل مُعاد اجزء اصلیه د انسان دي. یعني هغه اجزاء چې د نطفې څخه د پلار پیدا کیږي. لکن (کم او کیف) به یې د دنیایي اعضاوو سره ډیر مخالف وي. کما مر آنفاً من الأحادیث الصحیحة النبویة ﷺ .

پـــوه ســـه! چې احوال د آخرت د ژوند د عقل د قیاس څخه خارج دی. صرف ایمان بما قال الله عزوجل ورسوله ﷺ غواړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً

او ته ورپیاد کړه خلکو ته هغه وخت چې مونږ وویل و ملکو ته چې زه په مځکه کې یو خلیفه پیدا کوم.

پوه شه! چې خدای جل سلطانه و نوعي ته د بشر په تیرو آیتو کې اول نعمت د ایجاد او احیاء ددوی ذکر کی او دهم نعمت یې د خلق د مافی الارض من النِعم واللذات او د طاعاتو او عباداتو ذکر کړي.

اوس په دي آیت کې دریم نعمت د ټولـه عـالم بشري ذکر کوي، ولـي چې خلق د ابوالبشر آدم علیـه السلام او عزت او اکرام او تفضیل دده پر ټوله عالم ملکوت باندي ، حتی چې ملائکه یې امر کړي په سجده وده تـه او ده ته یې اعزاز د خلیفه خپل ور په برخه کړی، دا نعمت دي وټولـه اولاد ته د آدم علیه السلام.

پوه شه! چې (إذ) ظرف زمان دی. مبني پر سکون منصـوب محلاً مفعـول ده (اذکر) مقدر دی.

پوښتنه : مقصود خو دلته ذکر دهغـو واقعـاتو دی چې په دي وخت کې واقع سوي وي یعني خلق آدم الی آخرالحوادث، نو امر د ذکر کولـو د وخت وخلکو ته ولې وسو؟

جواب : چونکه وخت مذکور مشـتمل پر دغـو حوادثو او واقعـاتو وو، نو ذکر د وخت ذکر د ټولو حوادثو چې په دي وخت کې وي دي.

فائدة : لفظ د (ملائکة) جمع د (ملَك) ده لکه (شمائل) چې جمـع د (شمله) ده .او (ملاك) د (مالك) څخه مقلوب دی. یعنـي په تقدیم د لام پر همزه. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصدر د (مألك، الوكت) دی، چې معنا يې (رسالة) دی، ولې چې ملکي خو رسولان دخدای ﷻ دي. و انبياوو ته بالذات او امتو ته بالواسطه.

فائدة : کلمه د (تاء) په ملائکه کې دپاره د تينګولو د تانيث د جمع، په تاويل د جماعت ده.

فائدة : ملکي په نيز د عمومي مسلمانانو اجسام لطيف دي چې قادر پر تشکل دي پر اشکالو مختلفه وو حسب الإرادة په قدرت دخدای ﷻ، ولې چې انبياء عليهم السلام ملکي په صُورو او اجسامو مختلفه وو کې ليدلي دي. او حکماء وايي چې ملکي جواهري مجرده دي د مادي او جسميت څخه . وهذا خلاف الآيات القرآنية والأحاديث النبوية ﷺ

او نصاری وايي چې ملکي هغه پاک نفوس د انسانانو دي اودا مذهب په مذکوره آيت سره مردود دی، ولې نفوس فاضله د انسانانو خو پس له خلق څخه د آدم عليه السلام عالم وجود ته راغله، نو خدای ﷻ څرنګه مشوره ددوی سره وکړه د آدم عليه السلام په خلافت کې

فائدة : ملائکه يو کثير العدد غاية الکثرة مخلوق د خدای ﷻ دي چې (لايعلم جنود ربك الاَّ هو) او پر مختلفو کارو باندې مُسلطي دي پر بارانو، پر بادو، پر جنتو، پر دوزخو، پر حفظ دعملو د انسانانو او کتابت دهغو اعمالو وغير ذالك من الامور .

او په مابين دخدای جل سلطانه او د انبياء عليهم السلام وسائط هم دوی دي. او يو قسم د ملکو چې عليون يې بولي هغه مستغرق په معرفت او ذکر کې دخدای دي جل شانه کماقال الله تعالى : (يُسبحون الليل والنَّهار لايفتُرون) او د ملکو په حال کې پاک خدای دا هم ويلي دي:

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

(لایعصون الله ما أمرهم ویفعلون مایؤمرون).

پوښتنه : دغه کومي ملکي وي چي خدای ﷻ ودوی ته دا خبره وکړه؟

جواب : بعضي مفسرین رحمهم الله وایي چي دا مقول لهم تولي ملکي وي، ولي لفظ د ملائکه وو مطلق دی. او مخصص یي نسته. او مناسب د اظهار سره د شرف د ابوالبشرعلیه السلام او د نسل انساني سره همدغه عموم دی. نو پر دي تقدیر لام تعریف دپاره د استغراق حقیقی دی.

او بعضي مفسران وایي چي مراد ملائکة الأرض په قرینه ددي چي کلام په خلافت کي دمخکي دی. نو لام تعریف دپاره د عهد دی.

او بعضي حضرات رح وایي چي مقول لهم ابلیس او هغه ملکي دي چي د ابلیس په مشرتوب یي جنیات د مخکي د ریاست او حکومت څخه وشړل.

په تفسیر بغوي کي وایي چي خدای ﷻ آسمانونه او مځکه پیدا کړه او ورسره یي ملائکه او جنیات پیدا کړه. او ملکوته یي سکونت په آسمانو کي ورکړی. او جنیاتو ته یي حکمراني د مخکي وسپارله.

نو جنیاتو ډیره زمانه حکمراني د مخکي وچلوله. اخیرالامر ددوی په مابین کي حسد او حب الجاه او بغی پیدا سوه. نو په خپل مابین کي یي قتل و قتال جاري سوء نو خدای ﷻ یو لښکر د ملکو چي د جن په نامه یادیدلی، چي دغه ملکي خازنانی د جنتو وي. نو دوی ته یي ځکه د جنت څخه نوم مشتق کړی. او دجن په نامه سوي، یعني دهغه جنیاتو د ذات نه وي چي په مځکه کي یي فساد وکړی. او رئیس ددوی د عزازیل په نامه ملکه وه. او دی یعني عزازیل ددوی مرشد وو او لارخود یي وو. هغه ډله ملکي دخپل مرشد په مشرتوب یي مخکي ته را واستولي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیریاتو سره یې غټه محاربه وکړه او جنیات یې و لوبو لوبو غږو وخواته او د دریابو د جزیرو وخواته وشړل. نو عزازیل ته مشرتوب د مځکې او د سماء الدنیا او د خزینة الجنة حاصل سو. نو عزازیل به ګاهی عبادت دخدای ﷻ په مځکه کې کاوه او ګاهی په اول آسمان کې او ګاهی په جنت کې. آخر ده ته تکبر اوخودبینې په نفس کې پیدا سوه. او دا یې خیال سو چې اکرم د ټولې مخلوق دخدای زه یم. نو خدای ﷻ ده او دده په جنګ کې ملګرو ملکو ته و ویل (إني جاعل فی الأرض الآیة) انتهی قول البغوی بتوضیح.

درویش وایي چې د بغوي د تفسیر څخه دا معلومه سوه چې ابلیس د ذات د ملکو وو، نو ځکه استثناء په متصله د ملکو څخه (سجدُوا إلاّ ابلیس) کې صحیح سوه او دهغه آیت تاویل هم بنکاره سو چې د ابلیس په باره کې وایي: (کان من الجنِّ ففسق عن امر ربه) ولې چې مراد د جن څخه هغه جن نه دی چې د مځکې حکمراني یې اول په غاړه کې وه. بلکه مراد هغه ملکي دي چې دجن په نامه یادیدلي. کمامَرَّ من البغوی آنفاً.

پوښتنه :څه حکمت وو دخدای جلت حکمته چې د ملکو سره یې دا موضوع د خلافة الأرض و مشوري ته مطرح کړه او سره ددې چې خدای ﷻ ومشوري ته خو کوم ضرورت نه درلودی لأنه تعالی عالم الغیب والشهادة دی؟

جـواب : اولـین حکمت داوو چې د آدم ابوالبشر علیه السلام د خلافة الارض وملکو ته بنکاره کړي، یعنې په سوال او جواب کې د ملکو او د خدای ﷻ تر مابین کماسیاتی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او دوهم حکمت دادی چې د علم فضیلت یې پر عبادت ثابت سي کما ستعلم فی (وعَلَّم الأسماء کلها الآیة) کې.

او دریم حکمت تعلیم د مشورې دی ټولو انسانانو ته په مُهم کارو کې د نورو اهل الرای سره. نو ځکه خدای جل سلطانه و علیه السلام ته وایي: (وشاورهم فی الأمر فاذاعزمت فتوکل علی الله) او په حدیث کې راغلي دي چې علیه السلام به ډیري مشورې د اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره کولې.

فائدة : (جاعِلٌ) مشتق د (جَعَلَ) څخه دی چې دوه مفعوله غواړي. یعنې (جَعَلَ) په معنا د (صیّرَ) دی، نو (خلیفةً) یې مفعول اول دی او (فی الارض) یې مفعول ثاني دی یعنې کائنا فی الأرض. او شرط د عمل یې موجود دی. یعنې اسم فاعل په معنا د استقبال دی. او معتمد پر مسندالیه دی چه په (إنّي) کې (یاء) د متکلم ده. او دا هم روا ده چې د (جَعَلَ) معنا دي (خَلَقَ) وي چې یو مفعول یې شرط دی چې هغه (خلیفة) دی او (فی الارض) حال دی د (خلیفةً) څخه یعنې خالقٌ خلیفةً کائناً فی الارض.

فائدة : خلیفه هغه چاته وایي چې قائم مقام د بل چا وي. او کلمه د (تاء) یې دپاره د مبالغې ده أی خلیفةً عظیماً جلیل القدر. نو ځکه جمع یې (خلفاء) راځي لکه (عظیم او عظماء) ولې (فعیل) مذکر پر (فُعلاً) باندې جمع کیږي. او بعضې علماء یې و تانیث لفظي ته ګوري، نو جمع یې (خلائف) بولي لکه (صحیفه او صحائف)

پوه شه! چې مراد د خلیفه څخه آدم علیه السلام دی. او خلیفه یې په دې وېلی چې دی خلف د جِن وو په مخکه کې. او یا خلیفه اول په انبیاوو کې آدم علیه السلام وو ثم وثم الی ان انتهی الخلافة الی سیدنا محمد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه : خدای ﷻ څه ضرورت لري و خليفه ته او سره ددي چي خليفه خو هغه څوك دروي چي يا دی مړ کيږي، نو خپل قائم مقام ودروي. وهو تعالی مُنَزَّهٌ عنه لانه حي لايموت. اويا خليفه هغه څوك دروي چي دی بر خوا ته غائبيږي نو بدل خپل ودروي وهو ايضاً محالٌ علی الله تعالی لانه حاضرٌ فی کل وقتٍ. او يا خليفه هغه څوك دروي چي دی عاجزه او ضعيف سي د اجراء څخه د کارو نو خپل کارونه و خليفه ته وسپاري والله تعالی قوي قديرٌ علی مايشاء فی کل وقتٍ فما الحکمة فی الإستخلاف؟

جواب : خليفه درول په دغو امور مذکوره وو کي حصر نه دی. بلکه سبب د استخلاف الهي دادی چي مُستخلف عليه عاجز وي د قبول د فيض د رب جل شانه بالذات يعني بئله واسطي، ولي چي رب جل شانه په نهايت تنزه اوتقدس کي دی. او مستفيض په تدنس دی او علائقو دنيه وو کي دی غالباً او په قبول کي د فيض مناسبت په مابين د مفيض او مستفيض شرط دی. نو بايد په مابين کي د خدای جل شانه او د انسانانو يو ډی جهتين انسان وي چي په سبب د روح مقدس دخدای ﷻ سره مناسبت ولري ترڅو چي په هغه جهت دخدای ﷻ څخه استفاده او استفاضه وکړای سي. او په سبب د بشريته د نورو کسانانو سره شرکت ولري، ترڅو چي په هغه جهت دی افاده ونورو ته وکړي او نور دده څخه استفاده وکړي. وتلك الذوات المقدسة عن الادناس البشرية هم الأنبياء عليهم الصلوة والسلام علی تفاوت درجاتهم. او همداسبب دی چي خدای ﷻ و انسانانو ته ملکه په نبوت نه ده را استولي لأن عدم التجانس سببٌ لعدم الاستفادة وقال الله تعالی: (ولوجعلناه ملکاً لجعلناه رجلاً) يعني که موږ ګرځولي واى

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

رسول و بشر ته ملکه نو هغه به په صورت کي د بشر وای.

فائدة : قال العلماء الاقدمین رح : اعقل الرجال لایستغنی عنْ مُشاورة اولی الألباب. ډیر عاقل د خلګو، نه دي مستغني د مشوري چې د خاوندانو دعقل. وافرهِ الدّواب لایستغنی عن السوط. او ډیره ښه دابه یعني آس او اوښ وغیرهما مستغنی نه دي د غمچنی څخه. واورع النساء لایستغنی عن الزوج. یعني ډیره پرهیزګاره ښځه مستغني نه ده د میړه څخه. قال المولو المعنوی رحمه الله فی المثنوی:

مشورت ادراك وهشاوي دهد عقلها مر عقل را یاري دهد

گفت پیغمبر بکن ای رای زن مشورت که المستشار موتمن

فائدة : حکمت الهي مقتضی ددي دی چې د یوشي خیر چې غالب پر شر وي هغه خدای ﷻ پیدا کوي. لأنهم قالوا انّ ترك الخیر الکثیر لاجل الشر القلیل شرٌّ کثیرٌ. لکه وروسته د سوال جواب د ملکو په باره د خلق د آدم علیه السلام به دا خبره واضح سي. مثلا دیو سړي په یو اندام کي ساري دانه وي، نو هغه اندام که قطع کړي د ډاکټرانو په مشوره، نو دا قطع العضوه شر لږ دی، ولي نور بدن به یي سالم پاته سي. چې خیر کثیر دی. او که هغه عضوه نه کي قطع، نو هغه دانه به یي تولـه بدن ته سرایت وکړي او سړی به ځني مړ سي وهو شرٌّ کثیرٌ کذا فی روح البیان.

فائدة جلیلة متعلقة بحرف القاف فی الآیات السابقة وفیما یأتی من القرآن العزیز : درویش وایي چې اولیاء الله الکرام رح چې پر خزانو د قرآن کریم دوی ته خدای جل سلطانه علم ورکړي دی. وایي چې په قرآن کریم کي پنځه آیته دي چې په هر یوه کي لس قافونه موجود دي دپاره د دفع د شر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دده دښمنانو، کـه ظاهري وي او کـه باطني. او دپـاره د غلبـي پر هغـو روزانه يو وار وينا يي ډيره موثره ده. او انشاء الله تعالى ويونکى به يي پر ټولو دښمنانو غالب وي. او ددوى د شر څخه به په امان وي.

يو قائل وايي: جميع العلم فى القرآن لكن ✣ تقاصرت عنه افهام الرجال. او هغه مبارك آيتونه دادي:

بسم الله الرحمن الرحيم

(۱): اَلَمْ تَرَ الى الملإِ من بني اسرائيل من بعد موسى اذ قالوا لنبيٍّ لهم ابعث لنا ملِكاً نُقاتلْ فى سبيل الله قال هل عسيتم ان كتب عليكم القتال ان لاتقاتلو قالوا مالنا ان لانقاتل فى سبيل الله وقد اُخْرِجنا من ديارنا و ابنائنا فلما كُتب عليهم القتال تولوا الا قليل منهم والله عليم باالظالمين ۝

(۲): لقد سمع الله قول الذين قالوا ان الله فقير ونحن اغنياء سنكتب ماقالوا وقتلهم الانبياء بغير حقٍ ونقول ذوقوا عذاب الحريق ۝

(۳): الم تر الى الذين قِيْل لهم كُفُّوا ايديكم و اقيموالصلوة وآتو الزكوة فلما كُتب عليهم القتال اذا فريق منهم يخشون الناس كخشية الله او اشد خشيةً وقالوا ربنا لِمَ كتبت علينا القتال لولا اَخَّرتنا الى اجلٍ قريبٍ قل متاع الدنيا قليلٌ والآخرة لمن اتقى ولاتُظلمون فتيلا ۝

(٤): واتل عليهم نباء ابنى آدم بالحق اذ قَرَّبا قُرباناً فتُقُبِّل من احدهما ولم يُتقبل من الآخر قال لاقتلنَّك قال انما يتقبل الله من المتقين ۝

(٥): قل من رب السموات والارض قُلِ الله قُل افاتخذتم من دونه اولياء لايملكون لأنفسهم نفعاً ولاضرا قل هل يستوى الاعمى والبصير أم هل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تستوی الظلمات والنور أم جعلوا لله شرکاء خلقوا کخلقه فتشابه الخلق علیهم قل الله خالق کل شیئ وهوالواحد القهار°

الله احفظني و اولادي من شرِّ الاعداء والظلمة ومن شرِّ الشیاطین والأجنة وانصرني علی اعدائي وصلی الله تعالی علی سیدنا محمدٍ وعلی آله وصحبه اجمعین°

قَالُوٓا۟ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

ملکو وویل: ایا ته کړخوي یعني خلیفه دمځکي هغه څوک یعني آدم و اولاده چي هغه به فساد کوي په مځکه کي یعني عصیان او وبه یوي وینې یعني قتل او قتال به کوي او حال دادی چي مورږ تسبیح وایو سنا سره د حمده یعني سبحان الله وبحمدک او تقدیس کوو تاله یعني دتولو عیبو څخه تا پاک بولو. یعني مورږ ته خلافت د مځکي څه حکمت دی چي نه یي راکوي؟ خدای ورته وویل چي زه خبریم په هغه شیانو چي تاسي نه یاست په خبري. یعني هغه حکمتونه چي په خلق کي د آدم او په خلافت کي دده سته چي تاسي ملکي په هغو حکمو نه یاست خبري.

پوه سه! چي غرض د ملکو په قول کي همزه دپاره د انکار نه ده، ولي چي د استفهام انکاري معنا خو اعتراض دی پر خدای ﷻ. ولي چي اعتراض پر خدای ﷻ کُفر دی. او نه یي غرض طعن او غیبت کول دي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنې آدمو، ولې چې غیبت خو ګناه کبیره ده. او د ملکو په شان کې خدای ﷻ وایي: (عباد مکرمون لایسبقونه بالقول وهم بامره یعملون).

فائدة : حشویه وایي چې ملکي د کفر او ګناه کبیره څخه معصومي نه دي او په دې آیت دوی دلیل وایي چې په دې آیت کې دوی یو اعتراض پر خدای ﷻ وکړی او بل یې د بنی آدم غیبت وکړی. مونږ وایو چې دا استفهام صرف داسې دی لکه د ږمتعلم په زړه کې یو اشکال ور وګرځي او معلم څخه سوال وکړي. نو استفهام ددوی د نفس (جعل) څخه د خلیفه فی الارض هم نه دی، ولې چې هغه خدای ﷻ خو دوی ته وویل: (إني جاعل فی الأرض خلیفة). نو دوی خو پوه سوي. خدای ﷻ خو هرومرو د مخکې د عمارت او اصلاح دپاره یو خلیفه پیدا کوي. بلکه استفهام دلته دپاره دتعجب دی یعني ملکي ودي ته په تعجب کې پاته سوي چې خدای جلت قدرته چې هیڅ کار خو یې بې حکمته نه دی، نو اوس څه حکمت باهره دی چې دپاره د اصلاح او تعمیر د مخکې اهل عصیان او فساد پیدا کوي. او اهل طاعت ته دا استخلاف نه سپاري. او دا قول ددوی (ونحن نسبح بحمدك ونقدس لك) آه مدح او تعریف دخپل ځان نه دی او نه خپل تفضیل پر آدمیانو ثابتول دي. بلکه دا منشاء دخپل اشکال ظاهرول دي. او دهغه پټ حکمت الهي چې په دغه استخلاف کې سته بیانول غواړي چې دا ټوله مفاسد د بنې آدم لغوه وګرځول او استخلاف ددوی بې مختاره کړی.

پوښتنه : ملکي په دې څه خبري وي چې د خلیفه الارض د اولاده څخه به فساد فی الارض او قتل او قتال صادریږي لان الغیب لایعلمه الا الله؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : تر تولو اسلم دخدشاتو څخه خالي هغه جواب دی. تفسیر مظهري فقط همداغه یو جواب راوړی دی. او قاضي بیضاوي هم هغه جواب اول راوړی دی. او خفاجي رحمه الله وایي چي اسلم د وجوه دی. هغه جواب دادی چي: دوی ته دا حال د ذُرية الآدم په اخبار دخدای ﷻ معلوم سو کما رُوی عن السدي رحمه الله چي څه وخت چي خدای وملکو ته وویل: (إني جاعل في الأرض خليفةً) ملکو وخدای ته وویل چي څه به پیدا کیږئ ددغه خلیفه څخه؟ خدای ﷻ ورته وویل چي ددي خلیفه به ذریه او اولاد وي چي هغه فساد في الارض او یو دبله سره وژني، نو څکه ملکو وویل (اتجعل فيها) الآية.

او بیضاوي بل جواب دا ویلی دی چي ملکو قیاس د انسانانو پر جنیاتو وکړی چي دمخه تر انسانانو یي حکمراني د مخکي په لاس کي وه وفیه چي قیاس خو یو علت مشترکه غواړي. نو دجنیاتو او انسانانو تر مابین ملکو څه علت مشترکه لیدلی وو؟

او بل جواب د بیضاوي دادی چي: دملکو په عقولو کي دا راسخه وه چي عصمت یوازي او یوازي ددوی خاصه ده نو څکه یي پرانسانانو د معصیت او د فساد في الارض بالقتل والقتال فتوی صادره کړه، لکن دا جواب د انانیت څخه خالي نه دی. او د ملائکه وو چي خدای پاك (عباد مکرمون) بللي دي مناسب نه دي.

او بیضاوي بل جواب دا راوړی دی چي فساد او قتل و قتال دوی یعني ملکو په لوح محفوظ کي لیدلی وو، ولي چي په لوح محفوظ کي ټوله هغه شیان نوشته وه چي تر قیامت پوري پیښیږي. پر دي جواب دا سوال واردیږي چ تولي ملکي خو د لوح محفوظ د مطالعي اجازه نه لري

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بلکه متکفل په مطالعه د لوح محفوظ یوازي اسرافیل علیه السلام دی نو عمومي ملکي څرنګه په خبري سوي؟ او هغه چاچي په جواب کي ویل دي چي اسرافیل علیه السلام دي بیا نورو ملکو ته کشف الحال د لوح محفوظ کړی وي. پر هغه دا سوال واردیږي چي اسرافیل علیه السلام بیله اجازي د رب جل جلاله څرنګه د لوح محفوظ خبري ونشر ته سپارلای سي. او که په اجازه دخدایﷻ وي یرجع هذا الجواب الی الجواب الاول المقبول کما مر.

او روح البیان وایي چي طعن ویونکي پر ذریه د آدم ملائکة الأرض والجن والشیاطین الذین غلبت علیهم الظلمة.

درویش وایي چي جن خو قبل المشوره د مخکي څخه وشړل سول. او بل دا چي خدای جل سلطانه خو وویل: (و إذ قلنا للملائکة) آه او داسي یي نه دي ویل چي (اذ قلنا للملائکة والجن والشیاطین) فکیف یجوز توجیة الآیة بالجواب المذکور؟. او وروسته یي ویلي دي:

والإعتراض علی فعل الحکیم والنزاع فی ضیعه معفو عنه آه.

درویش وایي چي دا جواب بعید دی، ولي چي خدایﷻ د مطلقو ملکو په شان کي وایي (بل عباد مکرمون) کما مرّ. و لله درالبیضاوی رحمه الله والمظهری رحمه الله. او اهل تحقیق خو نفس ملائکه معصوم بولي کما فی کتب العقائد. والله اعلم بحقیقة الحال.

او شاید بعضي علماء به قصه دهاروت و ماروت دلیل د عدم عصمت د ملکو وګرځوي یعني هاروت وماروت خو هم ملکي وي. او د زهره په نامه د یوي ښځي سره یي زنا وکړه او دمخه یي شراب هم وچښل او د زهري میږه یي ور مړ کړی. او بُت ته یي سجده هم وکړه کما سیأتي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فی قصتهما ان شاءالله تعالی.

جواب يې دادی چې هغه قصه په عنوان مذکور سره اصل حکایت يې مروي د يهودو څخه دی اوپه هيڅ حديث صحيح کې دا قصه په عنوان مذکور نسته کما سيأتی تحقيقها و اصل واقعة هاروت وماروت ان شاء الله تعالی.

فائدة : محقق بيضاوي رحمه الله وايي چې (سَفك او سَبك او اَسفح، اوشَن) ټوله د تويدو اقسام دي. نو (سَفك) بهيدو ته د اوښکو او د وينو وايي. او (سَبك) سره زر يا سپين زر وغيره چې ويلي کې او وبهيږي او (سَفح) د لوړې خوا څخه تويدو ته وايي. او (شَن) تويدو ته د خولې دخوا د ژې وغيره ته وايي.

فائدة : جمله د (ونحن نسبح الآية) حال ده او بيان دی د منشاء د پُښتنې ددوی بقولهم اتجعل فيها آه. نو معنا يې داده چې ته ﷺ د مخکې د اصلاح او تعمير دپاره عصات خليفه ګرځوي او مونږ معصوم بندګان ستا موجود يو. نو څه حکمت دی په عدم استخلاف کې زمونږ؟ او څه مرجح موجود دی د عصاتو په خوا کې چې ته اې ربه! ددوی و استخلاف ته ترجيح ورکوي پر مونږ لکن دا خبره د ملکو صرف پوښتنه غرض ده، نه فخر او تکبر او عُجب په عباداتو سره خپل. مثال ددې داسې دی لکه يو سړی چې د دښمنانو سره احسان کوي او يو خپل يې ډير مسکين وي او دهغه سره احسان نه کوي او دا مسکين ورته ووايي: **اتحسن الى اعدائك وانا الصديق المحتاج.**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة : تسبيح او تقديس په معنا کي سره نژدي دي يعني لري کنرل د خدای جل سلطانه دي د هدو څخه په اعتبار د صفاتو او افعالو او اقوالو او دا لري کنرل په خوله سره هم کوي مثلا (سبوحٌ قدوسٌ) او چي عقيده يي هم داغسی وي . واما التبعيد بالفعل فلايتصوَّر فيه تعالى كما لايخفى لأنه تعالى ليس بمفعول .

فائـــدة :کلمهٔ د (بحمدك) حال د ضمير د (نسبح) ده أی نسبح متلبسين بحمدك يعني نقول سبحان الله وبحمده وجاء فی الحديث الصحيح فی آخر البخاري قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان فی الميزان حبيبان الى الرحمن سُبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم. يعني دوي کلمي سپکي دي پر ژبه او درنې دي په ترازو کي يعني په ورځ د قيامت د نيکی په پله کي . او محبوبي دي وخدای ﷻ ته. هغه دوي کلمي (سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم) دي.

فائـــدة : پوه سه! چي صيغه د مضارع دپاره د استمرار ده او تقديم د مسندالیه پر مسند فعلي يعني تقديم د (نحن) پر (نسبح) دپاره د اختصاص او حصر ده. يعني هميشه ستا تسبيح ويل په موږ کي حصر ده. نو مآل يي معصوميت ته کيږي. ولهذا فسره البيضاوي رحمه الله بقوله تعالى ونحن معصومون.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا

او خدای ﷻ وښوولە و آدم علیه السلام تە نومان د ټولو شیانو

روح البیان د وهب بن منبه رحمه الله څخه روایت کړی دی چې څه وخت چې خدای ﷻ اراده وکړه و خلق تـه د آدم علیـه السـلام یعنـي د خلافـت الارض دپاره، نو مخکې تە یې الهام وکړی. یعنې په مخکه کې یې دا فهم پیدا کړی. او ورته وې ویل چې زه د تا څخه یو مخلوق پیدا کوم یعنې آدم وذریته. نو بعضې د هغه مخلوق به چې زما اطاعت کوي، نو زه به یې جنت ته داخلوم. یعنې په ورځ د قیامت او بعضې به زما عصیان کوي، نو زه به یې په اور د دوزخ سوځم. نو مخکې ورته وویله چې زما څخه مخلوق پیدا کوي د اور دپاره؟ خدای ﷻ ورته وویل نعَم. نو مخکه په ژړا سول هغه د ژړا اوښکې دې چې چینې څنې جوړې سوې الی یوم القیامة، نو جبرئیل علیه السلام تـه خدای ﷻ امر وکړی چې تـه ورسـه د مخکې دټولـه مخه څخه خاوره راټوله کړه. یعنې د توړې مخکې څخه او د سپینې مخکې څخه او د سرې مخکې څخه او د خوږې مخکې څخه او تـروې مخکې څخه او د ترخې مخکې څخه او د نرمې مخکې څخه او د کلکې مخکې څخه او د غرنـی مخکې څخه. نـو جبرئیـل چې اراده د خـاورو راټولولو یې وکړه، نـو مخکې ورتـه وویـل چې ستا دې په هغـه خدای ﷻ قسم وي چې تـه یې را استولی یې چې زما څخه هیڅ خاوره مـه وړه. او مخکې ورتـه وویل: که څه هم په نزدیکت کې د باچا منـافع خو ډیرې دي لکن لوی خطر هم ورسره سته. سعدي رحمه الله:

بدریا در منافع بیشمار است ❊ اگر خواهی سلامت در کنار است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو جبرئیل علیه السلام بیرته واپس ناکامه راغلی او خدای ﷻ ئې خپل د ناکامی دا بیان کړی چې مخکې ماته ستا په نامه قسم راکړی چې زما څخه خاوره مه وړه، نو ما ستا د نامه د قسم پر ماتولو مې اقدام نسوای کولای. او بیا یې میکائیل علیه السلام ور واستاوه خو مخکې وهغه ته هم د جبرئیل د قسم ورکړی. نو میکائیل هم ناکامه بیرته راغلی. او خدای ﷻ ته یې د جبرئیل پر رقم عُذر بیان کړی او بیا خدای ﷻ اسرافیل علیه السلام ور واستاوه. هغه په ورته قسم ورکولو ناکام راغلی او عُذر سابق یې خدای ﷻ ته بیان کړی او په آخر کې عزرائیل ملك الموت ورواستاوه. نو مخکې هغه قسم په نامه دخدای ﷻ عزرائیل ته پیش کړی. عزرائیل مخکې ته وویل چې زه په نامه دخدای ﷻ قسم اخلم چې زه به د امر څخه دخدای ﷻ مخالفت نه وکړم یعنې زه چې خدای ﷻ ستا څخه په خاورو ټولولو سره امر کړې یم نو امر فوق الادب دی. نو زه هرومرو ستا څخه خاوره ټولوم. او دخدای ﷻ امر به پر ځای کوم. نو دټولې مخکې د سره څخه یې خاوره ټوله کړه. خلګ وایي چې خدای ﷻ خبر دی چې زما خاوره به یې د کمه ځای څخه اخستې وي. دا خبره غلطه نه ده بلکه یوه زره خاوره د ټولو انسانانو په دغه خاوره کې موجوده ده. او هغه سړی به هم په هغه مخکه کې دفن کیږي.

درویش وایي چې خدای ﷻ عالم دی په صحت د قول د وهب بن منبهه رحمه الله. او بیضاوي رحمه الله د قبضې نسبت وخدای ﷻ ته کړی. وقال لما رُوی عنه الحدیث. او خفاجي رحمه الله وایي چې سیوطی رحمه الله وایي چې دا حدیث احمد رحمه الله او ترمذي روایت کړی دی. و ابن جریر رحمه الله صحیح ګڼلی دی. والله اعلم بالصواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي نسبت و قبضي دخدای ﷻ ته داسي دی لکه نسب د وجه او ید وغیرهما وخدای ﷻ ته . نو یا مذکور حدیث د متشابهاتو څخه وي او یا به مأول په امر دخدای ﷻ و عزرائیل ته په قبض سره. الاختلاف فی محل خلقة آدم علیه السلام.

بعضي علماء وایي چي خلق د آدم په اول آسمان کي سوی دی. او بعض وایي چي په یو باغ کي د باغو د مځکي سوی دی. لکن اکثر مفسران رح پر دي رای دي چي خلق د آدم علیه السلام په جنت عدن کي انجام پذیر سو. او هم دهغه جنت څخه مځکي ته راغلی دی. کذا فی کشف الکنوز.

روح البیان وایي: په حدیث قدسي کي داسي راغلي دي: (خَمَّرتُ طینة آدم بیدی اربعین صباحاً یعني اربعین یوماً).

درویش وایي چي دا حدیث هم یا د متشابهاتو څخه دی او یا معنا داده چي ملائکه مي امر کړي په تخمیر د څټو د آدم علیه السلام . نو بیا څلویښت کاله دا څټي مصور بصورت آدم بلاروح پاته وي، حتی چي دا څټي وچي سوي او شرینګی به یي کاوه لکه کودري. بیا مي ۳۹ کاله باران د غم پر و اوراوه او یو کال د خوشحالی باران. نو ددي سببه غمونه د بني آدم ډیر دي تر خوشحالی، لکن عاقبة د غمو د مسلمانانو و خوشحالی ته کیږي. یعني الی نعیم الجنة. سعدي رحمه الله

درین دنیا کسي بیغم نباشد ✣ اګر باشد بنی آدم نباشد

درویش وایي چي په غمو کي د دنیا مسلمان او کافر سره برابر دي بلکه د مسلمان غم او بیره تر کافر زیاته ده، لکن د مسلمان غم انتهاء لري یعني چي آخرت ته رد بي. په سبب د دخول د جنت او د کافر غمونه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ټور پسي ډيريږي يعني په آخرت کي چي حشر سي يعني په دخول د جهنم.

په روح البيان کي وايي چي ملکي به د آدم عليه السلام پر دي مُصور جسم بي روح باندي چي تيريدلي، دا حسن صورت دده به ډير ښه خوند ورکاوه، ولي چي دوی تر اوسه دغسي صورت نه وو ليدلی، لکن درويش وايي چي روح البيان د آدم قد پنځه سوه ګزه بيان کړی دی. او دا قد په هيڅ صحيح حديث کي نه دی راغلی، بلکه په احاديثو صحيحه وو کي او په تفاسيرو معتبره وو کي قد د آدم عليه السلام شپيته ۶۰ ګزه يعني ذراع بيان سوی دی. چنانچه په صحيح حديث کي راغلي دي چي هر جنتي به پر قد د آدم ۶۰ ګزه وي. والله اعلم بالصواب.

روح البيان دا خبره هم کړي ده چي يوه ورځ ابليس سره د څو ملکو پر کالبود د آدم عليه السلام ټيريدی، نو چي د آدم عليه السلام صورت يي وليدی نو ملکوتي وويل: لأمرٍ ماخلقتْ يعني دا صورت د يو امر عظيم دپاره پيدا کړه سوی دی. او بيا يي په ګوته وټکاوه او وي ويل چي دا جوف دی يعني مابين يي خالي دی. دا به چندان ثبات ونه لري. وروسته روح البيان يو بنائيسته لفظ استعمال کړی دی وايي چي شيطان يي په خوله ورننوتی او تر دبره يي ووتی. او وملکرو ملکوته يي وويل چي دغه صاحب الصورت ته که خدای ﷻ پر موږ تفضيل ورکی نو تاسي به څه کوی؟ ملکو وويل چي نُطيع ربنا. موږ د خدای ﷻ امر منو. شيطان په خپل نفس کي وويل چي که يي پر ما تفضيل ورکړی، زه خو د خدای ﷻ دغه فيصله نه منم. او زه به کوشش په هلاک کي دهغه وکړم. سعدي رحمه الله

عاقبت ګرګ زاده ګرګ شود ✧ گرچه با آدمي بزرګ شود

نو ابليس په خوله کي ناري سره جمع کړي او پر جسد آدمي باندي يي تو کړي. هغه ناري د ابليس د جسد آدمي د نو پر برابر ومښتي. نو خدای

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ﷺ جبرئیـل تـه وویـل چـي د ابلیـس دنـاورو خـای ښـه جَـور (ژَوَر) کـړه، نـو بعضي خـاوري د جسـد هـم ورسـره جلاسـوي. هغـه خاوره او د ابلیـس نـاړه خدایﷻ ماده د سپي د خلق وګرځوله. نو ځکـه په سـپي کـي دري۳ خویـه سـته. یو د بني آدم سره اُلفت په سبب ددي چـي د آدم د خـاورو څخـه پیـدا دی. او بل ټوله شپه بیداري. دا په اثر او سبب د مَس د جبرئیل دی او بـل یو وخت پر انسان حمله کول. دا تاثیر د ناړو د ابلیس دی.

پوه سه! چي (عَلَّم) ماضي د تفعیل دباب څخه ده چي معنا یي ښوونـه ده وجائـه چـي غالباً پر تعلیـم د معلـم و ؛متعلم تـه مرتبیـږي. یعنـي کلـمـه نـه دې ولذالك يُقال علّمته فلم يتعلم. یعنـي مـا ښـوه نـه و متعلم تـه وکـړه او ده زده نه کړی.

فائدة : په وضع کـي د الفاظو یعنـي چـي واضـع یي څوك دی اختلاف دی. مذهب د شیخ اشعري رحمه الله دادی چـي دټولـو الفاظو واضـع خدایﷻ دی ابتداءاً. او دا هم روا ده چـي د بعضـي الفـاظو وضـع دي حادث وي د بشـر دخوا لکه چـي یو سړی خپل د څوی نوم زید یـا عمرو وغیـره کښیږدي. او یـا د آلاتـو جدیـده وو نومـان دي بـل څوك وضـع کـړي. لکـه کلاشـنکوف، توپ، توپنګچه، موټر، بائیسکل، موټرګاډي وغیرها په پښتـو کـي او دغـه رنګه په نورو ژبو کـي.

درویش وایي چـي دلیل د مذهب د اشعری رحمه الله همدغـه آیت دی ، ولـي چـي ابوالبشـر آدم علیـه السـلام خـو اول انسـان دی نـو دغـه اسـماء چـي خدایﷻ وده تـه وښوولـه د بشـر د خـوابی وضـع څرنګـه ممکنـه وي کمـا لایخفی. او معتزلـه وایي چـي واضـع د ټولـو الفـاظو په هـره ژبـه چـي وي د ژبي خلك دي. چـي دي مذهب ته مذهب د اصطلاح وایي. او دا آیت د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دوی د مذهب د رد دپاره کافي دی.

او دریم مذهب دادی چي دهغو الفاظو واضع چي په تعلیم د امور دینیه و دهر نبي چي وي ضرورت ورته وي د هغو واضع خدای ﷻ دی. او د نورو الفاظو واضع اهل اصطلاح دي د هري ژبي چي وي.

مهمه پوښتنه : تعلیم دچا وبل ته خو دا غواړي چي معلم او متعلم په یوه مشترکه ژبه سره پوهیږي مثلاً یو د پښتو مُلا چي عربي و یو پښتانه طالب ته وربنیي، نو خو پښتو ددوی دوو تر مابین شریکه ژبه ده. نو پوښتنه داده چي په هره ژبه چي خدای ﷻ تعلیم الاسماء و آدم علیه السلام ته کاوه، نو شریکه ژبه خو بله غواړي. هغه شریکه خو به هم خدای ﷻ و آدم علیه السلام ته بنولي وه ، نو هغه ژبه چي خدای ﷻ و آدم علیه السلام ته بنوله نو خو بیا بله مشترکه ژبه غواړي. وهکذا که پسي رواني وي خو تسلسل یي بولي او که بیرته پر اوله ژبه راوګرځي دور یي بولي. وهما محالان باتفاق اهل الملة والحکمة.

جـواب : حضراتو مفسرینو رحمهم الله وایي چي تعلیم الهي حصر په یوازي الفاظو کي نه دی، بلکه خدای ﷻ به د آدم علیه السلام په زړه کي علم ضروري بلا مدخل سبب من الاسباب په اسماء دتولو سمیاتو پیدا کړی باحضار المسمیات والقاء العلم الضروری باسمائها وخواصها. اویا په طریقه د الهام چي القاء فی الروع یي بولي وده ته علم د اسماء د مسمیاتو بنولي وي. ومن علم قدرة الله لایشکل علیه هذا التعلیم فافهم.

پـوه سـه! چي د اسم څخه دلته معنای نحوي نه ده مراد وهو اللفظ الموضوع لمعنی مفرد لانه اصطلاح متجددٌ لایعرفه العرب الذی نزل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بلسانهم القرآن. فاالمراد من الاسماء آه مايدل على ماهيات الاشياء من الفاظها وصفاتها وخواصها. قاله الفاضل الشيرواني رحمه الله في حاشية البيضاوى.

فائدة :لفظ د آدم عجمي دى لكه آذر د (اُدمة) څخه دى بضم الهمزة وهى السمرة ، اى گندم گون شدن. لأن لونه كان كذالك.

او يا د (آدمةُ) څخه مشتق دى بفتح الهمزة بمعنى الأُسوة اى المقتداء لانه عليه السلام كان المُقتدى الاول فى بنى آدم عليه السلام.

او يا مشتق د (اديم الارض) څخه دى لما مرَّ انه عليه السلام خُلق من جميع تراب وجه الارض.

په روح البيان كي وايي چي آدم عليه السلام ته په ابتداء الامر كي اوه لكه ۷۰۰۰۰۰ ژبي خداى ور ښوولي وه او چي د درختي څخه يې خورك وكى يعني هغه درخته چي دى خداى څني منع كړى وو تولـه ژبي خداى پاك څني واخيستله يعني څني هيري يي كړه يوازي عربي يي ور پريښوولـه. او چي بيا دى ومحكي ته خليفه او نبي مقرر سو تولـه ژبي يي بيرته وركړي، نو په هغو ژبو سره اولاد دده خبري كوي الى يوم القيامة.

درويش وايي چي عدد د اوه لكه ۷۰۰۰۰۰ ژبو بيلـه توقيفه د شارع نسي كيداى والله اعلم.

روح البيان وايي چي آدم عليه السلام ته زر كسه خداى ﷻ ورو ښولـه او ورته وي ويله چي اولاد ته دي وصيت وكړه چي كه دنيا غواړي په دغو كسبو سره يي غواړي او دنيا په دين او شرع سره مطلبوي لكه بعضي ملايان د عصر حاضر.

واعظان كين جلوه درحجرات منبر ميكنند ٭ چون بخلوت ميروند آن ديگر ميكنند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي صاحب د روح البیان په تفسیر کي ددي آیت (وعلم آدم الأسماء الآیة) ډیر په زړه پوري بیان موافق د مذهب سره د جمهور مفسرینورح او د مسلك سره د معظم د محدثینورح داسي کړی دی.

(أی ألْهَمَهُ فوقع فی قلبه) خدای ﷻ الهام وکړی و آدم ته یعني د آسماء د شیانو نو هغه نومان دده په زړه کي واقع سوه. او بیا پر ژبه دده یي جاري کړه. هغه نومان چي په زړه کي دده وه، یعني ټوله مُسمیات یي و آدم ته حاضر کړه او د هر شي نوم یي په هره ژبه ور وښوی الهاماً. مثلاً آس یي حاضر کړی او دی یي خبر کړی الهاماً چي دا فرس بولي په عربي او اسپ یي بولي په فارسي او آس یي بولي په پښتو او ګوړا یي بولي په اردو. و هکذا سائر لغات الفرس فی السنة اولاده وهکذا هذ بعیر وهذا فلان و فلان. او آدم یي خبر کړی د هر مسمی په احوالو او په منافع دینیه وو او دنیویه وو. او دغه یي ده ته نومان د ټولي اولادي ددې تر یوم القیامت، ور وښودله. وهکذا اسماء الملائکة واحوالهم. وهکذا اسماء الحیوانات ومنافعها الدنیویة وهکذا اسماء الجمادات والفوائد المتعلقة بها وهکذا اسماء المدن والقری و اسماء المصنوعات البشریة الی یوم القیامة وهکذا اسماء المصنوعات له تعالی والمطعومات والمشروبات فی الدنیا والجنة حتی القصعة والقُصیعة انتهی محاصله.

او قاضي بیضاوي ﷺ په ډیره ښه توګه و تفصیل مذکور ته اشاره کړي. اوقاضي ثناء الله په تفسیر مظهری کي په تفسیر کي د آیت مذکوره اول داسي ویلي دي: قال اهل التفسیر المراد اسماء الخلائق. قال البغوی ﷺ قال ابن عباس رض ومجاهد ﷺ و قتادة ﷺ (علمه اسم کل شیئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حتى القصة والقصيعة) وقيل اسماء ماكان ومايكون الى يوم القيامة. وقال الربيع بن انس رح اسماء الملائكة و اسماء ذريته، الى ان قال: قال اهل التأويل : علم آدم جميع اللغات ثم تكلم كل واحد من اولاده . دا ټوله اقوال چې د صحابه رض او تابعينو رح او علماء راسخينو رح څخه منقول وه څرنګه ده رد کړه؟ او ده دليل دا ويلى دى: كه مدار د فضل د آدم پر ملكو دا زده کړه دټولو اسماء واى، نو بايد چې آدم عليه السلام دي پر سيد البشر صلى الله عليه وسلم هم افضل واى، ولي چې دعليه السلام دا مذكوره ټوله اسماء او فوائد د مسمياتو ددغه اسماء نه وي زده.

درويش وايي چې فضيلت د آنحضرت سيد البشر صلى الله عليه وسلم خو پر ټولو انبياء عليهم السلام په سبب د كثرت د كمالاتو علميه وو اوعمليه و وو او د معجزاتو عاليه او حضور قلبي او معراج وغيرها سره دى.

او دآدم دا تفضيل پر خير البشرﷺ خو تفضيل جزئي دى. او د تفضيل جزئي څخه خو انكار نه دى روا. مثلاً موسى عليه السلام عصا او يد بيضاء درلودى او من و سلوى يې پر قوم باندې نازليده او د دېرې څخه اوبه دده په وهلو راوتلي، نو په دي سبب بايد موسى عليه السلام افضل تر خير البشر سي، ولي چې عليه السلام ته دا امور نه دي وركړه سوي. وهكذا عيسى عليه السلام ته احياء الموتى، ابراء الاكمه والابرص وركړه سوي وه او عليه السلام ته نه وه وركړه سوي، نو به موږ وايو چې عيسى عليه السلام تر سيد البشر افضل دى. وهكذا سائر الانبياء على نبينا و عليهم الصلوة والسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: تر دي ټولو علاوه. په بخاري وغیره کي راغلي دي چي انصارو د مدیني به هر کال د خرما د درختو پیوند به یي کاوه چي (تابیر) یي بولي نو علیه السلام ودوی ته وویل چي بي ځایه تکلیف ولي تاسي کوی. خالق د میوو خو خدای ﷻ دی جلت قدرته، نو کشکي دا تکلیف مو نه کولای. نو صحابه ﷺ تابیر پریښوی او د خُرما درختو په هغه کال مېوه بیخي وعدم ته نژدي سوه. خلګو یعني صحابه کرامو دا شکایت و علیه السلام ته پیش کړی. نو علیه السلام ورته وویل: أنتم اعلم بأمور دنیاکم وانا اعلم بامور دینکم. نو مورِ به صحابه رض تر علیه السلام افضل ټولو کما یقتضیه قول القاضی رحمه الله . او بل دا چي نوع انساني په اتفاق د اهل عقل او نقل تر ټولو انواعو د حیواناتو افضله ده او سره ددي چي اوښ پنځوس منه بار په شا وړای سي. او دري کسه هم په شا وړای سي او زید و عمر مثلاً دا کار نسي کولای، نو باید مورِ اوښ افضل تر انسان وټولو وهکذا البقر والحمار وغیرها من الحیوانات لکل منها خواص لا تُوجد فی الانسان.

آخر قاضي رحمه الله ویلي دي چي عندي معنا د آیت داده: (وعَلَّم آدم الاسماء الالهیة کلها) او بیا ده پر خپله دا توجیه سوال کړی دی. چي اسماء دخدای جل سلطانه خو غیر متناهی دي، ولي چي خدای پاك چي قدیم او ازلي ابدي ذات دی او دهر فعله څخه وده ته یو اسم پیدا کیږي. وقال عزّ من قائل: (کل یوم هو فی شأن) نو څرنګه به علم البشر الممکن چي دهغه علم خومتناهی دی پر ټولو اسماء الهیه و غیرمتناهیه وو به احاطه وکړي. او بیا یي جواب داسي ورکړی دی: ان الله علم آدم الاسماء کلها علماً اجمالیاً انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي چي داسي علم اجمالي خو هرچاته حاصل دی کما جاء فی الحدیث الصحیح الذی رواه ابن حبان والطبرانی والحاکم و احمد عن ابن مسعودﷺ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اسئلك بکل اسم سمیتَ به نفسك او انزلته فی کتابك او علّمته احداً من خلقك او استأثرت به فی علم الغیب عندك. نو ددي حدیث مبارك په اوریدو خو موږ هم دغه دعاء کولای سو. نو په دي علم اجمالي کي د آدم علیه السلام څه تفضیل دی پر ملکو بلکه پر افرادو د امت محمدیﷺ.

درویش وایي چي بیرته قاضي رحمه الله پر خپل ځان په سبب ددغي توجیه داسي سوال کړی دی. فإنقیل لم یقل بماقلتَ احدٌ من المفسرین فهو قول القرآن بالرای وذالك غیر جائز.

روی البغوی رحمه الله بطرقٍ عن ابن عباسٍ ﷺ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قال فی القرآن برایه فلیتبوء مقعده من النار. انتهی. او بیا یي ددي سوال جواب په یوه توجیه کړی دی چي والله اعلم چي څرنګه به وي.

درویش وایي چي دپاره د رد ددا قول د مظهري رحمه الله دغه کافي ده چي ده پخپله اعتراف کړی دی. چي دده تفسیر د اجماع څخه د ټولو مفسرینو من الصحابة ﷺ والتابعین رح وتبعهم والأئمة المحققین رح مخالف دي، فلا نأخذ به والله اعلم بالصواب.

پوښتنه: خدایﷻ خو تفضیل د آدم علیه السلام پر ملکو په دي سره وکړی چي آدم علیه السلام ته اسماء المُسمیات معلوم وه او ملکو ته نه وه معلوم، نو پوښتنه داده چي آدم علیه السلام ته خو خدایﷻ ورښوله،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نو که يي وملکو ته ور ښولي واى او پر آدم ع يي عرض کړى واى نو خو آدم علیه السلام به هم عاجزه واى؟

جواب : په ملکو کي استعداد د هغو شيانو د ښونې الهاماً نه وو. حاصل داچي آدم ع ته خداى ﷻ اجزاء مختلفه ورکړي وه لکه زړه، دماغ، اينه او قوي جسمانيه ظاهره لکه حواس خمسه او د بدن نور اجزاء او قوي باطنه لکه خيال، وهم او نوري قواوي چي د هغو تفصيل په (تشريح الابدان) کي د علم طب موجود دى. نو چونکه دغه قوى مختلفه او اجزاء متباينه په آدم ع کي موجود وه او په ملکو کي نه وه، نو ځکه آدم عليه السلام ددغه زده کړي د اسماء المسميات المختلفه او د خواصو متنوعه او د اصول د علوم او د قوانينو د صناعاتو مستعدوو او خداى ﷻ الهاماً يا په علم ضروري دى په خبر کړى. او په ملکو کي چونکه دغه اجزاء مختلفه وغيرها نه وه، نو ځکه خاى د الهام ددغو شيانو او د خواصو دهغو په ملکو کي نه وو. هذا حاصل ما اجاب به القاضى البيضاوى رحمه الله.

درويش وايي چي حاصل ددې جواب دادى چي خداى جل سلطانه دمخه تر خلق د آدم عليه السلام وملکو ته وويل : (إني جاعل فى الأرض خليفة) يعني د مخکي د عمران دپاره آدم عليه السلام او دده اولاد پيدا کوم. نو په عمران کي د مخکي خو اکسابو مختلفه وو ته لکه نجاري، بنائي، کښت کري، خياطي ، يوې غوبل، آسان ځغلول او په غويږ غوبل او يوې کول. او مثلاً پر بائيسکل سپر ېدل او موټر او موټرګاړۍ چلول وامثال ذالك كثيرة. او په ملکو کي ددې شيانو استعداد نه وو او په آدم عليه السلام کي او په اولاد کي دده استعداد موجود وو. نو ځکه آدم عليه السلام ددغو شيانو و امثالها په زده کړه د خلافة الارض وعمارتها

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دپاره تر ملکو اولی او افضل او الیق دخدای ﷻ دخوا انتخاب سو او ملکو ته خدای ﷻ دا وښودله چې تاسي د خلافت د مځکي او د آبادۍ دمځکي دپاره کافي نه یاست. او هغه ددوی و پوښتني ته یې (اتجعل فیها من یفسد فیها) الآیة قناعت بخشه جواب ورکړی.

ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ

او بیا یعنې وروسته تر تعلیم د آدم پیش کړه هغه پر ملکو یعنې دپاره د امتحان

پوه سه! چې ټوله مفسرین رح وایي چې ضمیر راجع دی و مسمیاتو ته.

پوښتنه: مُسمیات خو دمخه نه دي ذکر سوي، نو اضمار قبل ذکر المرجع نه لازمیږي؟

جواب: دپاره د راجع کولو دضمیر ذکر د مرجع ضمناً هم کافي دی. وههنا کك اذالمراد فیما سبق اسماء المسمیات، نو مضاف الیه حذف سو او پر ځای یې الف او لام راغلي کما فی قوله تعالی (واشتعل الرأس شیباً) ای رأسی.

پوښتنه: لفظ د (هم) مذکر دی او مسمیات خو ټوله مذکر نه دي؟

جواب: هو، لکن په ضمیر کې تغلیب یې ذکور ته ورکړی. وقدمرَّ.

درویش وایي تغلیب یو پراخه باب دی په عربي ژبه کې. لکه (قَمَرَیْن او اَبَوَیْن) وغیر ذالك او د تغلیب اسباب نحاتو مختلف بسوولي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مثلاً په قمرینو کي قمر مذکر او شمس مونث سماعي دی نو یې تفضیل ورکړی او قمرین وویل سوله او شمسین نه ویل کیږي.

وهکذا فی الابوین او امویین نه ویل کیږي. او په عمرینو کي که څه هم ابوبکرؓ تر عمرؓ افضل دی لکن لفظ د عمر اخف دی. الی غیر ذالك من الاسباب المذکورة فی النحو للتغلیب.

فَقَالَ اَنْبُوْنِیْ

نو خدایﷻ ملکو ته ووېل چې تاسي خبر راکړئ ماته

پوښتنه : خدایﷻ ته خو معلومه وه چې ملکو ته ددي شیانو اسماء نه دي معلوم، نو دا امر په مالایُطاق سره نه دی؟

جواب : امرتکلیفي په مالایُطاق سره نه دی روا او دلته خو امر تعجیزي دی یعني دپاره د اظهار د عُجز د ملکو او د اظهار د عدم لیاقت ددوی خلافت لره.

تنبیه: اخبار وچاته مقتضی د عدم علم د هغه چا پر مضمون د خبر نه دی حتی یلزم مایتوهم تدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ

المشار اليه هغه مسميات دي بناء پر تقدير د مفسرينو او يا بناء پر هغه دی چي ويل کيږي چي مشار اليه آدم عليه السلام دی او آله دی. او اضافته د ادناملابسته دی ای الاسماء التی علت هؤلاء الخ . المظهری

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ

يعني په هغه ګمان کي ستاسي چي مورِ حقداره د خلافت يو په سبب زمورِ د نه عصيان څخه. او يا چي د بني آدم دلاسه به فساد او قتل و قتال کيږي. نو حق د خلق نه لري فضلاً عن الخلافة .

پوښتنه : دغه دوي خبري خو دوی صراحتاً نه وي کړی؟

جواب : هوکي تصريح يي هم نه ده په کړي لکن ددوی د خبرو معلوميدله. اوله خبره ددي قول ددوی سره لازمه (ونحن نُسبح) آه او دوهمه خبره ددي قول څخه معلوميدله (اتجعل فيها من يُفسد) آه.

پوښتنه : د منطقو او د معاني وو په کتابو کي وايي چي تصديق او تکذيب په جملو خبريه وو پوري خاص دی او وه انشاءاتو ته د صدق او کذب او تصديق و تکذيب نسبت نه کيږي، نو ملکو خو په طور د استفهام چي د انشاءاتو د قسم څخه دی وي ويل: (اتجعل فيها)آه.

جواب : نسبت د صدق او کذب آه خو انشاءاتو ته نه کيږي، مګر که د کومي انشاء سره اخبار لازم وو په اعتبار د لازم نسبت د صدق او کذب آه ورته کيږي. او دلته اخبار د ملکو د استفهام سره لازم وو کمامرّ آنفاً. کما

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فی قوله تعالی:(إذا جاءك المنافقون قالوا نشهد إنك لرسول الله والله يشهد انك لرسوله والله يشهد إن المنافقين لكاذبون) نو منافقانو خو صرف نشهد آه وويله او شهادت خو د قسمه د انشاء دی کما فی المطول وغيره او سره دهغه خدای ﷻ نسبت د کذب ودوی ته وکړی. نو مفسرين رح وايي چې دا نسبت د کذب و دوی ته په اعتبار د لازم د شهادت ده. ولي چې شاهدي خو هغه بولي چې د صميم قلب څخه وي او ددوی شاهدي خو د صميم قلب څخه نه وه، نو ګويا دوی وروسته تر (نشهد) آه دا هم وويل:(إن شهادتنا عن صميم القلب) څخه ده او دا خبره ددوی درواغ وه. بيضاوي.

درويش وايي که ددې خبري يعني چې نشاء ته نسب د صدق او کذب په اعتبار د لازم روا دی، نو مطول يا مختصر يا بل کتاب د معانی وو مطالعه کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۳۲﴾

ملکو وویل: پاکي ده تا لره یعني د هر عیب او نقصان څخه او د اعتراضه پر تا باندي. هیڅ علم نسته مونږ لره یعني خصوصاً علم پر اسماء د مسمیاتو چي پر مونږ عرض سوه مګر پر هغه شي چي مونږ ته یې راوښیي او تعلیم یې راته وکړي. په تحقیق سره ته په ډیرو خبرو په ټولو کائناتو سره خبر یې. او حکیم یې، یعني هر کار چي ته یې کوي په هغه کي حکمت لري، یعني لکه په خصوص د خلق د بشر او خلافت ددوی په مځکه کي.

حاصل د کلام د ملکو اقرار دی په خپل عُجز او قصور سره او په عین حال کي دوی اشاره ودي ته هم وکړه چي زمونږ پوښتنه په (اتجعل فیها) آه محض او صرف پوښتنه ستا د حکمت جلیله وه په خلق کي د عالم البشر او اعتراض نه وو. دلیل د نفي د اعتراض دادی چي څوك چي علم نه لري پر هیڅ شي نو هغه به پر احوالو د آدم او د خلافت دده څه علم ولري؟ یو څوك چي علم نه لري، هغه به اعتراض څرنګه وکړي. بل غایة الأمر أن یسأل عن الحکمة المخفیة فی ذالك الخلق وتلك الخِلافة العظیمة. او مونږ ته معلوم سو هغه شی چي زمونږ څخه پټ وو یعني فضیلت د انسان چي په اعتبار د علم دی پر کارو د خلافت الارض. او ملکو لوی مراعات الادب وکړی دخدای جل سلطانه په دربار کي چي سلب کلي د علم یي د خانه څخه وکړی بیله تعلیم الهي، اګرچه خبره په خصوص کي د خلق آدم وه، نو سلب کلي ته د علم څه ضرورت وو؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائدة: (سُبحانك) یوه کلمه ده چې تر توبې دمخه و دربارته د خدای ﷻ وړاندې کیږي. کما قال موسی علیه السلام سبحانك تُبتُ الیك. وقال یونس علیه السلام سُبحانك انی کنت من الظالمین.

نصیحت: عالم ته پکار ده چې لویې او کبر دې نه کوي، چې په هغه شي نه پوهیږي او دی ووایي چې زه نه په پوهیږم. او که په یو شي پوهیدی هغه دې د چا څخه نه پتیوي یعنې چې اهل یې وي. علماء حقاني وایي چې (لاأدري نصف العلم) دی.

فائدة: د یو عالم څخه چې هغه پر منبر ناست وو چا د یوې مسئلې پوښتنه وکړه. هغه عالم ورته وویل: (لاأدری). سائل ورته وویل چې منبر د جهالو ځای نه دی. عالم ورته وویل چې زه چې دوې څینې د منبر تر تاسې لوړ ناست یم دا مې دعلم اندازه ده، او که په قدر د جهل او ناپوهی تر تاسې لوړ سم، نو زه به پر آسمان یم او تاسې پر مځکه.

او دغه رنګه د قاضي ابو یوسف ﷺ چې پر منبر د جمعې د ورځې ناست وو، یو جاهل پوښتنه د یو مسئلې څنې وکړه چې لویه مجمع د جمعې د لمانځه دپاره حاضره وه. امام ابو یوسف ﷺ ورته وویل (لاأدری) هغه سړي په ډیر بې حیائي ورته وویل چې د بیت المال څخه د میاشتې دونه تنخاه اخلي او بیا وایي (لا أدری)

قاضي ابویوسف ﷺ د انصاف څخه کار واخیستی او کبر یې نه وکړی د سائل د خبرې څخه او داسې یې ورته وویل چې دا تنخاه چې تا یې ذکر وکړی، دا خو زما د علم په اندازه ده. او که زما د جهل پر اندازه څوك تنخاه راکړي، نو د بیت المال ټوله شتمني به زما په تنخاه کې ولاړه سي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي حقاني علماء دغسي وي. او که زموږ د زماني یو مُلا ته چي پر منبر د وعظ دي ناست وای او لویه مجمع دي هم وای، داسي خبره څوك وکړي والله اعلم چي څه ناشُدي به يي ویلای.

درویش وایي چي د (سُبحان) تحقیق که څه هم په شروحو کي د (سلم المنطق) موجود دی، لکن چونکه قرآني لفظ دی نو حواله د تفصیل يي پر کتابو د منطقو نا زیبا ده. لهذا د قاضي بیضاوي رحمه الله تحقیق ددي لفظ قرآني ډیر په زړه پوري دی.

هغه وایي (سُبحان) مصدر دی لکه (غُفران) او قریب نه ده چي (سُبحان) دي مستعمل سي مګر نه مضاف او منضوب په فعل محذوف سره. نو اصل يي داسي وو (سَبّحانك سُبحاناً) انتهى بزيادة.

درویش وایي چي قاضي بیضاوي رحمه الله او ده په متابعت قاضي ثناءالله رحمه الله په تفسیر مظهری کي او نور ګنړشمیر مفسرین رح وایي چي ملکو چي خپل جواب مُصدر کړی په (سُبحانك) سره چي مفتاح التوبة دی کمامرَّ، ددي سببه چي ددوی د حال سره مناسب چي (عبادمکرمون) دی په وخت کي ددي چي خدای ﷻ ودوی ته وویل: (إني جاعل في الأرض خليفة) داوه چي دا پوښتنه که څه هم اعتراض نه وو، نه يي وای کړي (اتجعل فيها) آه بلکه مراعات د ادب يي کړي وای او انتظار يي کړی وای چي حکیم خدای ﷻ چي ددوی په وجدان خبر دی بیله سواله ددوی د حکمت جلیله پر خلق د آدم او په خلیفه ګرځولو په مخکه کي بیان به وکړي، نو ځکه دوی (سُبحانك) ووایه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآىِٕهِمْ ۚ

خدای ﷻ وویل اي آدم خبري که ملکي په نومانو سره ددغو مسمیانو یعني چي دوی ته حاضر دي.

پوه سه! چي قرائت د (انبئهم) دري دي. یو په همزه سره کما رئیت او دوهم په (یاء) سره هکذا(انبیهِم). دریم په حذف د (یاء) هکذا(انبهم).

فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآىِٕهِمْ ۙ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۙ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿۳۳﴾

نو څه وخت چي آدم خبري کړي ملکي په نومانو سره دهغو مسمیانو یعني سره د خواصو دهغو، نو خدای جل سلطانه ملکو ته وویل چي ما تاسي ته نه وه ویلي چي زه خبر یم په پټو شیانو سره د آسمانو او د مځکي او زه خبر یم په هغه شي چي تاسي ښکاره کړی. اوپه هغه شي چي تاسي پټ ساتی.

پوه سه! چي (الم اقل لکم) آه اشاره ده وهغه قول ته دخدای ﷻ (انی اعلم مالا تعلمون) لکن په هغه آیت کي مجملاً خدای ﷻ دوی ته بیان کړی وو او په دي آیت کي یي مفصلاً بیان ورته وکړی. نو دا مفصل به پر هغه مجمل دلیل سي ،ولي چي خدای ﷻ پر هغو شیانو چي د ملکو څخه پټ وه یعني دوی ته نه وه معلوم په آسمانو او مځکه کي او په هغو شیانو چي دوی ته ښکاره فیها، نو دا خبره دخدای ﷻ ثابته سوه چي (اعلم مالاتعلمون) نو په دي آیت کي خدای پاك ﷻ اشاره ودي ته وکړه چي ملکو ته په وخت کي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مشوري دخدای ﷻ داسي نه وای ویلي. (اتجعل فیها من یفسدفیها) آه بلکه انتظار د اظهار د حکمت الهي په خلق کي د آدم و بیان الهي ته کړی وای، ولي چي خدای ﷻ ته هغه وسوسه قلبي ددوی معلومه وه. نو خامخا دهغي وسوسي بیان په حکمت الهي سره ملکوتا کاوه. لکن چونکه دوی مراعات الادب وماهو لازم علیهم نه وکړی او په اول وار کي دمشوري هغه خبره وکړه (اتجعل فیها) آه نو خدای ﷻ دوی د تقصیر او عجز په غشي وویشتله او داسي یي ورته وویله (انبئونی) آه حتی دوی مجبوره سوي د عجز وجواب ته بقولهم(سبحانك لاعلم لنا الآیة). او وروسته ارحم الراحمین ودوی ته حکمت خپل په خلق د آدم او په خلافت الارض کي دده وملکو ته بنکاره کړی بقول تعالی(یاادم انبئهم بأسماء هؤلاء) آه. دا وو بیان د حال د آدم علیه السلام او د ملکو. والله علیم حکیم

فائـــدة: چي حسن البصری رحمه الله او قتاده رحمه الله وایي چي مراد د (مائبدون) څخه هغه قول د ملکو دی. (اتجعل فیها من یُفسدفیها) آه او د (مانکتمون) څخه مراد هغه ددوی د زړو پټه خبره ده چي موږ حقدازه د خلافت یو. او تر موږ اکرم مخلوق به خدای ﷻ نه کړي پیدا.

او بعض مفسرین وایي چي د (مائبدون) څخه د ملکو اطاعت مراد دی او د (مانکتمون) څخه د ابلیس معصیت مراد دی.

پوښتنه: کاتم څو پر دي تفسیر یوازي ابلیس وو، نو په صیغه د جمع یي څرنګه راوړی، یعني (ماکنتم تکتمون)؟

جواب: دا پر عادت د عربو بنا دی چي په یو قوم کي چي یو سړی جنایت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړي دوی ټوله قوم ته وایي: (أنتم فعلتم كذا)

فائدة: ددي آیت څخه دا معلومه سوه چې انسان من حیث هو مع قطع النظر عن الافراد مشرفه دی تر ملکو من حیث هم مطلقاً مع قطع النظر عن الافراد.

او بل دعلم فضیلت پر عبادت هم معلوم سو. اوبل دا هم معلومه سوه چې شرط اول دخلافت علم دی. او بل دا هم معلومه سوه چې د تعلیم نسبت په فعل سره خدای ﷻ ته صحیح دی حیث قال: (وعلَّم آدم الأسماء كلها) که څه هم د اسم فاعل ددغه باب نسبت یعنې (مُعَلِّم) و خدای ﷻ ته نه دی روا. ولې چې معلم په عُرف کې هغه چاته وایي چې پر تعلیم مزدوري غواړي. هم ددي سببه د مکاتبو ښوونکو ته معلمین وایي او و ښوونکو ته د طالبانو مدرسین وایي. یعنې په قدیمه اصطلاح کې، ورنه په اوسنۍ زمانه کې بعض ښوونکي د طالبانو د مکاتبو تر ښوونکو ډیر حریص دي په اُجرت د تعلیم، که څه هم دا اُجرت متاخرینو روا بللی دی او دا هم معلومه سوه چې د حکمت مفهوم زائد دی تر علم. وإلا لتكرر في قوله (إنك أنت العليم الحكيم) بيضاوی مع زيادة.

فائـــدة: ددي آیت څخه دا هم معلومه سوه چې علم د ملکو زیادت قبلوي، ولې چې پر اسماء المسميات علم ودوی ته نه وو حاصل، د آدم ع په ذریعه دوی ته حاصل سو. او دا هم معلومه سوه چې خدای تر پیداکولو د مخلوق د هغه مخلوق په ټولو احوالو خبر دی.

پوه سه! چې علم په اعتبار د ذات خو اشرف دی تر عمل، لکن لابُدَّ للعلم من العمل ولې علم لکه درخته ده او عمل یې میوه ده او خلګ د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درختي د ميوي څخه فائده اخلي. وقدجاء فی حدیث رواه ابوذرؓ چي رسول اکرم ﷺ وویل چي یو وار حضور و مجلس ته د علم یعني علم الدین افضل دی تر زر رکعته لمونځ یعني نفلي. او تر پوښتني د زرو مریضانو او تر حضور د زرو جنازو. نو چا پوښتنه څني وکړه چي تر تلاوت د قرآن هم افضل دی؟ نو علیه السلام ورته وویل (هل ینفع القرآن إلا بالعلم، و ورد فی الحدیث من اراد ان ینظر الی عتقاء الله من النار فلینظر الی المتعلمین فوالذی نفس محمدﷺ بیده ما من متعلم یختلف ای یذهب و یجیئ الی باب العالم إلا یکتب الله له بکل قدم عبادة سنةٍ ویبنی له بکل قدم مدینةٌ فی الجنة ویمشی علی الارض والارض تستغفرله ویمسی ویُصبح مغفوراً له.

درویش وایي چي دا لوی ثوابونه د هغه مُتعلم دپاره دي چي په طلب د علوم شرعیه لکه علم التفسیر او علم الاحادیث النبویهﷺ او علم الفقه. و أصول العلوم الثلثة ومبادیها وباب ته عالم ددغو علمو څي. نه طالب د حکمت طبعی او منطق او ریاضی وغیرها کمالایخفی.

وفی الحدیث الصحیح النظر الی وجه الوالد عبادة ای بالنظر علی وجه الشفقة والتعظیم لاوجه الغضب والاهانة. والنظر الی الکعبة المکرمة عبادة ای علی وجه الاحتساب. والنظر فی المصحف عبادة ای ولولم یکن قارئاً. والنظر إلی وجه العالم عبادةٌ. لعل المراد به العالم الصالح العامل لا العالم الفاسق المتکبر الذی یشتری بعلمه ثمیناً قلیلاً ویماری به السفهاء ویُجادل به العلماء ویُفاخر بعلمه علی العلماء و یعق اساتذته و یُعظِّم اهل الدنیا. قالﷺ من زار عالماً فکانما زارنی ومن صافح عالماً فکانما صافحنی الی آخر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحديث.

واعظان کین جلوه درمحراب ومنبر میکنند ÷ چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

پوه سه! چې په احادیثو مبارکه و کې په شان د عالم غیرعامل بعلمه ډیر سخت وعید راغلی دی. نو هغه عالم د احادیثو مذکوره و څخه وتلی دی. په حدیث مبارک کې راغلي دي چې علیه السلام وایي چې د یو شرموښه چې په بې شپانه رمې کې سي دونه نه بیریږم لکه د یو عالم سوء څخه چې زما په اُمت کې پیدا سي.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ

او په یاد که وخلګو ته هغه وخت چې مونږ وویل ملکو ته چې سجده وکړئ و آدم ته.

پوه سه! چې سجده په اصل لغت کې تذلل او عاجزي ته وایي اوپه شرع شریفه کې اینسوول د تندي دي پر مځکه باندي په قصد د عبادت.

فائدة: که مراد په آیت شریفه کې د سجدې څخه معنای شرعي وي، نو مسجودله په حقیقت کې خدای جل جلاله دی او آدم علیه السلام یې صرف قبله د سجدې ده. دپاره د تعظیم د شان دده او دپاره د اقرار د ملکو په هغه شي سره چې دوی اولاً انکار څنې کاوه یعنې فضیلت د آدم او دلیل ددې چې مراد سجده شرعي ده هغه حدیث دی چې روایت یې امام احمد رحمه الله او مسلم رحمه الله کړی دی د ابوهریره رضي الله عنه څخه چې څه وخت بنې آدم سجده وکړي یعنې چې آیت د سجدې ووایي، شیطان ګوښه سي او وژاړي او ووایي چې اې افسوس مالره، بنې آدم په سجده سره امر سو او سجده یې وکړه، نو ده لره جنت دی. او زه په سجده سره امر سوم، ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سجده ونه کړه، نو مالره دوږخ دی. نو پر دي تقدير لام د (لآدم) په معنا د الی دی. يعني الی جهة آدم لکه په دې قول کې د حسان﵁ په مدح کې د سيدنا ابوبکرصديق﵁: (ألـيس اولُ من صلّى لِقِبْلتكم واعرف الناس بالقرآن والسُّنن ای قبلتكم) او بعض مفسران رح وايي چې آدم خدایﷻ سبب د سجدې د ملکو وګرځاوه، يعني دپاره د توبې د ملکو چې اول وار ددوی څخه داسي يوه خبره سوي وه چې ظاهراً يې صورت د اعتراض وو. نو پر دې تقدير لام د (لآدم) دپاره د سببيت دی نحو (أقِمِ الصلوة لدلوك الشمس) او که چيرې مراد د سجدې څخه معنای لغوي وي، يعني صرف تواضع او تذلل و آدم ته دپاره د اعزاز او تعظيم د آدم چې هغه صرف انحناء ده لکه په وخت کې د تعظيم د يوچا بل سړي ته سر ورته کښته کړي. لکه سُجده د ورونړو د يوسف عليه السلام وده ته کماورد فی القرآن وسياتی انشاءالله تعالی بيانه. نو بيا هيڅ اشکال په سُجده کې د ملکو و آدم ته نسته، ولي چې حرام خو سجده شرعي وغير ته دخدایﷻ ده. او سجده لغوی خو په پيشو امتو کې زمونږ د سلام په ځای کې وه، دپاره د تحيه. او مونږ يې اوس مکروه وبولو، ولي چې دهغې په ځای کې مونږ ته السلام عليکم تحيه يو دبله وګرځوله.

امام بغوی ﵀ وايي چې دا قول اصح دی. ولي چې توجيه د سجدې ته حاجت نسته.

پوښتنه: ملکي او شيطان ولي په تعظيم د آدم سره مامور سوي؟

جواب: دپاره دحق د تعليم الاسماء چې آدم ودوی ته وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفریع: چونکه طالبان دعلومو په ځپل قوت عقلیه د کتابو په مغز نه پوهیدله او استاذانو دوی پوه کړه، نو ددې په مقتضی باید شاگردان د استاذانو تعظیم او احترام وکړي. او هغه شاگردان چې د استاذانو احترام ظاهراً و باطناً ولري، هغه لکه ملکي دي او هغه بعض شاگردان چې د استاذانو احترام نه لري بلکه داسي خبیث النفس شاگران هم ستنه چې د استاذانو احترام خو څه کوي په مقابل او پر ضد د استاذانو ولاړ وي. هغه شاگردان لکه ابلیس دي او بیله ویلو د استاذانو، د استاذانو دخوا عاق دي.

فائدة: دعقوق د استاذانو ذکر او تفصیل او په زړه پوري بیان په حواله د کتابو د تفاسیرو او د فقه د کنز الدقائق په پښتو شرح کې او په دوهم جلد کي فقیر کړی دی. او مُستقل فصل مي ورته وضع کړی دی.

انر خداخواهیـر توفیق ادب * بي ادب محروم ماند انر فضل رب

پوه سه! چې ملا عصام الدین په حاشیه کي د بیضاوی وایي: ففیه بیان حق المعلم علی المتعلم حتی لوکانت السجدة الشرعیة جائزةً للمخلوق لاستحقها المعلم علی المتعلم انتهی.

فائدة: سجده کول و آدم ته په هره معنا چې وي ځلرم نعمت دخدای جل سلطانه وتولي ذریې ته د آدم علیه السلام دی فعلیهم ان یُفکروا فی هذه النعمة ویؤمنوا بسیدالبشر صلی الله علیه وسلم ففیه شناعة علی المشرکین و الیهود والنصاری وغیرهم حیث لم یشکروا تلك النعمة ولم یؤمنوا بمحمد صلی الله علیه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسَجَدُوٓا اِلَّآ اِبۡلِيۡسَ ؕ اَبٰى وَاسۡتَكۡبَرَ ۫

يعني وروسته تر امر الهي په سجده سره و آدم ته سجده وکړه ملکو يعني ټولو په اتفاق سره لکه چې په بل ځای د قرآن مبارک چې رابه سې (فسجدالملائكة كلهم أجمعون) والقرآن يفسر بعضه بعضاً كما هوالمقرر فی التفاسير والاصول والفقه، مګر نه ابليس. او هغه منع وکړه دسجدې کولو څخه د آدم. او د امر الهي مخالفت يې وکړی او څان يې لوی وباله تر آدم عليه السلام. يعني نو به څرنګه دی آدم ته سجده کوي، که سجده په معنا د نفس تعظيم د آدم وي. او که سجده و خدای ﷻ ته او آدم يې قبله او وسيله وي کمامرً من المعنيين للسجدة.

پوه سه! چې **تکبر** دادی چې يو څوك څان تر بل مشرف او بالا وبولي. او **استکبار** طلب دی د لويي په تکلف سره، ولي په شافيه کي وايي چې باب د تفعل اکثر دپاره د تکلف راځي په مجرد کي دهغه باب چې کبر دی فيما نحن فيه. او سين دپاره د طلب دی.

پوه سه! چې قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې ددې آيت څخه يعني (وإذقلنا للملائكة)آه دا معلومه سوه چې آدم عليه السلام افضل دی تر دغو ملکو چې امر د سجدې ورته وسو، که څه هم تفضيل دده په يوه وجه سره دی. يعني من حيث العلم، ولي چې ملکي خو په عبادت قديمه کي تر آدم افضل دی. او دا هم معلومه سوه چې ابليس د جنسه څخه د ملکو وو، ولي که دی د ملکو څخه نه وای، نو امر د سجدې د ملکو وده ته نه شاملیدی، نو دده سجده نه کول (ابا) او استکبار او معصيت به نه وای او دی به مستحق د لعنت او د ذم او عقاب به نه وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په بل آیت کي خدای جل سلطانه وابلیس ته وایي چې تا ولي سجده آدم ته و نه کړه (إذ أمرتك) به څرنګه صحیح سي، ولي چې ابلیس خو جواب لري چې امر د سجدې خو تا ملکو ته کړی وو، زه خو ملکه نه یم. او بله خبره داده چې استثناء د ابلیس به څرنګه صحیح سي، یعنې فی قوله تعالی (فسجدوا إلا إبلیس) ولي اصل په استثناء کي خو استثناء متصل ده. او په استثناء متصل کي خو دخول دمستثنی به په مستثنی منه کي شرط دي نحو جائنی القوم إلازید کما تقرر فی النحو.

پوښتنه : په بل آیت کي دقرآن مبارك خو داسي راغلي دي: (کان من الجن) الآیة؟

جواب : دهغه آیت معنا دا کیدای سي چې ابلیس د جن څخه په جهت د فعل د معصیت او استکبار دی که څه هم د ملکو څخه وو په ذات کي.

پوښتنه : د ملکو په باره کي خدای ﷻ داسي وایي: (بل عباد مکرمون لایعصون الله)الآیة، نو پر مذکور جواب خو ابلیس سره ددي چې د ملکه و څخه وو او معصیت او انکار د امرالهي دسجدي یي وکړی؟

جواب : عصمت د ملکو په اعتبار د اغلب او اکثر دی. وثانیاً چې د ابن عباس رض څخه روایت دی چې د ملکو څخه یو قسم ملکي دي چې هغه توالد او تناسل لري چې وه هغه ملکو ته جن وایي. او عصمت دهغو خاصه نه ده. او ابلیس د هغه قسمه څخه وو. او بعض مفسرین رح وایي چې ابلیس ملکه نه وه، لکن چونکه دی جني و اُحُد یعني یو ټن وو او ملکي ډیري وې او دی په زړو ملکو کي پټ وو، نو ملکو ته یي تغلیب ورکړی پر ده، نوګویادی هم ملکه و، نو استثناء متصل یي صحیح شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې دا قول يعنې چې ابليس ملکه نه وو قول د حسن رحمه الله او قتاده رحمه الله دی، لکن اول مذهب دی د علی رضي الله عنه او ابن عباس رض، نو هغه قول راجح دی. **ولهذا ذهب اکثرالمفسرين رح اليه.**

درويش وايي چې بعضي مفسرين وايي چې مامور بالسجود لآدم جن هم وه يعنې لکه ملکي، لکن په دې آيت کې (**واذقلنا للملائکة**) آه د جن ذکر يې ونه کړی، ددې سببه چې ملکي خو تر جن افضلي او اشرفي دي، نو اکابر چې ملکي وي مامور بالسجود سوي، نو اصاغر په طريق اولی مامور بالسجود دي. نو پر دې تقدير ضمير د (**فسجدوا**) راجع وملکو او جن دواړو ته دی. نو استثناء د ابليس په استثناء متصل سره صحيح سوه. نو گويا داسې وويل سول: (**فسجدا المأمورون باالسجود الاّ ابليس**)آه

درويش وايي چې دا توجيه که څه هم منقوله نه ده، لکن معقوله ده فافهم.

فائدة: قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې ملائکه ټولي معصوم د ګناه نه دي، که څه هم غالب په دوی کې عصمت دي لکه انسانان چې معصومين پکښې سته، لکه انبياء عليهم السلام، که څه هم غالب په دوی کې عدم عصمت دي آه.

درويش وايي چې دا جواب د مشهورو څخه مخالف دی. **کمالايخفی والله اعلم بالصواب.**

پوه سه! چې بعضي مفسرين رح وايي چې په مابين کې د ملکي او د جن عموم او خصوص من وجه دی، نو جن هغه ته وايي چې استعداد د خير او شر دواړه پکښې وي، نو که داسې وو چې بيله خير يې بل کار نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه، نو هغه ته ملکه وایي. او که یې بیله شره بل کار نه کاوه هغه ته شیطان وایي.

درویش وایي چې دا حاصل د بیضاوي ددي عبارت (ولعل ضرباً من الملائکة لایُخالف الشیاطین بالذات وانما یخالفهم بالعوارض والصفات کالبررة والصقة من الإنس والجن یشملهما وکان ابلیس من هذا الصنف کما قاله ابن عباس رض فلذالك صح علیه التغییر من حاله والهبوط عن محله. کما قال عزَّ وعلا: «إلاَّ إبلیس کان من الجن ففسق عن امر ربه» إلی أن قال وهذا اشبه بالصواب اوفق للجمع بین النصوص یعنی لایحتاج الی القول بالتغلیب والاستثناء المنقطع والاکتفاء کمامرَّ من قبل والعلم عندالله)

درویش وایي چې د فواندو څخه ددي قصي د شیطان دا ښکاره سوه چې استکبار ډیره مهلکه ګناه ده او ګاهي سړی وکفر ته رسوي لکه ابلیس. سعدي

ګر عزازیل مرا خوار کرد ✣ بزندان لعنت گرفتار کرد

هذا ماعندیٰ والله اعلم بالغیب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۴﴾

او وو شیطان یعني ابلیس د کافرانو څخه

پـوه سـه! چي دلتـه یـو سوال او جواب طلب وارديږي چي (کـان) لفظ ماضي دی او ابلیس خو دمخه تر امتناع څخه د سجدې و آدم ته کـافر نه وو، بلکه ملکو به په عزازیل ورته ویله یعني معزز بنده دخدای ﷻ ؟

والجواب عنه بوجوه : بعض مفسـرین رح وایـي چي (کـان) په آیت کـي په معنـا د (صـار) دی یعني وګرځیدی اوس شیطان د کـافرانو څخـه. وجـه د کفر یې داده چي ده انکار او استقباح د امر الهي وکړه. دی امر سو په سجده وه آدم ته نه ددې سببه لکـه چي بعـض مفسـرین رح چي وایـي چي امر د سجدې دپـاره د و جوب وو، ابلـیس دهغـه ترك وکړی، ولـي چـي په ترك د واجب بیله انکاره خو څوك نه په کـافر کیږي **کما فی تارك الصلوة وغیرها من عُصات المؤمنین.** او پر وجه د انکـار او استقباح د امر اباحت هم سړی کـافر کیږي. **قال الله تعالی: (وإذاحللتم فاصطادوا)** یعنـي چي تاسي د احرام څخه د حج یا د عمرې خـلاص سی بیـا نو ښکار کـوئ. دا خو امر اباحت دی او سره ددې چي منکر یې کافر دی. او مستقبح یـي هـم کـافر دی. **فماقـال البیضـاوی** رحمه الله **فـی فوائـد الآیـة إنـه یعلم منـه انّ الامـر للوجوب لیس شیئ فتأمل.**

اوبعض مفسـران وایـي چي ماضي پر خپـل حال پاتـه ده **والمعنا کان فی علم الله من الکافرین.** نـو ددې جواب حاصـل دادی چي کـافر **فی الحقیقة** هغه څوك دی چي خاتمه یي پر ایمـان نـه وي، کـه څـه هـم په وخـت موجود کي مومن وي. دا دوه جوابونـه بیضـاوي او روح البیـان او تفسـیر مظهري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په اتفاق ویلي دي. تذليلٌ للجواب الثانی مذهب د اهل السنت دادی چې سعيد يعني مومن ګاهي شقي يعني کافر کيدای سي. او شقي يعني کافر ګاهي سعيد يعني مومن کيدای سي. نو مسلمان که کافر سي والعياذبالله نو دی مسلمان وو تر وخت د کفر په کفر سره د ټوله اعمال حسنه من الصلوة والزکوة والصوم والحج وغيرها. ټوله باطل سوه، که څه هم دی بيرته اسلام ته رجوع وکړي. او کافر که ايمان راوړي، نودی تر وخته د اسلام کافر وو او دی په اسلام راوړو سره مسلمان سو او د کفر په وخت کي چې يې ګناوي کړي وي هغه وده ته عفوه سوه. نو مسلمان ته ښايي چې په خپلو حسنه عملو سره دي نه مغروره کيږي، ولي چې خاتمه مستوره ده.

او بعض مفسران رح وايي چې (کان) پرخپل اصل معنی باقي دی. او معنا د آيت دادِه: وکان ابليس من القوم الکافرين الذين کانوا فی الأرض قبل خلق آدم يعنی الجن، نو دا آيت داسي دی لکه هغه آيت (کان من الجن) الآية.

او بعض علماء رح وايي چې ابليس په وخت کي د إشتغال بالعبادة منافق کافر وو. وفی الحديث النبوی ﷺ راغلي دي چې د عليه السلام څخه چا پوښتنه وکړه چې خير د خلګو څوک دی؟ عليه السلام ورته وويل چې هغه سړی دی چې عمر يې دراز وي او عمل يې ښه وي او بيا هغه سړي پوښتنه ځني وکړه چې فأیُّ الناس شرٌّ ؟ عليه السلام ورته وويل چې هغه سړی دی چې عمر يې دراز وي او عمل يې بد وي. او د شره څخه يې بيره وي او د خير اميد نه ورته کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفی روح البیان : رابعه عدوي رحمه الله وسفیان ثوري رحمه الله ته وویل چي ته په شمیر ورځي یې، نو چي یوه ورځ تیره سي نو ګویا ستا بعض اجزاء کم سوه. او قریب ده چي په مرور د ایام د عمر دي ټوله اجزاء ستا د مینځه ولاړ سي. نو باید ته په عمل کي د آخرت چي ستا ورته مخ دی کوشش وکړې. او دا مه وایه چي درهم او دینار ولاړی او یا مال راغلی، بلکه همیشه باید ووایې چي زما د عمر یوه شپه او ورځ کمه سوه او ما څه عمل پکښي وکړی؟ فمرور الایام واللیالی ینقضی العمر العزیز آخر الامر.

درویش وایي چي داوو نصیحت د یوې صالحه ښځي و عالم محدث مشهور ته رحمهما الله تعالی.

دیو عالم زاهد عابد رحمه الله په وخت کي د مرض الموت دا وینا وه چي غم نه لرم چې د دارالاخران یعني دنیا څخه وزم، بلکه زما غم پر دې دی چي څرنګه یوه شپه د عمر ټوله په خوب مي تیره کړه؟ او څرنګه یو ساعت د عمر دخدای ﷻ د ذکر پر ما په غفلت تیر سو. روایت حسن بصري رحمه الله وه خپلو مریدانو سپین ږیرو ته یو وخت داسي وویل: یامعشر الشیوخ ماینتظر الزرع اذا بلغ قالوا الحصاد. یعني څه انتظار کوي کښت چي پوخ سي؟ خلکو ورته وویل چي د لو کولو انتظار لري. یعني چي کښت به د مابینه څخه خي. او بیا حسن رحمه الله وخوانانو شاګردانو ته وویل: یامعشرالشباب فإن الزرع قدتدرکه الآفة قبل ان یبلُغ. یعني اي ډلي د خوانانو! کښت ته ګاهی آفت قبل یعني دمخه تر پخیدو ورسیږي. یعني څوانان دي په خواني نه غره کیږي، ولي د مرګ نیټه او اجل نه دی معلوم او سپین ږیري خو د مرګ د لو او فنا وخت ته بیخي نژدي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال بعض اهل المعرفة شعراً:

اَلَا مَهِّد لنفسك قبل موتٍ ✣ فإن الشيب تمهيد الحِمامِ

وقد جَدَّ الرَّحيل فكُن مجداً ✣ لحطِ الرحل فی دار المقام

درویش وایي چي علماء احترام او صلحاء کرام وایي چي په ورځ د قیامت به پر سړي، که صالح وي او که ګناه کاره وي. د دنیا په ژوند پسي به ارمان کوي چي ولي دي د دنیا په ژوند کي زیات کوشش په اعمال صالحه وو کي نه وکړی. او ګناه کار به وایي چي وي د دنیا په ژوند کي تا توبه پر خپلو ګنهو نه وکښه.

دا دنیا ده چي تیریږي په ارمان ✣ کوچ کوونکی که نبیان که ولیان

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ

او مونږ وویل و آدم ته چي اې آدمه اوسیږئ ته او ستا ښځه یعني حوا چي ام البشر ده په جنت کي یعني چي دارالسرور دی او دارالنعم الکثیره دی بحیث لایُحیط باحصاء نعمها عددٌ.

فائدة: امام بغوی رحمه الله وایي چي چونکه آدم علیه السلام خپل د جنس یعني انسان ملګری نه درلودی، نو دی چي بیده سو نو ملکو دخدای ﷻ په امر دده د چپه طرف څخه یوه کوچنی پوښتنی وکښه او هغه په ماده خلق دده زوجي حواء رض وګرځول. نو حواء ډیره ښائیسته انسان ښځه وه، نو آدم علیه السلام دخوبه راویښ سو چي وي کتل حواء یي ومسرته ناسته وه، نو آدم علیه السلام ورته وویل: (من أنت) ته څوک یي؟ هغي ورته وویله زه ستا ماینه یم. زه خدای ﷻ ددي دپاره پیدا کړم چي ته په ما

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سره مطمئن اوسي او زه په تاسره.

پوه سه! چي (اُسکن) مشتق دی د (سکنی) څخه یعني اوسیږي ته وماینه په جنت کي چي عربي معنا يې لبث او استقرار دی لا من السکون ضد الحرکة لان السکون المذکور لیس بنعمةٍ بل النعمة الاستقرار دی سره د ازادي په میوو کي د جنت.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چي آدم علیه السلام يې یوازي مخاطب او حواء يې پر عطف کړه او دواړه يې په یوه پلا مخاطب نه کړه؟

جواب: اشاره ودي ته ده چي اصل مقصود په خطاب سره آدم علیه السلام دی او حوا يې تبع ده.

فائـــدة: دجنـت څخـه مـراد دارالثـواب دی، ولـي لام تعریـف دپـاره د عهدخارجي دی او بیله دارالثوابه بل معهود نسته کمالایخفی. او معتزله وایي چي دارالثواب اوس نسته او هغه په قیامت کي جوړیږي، نو دوی وایي چي د جنت څخه مراد یو باغ دی چي په مځکه کي د فلسطین خدای پاك دپاره د امتحان د آدم جوړ کړی وو. او دوی د (اِهبطوا) ترجمه دا کوي چي د فلسطین د باغه څخه هند ته ولاړسي.

درویش وایي چي علامه تفتازاني رحمه الله وایي چي دمخه تر ظهور د معتزله وو اجماع د امت مرحومه من الصحابة رض والتابعین وتبعهم رح پر دي وه چي مراد د جنت څخه دارالثواب دی. او فاضل لاهوری رحمه الله وایي چي حمل د جنت پر بستان الدنیا باندي لکه څوك چي په دین بازی کوي. اود اجماع الامت پر ضد د قرآن مبارك ترجمه کوي. فقولهم مردود جداً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تفسیر قرطبي کي وایي چي ابلیس چي استکبار او انکار د امرالهي وکړی او دی کافر سو، نو خدای ﷻ دی د جنته وشاړه او آدم علیه السلام ته یې وویل: (أسکن أنت)آه. او روح البیان وایي چي مراد د جنت څخه دارالثواب دی باجماع المفسري رح.

درویش وایي چي قصر د اجماع پر مفسرینو رح باندي تقصیراً دی لأنه قد سبق ان قول د معتزله وو د اجماع څخه د ټوله امت مرحومه مخالف دی.

فائدة: درویش موافق د روایت سره سم د ابن مسعود رض وویل چي حواء د یوې کوچنۍ چپه پُښتنۍ څخه خدای ﷻ پیدا کړه . پر دې خبره بعض خلګ سوال کوي چي دا نقصان د یو جزء د بني یعني آدم دی او پر انبیاء علیهم السلام باندي نقصان روا نه دی.

جواب: دادی چي دا خلق که څه هم نقصان دی ظاهراً لکن په دې کي تکمیل سته د آدم حقیقتاً، ولي په حواء رض دده وحشت او دهشت دفع سو کما مرَّ سابقاً. په روح البیان کي وایي چي حواء رض وروسته تر وفات د آدم اوه۷ کاله او اوه۷ میاشتي ژوندی وه. او عمر ددې نه سوه اوه نوي ۹۹۷ کاله ته رسیدی او بیا وفات سوه. او قبر یې په جده کي دی. او د آدم علیه السلام قبر په سراندیپ کي دی. کذا فی کتب التواریخ الاسلامیة.

فائدة: قدرت الهي دی چي بعض انسانان بې مورہ او بې پلاره پیدا کړي دي یعني آدم او بعض انسانان یې بې پلاره پیدا کړي دي یعني عیسی علیه السلام او بعض انسانان یې بې مورہ، که څه هم پلار مانند لري یعني حواء رض او بعض انسانان ته یې مور او پلار دواړه ورکړي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لکه عموماً اولاد آدم علیه السلام. وهذا من عجائب قدرته تعالی التی تحیر فیه العقول.

مسئلة: په ازدواج یعني په ماینه کولو کي ډیري فائدې دنیوي او اخروي ستہ. او خدای ﷻ په قرآن کریم کي ټولـه انبیاء علیهم السلام متزوج ذکر کړي دي. مګر یو یحیی علیه السلام یي حصور ذکر کړی دی یعني د ښځي سره جماع نه کوونکئ، لکن بیا هم یحیی علیه السلام نفس نکاح وکړه دپاره د موافقت د نورو انبیاء علیهم السلام سره په سنت کي د نکاح، لکن جماع یې نه ورسره وکړې. ولي چي دده په شریعت کي ترک الجماع عزیمت وو او جماع کول رخصت وو.

په اشباه والنظائر کي وایي چي موږ عبادت مشروعه د وخت څخه د آدم علیه السلام بیا تر ورځي پورې دقیامت او بیا په جنتو کي بل نه لرو بیله نکاح او ایمان بالله ﷻ. او په بعضي کتابو کي و ایي چي فضیلت د کوروالا یعني ماینه والا پر بې کوره سړي دونه دی لکه د مجاهدفی سبیل الله پر قاعد عن الجهاد. او یو رکعت د کور والا افضل دی تر اویا ۷۰ رکعته د بې کوره. او فائده د نکاح بقاء د نسل انساني ده. او ځان ساتنه ده د زنا څخه. لکن په روح البیان کي وایي چي افضلیت د نکاح تر سنه یو زر او سل ۱۱۰۰ پورې دی لقوله علیه السلام إذا أتی علی أمتی مائة وثمانون سنة بعدالالف فقد حلت العزوبة والعزلة والترهب علی رؤس الجبال.

درویش وایي چي دغه وخت د قتل او قتال او د فتنو دی او دغربیانو د غلبې دی پر ممالك اسلامیه و. قال السعدی رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نرنان بار دار ای مرد هوشیار + اگر وقت ولادت مار نزایند

انران بهتر بنزدیك خردمند + که فرزندان باهموار نزایند

فائدة: بعضي جاهلان کسان وایي چي آدم علیه السلام ولي د درختي منهی عنها څخه خورك وکړی چي د جنت څخه دی او حواء رض مخکي ته راکوز سوه؟

والجواب : خدای پاك دمخه ترخلق د آدم ملکو ته وویل: (إنی جاعل فی الأرض خلیفة)آه، نو خلافت دمخکي خو دا غواړي چي په مخکه کي به ډیر انسانان وي او آدم به د هغو لاربنود وي، نو جنت چونکه ځای د توالد و تناسل نه وو، نو خدای ﷻ آدم ته همجنسه کوروالا یعني حواء رض ورپه برخه کړه او مخکي ته یي راواستول ترڅو چي ددوی دوو د ازدواج سره نور انسانان په مخکه کي پیداسي. او ودوی دوو ته یي طویل عمرونه ورکړه، حتی ددوی په ژوند کي نسل ددوی پر مخکي ډیر سو او د آدم خلافت پر دوی باندي قائم سو ثم وثم إلی یوم القیامة وباقی التفصیل سیأتی فی تفسیر الآیة التالیة ان شاء الله تعالی فانتظره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا

او تاسي خورک کوئ د جنت څخه يعني د ميوو څخه د جنت

فائدة: په خورك كي د ميوو دجنت يې دواړه مخاطب کړي يعني په يوه صيغه د (كُلا) ولي چې په خورك د ميوو دوی دواړه سره برابر دي بخلاف السكنى فانه يختص بالزوج والزوجة تبع له فلهذا قال: (ياآدم اسكن انت و زوجك)آه وقدمرّ فاندته من قبل. او معنا د (رغداً) خوراك دی په پراخه توګه. او معنا د (حيثُ شِئْتُما) داده چې په هر ځای کې د جنت چې ستاسي خوښه وي. حكمت د پراخی د خورك د تولو ميوو څخه د جنت او په هر ځای کې د جنت چې وي دادی چې د آدم او حواء عذر زائل کړي په خورك کې د درختي منهى عنها څخه. ولهذا قال عزوجل بعد توسيع الامر بالاكل من ثمار الجنة التى لايحصيها عدد.

وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾

او تاسي مه نژدې کيږئ ودغې درختي له، نو به تاسي وګرځئ د ظالمانو د ډلې.

پوه سه! چې مقصود خو نهى د اكل څخه د ميوي د درختي دی لكن ظاهراً يې نهى د قرب څخه د درختي وکړي. مبالغةً فى النهى عن الاكل ومبالغةً فى تحريمه كمافى قوله تعالى (ولاتقربوا الزنا) ولي چې قرب و منهى عنه ته ميل قلبي او نفساني او شيطاني وهغه شي ته پيدا کوي، چې په هغه منهى عنه کې به واقع سي. كمافى قوله عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من رعى حول الحمى يوشك ان يقع فيها او كماقال ﷺ، نو بناء على هذا نژدې والى و منهى عنه ته مكروه دى.

فائدة: مشهوره داده چې مراد د درختې څخه درخته د غنمو ده. وهو قول ابن عباس رض وكعب ﷺ وفى اطلاق الشجرة عليها مبالغةٌ كما لايخفى. او ابن مسعود رض وايي چې درخته منهى عنها د انګورو درخته وه. او ابن جريج ﷺ وايي چې درخته منهى عنها د انځر درخته وه. او على ﷺ وايي چې درخته د كافور وه. وقال القاضى البيضاوى ﷺ والأولى ان لايتعين من غير قاطعٍ كما لم تعين فى الآية لعدم توقف ماهو المقصود عليه كمالايخفى.

فائدة: علماء او اهل تفسير په دې كې اختلاف لرې چې نهى د (لاتقربا)آه تحريمي وې او كه تنزيهي وې؟ بعض علماء وايي چې نهى تحريمي وې په دليل ددې چې په جواب كې د نهى خداى ﷻ داسې وويل: (فتكونا من الظالمين) دوى وايي چې مرتكب ته د صغيرې ګناه يعنې چې نهى تنزيهي سي ظالم نه ويل كيږي. او بل دا چې ددغه اكل منهى په سبب خداى ﷻ پر دوى كالي توى كړه او د جنت څخه يې مځكې ته راواستول. دوى وايي چې د مكروه تنزيهي د كولو خو دونه سخته جزاء نه وي، نو پر دې دوى دا بناء كوي چې انبياء عليهم السلام د كبيرې ګناه د كولو څخه معصوم نه دي نه قبل النبوة او نه بعد النبوة . او ډير نور دلائل هم وايي په دې بارهٔ كې. يعنې په رد كې ددې قول.

درويش يوه په زړه پورې رساله تصنيف كړې ده چې نوم يې (كشف العظاء عن عصمة الانبياء) دى او په دې رساله كې ما ددې مذهب توله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلائل رانقل کړي دي او دهغو جوابونه د مفسرانو رح او د متکلمین رح او محدثینو رح او فقهاوو رح په خجسته اقوالو سره ورکړي دي إن شئت التفصيل لدلائلهم والجوابات الفقير عنها فارجع الى الرسالة المذكورة فانها كتفاريق العصا. او دوی د (فتكونامن الظالمين) ترجمه داسي کوي ای (الذين ظلموا انفسهم بارتكاب المعاصي ای الكبائر) او چه نهی تنزیهي سي، نو یې ترجمه د آیت مذکوره داده چې تاسي به وګرځی د هغوکسانو څخه چې داسي فعل وکړي چې ددوی وکرامت ته تاوان وي او ونعمتو ته هم. تفسیر مظهري یې اوله ترجمه کړیده المذهب الصحيح ماذكره عياض في شفائه. او درویش ددغه محدث قولونه د ډیر ځایو څخه په خپله رساله کي رانقل کړي دي. او حاصل یې دادی چې انبیاء علیهم السلام د کبائرو کنهو څخه عمداً قبل النبوة او بعدالنبوة معصوم دي په قید د عمدقتل د موسی علیه السلام چې قبطي یې په سُکه وواهه هغه مړ سو.

او دمکروه تنزیهي څخه یعني فعل د خلاف الاولی او دقسمه څخه د حسنات الابرار سیئات المقربین معصوم نه دي. قال نجم الدين وهو من الاولياء الكبار واستحقاق آدم عليه السلام اللوم بالنهي التنزيهي من قبيل حسنات الابرار سيئات المقربين. ددې سببه دی چې رتبه د انبیاء علیهم السلام چونکه ډیره بلند ده، نو مکروه تنزیهي هم ودوی ته عتاب الهي او لوم متوجه کیږي چې افرادو ته د امت پر مکروه تنزیهي دونه لوم او عتاب نه متوجه کیږي کما قالوا ان العطايا على ظهر البلايا. آه درویش وایي چې علماء په اتفاق وایي چې هرڅونه چې د بنده وخدای ﷻ ته قرب زیاتیږي هغونه یې امتحان د رب العزت دخوا ډیریږي او سختیږي. حتی اهل تصوف وایي چې دبعض اهل الله او مقربینو دپاره د مکروه تنزیهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کول تر نه کولو ګټور ثابتیږي. په دې معنا چې د مقرب بنده څخه چې مکروه تنزیهي په بعض اوقات کې صادر سي، دی دونه شرمنده ګي او تویهٔ او استغفار او ژړا او عجز او انکسار مختاره کړي چې قرب الهي یې نور زیات سي.

او د یو شیخ څخه چا پوښتنه وکړه چې ولي آدم ﷺ پس له نهی د منهی درختي څخه خورك وکړی او ځان ته یې تاوان ورساوه؟ شیخ مرحوم جواب ورکړی چې آدم په نزول کې و مځکې ته څه تاوان وکړی؟ دوه نفره د جنت څخه مځکې ته راغله او په ورځ د قیامت د کروړو اولادو سره به جنت ته بیرته ورسي چې په جمله کې د هغو به یو لك څلیرویشت زره ۱۲۴۰۰۰ تخمیناً انبیاء علیهم السلام هم وي. د شیخ ابومدین الغربي قدس سره څخه چا پوښتنه وکړه چې ولي آدم پس له نهي الهي خورك د درختي د میوي وکړی؟ شیخ مرحوم ورته وویله چې که آدم ﷺ په دې خبر وای چې زما د نسله نورمحمدي سیدالبشر ﷺ هم پیدا کړي لصار یاکل عروق الشجرة المذکورة فکیف بثمرها لیُسارع الخروج الی وجه الأرض لیظهر الجمال المحمدی والکمال الاحمدی صلی الله علیه وسلم.

درویش وایي چې دا مبحث ډیر اوږد دی، نو پر طالب الحق والصواب والتفصیل باندي لازمه ده چې رساله د کشف الغطاء دي دستیاب کړي. اوبه ښه غور دي مطالعه کړي.

باعث د تصنیف د عاصي ددغي رسالې دا وو چې په قندهار کې یو عالم یو وخت پیدا سو چې د بعض عباراتو د شرح العقائد او د فتاوی عالمګیري د نه پوهیدو په سبب یې دجمعې په خطبو کې جهاراً دا ویل چې انبیاء علیهم السلام پس له نبوته د کبائرو ګنهو څخه معصوم نه دي او دا یې هم یوه ورځ د جمعې په خطبه کې چې اکثر عوام او علماء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دجمعې دلمانځه دپاره هم حاضر وه، داسې وویل چې زه د محمد ﷺ سره
خو محبت کوم، لکن خدای یې نه بولم یعنې چې د ګناه څخه معصوم
بنده وو، نو ددې وینا په سبب په عوامو او علماوو کې نوی اضطراب
پیدا سو، ولې دا قول دهغه عالم د اهل سنت والجماعت د عقیدې څخه
مخالف وو او د حشویه مذهب وو. قصه دیره اوږده ده چې درویش په
کشف الغطاء کې په تفصیل بیان کړې ده، خو اخیرالامر بعض علماء د
قندهار درویش ته راغله چې ته په رد کې د قول دهغه عالم، بلکه په رد
کې د مذهب د حشویه یو کتاب تصنیف کړه چې دا فتنه د قندهار څخه
دفع سې. او په آئنده وخت کې بیا دا فتنه سر راپورته نه کې. او هغه عالم
هم خپله خطا ومنله. دا وو سبب د تصنیف د رسالې مذکورې وهوالموفق
فی الامور کلها وعلیه التکلان.

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ

پوه سه! چې دڈې آیت دوه تفسیره دي. اول: (صادر کړی شیطان ذلت د
دوی په سبب د درختې یعنې په سبب د خورک د درختې) نو پر دې
تفسیر (عن) سببي دی. دوهم: (وایستل او لرې کړه شیطان دوی د جنت
څخه) نو پر اول تفسیر ضمیر د (هما) راجع دی و شجره ته او پر دوهم
تفسیر راجع دی و جنت ته. او (عن) پر خپله معنا دی.

پوه سه! چې د دوهمې معنا تائید کوي قرائت د حمزه رحمه الله (فأزالهما)
یعنې ګوښه کړه شیطان دوی د جنت څخه.

پوښتنه: شیطان ته خدای ﷻ وویل (اخرج فإنك رجیم) نو د شیطان او
آدم و حوا څرنګه ملاقات سره وسو، چې ددوی سره خبره وکړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب : بعض مفسران رح وايي چې شيطان صورت ورته بدل کړی، نو هغه خبري ورسره وکړې او خبري هغه دي چې په بل آيت کې راغې (هل أدلك على شجرة الخلد وملكٍ لايبلى) او يا داقول د ابليس : (مانهاكما ربكما عن هذه الشجرة الا تكون ملكين او تكونا من الخالدين). او د قسم اخيستل د شيطان ودوی ته. المذكور في قوله تعالى: (وقاسمهما اني لكما من الناصحين).

او بعض مفسرين رح وايي چې پر طريقه د وسوسې يې دا خبري ودوی ته وکړې لکه زمونږ سره د وسوسې د لارې خبري کوي.

او بعض مفسرين رح وايي چې شيطان د دخول څخه د جنت ممنوع وو پر پخواني حال يعني د عزت او احترام په توګه او د وسوسې او ذلت د دخولـه څخه نه وو ممنوع، دپاره د امتحان د آدمؑ و حوا.

اوبعض علماء وايي چې شيطان په دروازه کې د جنت ودريدی او آدم او حوا ته يې ور ناري کړې او خبري يې ورسره وکړې.

او امام بغوي رحمه الله وايي چې آدمؑ چې د جنت نعمتونه او ميوې وليدې، دا يې وويل (لو أنّ لي خلدًا) نو شيطان د موقع څخه فائده واخيستل، نو ورغلی د آدم او حوا په مابين کې ودريدی (وهما لايعلمان انه ابليس لتغيره الصورة) نو شيطان وژړل او نوح يعني په زوره بغاري يې شروع کړې وهو اول من ناح و ورث هذا النوح الى النساء غالباً في وقت من مات من اقاربهن و الى الرجال نادراً. نو آدم او حوا ورته وويل چې پر څه شي ژاړې؟ شيطان ورته وويل چې ستاسي پر حال ژاړم، ولې تاسي به مړی يو وخت او دا نعمتونه د جنت به ستاسي څخه پاتيږي. نو آدم او حوا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دده په دې خبره ډیر غمجن سوه او شیطان ته یې وویل چې د چاري ښوونه هم راته وکړه! قال یعنی ابلیس : (هل أدلك علی شجرة الخلد) آه او قسم یې په خدای ﷻ واخیستی چې زه تاسي ته نصیحت کوم کمامرٌ آنفاً.

او بعض علماء وایي چې ابلیس خان مُصور کړی په صورت د یوې دابې د دوابو څخه د جنت چې خادمانو دجنت نه وپیژندی او جنت ته داخل سو. او د آدم او حوا سره یې مکالمه وکړه بماسبق.

او حسن بصري رحمه الله وایي چې آدم او حوا د تفریح دپاره دروازې ته د جنت راغلي وه چې ابلیس دا خبري ورته وکړې. او د آدم او حوا چې شیطان قسم بالله ورته واخیستی و زړه ته دده خبره ولویده، ولي چې ددوی عقیده داوه چې قسم بالله به کاذبا څوك نه اخلي. وهو اول من حلف بالله کاذباً کذا فی المظهری.

پوه سه! چې تفسیر مظهري د بغوي رحمه الله څخه روایت کړی دی او نسبت یې کړی دی و ابن جریر رحمه الله ته د ابن مسعود او ابن عباس رض او ابوالعالیه او وهب بن منبهه ته او محمد بن قیس ته چې ابلیس وغوښتله چې جنت ته ورسي، دپاره د خبرو د آدم او حوا سره، نو خزنه وو دجنت دی منع کړی د دخوله دجنت، نو یوه دابه د دوابو څخه د جنت چې احسن دواب الجنت وه او دا دابه په پخواني حالت کي د ابلیس، د ابلیس ډیره په زړه پوري اشنایه وه او څلور پښي یې درلودي لکه د اوښ څپړي او دا دابه د خُزانو څخه دجنت هم وه، نو ابلیس ته یې په خوله کي خای ورکړی او تر خازنانو د جنت یې تیر کړی او خازنان نه سوه په پوه او جنت ته یې وروستی. او ابلیس د آدم سره هغه مذکوره خبري وکړي. او بیضاوي رحمه الله دا روایت په داسي ډول راوړی دی چې ابلیس په خپله خان مصور په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت دهغي دابې وګرځاوه او جنت ته ورغلی.

درویش وایي چې الله تعالی په صورت حال خبر دی. دا روایات په ظاهره ټوله متضاد دي او جمع د ټولو هم نه ده ممکنه.

فائدة: شیطان (فیعال) دی مشتق د (شطن) څخه دی په معنا د بعد. او شیطان بعید دی د خیر او د رحمت الهي څخه.

فائدة: نسبت د (أزلهما) وشیطان ته د جهته ددي وسو چې سبب د ازلال ددوی د شیطان غرور او وسوسه وه، ورنه فاعل حقیقی خو خدای ﷻ وو

فائدة: معنا د (أخرجهما مماكانافيه) داده چې د نعمتو څخه د جنت یې محرومه کړه او د کرامت څخه یې بې برخي کړه.

فائدة: مقصود دشیطان نفس خروج د جنت نه وو بلکه مقصود یې دا وو چې دی دخپلي رتبې څخه لیري کړي لکه دی یعني شیطان چې د قرب الهي څخه محروم سو، لکن ابلیس په قصد کي کامیابه نه سو (لقوله تعالی (فتاب علیه وهدی) کذافی روح البیان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾

او مونږ ووېل چې کښته سئ یعني مخکې ته چې بعض ستاسې به دښمن وي دبل بعض دپاره او تاسې لره ځای د قرار یعني ځای د اوسیدو سته یعني په مخکه کې. او فائده اخیستل سته تر یو وخت پورې یعني تروخته د مرګ.

پوښتنه! چې خطاب د (اهبطوا) و آدم او حوا ته دی ولې په بل ځای کې د قرآن کریم خدای ﷻ صیغه د تثنیه راوړې ده. (اهبطا منها جمیعاً).

پوښتنه : دلته ضمیر دجمع څنګه صحیح کیږي؟

جواب : چونکه آدم او حوا اصل د ټولې نوع انسانې وه، نو ګویا دوی دوه ټوله انسانان دي، نو د جمع ضمیر صحیح دی. او بعض مفسران رح وایي چې خطاب د جمع و آدم او حوا او ابلیس ته دی.

پوښتنه : ابلیس خو دمخه دجنت څخه شړل سوی وو **لقوله تعالی: (فاخرج فانك رجیم)**.

جواب : دمخه تیره سوه چې ابلیس د وسوسې دپاره جنت ته داخل سوی وو او یا په پټه ورغلی وو. اوپر تفسیر اول یعني مخاطب آدم او حوا سي، نو مراد د عداوت څخه عداوت د بعض اولاد ددوی دی د بعض سره لکه قابیل او هابیل. اویا دښمني ده د مومنانو او کافرانو تر مابین فی کل الازمان، بلکه دښمني د بعض مومنانو د بعض مومنانو سره په امور

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دنیویه کي کما هو المشاهد الی یومنا هذا.

او پر تفسیر ثاني یعني چي مخاطب آدم اوحوا او ابلیس سي، نو مراد عداوت دی د ابلیس د آدم او حوا سره، په شمول د اولاد د آدم او حوا الی یوم القیامة بالتفلیل والوساوس.

فائدة: (بعضکم لبعض عدو) په اتفاق جمله اسمیه ده. او په اتفاق د ټولو مفسرانورح دا جمله حال د (إهبطوا) دضمیر. نو اوس سوال دادی چي نحات په اتفاق د جمله اسمیه په حالیت کي واو شرط بولي او دلته واو نسته. او هغه جواب چي مظهري رحمه الله ورکړی دی (حالٌ استغنی بالضمیر عن الواو) او بیضاوي رحمه الله هم داغه جواب راوړی دی، نو پر هغه جواب دا سوال واردیږي چي اکتفاء په ضمیر سره په جمله اسمیه حالیه کي نحات ضعیف ګنړلې دی، نو د نظم قرآني معجز سره دا ترکیب ضعیف مناسب نه دی. بلکه صحیح جواب دادی چي دا جمله اسمیه په تاویل د مفرد ده أی متعادین کما اشار الیه البیضاوي رحمه الله والمظهری رحمه الله بعدالجواب المذکور اولاً. او په حال مفرد کي د واو څخه په ضمیر سره کفایت روا دی بالاتفاق. او بعض محققین رح وایي چي دا حال یعني (عداوة البعض للبعض) خو له حال دائم دی. او نحات وایي چي په حال دائمه کي واو نه راځي، نو ترك د واو و تاویل بالمفرد ته هم حاجت نه لري. وهو جواب حسن.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾

پوه سه! چې ابن کثیر رحمه الله لفظ د آدم په زور وایي یعني مفعول د (تلقی) یې بولي او (کلمات) په پیښ وایي، نو معنا د آیت داده چې راغلی یعني الهام سوې وې آدم ته یو څو کلمې د جانب څخه د خدای ددې چې سبب د توبې ددې وګرځیدلې. او باقي قاریان یې بالعکس وایي یعني آدم مرفوع وایي چې فاعل د (تلقی) وګرځي او کلمات په نصب وایي یعني په زیر د (تاء) ولي چې حالت نصبي د جمع مونث په زیر دی کماتقرر فی النحو نو یې معنا داسې ده چې زده کړی آدم دخدای ﷻ څخه ددې یو څو کلیمې، نو خدای ﷻ یې توبه قبوله کړه ددې، یعني رجوع په مغفرت سره یې ورته وکړه.

پوه سه! چې اصل معنا د توبې رجوع ده. نو که یې فاعل خدای ﷻ وو، نو یې معنا رجوع د عقوبت څخه ومغفرت ته. او که یې فاعل بنده وې نو یې معنا رجوع د ګناه څخه

فائدة: لفظ د (تواب) صیغه د مبالغې ده. دا مبالغه یا په سبب د کثرت د تائبینو دی یعني د کفره څخه او یا د معصیت څخه چې مومن وي. اویا دا مبالغه په سبب د کثرت د ګنهو ده په بندګانو کې فافهم.

فائدة: سعید بن جبیر رحمه الله او مجاهد رحمه الله او حسن بصري رحمه الله وایي چې دا کلمې هغه دي چې په دې آیت کې ذکر سوي دي: (ربنا ظلمنا أنفسنا)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

إلى آخر الآية. او د ابن مسعود رض څخه روايت دی چې ښه الفاظ د توبې هغه دي چې زمونږ پلار يعني آدم عليه السلام ويلي دي، پس له دې چې خطيئه ځني وسوه او هغه دادي: (سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك لاإله إلاأنت ظلمتُ نفسی فاغفرلی انه لايغفرالذنوب إلا أنت)

وفی المثنوی:

زاهد غرور داشت سلامت نبرد راه ✣ مرند مرہ نیاز بدارالسلام رفت

او حاکم د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روايت کړی دی. چې هغه کلمات دادي چې آدم عليه السلام چې د جنت څخه کښته کړه سو، نو يې داسې وويل: (يارب ألم تخلقنی بيدك بغير واسطة؟ قال بلی) ترجمه: اې ربه تا زه نه يم پيدا کړی په خپل قدرت سره بيله واسطې؟ خدای عزوجل ورته وويل هو ما پيدا کړی يې په خپل قدرت سره (قال الم تسكنی جنتك؟ قال بلی) آدم عليه السلام وويل: تا ماته سکونت نه کړی را په جنت کې؟ خدای عزوجل ورته ووېل: هو. (قال ألم تسبق رحمتك غضبك؟ قال بلی) آدم عليه السلام وويل ايا ستا رحمت تر غضب دمخه نه دی؟ خدای عزوجل ورته وويل هو. (قال أرئيت ان اطعتُ ورجعتُ وتبتُ ارجعیّ ائنت الی الجنة؟ قال نعم) نو آدم عليه السلام وويل چې ته ماته خبر راکړه که زه عمل صالح کړم او رجوع دخپلې ګناه څخه وکړم او توبه وکاږم، مابيرته جنت ته راجع کوې؟ خدای عزوجل ورته وويل هو.

پوه سه! مراد د آدم عليه السلام رجوع وجنت ته په آخرت کې ده، نو پر دې تفسير مراد د کلماتو څخه مناجات او عُذرخواهي دخليفه اول دخپل خدای عزوجل سره. او په حديث شريف کې راغلي دي چې آدم عليه السلام پس له خطا څخه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ته وویل (بحق محمد أن تغفرلی) یعني په روی د محمد ﷺ ما وبخښئ. (قال کیف عرفت محمدًا) یعني تا څرنګه وپیژندی محمد ﷺ؟ (قال) یعني آدم : (لما خلقتنی ونفختَ فیَّ الروح فتحتُ عینی فرئیتُ علی ساق العرش لاإله الاالله محمدرسول الله فعلمتُ انه اکرم الخلق علیك حتی قرئت اسمه باسمك قال نعم وغفرله بشفاعته) ترجمه: آدم علیه السلام وویل په جواب کي دخدای ﷻ چي (کیف عرفت) داسي چي تا چي زه پیدا کړم او روح دي په ما کي، نو ما سترګي خلاصي کړې او پر پایه د عرش مي دا ولیدل ﴿لااله الاالله محمدرسول الله﴾ نو زه پوه سوم چي محمد ﷺ یو اکرم د مخلوق دی وتاته، نو خدای ﷻ بخښنه و آدم علیه السلام ته وکړه په شفیع کولو د روی د محمد ﷺ. کذا فی روح البیان.

وروی عن ابن عباس رض بکی آدم وحوا مأتی سنةً ولم یأکلا ولم یشربا اربعین یوماً ولم یقرب حواء مأة سنةً کذافی روح البیان والمظهری.

وروی عن یونس بن حُباب وعلقمه بن مرثد رحمهما الله چي دوی وویله که اوښکي د تولو مخکي والاوو سره یو خای کړه سي د داود علیه السلام د اوښکو سره، نو د داود علیه السلام اوښکي به پر زیاتي وي. او که اوښکي د داود سره د تولو اوښکو د اهل الارض سره جمع کړه سي، د آدم علیه السلام اوښکي به پر زیاتي وي. درویش وایي چي خبرونه محمول پر سماع دي د خیرالبشر صلی الله علیه وسلم څخه و إلا لایُدرك ذالك بالعقل والقیاس کمالایخفی.

فائدة: خدای ﷻ چي د تائب عاصي دپاره دوه وصفه د (تواب او رحیم) چي سره یو خای کړه چي دواړه صیغې د مبالغې دي. د تائب دپاره علاوه تر غفران الذنب بشارت د احسان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة: په دې آيتو کې ذکر د حوا را نه غلی، په دې سبب چې دا تابع د آدم ده په حکم کې، ځکه ذکر د ښځو په اکثر کې د قرآن او احادیثو نبویه ملتوي وي.

فائدة: دتوبة العبد معنا داده چې په زړه کې به پښیمان وي پر کړې ګناه. او ګناه به دستي پریږدي او عزم به کوي چې آئنده به يې هم نه کوم. او خصوم به راضي کوي بإيصال حقوقهم المالية اليهم او الاعتذار منها باللسان وغير ذالك. قال المولوى المعنوى رحمه الله فى مثنويه:

مرکب تو به عجائب مرکبست ✣ برفلك تازد بيك لحظه نزيست
چون برآرند از پشيمانی خروش ✣ عرش لرزد از انين المذنبين

وفى موضع آخر:

گر خدا خواهد که مان یاری کند ✣ میل ما را جانب زاری کند
ای خنك چشمی که آن گریان اوست ✣ وی همایون دل که آن بریان اوست
آخیری هر گریه آخر خنده ایست ✣ مرد اخیر بین مبارك بنده ایست
باش چون دولاب نالان چشم تر ✣ تا نرصحن جان تو روید خضر

وفى تفسير القرطبى ان آدم تاب ثم هبط. واليه الاشارة بقوله تعالى (اهبطوا) ثانياً ومنه يعرف ان الامر بالهبوط ليس للاستخفاف و مشوباً بنوع سخط اذ لاسَخَط بعدالتوبة فآدم أُهبطَ بعد ان تاب الله عليه انتهى.

درویش وایي چې د انبیاء علیهم السلام په باب کې استخفافي الفاظ استعمالول سخته ګناه ده، بلکه موجب د کفر دی اعاذنا الله عن الإستخفاف بهم بل عن الاستخفاف بأولياء الله الكرام رح وصلحاء الأمة المرحومة رح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا

مونږ ورته وویل ودوی ته چې د جنته ووزئ تاوله

پوه شه! چې بعض مفسرین رح وایي چې هبوط اول صرف د جنت څخه وو او هبوط ثانی د آسمان څخه و مخکې ته دی، نو ضمیر د (منها) راجع و آسمان ته دی. او بعض وایي چې دا تکریر دی د اول هبوط، دپاره د تاکید او یا د جهته د اختلاف المقصود، ولي په اول کې مقصود عقاب وو پر معصیت د آدم او حوا. او د دوهم امرالهبوط څخه مقصود تکلیف ددوی په امر او نهي سره.

فائدة: پر اول تقدیر یعني چې (قلنااهبطوا) تاکید د اول (اهبطوا) وي، نو عدم عطف یې په سبب د کما اتصال دی او پر دې تقدیر کلمه د (فاء) عاطفه نه ده، ولي چې تقدیم د معطوف یعني چې (فتلقی) دی پر تقدیر د عطف پر تاکید چې دا اوس (قلنا اهبطوا) دی نه دی روا کما تقرر فی النحو. او که (اهبطوا) دپاره د اختلاف العرضین وي نو فصل په یعني عدم عطف په سبب د اختلاف د غرضینو د دوو جملو دی وهو من اسباب الفصل کما فی المطول.

پوه شه! پر تقدیر د اختلاف د غرضینو اول ته امر تکویني وایي او دوهم ته امر تکلیفي وایي فتأمل فی الفرق بینهما.

فائدة: تفسیر اول یعني اول هبوط د جنت څخه وو او دوهم د آسمان څخه دی، که څه هم مظهري راوړي دي، لکن قاضي بیضاوي رحمه الله په یوه منهیته د تفسیر خپل ضعیف ګنړلي دي. یو په دې سبب چې هبوط په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي قصـه کـي آدم هبـوط الـی الارض خنـي مـراد دی کمـا قـال صـاحب الکشاف رحمه الله. او بـل دا چي مـذکور په آيـات سـابقه وو کـي جنت دی، نو ضمیر د منها به څرنګه و سماء ته راجع وي انتهی.

پوښتنه : لفظ د جمیعاً خو حال دی، نو په مقتضی د لفظ د جمیعاً باید هبوط د آدم او حوا او ابلیس په یوه زمانه کي وي ولیس کذالك. واجاب عنه المحقق البیضاوی رحمه الله ومقلده فی التفسیرالمظهری رحمه الله وصاحب روح البیان رحمه الله چي لفظ د جمیعاً که څه هم لفظاً حال دی، لکن په معنی کي تاکید دی فتأمل فی الفرق بین قولنا جاؤا جمیعاً وجاؤا معاً فإن الاول یدل علی التاکید دون الاجتماع والثانی یقتضی الاجتماع والمعیة کما تقرر فی النحو والمعانی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

نو که چيري درسي وتاسي ته زما دخوا څخه هدايت يعني په واسطه د رسول او کتاب، نو هغه څوک چې متابعت وکړي زما د هدايت يعني ايمان پرخدای ﷻ او پر رسول اوپر کتاب راوړي، نو هيڅ بيره نسته يعني په آخرت کې او نه پردوی غم سته په آخرت کې. په دې سبب چې د دنيا ژوندولي عبث راباندې تير سو، نو خوف هغه چې متوقع شي څخه وي لکه د سړي قريب مثلاً ناجوړی وي او دی بيريږي چې مړ نسي. او حزن پر واقع شي وي لکه د سړي چې يو قريب مړ سي او دی په غمجن وي. حزن په دي سبب نسته چې دوی خو په دنيا کې متابعت دخدای ﷻ د هدی وکړی او ايمان پر خدای ﷻ او رسول وغيره يې درلودی، نو اعمال حسنه يې هم کړي وه.

اوخوف د عذاب الهي هم ورته نسته. نو چې خدای ﷻ ددوی څخه خوف او حزن پورته کړي، نو ودوی ته يې ثواب په ابلغ وجه ثابت کړی. بخلاف الكفرة لأنهم يحزنون على فوات الايمان والهدى في دارالدنيا و يخافون عذاب النارالموعود.

فائدة: د (يأتينكم) و اولاد ته د آدم ﷺ دي په تبع د ذکر د آدم ﷺ و إنما لم يخاطب ابليس و ذريته لأنهم لم يأتينهم كتاب ولا رسولٌ.

پوښتنه: راتګ د (هدی) يعني په سبب د ارسال الرسل و انزال الكتب خو متيقن دی چې کيږي به، نو خدای ﷻ په (ان) د شك راوړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

جـواب : قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې راتګ د هُدی خو فی نفسه محتمل دی پر خدای، خو واجب نه دی بان ان شاء هَدَی و ان شاء ترک.

ترکیب الآیة : اصل د (اما) ان ما، نو ان شرطیه دی او کلمه د (ما) زائده ده. دپاره د تاکید د وقوع د شرط او کلمه د (فاء) دپاره د ترتب د مابعدالفاء علی ماقبلها وهوالامر بالاهباط دی.

پوښتنه : نحات وایي چې تاکید دفعل مضارع په نون ثقیله سره هلته کیږي چې دمخه یا امر وي او یا قسم وي. او دلته خو نه قسم سته او نه طلب؟

جواب : تاکید د شرط چې په (مازائده) سره وکړه سو، نو هغه تاکید د تاکید دنون ثقیله لار خلاصه کړه. قال الخفاجی رحمه الله او کلمه د (من) دوهم شرط او (فلاخوف) آه جزاء د شرط ثاني ده. او جمله شرطیه تولـه جزاء د شرط اول ده. یعني (فامّا یأتینکم) آه.

پوښتنه : خدای ﷻ فاول شرط کی (هُدًی) کلمه وویل، نو دوهم شرط بیا دځه حکمت دپاره (هُدَای) راوګرځاوه او ضمیر یې نه کړی ورته راجع یعني (فمن تبعه)

جواب : حکمت الهي په عدم اضمار کي دادی چې د اول هُدًی څخه مراد هغه هدایت دی چې وساطت د رسول او د کتاب الهي وده ته رسیدلی وي. کما یدل علیه سیاق الکلام. او د هدای څخه مراد عام تر هغه دی یعني که مایأتي به الرسل وي او که مایقتضیه العقل السلیم الصافی کعقول المجتهدین رحمهم الله، نو اشاره ودي ته ده چې قیاسات د مجتهدینو رح هم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حجت دي دپاره د عمل دی کما فی کتب الفقه والاصول، نو رد دی پر هغو کسانو چې د قیاس څخه منکر دي. کالسلفیة واصحاب ظواهر الحدیث وغیرهما من الفرق الحادثة فی دین الاسلام وقدمرّ فی صدر التفسیر الابیات المتعلقة برد اقوال من یمنع التقلید للمجتهد فتذکر.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾

اوهغه کسان چې کفر کوي یعني انکار کوي د ایمان څخه پرخدای ﷻ او پر وحدانیت دخدای ﷻ او انکار کوي د رسالت څخه د علیه السلام او درواغ بولي آیتونه د قرآن او دنورو کتب الهیه وو، نو دغه کسان چې دي اصحاب د اور دي په ورځ دقیامت کې او دوی به همیشه په اور کې وي.

فائدة: (والذین) آه عطف دی پر (من تبع) آه او دهغه مقابل دی. کأنه قیل ومن لم یتبع آه. لکن په تعبیر په (کفروا) آه إعلامٌ بأنه من لم یتبع الهُدی فهوکافرٌ.

فائدة: د کفارو په بیان کې موصول جمع راوړې، دادپاره د بیان ددې چې کفار هر وخت تر مسلمانانو ډیر دي.

پوه شه! چې د (کفروا) څخه مراد کفر په رسولانو دی او د (کذبوا) څخه مراد کفربالکتب المنزلة الیهم دی او یا مراد دادی چې (کفروا) په زړو کې اود (کذبوا) چې تکذیب په ژبه هم کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائـدة: (أولئك) اشاره ده و (الذين) ته چې په صفت د کفر او تکذيب حاضر سول. او د اصحاب النار معنا په اصطلاح د قرآن کريم ملازم النار ده.

فائدة: خلود که څه هم په معنا د مکث طويل دی. کـه هميشه وي او کـه نه، لکن دلته مراد څني دوام بقرينه الآيات الأُخر فی باب الكفار وبقرينة الاحاديث المتواترة المعنى فی شانهم. او جمله د (هم فيها خالدون) منصوب محلاً ده، ولي چې حال ده د اصحاب النار څخه.

پوه سه! چې فلاح د ورځې د آخرت په اتباع د هدی ده چې د خدای ﷻ په واسطه د پيغمبرانو موږ ته رسيدلې ده لقوله تعالى : (فلاخوف عليهم) آه.

سگ اصحاب مروزی چند ✣ پی نیکان گرفت ومردم شد

وفی المثنوی :

طفل يك روزه همی داند طريق ✣ كه بگيرم تا رسد دايه شفيق
تو نمی دانی كه دايه دايگان ✣ كم دهد بی گريه شير رايگان
گفت فليكوا كثيراً گوش دار ✣ تا بر يزد شير فضل كردگار

سعدی رحمه الله :

نرود مرغ سوی دانه فراز ✣ چو دبگر مرغ بيند اندر بند
پند گير از مصائب ديگران ✣ تا نگيرند ديگران تو پند

فائـدة: عجب داده چې غير مكلفين د خدای ﷻ د عذاب څخه او دوزخ څخه بيريږي او مكلفين په خوب کې د غفلت بيده دي. كماروى عن مالك بن دينار وهو من الاولياء الكبار رحمه الله قال رئيتُ صبياً يلعبُ فی التراب يضحك تارةً ويبكی اخرى فظننتُ انه مجنون فهممتُ ان أُسلم عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فامتنعتُ عنه تكبراً ثم قلتُ لنفسى كان النبى صلى الله عليه وسلم يُسلِّم عن الصغار والكبار فسلمتُ عليه فرفع رأسه اليَّ وقال وعليك السلام ورحمته وبركاته يا مالك بن دينار فقلت كيف عرفتنى ولم تكن رئيتنى فقال حيث لتقلت روحى بروحك فى عالم الملكوت عرَّف بينى وبينك الحى الذى لايموتُ فتعجبتُ وقلتُ له ماالفرق العقل والنفس قال ان النفس هى التى منعتك عن السلاك عليَّ تكبراً وغفلك الذى بعثك على السلام اتباعاً لرسول الله ﷺ فقلتُ مالك تلعب بهذه التراب فقال انى احبه لان تعالى قال: (منهاخلقناكم وفيهانعيدكم ومنها نخرجكم تارةً أُخرى) فقلت أراك تارةً تضحكُ وتارةً تبكى أُخرى فماالسبب لذالك الضحك والبكاء؟ فقال اذا ذكرتُ عذاب ربى بكيتُ و اذا ذكرت رحمته العامة ضحكتُ. فقلتُ يا ولدى اى ذنبٍ لك حتى تبكى ولم تبلغ اوان التكليف من الله عزوجل؟ فقال يا مالك لاتقل هذا. رئيتُ اُمى لاتوقد الحطب الكبار الاَّ ومعه الحطب الصغار فاخاف ان اكون مثل الحطب الصغار لتوقَّد بى نار الحطب الكبار ككفار جهنم فى دار البوار. روح البيان مع زيادة

تمهيد: پوه سه! چې ربط د راتلونكي آيت ددمخه آيتو سره دادی چې خداى جل شانه اول بيان د توحيد خپل وكړئ بقوله تعالى (ياأيهاالناس اعبدوا)الآية او وروسته بيان د نبوت د عليه السلام وكړى بقوله تعالى (وان كنتم فى ريبٍ مما نزلنا) الآية او خطاب يې دتولو خلكو سره وكړى. او نعم عامه خپل يې بيان كړه لكه تخليق د آدم او امركول د ملكو په سجده وده ته. اوس نوبت د خطاب وبنې اسرائيل ته ورسيدى: ولې چې دا سورت خو مدنې دى. او غالب خطابات الهيه په مدينه منوره كې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودو سره دي، ولي چې دوی اهل علم او اهل کتاب وه، نو که دوی اقرار په نبوت د آنحضرت صلی الله علیه وسلم او سره د ذکر تفصیلي د نبوت د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په تورات کې موجود وو، نو به نورو خلکو یعنې مشرکانو وغیرهم به ددوی تقلید کړې وای او ایمان به یې راوړلی وای. فقال عزمن قائل:

يٰبَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيَ الَّتِيۡٓ اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ

اې اولاد د یعقوب علیه السلام په یاد کړئ هغه نعمتونه زما چې ما انعام کړی دی پرتاسې باندې.

پوه سه! چې بني جمع د ابن ده او مشتق د نباء څخه دی، ولې ابن کوبا بناء دپلار ده.

پوښتنه: چې ابن خو په عربي څوی ته وایي، نو تا یې ولې ترجمه په اولاد سره وکړه چې نر او ښځې دواړو ته شامل دی؟

جواب: ملاعصام رحمه الله وایي چې په قرآن مبارک کې یې تغلیب ورکړی ابن ته پر بنت باندې لشرف الابن. او خفاجي رحمه الله وایي چې که څه هم ابن په لغت کې څوی ته وایي، لکن چې مضاف سې ویوچاته لکه بنوفلان مراد څنې معنی عامه ده یعنې چې څوی او لور دواړو ته شامل ده او دا هم معنای عرفي ده. ابن نو ځکه یې ما ترجمه په اولاد سره وکړه.

فائدة: اسرائیل لقب دی د یعقوب علیه السلام بعض علماء رح وایي چې په عبراني ژبه صفوة الله او یا عبدالله دی، ولې (إسراء) په عبراني ژبه په معنا د (صفوة) او د (عبد) دی او (ایل) په عبراني ژبه الله ته وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه! چې په بل قرائت کې (اسرائل) بحذف الیاء راغلی دی. او په بل قرائت (اسرال) بحذف الیاء والهمزة راغلی دي. او په بل قرائت کې (اسرایيل) بقلب الهمزة یاءً قاله البیضاوی.

فائدة: مراد د ذکر څخه د نعمت صرف پیادول نه دي بلکه مراد شکر د هغه نعمت دی. تفسیر مظهري صرف تفسیر ددې نعمت بیان په هغه سره کړی دی د موجودین په زمانه کې د علیه السلام ونیکه ګانو ته خدای ﷻ ورکړی لأن نعمة الآباء نعمةٌ لأبناء او هغه نعمتونه داوه چې د دوی آباء خدای پاك د فرعون څخه خلاص او فرعون یې غرق کړی. او بل خدای ﷻ ددوی اسلافو ته عبادت د عجل ور معاف کړی یعنې پس له دې چې په توبه کې فقط اویازره ۷۰۰۰۰ کسان مړه سوه. او سره ددې عبدة العجل په دوی کې په لکو وه او سایوان ګرځول د وریځې پر دوی هغه وخت چې دوی په تبه کې وه او انزال د من او سلوی په تیه و بعث الانبیاء فی اسلافهم وجعل اسلافهم ملوك الارض وغیرذالك ممامرّ وسیئاتي.

او قاضي بیضاوي رحمه الله دا قول په صیغه د ضعف یعنې په قیل راوړی دی او وجه د ضعف یې خفاجي رحمه الله بیان کړېده، نو په نیز د بیضاوي رحمه الله مراد نعم د حاضرینو د عصر نبوي ﷺ دی حیث کانوا فی ارغد عیشٍ فی خیبر و وادی القُری وفدك وماحول المدنیة بل فی المدینة المنورة قبل هجرة النبی صلی الله علیه وسلم لان المفسرین کلهم یقولون ان المراد آه تعداد النعم الخاصة بالیهود ولهذا خص النداء بهم بقوله (یابنی اسرائیل اذکروا)آه وقال لهم و آمنوا بما انزلتُ آه، ولې چې مخاطب په ایمان بما انزلتُ چې قرآن عظیم الشان دي سره خو آباء ددوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نسي کيدای او همداسبب وو چي قاضي بيضاوي رحمه الله اراده د نعمتو ده د اسلافو ددوی ضعيف وکنړل او هغه چي بعض مفسرانو رح ويلي دي چي مراد د نعمت څخه ادراك ددوی دی زمانه د نبوت د عليه السلام ډير ضعيف تفسير دی، ولي چي نعمت د نبوت د عليه السلام خو د نعمت خاصه څخه د بني اسرائيلو نه دی، بلکه نعمت د نبوت د عليه السلام نعمت عامه دی د ټولو حاضرينو د عصرنبوي فی جميع الارض، ددې سببه خدای ﷻ وايي (وماأرسلناك إلاّ رحمةً للعالمين).

فائدة: رب جلاوعلا چي نعمت خپل مقيد کړی په عليکم سره. حکمت پکښې دادی چي انسان طبعاً غيور او حسود دی، نو چي دی هغه نعمت الهي ته وګوري چي خدای ﷻ غير ته دده ورکړی وي، نو غيرت او حسد يې باعث کوي پر کفران د نعم الهيه وو چي ده ته يې ورکړي وي. او دخدای ﷻ سره يې سخت عداوت پيداکيږي او چي انسان و نعمت دخدای ﷻ ته وګوري چي خاص الخاص و ده ته يې ورکړی وي، نو حُب د نعمت الهي دی باعثه کوي پر رضا او پر شکر الهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَوْفُوْا بِعَهْدِیْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۴۰﴾

او تاسي وفا وکړئ په وعده سره زما، زه به وفا وکړم په وعده سره ستاسي او خاص زما څخه وبیریږئ

پوه سه! چي قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چي عهد و فاعل ته د عهد مضافیږي او ومفعول ته د (عهدهم) مضافیږي او اول عهدي مضاف و فاعل ته دی، ولي چي خدای ﷻ و دوی ته وصیت او عهد کړی دی په ایمان راوړو او په طاعت سره بقوله تعالی (فاما یأتینکم منی هدًی)الآیة. او دوهم یعني بعهدکم مضاف دی و مفعول ته یعني ددوی سره د خدای ﷻ دخوا څخه وعده کړه سوې په ایمان او عمل صالح سره او په نصب د دلائلو د وحدانیت خپل په انفسو او په آفاتو کي او په انزال د کتب الهیه او ارسال الرسل او وعده یې کړې ده ددوی سره په ثواب د جنت ددوی په ایمان او اعمال صالحه وو ددوی.

فائدة: ولي قاضي بیضاوي رحمه الله دواړه اضافته و فاعل ته نه کړه مع ان الاضافة وفاعل ته اکثر او ارجح دی کما تقرر فی محله؟ والجواب هو اضافة و فاعل ته ارجح دی او دهغه څخه عدول نه کیږي بیله مانع، نو په اول عهدي کي خو مانع نسته،ولي چي خدای ﷻ خو ودوی ته عهد او وصیت کړی دی په ایمان او عمل صالح سره کما مرّ آنفاً او په دوهم عهدکم کي خو مانع موجود دی د اضافت و فاعل ته، ولي چي ددوی دخوا څخه خو کم عهد او وعده موجود نه ده کمالایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه! چې مظهري رحمه الله دواړه ځایه اضافه ومفعول ته روا بللې ده، لکن په ثبوت یې نه ده رسولې کمالایخفی علی من طالع تفسیره.

پوه سه! چې اول د مراتبو د وفاء بالعهد زمونږ دخوا راتګ په (أشهد أن لاإله إلاالله و أشهد أن محمدرسول الله) دی. او دپاک خدای ﷻ دخوا حفظ الدم والمال دی. او اخیره مرتبه د وفاءبالعهد زمونږ دخوا استغراق په درياب کې د توحید الهي دی، حتی چې د ځانه ځخه غافل سي فضلاً غیره او دخدای ﷻ دخوا فوز په لقاء دائمه سره دی کذاقال البیضاوی رحمه الله. او هغه روایت چې مظهري رحمه الله د ابن عباس رض د ابن جریر په روایت په سند صحیح راوړی دی: (أوفوا بعهدی فی اتباع محمدصلی الله علیه وسلم أُوفِ بعهدکم) په رفع کې د تکالیف شاقه وو دتاسي ځخه. او یا دغیره ځخه د ابن عباس رض روایت دی (أوفوا بأداء الفرائض و ترك الكبائر أُوف بالمغفرة للصغائر والثواب علی اتیان الفرائض) او یا داسي (أوفوا بالاستقامة علی الطریق المستقیم أُوف بالكرامة والنعیم المقیم فی الجنة) بیضاوي رحمه الله وایي چې دا ټوله تفسیرونه د مابین د اول العهدین و آخرهما دي فافهم.

درویش وایي چې هغه توجیه چې مظهري رحمه الله راوړې ده یعنې چې اضافه دواړه خایه اضافه ومفعول ته ده، بیضاوي رحمه الله په قیل سره راوړیده او داسي وایي چې (اوفوا بما عاهدتمونی من الایمان والتزام الطاعة أُوف بماعاهدتكم من حُسن الاثابة) او تفصیل ددغو دوو عهدینو په دغه آیت کې راغلی دی: (و إذ أخذالله میثاق بنی إسرائیل)إلی قوله (ولأدخلنّكم جنات)الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنـــــه : قائـل ددې توجيـه خـو قتـاده رحمه الله او مجاهـد رحمه الله دی، نـو بيضاوي رحمه الله ولې په صيغه د ضُعف راوړه؟

جواب : دا دوې وعدې د يهودانو سره د زمانې د موسی عليه السلام کړه سوې دي او دلته په دې آيت يعني (أوفوا بعهدی) آه خو مخاطب يهودان د عصرنبوي دي بقرينة قوله تعالى (وآمنوا بما أنزلت) آه کما مرَّ چې ايمان په ماأنزلتُ چې قرآن کريم دی هم په دغو معاصرينو کې د عصرنبوي ﷺ مقصود دی لا في حق أسلافهم کما مرَّ آنفاً.

پوښتنـــه : ددې خبرو خو داسې معلوميږي چې اضافت ومفعول ته په دواړه عهدينو کې روا هم نه دی لا انه ضعيف؟

جواب : وأجاب عنه الفاضل عصام رحمه الله چې نسبت د عهد د آباء و اولاد ته صحيح دی، ولې چې دوی يعني معاصرين اقتداء په آباو سره لري په دين کې. قوله تعالى: (وإياى فارهبونى) يعني هرکار چې کوې زما څخه بيريږه مثلاً زنا چې کوې زما څخه بيريږه يعني، نو يې مه کوه. او هرکار چې نه يې کوې هم زما څخه بيريږه مثلاً لمونځ نه کوې زما څخه بيريږه، يعني نو يې کوه. خصوصاً في نقض العهد کما ههنا.

فائدة: قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې قوله تعالى : (وإياى فارهبونى) په افاده کې د تخصيص د رهبت په خداى ﷻ پورې اوکد دی تر (إياك نعبد) په افاده کې د تخصيص د عبادت په خداى ﷻ پورې، ولې چې (إياك نعبد) بوازې تقديم د مفعول چې (اياك) دی پر فعل دلالت پر تخصيص کوي نو (إياك نعبد) يوه جمله ده او په (إياى فارهبونى) کې (إياى) مفعول د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(فارهبونی) المذکور نه دی، ولي چې مفعول د (فارهبونی) المذکور خو هغه یاء د متکلم ده چې حذف سوې ده او کسره پر دلیل ده. بلکه (إیای) مفعول د (ارهبونی) مقدر دی یعني (إیای إرهبوا) نو دا جمله یوه جمله ده او (فارهبونی) سره د مفعول مقدر دوهمه جمله ده. نو په (إیای فارهبونی) کې یو تقدیم د مفعول دی کمامرّ لأن التقدیر إیای ارهبونی. او بل تکرار د مفعول چې یاء د متکلم ده هم سته. په اوله جمله کې (إیای) المذکور دی او په دوهمه جمله کې یاء دمتکلم ده چې مقدره ده، ولي چې اصل یې (فارهبونی) وو

فائدة: فا- جزائیه پر تاکید د بیرې دخدای ﷻ کړی. ولي چې معنا یې داده چې که تاسي د یوشي څخه بیرېږئ. خو د خدای ﷻ څخه وبیرېږئ

قال عزّ من قائل:

وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهٖ

او ایمان راوړئ اې بني اسرائیلو په هغه کتاب سره چې ما نازل کړی دی یعني پر محمدعلیه السلام چې قرآن عظیم الشان دی. په داسي حال کې چې قرآن پاک تصدیق کوونکی دی دهغه کتاب چې ستاسي سره دی یعني تورات شریف، په دې معنا چې قرآن کریم پر داسي چا نازل سو چې دهغه نعت او بیان د حلیې او مولد او د هجرت ځای وغیرذالک په تورات کې موجود دي، ولي چې دعوی د ایمان بالتورات کوي باید پر مصدق د تورات هم ایمان راوړي ولهذا قیدالله سُبحانه (بماأنزلت) بکونه (مصدقالمامعکم) او تاسي مه کړئ اوله ډله چې کفر په قرآن سره کوئ. یعني تاسي موجودین په عصرنبوي کې اوله ډله د کافرانو دخپل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قوم مه کړځئ، ولي ستاسي آئنده نسلونه چې په تاسي سره اقتداء وکړي په کفر بالقرآن کناه يې ستاسي په غاړه ده لأنکم الواضعون لاساس الکفر بالقرآن للقرون الآتية.

پوه سه! چې علیه السلام چې مدینې منورې ته هجرت وکړی، نو تر ټولو اول یې د مدینې منورې یهودو انکار وکړی او بیا بنو النضیر او بنوقریظه د یهودیه تکذیب وکړی او بیا د خیبر باشندګانو یې تکذیب وکړی تم وثم إلی یومنا هذا. وفی المثنوی:

هرکه بنهد سنت بد بی فنا ❊ تا در افتد بعد خلق اندر عما

جمع گردد بروی آن جمله بزه ❊ کو سری بودست و ایشان دم غزه

پوښتنه : ایمان بماأنزلت آه خو داخل دی په (أوفوا بعهدکم) کې نوجلا راوړو ته یې څه ضرورت وو؟

جواب : تخصیص د ایمان بعد التعمیم دپاره دباعثه کولو ددوی پر ایمان باندې، ولي چې ایمان خو عمده د وفاء بالعهود دی.

پوښتنه : خدای ﷻ منع کړه چې تاسي اول کافر مه کړځئ په (ماأنزلت) سره، نو دوی خو اول کافران نه دي بلکه مشرکین دمکې مکرمې تر دوی دمخه دی په کفر کې ؟

جواب : وفی جوابه وجوه المفسرین: بعض وایي چې لفظ د مثل محذوف دی تقدیره (لاتکونوا مثل اول کافربه) یعني تاسي چې اهل علم او کتاب یاست او علم تفصیلي په نعوتو او احوال دعلیه السلام هم لرئ نو باید تاسي په مثل د اول کافرانو یعني اهل مکه نسئ، ولي هغه خو امیان او جاهلان ره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض وايي چې تاسي اول کافران په اهل کتابو او يهوديانو کې مه ګرځئ.

او بعض وايي چې تاسي مه ګرځئ اول کافران په خپل کتاب تورات سره لأن الكفر بالقرآن كفر بالتوراة لكونه مصدق له.

او قاضي بيضاوي رحمه الله او مظهري رحمه الله وايي چې مراد په آيت کې مانطق به الظاهر نه دي بلکه مقصود تعريض دی پر دوی باندې کقولك اما انا فلستُ بجاهلٍ تعريضاً على الجاهل الموجود هناك.

پوښتنه : ضمير د (کونوا) خو جمع دی او لفظ د اول مفرد دی، نو څرنګه يې حمل صحيح کيږي؟

جواب : مورِ دمخه اشاره وکړه چې د اول معنا اول فريق او فريق لفظ که مفرد دی معنا يې جمع ده لکه قوم او رهط.

وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿٤١﴾

او تاسي مه رانيسئ په آياتو سره زما ثمن لږ او خاص زما څخه وبيريئ

پوه سه! چې بيع و شراء خو خاص په اعيانو پورې ده کماتقرَّر فی اللغة والفقه. لکن دا قدر فرق لري چې بيع خرڅول دشي يعنې په مقابل کې د بيع يو مرغوب فيه شی، که نقود وي او که غيرها حاصل کړي. او شراء تحصيل دي د مرغوب فيه په بذل سره د ثمن. لکن دلته مراد د شراء څخه مطلق استبدال من قبيلی استعمال المقيد فی المطلق كالمرسن چې د اوښ پرې ته وايي په مطلق پزه کې، ولي چې آيات خو د اعيانو څخه نه دی او د آياتو څخه مراد آيات قرآنيه دي أی (لاتستبدلوا بالايمان بالآيات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرآنية) او يا مراد آيات د تورات دي چې په هغو کې نعت د نبي عليه السلام موجود وو. او هغه يهودو بدل کړه په انکار سره.

فائدة: مراد دثمن قليل څخه حفوظ د دنيا دي لأنها وإن جلت يعني که څه هم ډيري وي لږ دي، او خسيس نسبت و جنت او نعمتو ته د جنت چې ددوی څخه په دغه استبدال کې فوت سوه.

فائدة: د يهودانو ملايانو په خپلو عوامو کې رسوم درلوده يعني زکاتونه او هدايا او صدقات. او علماوو ددوی پرعوامو رياست کاوه، نو دوی وبيريدل، که مونږ نعت دعليه السلام په صحيح ډول بيان کړو، نو عوام د يهودو به ايمان راوړي پر محمدعليه السلام باندې او زمونږ رياست او هدايا وغيره به زمونږ دلاسه ووځي. نو دی هغه رسوم خوښ کړه او د نعوتو څخه د عليه السلام يې يا انکار وکړی او يا يې تبديل کړه كما ثبت بالآيات القرآنية والاحاديث النبوية.

فائدة: په حديث نبوي کې چې روايت يې دارمي کړی دی داسې راغلي (ألا إنَّ شرَّ الشرار شرارُ العلماء و أنَّ خيرالخيار خيارُ العلماء).

فائدة: عموماً خلګ دهر وخت يا په متابعت د رئيسانو او د خانانو، دنياوارو او يا په متابعت د ملايانو د حق څخه انکار کوي، لکه قريشو دمکې په متابعت د ابوجهل چې يو قومي مشر ددوی وو، د عليه السلام د نبوت او د قرآن کريم د حقيت څخه انکار وکړی. او ورته و ابوجهل ته نور رئيسان په مکه کې قريشو درلوده. او په مدينه منوره کې رئيسانو د يهودو په ګډون د ملايانو ددوی د حق دين د اسلام څخه انکار وکړی. وهذه الآفة والبلية جارية في امة محمد عليه الصلوة والسلام. يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الـی اخیـر دورات الاسـلام چـي د درویـش پـه زمانـه کـي یعنـي د سنه ۱۳٦۰هجري قمري دا فتنه وخپل عروج ته رسیدلي ده په افغانستان کي

پوښتنه : بدلول د ایمان بالآیات په ثمن قلیـل سره هلتـه کیـدای سوای، چي یهـودو تـه ایمـان بالآیـات وای او دوی هغـه ایمـان پرې ایښـی وای او دهغه په عوض کي یې ثمن قلیـل اخیسـتي وای او سره ددې چي یهودانو خو ایمان بالآیات القرآنیه هیڅ نه درلودی؟

جـواب : والجـواب ان معنـی الاستبدلال المذکور پر دې ده چي دوی خو دعـوی د ایمـان بالتورات کولـه، نـو ایمـان بـالتورات مسـتلزم دی ایمـان لره، بالآیات القرآنیه کما ان الکفر بالآیات القرآنیة کفرٌ بالتوراة، نـو گویـا دوی ایمان بالآیات القرآنیة درلودی او په ثمن قلیل یې بدل کړی کذا فی حواشی البیضاوی.

قوله (وإیای فاتقونِ) یعنی بإتباع الحق والایمان بالقُرآن والایمان بمحمد علیه الصلوة والسلام والاعراض عن المتاع الدنیوی الخسیس المسترزل.

درویش وایي چي د تاکید دلارې د (إیای فاتقونِ) او د (إیای فارهبونِ) فرق نسـته، غایـة الأمـر ان التقـوی هـو فرط الصیانة چي منتهـی دحال د سالکینو دی او رهبة بیرې ته وایي چي ابتـدایي حال د طالبـانو دخدای جـل وعـلا دی، نـو چونکـه پـه (إیَّای فاتقون) کـي خطـاب و علمـاوو تـه د یهودیانو وو او دحال سره د علمـاء و فرط الصیانة او غایة الوقایة د عذاب څخه دخدای ﷻ مناسب وه، نـو څکه یې دوی پـه (فاتقون) سره مخاطب کړه. او چونکـه پـه آیـت سابقه و کـي عـوام د بنـي اسرائیلو مخاطب وه او عوامو ته نفس بیره دخدای ﷻ چي ابتدائي حال د سلوك دی کافي وه، نـو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څکه په اول آیت کي (فارهبون) ذکر سوله. وهذا حاصل ما فی البیضاوی وروح المعانی و روح البیان و تفسیر المظهری دی.

درویش وایي چي زمونږ د اسلام په اولینو دورو کي عُلماء د امت مرحومه په تقوی سره په صحیح معنا موصوف وه. ته تاریخ اسلامي د علماء مننه مینو مطالعه کړه، خصوصاً د درویش شرحه د ابوالمنتهی چي په پښتو ژبه سره د دیري زماني څخه چاپ او په ټولو کتابخانو کي دستیاب کیږي.

لکن رفته رفته دعلماوو حال د تقوی حقیقی څخه و طرف ته د تقوی لفظی روان دی. الی یومنا هذا. غزنوی رحمه‌الله :

چو بینم دین احمدﷺ در غریبی ❊ دلم سوزان و چشم خون جاری

واعظان چون چوه در محراب منبر میکند ❊ چون بحلوب میروند آن میکند

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾

او تاسي مه کډوی حق چي صفت دمحمدﷺ ستاسي په کتاب تورات کي په باطل سره چي تاسي به په خپلو لاسو غلط بیانات په باره کي دعلیه السلام نوشته کړی وي دپاره د طلب د ریاست خپل پر عوامو او دپاره د حفظ د رسومو څاریه بیکم وبین العوام. او جمله د تکتموا الحق عطف پر تلبسوا ده او تر (لا) ناهیه لاندي ده. او حال دادی چي تاسي اهل علم یاست او د عالم سره کتمان الحق مناسب نه دی. بلکه مناسب دده سره، بلکه واجب پر ده الاعلان بالحق دی، نو پر دې ترجمه (تعلمون) منزل منزلة لازم دی، یعني مفعول نه غواړي. او یا مفعول محذوف دی، یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعلمون أن محمدًا صلى الله عليه وسلم نبی مرسلٌ فإن ذالك مذكور فی التوراة ومعلومٌ لكم.

حکایت: کعب بن الاشرف یوه ورځ احبار د یهودو یعني علماء ددوی سره جمع کړه. او ورته وې ویل چې تاسي څه وایاست په باره کې د محمد یعني نبي دی او که نه او دده نعت په تورات کې سته او که نسته؟ ملایانو ورته وویل چې هو نبي دی او نعت یې په تورات کې موجود دی، نو کعب مذکور ورته وویل چې ماوتاسي ته د انعام او عطیه نیت کړی وو، که تاسي دا جواب نه وای راکړی، ملایانو ورته وویل چې موږ دا جواب د بې فکری په حالت درکړی، نو ته موږ ته مهلت راکړه چې موږ تورات په ښه غور مطالعه کړو. بیا به هغه موافق د تورات سره موافق جواب درکړو. نو ملایان چې سره یوازې سول، نو د علیه السلام اکثر نعوت او حلیې یې دده دحال نعوتو او په حلیې برابر کړه، نو یې کعب مذکور ملعون ته وربنکاره کړه، نو کعب مذکور هر مُلا ته یوه کاسه اوربشي او څلور ګزه کرباس ورکړی. وفی المثنوی:

بود در انجیل نام مصطفی ✣ آن سر پیغمبران بحر صفا

بود ذکر حلیها وشکل او ✣ بود ذکر غزو و صوم و اکل او

الی آخر الأبیات درویش. هذا ماذکره صاحبُ روح البیان لکن لایناسب المقام لأنَّ الخطاب فی الآیات المتلوة مع الیهود لامع النصاری فافهم واغتنم = درویش.

په تفسیر تیسیر کې وایي چې دا آیت که څه هم په شان کې د یهود نازل سوی دی، لکن حکم یې عام هغه مسلمانانو ته هم شامل دی چې د یهودو سره مشابه کارونه کوي، نو ګویا حکمرانانو ته د مسلمانانو وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(لاتخلطوا العدل بالجور) او قضاتو د مسلمانانو ته وایي (لاتخلطوا الحکم الحق المعلوم لکم بأخذ الرشوة) او ملایانو ته د اسلام وایي چې تاسي تعلیم د علومو شرعیه مه ګډوی په اخذ الاجرة سره. لماورد فی الحدیث الصحیح مَن تعلّم علماً لایبتغی به وجه الله بل لایتعلمه الا لیصیب به عرضاً من الدنیا لم یجد عرف الجنة یعني بوی د جنت فضلاً عن دخولها.

مسئلة: که پر یو عالم تعلیم د حکم الهي متعین سو یعني بل عالم دهغه حکم نه وو او دې عالم منع وکړه د تعلیم څخه دهغه، ترڅو چې اجرت ور نه کړي، نوبه حکم کې د آیت مذکوره داخل دی. بلکه عالم باید داسي وي لکه خدای پاك وایي: (یُجاهدون فی سبیل الله ولایخافون لومة لائم) او یا علیه السلام وایي : (لایمنعنّ احدکم هیبة احدٍ ان یقول او یقوم بالحق حیثُ کان).

حکایت: تاریخ اسلامي خبرې کوي. او علماو ته د اسلام په لوړه سوبه وعظ او تبلیغ کوي. او وایي چې سُلیمان بن عبدالملك چې یو د الوالامر څخه د مسلمانانو وو په سرزمین کې د عربو چې قصد د مکې مکرمې یې وو، لکن پر لار د مدینې راغلی او د یوڅو ورځو دپاره په مدینه منوره کې پاته سو، نو د خلګو څخه یې پوښتنه وکړه چې په مدینه کې داسي یو څوك سته چې د یوڅا د اصحابو څخه د علیه السلام سره یې ملاقات سوی وي؟ خلګو ورته وویل : هو، یو ابوحازم رحمه الله سته نو سلیمان سړی ور واستاوه او ابوحازم رحمه الله یې راوغوښتی خپل حضور ته، نو سلیمان په دوران کې د ملاقات اول دا خبره ورته وکړه: یاابا حازم ماهذا الجفاء؟ ابو حازم ورته وویل: چې ماستاسره څه جفا کړېده؟ سلیمان ورته وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ټوله مخور کسان د مدینې زما مُلاقات ته راغله او ته نه راغلې؟ ابوحازم ورته وویل. یا أمیرالمؤمنین پناه په خدای وغواړه دداسې غلطو کلماتو د ویلو څخه، ولې چې تا زه دمخه ترې منع شوې نه یم پیژندلی او نه ما ته ته اوسه لیدلی یې، نو زما ته راتلک وتاته ولې جفا بولې؟ نو سلیمان بن عبدالملك و محمدبن شهاب زُهری رحمه الله چې یو عالم وو تبع تابعي چې د سلیمان سره همراه وو، وکتل ددې دپاره چې د ابوحازم رضی الله عنه خبره صحیح ده او که نه؟ محمدبن شهاب وویل چې د شیخ یعنې ابوحازم خبره صحیح ده. ته خطاوتلی یې. او بیا سلیمان و ابوحازم رضی الله عنه ته وویل چې څه سبب دی چې زمونږ مرګ نه دی خوښ؟ ابوحازم رضی الله عنه وویل چې تاسې آخرت خراب کړی دی او دنیا مو آباده کړېده. نو ځکه ستاسې زړه نه غواړي چې د آبا ځای څخه دي خرابو ته ولاړ سي. سلیمان ورته وویل: أصبت الحق یا اباحازم. بیا سلیمان ورته وویل چې زمونږ ورتګ به خدای ﷻ په ورځ د آخرت پر څرنګه عنوان وي؟ ابوحازم رضی الله عنه ورته وویل چې صالح سړی به خدای ﷻ ته داسې ور ځي په محبت سره لکه یو سړی چې دخپله کوره او عیاله څخه مسافر سوی وي او خپل کور ته ورځي. او بدکاره سړی به په داسې توګه ور ځي چې لکه یو مریی چې د باداره تښتیدلی وي او د مجبورۍ په حالت کې بیرته بادار ته ور ځي. فبکی سلیمان. بیا سلیمان ورته وویل چې زما سره به خدای ﷻ څه معامله وکړي په ورځ د قیامت؟ ابوحازم رضی الله عنه ورته وویل چې ته خپل عمل پر قرآن پیش کړه، نو تاته به خپل حال معلوم سي. سلیمان ورته وویل چې پر کوم ځای د قرآن یې پیش کړم؟ ابوحازم رضی الله عنه ورته وویل: پر دغه آیت (إن الأبرار لفی نعیم وإنّ الفجّار لفی جحیم) سلیمان ورته وویل چې فأین رحمة الله یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اباحازم؟ ابو حازم ورته وویل : (إنَّ رحمة الله قريبٌ من المحسنين) بيا سليمان ورته وويل فأيُّ عبادالله اكرم عندالله؟ ابوحازم رحمه الله ووېل چې خاوند دغيرت او عقل سليم وي. سليمان ورته وويل فأى الأعمال افضل؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل أداء الفرائض مع اجتناب المحارم. سليمان ورته وويل چې کومه هغه دعاده چې دخداى ﷻ په دربار کې و اجابت ته نژدې ده؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل چې دعاء د محسن اليه ده و مُحسن ته. بيا سليمان ورته وويل چې کومه صدقه افضله ده؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل چې صدق د سائل چې مسکين وي بيله احسانه او زهيرېدو. سليمان ورته وويل چې کومه خبره ښه عدله خبره ده؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل چې حق خبره کول دي وهغه چاته چې ته خني بيرېږې او يا دي وهغه ته طمع د دنيا وي. سليمان ورته وويل چې کوم سړی ډير هوشيار دی؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل چې هغه سړی دی چې عبادت دخداى ﷻ کوي او نور خلک هم دخداى ﷻ عبادت ته رابولي. سليمان ورته وويل چې ډير احمق سړی څوک دی؟ ابوحازم رحمه الله ورته وويل چې هغه سړی دی چې خپل آخرت يعني جنت د بل د خوشحالی دپاره دلاسه ورکړي او يا دبل د دنيا دپاره. سليمان ورته وويل أصبتَ. بيا سليمان ورته وويل: چې ستاڅه رايه ده دا زمونږ په حکمراني کې؟ ابوحازم ورته وويل نور مې وېښښه. سليمان ورته وويل : خامخا نصيحت ماته به يې کوې. ابوحازم رحمه الله ورته وويل: يا اميرالمومنين! ستا پلرو او نيکه ګانو دا بادشاهي د توري په زور نيولې ده بيله مسودې د اهل او عقد، حتى پر دغه بادشاهي نيولو باندې د مسلمانانو سره تاسې ډير جنګونه وکړه او ډير مسلمانان مو په قتل ورسول، حتى چې ډير مسلمانان ستاسې د بيرې او ظلم ځخه ترك الوطن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته مجبور سولهڅ نو یو سړی چې د سلیمان سره ملګری وو ابوحازم رحمه الله ته وویل بنس ماقلتَ یا اباحازم. ابوحازم رحمه الله وهغه سړي ته وویل: کذبت ان الله تعالی اخذ من العلماء میثاقاً لتبیین الحق ولاتکتمونه. سلیمان ورته وویل چې زمونږ حال به څرنګه صالح سي؟ ابوحازم رحمه الله ورته وویل چې ډیره سختي د رعیتو سره پریږده یعني ظلم مه کوئ. او کار د غیرت څخه اخله. او تقسیم د بیت المال په برابره توګه کوه. یعني قوم پرستي مه کوه. سلیمان ورته وویله چې څرنګه موږ اموال د خلګو څخه اخلو؟ ابوحازم ورته وویله چې د روا لارې یې را اخله او مستحقو کسانو ته یې ورکوه سلیمان ورته وویل چې ته زمونږ نه ملګری کیږې، مونږ به ستاځخه زدکړه کوو؟ ابوحازم رحمه الله ورته وویل چې زه پر خپل ځان بیریږم چې ستاسي خوا ته به زما میل پیدا سي، نو به خدای عزوجل ما ته ضعف الحیات او ضعف الممات را په برخه کړي. سلیمان ورته وویل چې ته خپل احتیاجات ماته وړاندي کړه چې زه یې در حل کړم. ابوحازم رحمه الله ورته وویل چې زما حاجت دادی چې د دوزخه مي خلاص کړه اوجنت ته مي ورولې. سلیمان ورته وویل چې داخو زما تر طاقت لوړ کار دی. ابوحازم رحمه الله ورته وویل چې زما بل حاجت وتاته نسته. سلیمان ورته وویل چې ماته یوه دعاء وکړه. ابوحازم رحمه الله وویل چې خدایه! که سلیمان ستا دوست وي، نو ده ته توفیق د خیر د دنیا او آخرت ورکړې. او که به ستا دښمن وي، نو د نړلې تر وړیښتانو یې ونیسي او ماتحب وترضی ته یې کش کړې. سلیمان ورته وویله چې ماته نصیحت وکړه. ابوحازم رحمه الله ورته وویل چې ما تاته کوتاه خبرې وکړې. لکن په باطن کې مي بیخي ډیرې خبرې درته وکړې، نو که یې ته اهل یې نو دې بس دي. او که یې ته اهل نه یې نو ماته هم بې خایه غشي ویشتل نه دي په کار. سلیمان ورته وویل چې ماته اخیرې وصیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړه. ابوحازم رحمه الله ورته وویل: وصیت به درته وکړم، لکن ډیر کوتاه، هغه دا چې تعظیم دخدای ﷻ کوه او خان ساته ددې څخه چې خدای دي تا نه ووینې په داسې کارکې چې ته یې خنې نهي کړی یې. او یادي تا نه وینې په داسې کار کې چې ته یې په امر کړی یې.

نو دسلیمان سوالونه چې خلاص سوه، ابوحازم رحمه الله ته یې رخصت ورکړی او وروسته سلیمان سل ۱۰۰ دینار ور واستوله او وې ویله چې ته دا مصرف کړه زه دغونه نور در استوم. ابوحازم رحمه الله هغه دده دینارونه بیرته ور رد کړه او ورته نوشته یې کړه (یاأمیرالمؤمنین اعندك بالله أن یکون سؤالك ایّای هزلاً و ردّی علیك بذلاً مالا أرضاه لك فکیف لنفسی)

فائدة عظیمة: پوه سه! چې قدماوو د فقهاوو رح اخستل د اجرت پر تعلیم القرآن باندې ددې آیت (**ولاتشتروا بآیاتی ثمناً قلیلاً**) ناجائز ګنړلی دي او دوی پر تعلیم القرآن باندې، تعلیم الحدیث والفقه او د نورو علومو شرعیه قیاس کړي دي، بلکه امامت او آذان یې هم پر قیاس کړي دي.

اما د متاخرینو د فقهاوو فتوی پر دې ده چې استیجار روا دی. شارح الوقایة وایي لظهور التوانی فی امورالدین او دلیل د متاخرینو دا حدیث دی. چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وایي:

(إن احق ما أخذتم علیه اجراً کتاب الله) او دوی د آیت تاویل داسې کوي چې په حق کې د چا دی چې پر ده متعین وي، یعنې بل څوك نه وي چې دا تعلیم وکړي او دی مزدوري غواړي لکه چې پر علماوو د یهودو چې تعلیم د تورات په باره کې د علیه السلام متعین وو او دوی اُجرت د عوامو څخه واخیستی کما مرّ فی قصة کعب بن الأشرف ومثّلوا له چې په یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خای کي غاسل د مړي يو سړی وي او هغه غسل بې مزدوری نه ورکوي نه ورکوي، نو ده ته مزدوري حرامه ده لتعيينه عليه. او که د مړي غاسلان ډير وه، نو غاسل ته مزدوري روا ده. لعدم التعين على احدٍ منهم. وهكذا تعليم الحديث والفقه وغيرهما من العلوم الشرعية وهكذا الأذان والإمامة بالأُجرة.

مسئلة: که دا شيان پر يو سړي متعين هم سي او دی نفقه د عيال نه لري، نو هغه اخذ د اُجرت روا دی. او هم په صورت کي د تعين پر خليفه د اسلام دا واجبه ده چي دغه متعين سړي ته دي تنخا مقرره کړي لئلا يضيع الأمور المذكورة ولا المتعين وعياله. او که خليفه تنخا نه ورکوله، بيا پر عامو مسلمانانو دا تنخا ورکول واجب دي.

دوی وايي چي څه وخت چي سيدنا اميرالمومنين ابوبکر صديق د خلافت المومنين دپاره متعين سو، نو دده کسب قبل الخلافة دجامو خرڅول وه او په هغو کي ادنی مايكفي للعيال گزاره کوله. نو د تقررالخلافة په سهار يې يوڅه کالي واخسته چي دا به په بازار کي خرڅ کړي. او بيا به دخدمت المومنين يعني خلافت کار کوي. حضرت عمر ؓ په مخه ورغلی، ورته وې ويل : چيري ځي يا اميرالمومنين؟ ده ورته وويل چي زه به ژر ژر يوڅه کالي خرڅ کړم دعيال د نفقې دپاره او بيا به د خلافت مقام ته درسم. عمر ؓ ورته وويل چي دواړه کاره نه سره کيږي. ته چي په خدمت د مسلمانانو اخته سوې، نو تاته به د بيت المال څخه د مسلمانانو تنخا درکول کيږي. نو يې دی بيرته راوګرځاوه، نو په اتفاق د اصحابو کرامو ؓ يو څه تنخا ورمقرر کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چې دعمرؓ رایه او فکر ډیر خوش آئین وو، ولي خلیفة المسلمین او امیرالمومنین چې په بازار کې کپړې خرڅوي څه ناڅه دمسلمانانو سپکاوی وو د کافرانو په نیز

پوه سه! چې د قرآن شریف خرڅول دقسم څخه د (لاتشتروا) آه په اتفاق نه دی، ولي چې دا څو بیع د اوراقو او کاغذ ده، او د عمل د کاتب یا چاپ والا دعمل خرڅول دي کمالایخفی **هذا حاصل ما فی روح البیان وحاشیة** الجلالین وغیرهما.

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾

او تاسي لمونځونه کوئ او زکات ورکوئ یعني لکه دمسلمانانو لمونځونه او زکاتونه، ولي مطلق لمونځ او زکات خو د یهودیانو په دین کي هم وو. ددې آیت څخه دا معلومه سوده چې کفار مخاطب او مکلف په فروعو د دین هم دي کمافی المظهری.

پوه سه! چې زکات په لغت کي په معنا د نما او زیادت راغلی دی. کما یقال زکی الزرع اذا نما. او په معنا د پاکي هم راغلی دی کما فی قوله تعالی: (ومن تزکی) ای تطهر. نو په زکات شرعي پاکي دمال د خبث څخه ده او مال هم په ورکړه د زکات نما کوي.

او تاسي رکوع کوئ یعني لمونځ کوئ سره د لمونځ کوونکو چې علیه السلام او اصحاب کرام دي رض. نو په آیت کي ذکر د جزء مراد ځني کل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوښتنه : رکوع څو یو جزء دلمانځه دی او لمونځ څو ځله هم ډیر اجزاء او ارکان لري، لکه سجده، ولاړه، قرائت وغیره نو په تخصیص کي د رکوع څه حکمت دی؟

جواب : اشاره ولمونځو ته دمسلمانانو ده، چي دیهودو په لمانځه کي رکوع نه وه.

مسئلة: په دې آیت کي چي (مع الراکعین) پکښې دی باعث کول دي د مسلمانانو پر لمانځه دجماعت. او جماعت په نیز د داود ظاهری رکن د لمانځه، یعني سره د قدرت پر جماعت بې جماعته لمونځ صحیح نه دی په نیز د ده. او امام احمدبن حنبل رحمه الله وایي چي رکن دلمانځه څو نه دی، بلکه جماعت فرض علیحده دی. یعني لمونځ بې جماعت څو صحیح دی لکن که سړی سره د قدرته دجماعت لمونځ بې جماعته وکړي، نو یو فرض څو یې ادا کړی، او د فرض په اندازه یې غاړې بندي دي. او د جمهور حنفیانو رح او شافعیانو رح په نیز جماعت سنت موکده دی، نژدې واجب ته دی. بلکه بعض محققین د حنفیه وو یې عین واجب بولي. همداغه آیت پر دلیل کړځوي، ولي چي امر خودپاره د وجوب دی چي مطلق ذکر سي کمافی کتب الاصول. وفی الحدیث المتفق علیه کي راغلي دي چي علیه السلام وایي (صلاة الجماعة تفضِلُ صلوة الفذ بخمس وعشرین درجةً) وفی روایة (بسبع وعشرین) ولامنافات بینهما لان التصریح باسم العدد لاینفی الزائد کماتقرر فی اُصول الفقه مثلاً یو سړي وویل چي ماته پنځه کسه نن راغله او بیا یې وویل چي ماته اوه ۷ کسان نن راغله. دا منافات نه سره لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض شارحین دحدیثو مبارکه وو وایي چي دا فرق د ۵ او ۷ بناء پر اخلاص او مواظبت د جماعتي سړي دی. او بعض وایي چي عطایا د اُمت مرحومه د رب العزت دخوا او ز افزون په ازدیاد کي وي.

تنبیه: درویش د مظهري څخه خلاف المذهب رانقل کړی چي ددې آیت څخه دا معلومه سوله چي کفار مخاطب په فروع سره ددین دي لکه لمونځ او زکات وغیرهما، لکن مذهب د حنفیانو رح دادی چي کفار په اعمالو بدنیه یا مالیه لکه لمونځ او زکات مخاطب نه دي او دوی ته عذاب پر ترك د لمانځه مثلاً نه ورکول کیږي، نو دغسي آیتونه چي ظاهراً پر تکلیف د کفارو په فروعو سره د دین دلالت کوي محمول پر اعتقاد دفرضیت دهغو عباداتو دي. مثلاً په مذکوره آیت کي معنا داده **(وأقیموا الصلوة) اعتقدوا فرضیة الصلاة وهکذا فی غیرها.**

پوښتنه :دکفارو خوابدی څای دوږخ دی، یا په فروعو مخاطب یا نه، نو ددې اختلاف څه فائده ده؟

جواب : هغه امامان رح چي کفار په فروعو مکلف بولي، هغه وایي چي کافرانو ته په دوږخ کي دړې قسمه عذاب ورکول کیږي. یو عذاب د کفربالله و رسوله وکتابه. او بل عذاب د نه عقیدې ددوی پر فرضیت دلمانځه. او بل عذاب پر نه کولو د لمانځه دی.

او په نیز د حنفیانو رح دوه اول عذابه دوی ته ورکول کیږي. **وتفصیل هذه المسئلة یُطلب من کتب اصول الفقه.**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دجماعت فضائل واوری!

۱) جماعت په مثال د جنګ د کفارو سره، یعني غزا دی او محراب یې په مثال د ځای دغزا دی. ولابد للقتال من صُفوف المسلمين الغزاة فالجماعة فی الصلاة کصفوف الغزاة.

۲) په حدیث صحیح کې راغلي دي: (ما إجتمع من المسلمين فی جماعة اربعون رجلاً الاّ وفيهم رجلٌ مغفور له)آه او خدای جل سلطانه اجل تر دي دی چې په ځلویښتو خلګو کې دي یوه ته بخښه کوي او ۳۹ دي ناامیده پریږدي.

۳) واجب ده پر امیر دمسلمانانو چې هغه سړي ته چې همیشه تارك الجماعت وي عذاب ورکړي.

درویش وایي چې اکثراً تارك الجماعة بلِ الصلاة خو غټ غټ امیران وي. نو هغو ته به څوك عذاب ورکړي؟ اللهم صبراً.

چو کفر از کعبه برخیزد کجاماند مسلمانی؟

۴) ابوسلیمان الدارنی رحمه الله وایي چې ما شل کاله په وطن کې تیر کړه ماته احتلام پیښ نه شو، لکن چې مکې مکرمې ته ورغلم یو دماخستن لمونځ راځخه بې جماعته شو، په هغه شپه ماته احتلام پیښ شو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلمانخه ادب:

لمونځ کوونکی باید په حضور قلبي او په لمانخه کي دنیایي فکر نه وهي فضلاً عن الفکر فی المعاصی. بعض علماء د باطن رح ددې آیت چې (ولاتقربوا الصلوة وانتم سُکاری) که څه هم شان نزول خو یې سکر د شرابو څخه دی په وخت کي د لمانځه کما سیأتی انشاءالله ، لکن مع هذا دوی وایي (لاتقربوا الصلوة وأنتم سکاری من حب الدنیا وکثرة الهموم) وفی المثنوی المعنوی:

اول ای جان دفع شر موش کن ✣ وانگه اندر جمع گندم کوش کن

بشنو از اخبار آن صدر صُدور ✣ لاصلوة تم الا بالحضور

یعني حضور قلبي او دفع د حضرات شیطانیه وو او دنیاویه وو اولین شرط د قبول د لمانځه دی. البتتا علماء رح وایي په لمانځه کي د بل عبادت فکر وهل ممنوع نه دي. لماروی عن عمر رض انه اذا قام فی الصلوة کان یتفکر فی تجهیز الجیش لغزوالکفار وکما یتفکر الرجل فی الصلوة فی افعال الحج مثلاً. والله الموفق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾

ایا تاسي امر کوی یعني ای علماء دیهودو لأنَّ الخطاب لهم، خلک یعنـي هغه مسکینان ستاسي چي تاسي طمع د نقود وغیره نه ورتـه لـری پـه بِر یعني ښه کار سره. عن إبن عباس رض إنها یعني دغه آیت نازل سـوی پـه ملایانو د یهودانو چي دوی به امر کول په پټه هغـه بـې طمـع کـسان پـه متابعت دعلیه السلام او په خپله به بې متابعت نه کاوه.

او بعض مفسرین رح وایي چي دې ملایـانو بـه خلکـو تـه ویـل چـي صدقات کوی او پخپله به یې صدقه نه کول. او بغـوی رحمه الله هـم نـژدې د ابن عباس رض وتفسیر ته داسي تفسیر کړی دی چي علماوو د یهـودو بـه وخپل قریب ته او هغه چا ته دمسلمانانو چي ددوی به حلیف وو إذا سأل المسلمون عنهم فی امر رسول الله صلی الله علیه وسلم اُثبُتْ علی دینه فانَّ امره حقٌ وقوله صدقٌ او دوی په خپله به چي مامور په تمسـک بـالتورات هم وه دهغه خپلي وینا څخه یې مخالفت کاوه. او دعلیه السلام نعـت تـه یې چي په تورات کي موجود وو تغیر ورکـاوه. نـو ددې کبلـه خـدای ﷻ ودوی ته وویل : (وتنسون أنفسکم) او تاسي هیر کړي دي خپل ځانونه.

پوه سه! چي هیرول دخپل ځان خو څوك نسـي کـولای. نـو ټولـه مفسـرین رح تفسـیر د نسـیان پـه تـرك سـره کـوي چـي د هیـري سـره لازم دی او د بیضاوي د کلام څخه داسي فهمیږي چي دی وایي چي تترکونها کالمنیات آه چي دی پـه (تنسون) کـي استعارة تبعیة وایـي. او حـال دادی چـي تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تلاوت د کتاب الله تورات هم کوئ. چې په هغه کې نعوت او بیان د حقیقت دده ﷺ د دین موجود دی. او په هغه تورات کې وعید او عذاب ذکر سوی دی چې قول او عمل یې سره مخالف وي او یا ترك د بر کوي او یا عناد کوي. (أفلاتعقلون) ایا تاسي عقل نه لرئ؟ ولي چې عقل خو سړی دداسي کارو څخه نه منع کوي.

فائدة: بر توسع د خیر په کارو کې مشتق دی د بَر څخه بفتح الباء چې پراخه بیابان ته وایي.

فائدة: قاضي بیضاوي رحمه الله او مظهري رحمه الله او روح البیان په یوه خوله وایي چې استفهام په دې آیت کې دپاره د تقریر یعني باعثه کول پر اقرار. او توبیخ یعني سرزنش وچاته. او تعجیب یعني خلک او سامعان په تعجب کې اچول.

پوښتنه : داستفهام حقیقي معنا خو طلب دفهم ده، چونکه هغه په خدای ﷻ کې محال وو، نو څکه پر مجاز محمول دی، لکن پوښتنه داده چې هرد یوه د تقریر او توبیخ او تعجیب خو جلا جلا معاني مجازیه دي. او علماوو د علم بیان خو د دوو مجازي معناوو په یوه وار د لفظ څخه اخیستل ناجائز ګنړلي دي.

جواب : ددې سوال په جواب کې بعض محشیانو د بیضاوي داسي ویلي دي : أی الإستفهام لمجموع المعانی الثلثة من حیث المجموع فهو معنیً واحدٌ مجازی آه.

فائدة: چونکه استفهام صدر د کلام غواړي او مابعد الاستفهام پر ماقبل الاستفهام نه عطف کیږي کما تقرر فی النحو نو په دې کلام کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حذف د معطوف علیه دی وروسته تر استفهام . والتقدیر أتفعلون هذا ولاتعقلون؟

فائدة: (تعقلون) یا منزل منزلة اللازم دی. أی لاعقل لکم یمنعکم عن هذا الفعل الشنیع ای مخالفة القول والعمل والعناد. او یا مفعول د (تعقلون) محذوف دی. والتقدیر أفلاتعقلون قبح ضیعکم فیمنعوکم عنه.

فائدة: عقل په لغت کي حبس ته وایي ومنه عقال البعیر یعني زنګون بند د اوښ او بیا په عُرف کي إدراك انساني ته وایي، ولي چي إدراك انساني سړی منع کوي د قبیح کار څخه او بندوي پر بنه کار باندي. او بیا وقوت د نفس وایي چي دا ادراك په کیږي.

فائدة: دا آیت که څه هم په علماوو کي د یهودو نازل دی، لکن زموږ هغه ملایانو ته هم شامل دی چي وبل ته ښوونه د بنو کارو کوي او په خپله عمل نه په کوي. او پر منبر د وعظ قال الله وقال الرسول وایي او په خلوت کي په هغه سره عمل نه کوي. بیت:

واعظان کین جلوه در محراب و منبر میکنند
چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

او ددي آیت څخه دا معلومیږي چي ددا سي ملایانو فعل د جاهل بالشرع او احمق خالي عن عقل دی، ولي چي څوك چي جامع د علم بالشرع او د عقل څښتن وي، باید ددا سي کارو څخه یې عقل منع کړي او شرع یې منع کړي

فائدة: ددي آیت دا معنا نه ده چي فاسق دي چاته نصیحت نه کوي، ولي چي فسق جلا بد کار دی او امر بالمعروف او نهی عن المنکر جلا بنه کار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، بلکه مقصود دادی چې واعظ دي اول تزکیه د خپل ځان وکړي او خپل خان دي کامل کړي، ترڅو چې وعظ دده په بل چا کې تاثیر وکړي.

روی البغوی رحمه الله چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم په شپه کې د معراج داسې کسان ولیدل چې شُنډان یې په غچیو د اور ور پرې کول کیدله، علیه السلام د جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې من هؤلاء؟ جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې دا ستا د اُمت خطیبان دي چې یأمرون الناس بالبر وینسون انفسهم وهم یتلون الکتاب.

او دغه رنګه اسامه بن زید رضی الله عنه وایي چې ما د رسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې چې یو سړی به په ورځ د قیامت دوزخ ته ورولي چې کُلمې به یې تر دُبره راوتلي وي او پرخپلو کُلمو به راګرځي لکه د خراس خر پر خپل ژرنده. او دوزخیان به پر راتول سي. بعض دوزخیان یې وپوښتنې او ورته ووایي چې ای فلانیه ته دلته څه کوې؟ ته هغه ملا نه یې چې موږ ته به دې امربالمعروف او نهی عن المنکر کاوه؟ دی ورته ووایي چې هو زه هغه یم، لکن تاسي ته به مي امربالمعروف کاوه او په خپله به مي هغه معروف نه کاوه. او تاسي به مي د منکر څخه منع کولاست او ما په خپله هغه منکر کاوه. بیت:

شکلی دارد ز دانشمند مجلس بانز پرس

توبه فرمایان چرا خود توبه کمتر میکنند

وفی الحدیث ما من عبد یخطب خُطبةً إلا والله تعالی سائله عنها یوم القیامة ما اراد بها. کذا فی روح البیان. وقال علیه الصلاة والسلام کم من خطیب یلعب به الشیطان قال الشیخ اسماعیل الحنفی رحمه الله بعد ذکر هذا الحدیث که د واعظ غرض دا وو چې زما خو دي مسلمانان نفع واخلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که څه هم زه معذب فی النار یم فهو نوع فناء لکن یخاف ان یجد حظه فی ضمنه و ادنی الحال ان یُلاحظ قوله علیه الصلوة والسلام انّ الله یؤید هذا الدین بالرجل الفاسق، درویش وایي چې دا حدیث سره د خپله حاله دمخه ذکر کړی دی.

حکایـــت: تاریخ وایي چې یو عالم وو د واعظانو څخه چې ډیر موثرالکلام په زړو کي د سامعانو وو، حتی چې بعض اوقات دده د وعظ د تاثیره یو یا دوه کسه مړه کیدله. او په دغه ښار کي یوه سپین سرې ښځه وه چې یو خوی صالح نرم دله یې درلودی. او دې سپین سري به همیشه وخپل خوی ته ویل چې ددغه عالم او واعظ و نصیحت ته به نه ورځي، ولي چې بیریدله چې خوی یې نرم دله دی چې په نصیحت د واعظ مذکور مړ نسي. خو یوه ورځ د سپین سري خوی د مور په پته نصیحت ته ورغلی او څو خبري د واعظ چې یې واوریدلي بیهوش سو او په هغې بیهوشی کي یې روح قبض سو. او خلکو د سپین سري د خوی جنازه مور ته ور وړه او په تکفین او قبر کي یې کومك ورسره وکړی. او هغه واعظ هم پر آس سپور هدیرې ته ورغلی. سپین سري چې واعظ پر آس سپور ولیدی او د خوی د مرګ لمبه یې په زړه کي وه، نو یې واعظ ته داسي وویله:

أتهتدی الأنام ولاتهتدی ÷ الاذالك لاینفع

فیا حجر الشحذ حتی متی ÷ تسُنُّ الحدید ولاتقطع

واعظ چې دا دوه بیته د سپین سري واوریدله پر آس سربیره یې لږه نعره وکړه او د آسه څخه را ولویدی او بې هوشه سو. اوبه هغې بیهوشی کي یې روح ورکړه. رحمه الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾

پوه سه! چې علماء دیهودو چې خدای ﷻ امر کړه په ایمان سره پر علیه السلام او پر اظهار د نعت د علیه السلام چې په تورات کې موجود وو. او دا دوی ته ډیره ګرانه معلومیده، ولې چې ددوی ریاست پکښې دمابینه خخه تلی، او هغه مالي ګټې چې دوی به د نورو یهودو څخه ترلاسه کولې هغه هم په خطر کې د عدم ګرځیدلې، نو خدای ﷻ ودوی ته علاج دهغه بیان کړی او وې ویله چې (تاسې مدد وغواړئ په دغه سختیو کې بلکه په عمومي شدائدو کې په صبر سره انتظاراً للفرح والسرور)

پوه سه! چې لفظ د صبر که صله یې علی وي، یعني الصبر علی الشیئ، نو مراد دادی چې ځان بند کړه او صبر وکړه پر تولو عباداتو دخدای ﷻ او که د صبر صله (عن) راسې نو یې معنا داده چې ځان بند کړه د معاصي وو څخه او د حب څخه د ریاست چې مانع دایمان ستاسې دی. او ډیره لویه ګناه ده.

اوکه صله د (فی) وي نو معنا یې داده چې په موجباتو کې د فقر او مسکنت او د زوال د ریاست چې هغه سبب ستاسې د جاه و جلال دی صبر وکړی. لأن الصبر مفتاح الفرح دی (إنَّ مع العسر یسراً إن مع العسر یسرًا)

او بعض مفسرین رح وایي چې مراد د صبر څخه روژه د مفطرات ثلثه وو څخه چې اکل دی او شرب او قضاء الشهوت دی، ولې چې روزمره کسر د شهواتو او تصفیه د باطن راخي ویناسب هذا المعنی قرینه وهو الصلوة. او کومك وغواړئ په شدائدو کې د لمانځه څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

په حدیث شریف کې راغلي دي أنه علیه الصلوة والسلام اذا خربه امرٌ فزع الی الصلوة، ولي چې لمونځ چونکه معراج المومنین دی. او ځای د نزول د رحمت د رب العالمین دی، نو خامخا زړه ورسره پوره کیږي. او رحمت و کُلد ت څه ناڅه سپکیږي. وذالك بمقدار توجه المصلی دی. او هغه خبره چې مظهري کړېده، که څه هم ناقل دی چې کلمه د واو په معنا د (علی) ده او معنا یې داسې بیان کړېده : (واستعینوا بالصبر علی الصلوة) آه ډیر بعیده توجیه ده او د قرآن پاك سره مناسب نه ده، ولي چې واو عاطفه په معنا د علی هیڅ ځای نه دی راغلی. او هغه آیت دی چې مظهري د استشهاد دپاره راوړی دی. من قوله تعالی : (وأمر اهلك بالصلوة واصطبر علیها) نداءٌ من بعید، ولي چې په آیت مذکوره کې خو صریح لفظ د (علی) راغلی دی.

او بعض مفسرین رح د صلوة معنا په دعاء سره کوي. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کانت له حاجةٌ الی الله او الی احدٍ من بنی آدم فلیتوضأ ولیُحسن وضوئه ثم لیصل رکعتین ثم یُثنّی علی الله ولیُصلِّ علی النبی صلی الله علیه وسلم ولیقل لاإله إلاّالله الحلیم الکریم سبحان الله رب العرش العظیم الحمدلله رب العالمین أسألك مُوجبات رحمتك وعزائم مغفرتك والغنیمة من کل برٍ والسلامة من کل اثمٍ لاتدع لی ذنباً إلا غفرته ولاهماً الا فرجته ولاحاجةً هی لك رِضاً إلاّ قضیتها یا أرحم الراحمین. رواه الترمذی والحاکم فی المستدرك نحوه.

ترجمه: آنحضرت صلی الله علیه وسلم وایي که چاته یو حاجت وي دخدای څخه سره او یا دیوچا سره د بنې آدم، نو دي اوډس تازه کړي او بیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کامل اودس دي وکړي او بيا دي دوه رکعته يعني نفل وکړي او بيا دي حمد دخدای ﷻ ووايي او بيا دي درود پر عليه السلام ووايي او بيا دي مذکوره دعاء وکړي، انشاء الله حاجت به يې دسره سي.

فائـــدة: ضمیرد (إنهـا) يـا راجـع و اسـتعانت تـه دی، نـو دا سـوال نـه پيداکيږي چي (إنها) خو ضمير مفرد دی او صبر او صلاة خو دوه شيان دي، نو بايد (إنهما) ويل سوی وای. او يا ضمير مفرد راجع دی و هريوه ته د صبر او صلاة په تاويل د خصلة. او بعض مفسرين رح چي وايي چي ضمير مونث راجع دی و ټولو اما امروا به ومانهواعنه ته هغه توجيه د مقام سره مناسب نه ده کمالايخفی. او بعض مفسرين رح وايي چي ضمير مفرد راجع دی يوازي و صلوة ته، ولي چي صلوة پر انواعو د صبر مشتمل دی مثل الصبر عن الأكل والشرب والتكلم المباح وغيرذالك.

اوهغه تفسير چي بعض اهل التفسير کړی دی او مظهري رحمه الله هم په لفظ د قيل را نقل کړی دی چي معنا د آيت داسي ده: (واستعينوا بالصبر و انه لكبيرٌ وبالصلوة وانها لكبيرة اى ثقيلة شاقةٌ) فحذف احدهما اختصاراً، نو دا تفسير لکه په قرآن کريم سره چي رايه آزمايي کوي او ډير نامناسب تفسير دی.

پوه سه! چي لمونځ په اعتبار د صرف المال په طهارت کي که اوبه په بيع وي او په سترالعورت کي متضمنه دي زکات لره. او په اعتبار د توجه إلى الكعبة. لکه حج دی. او په اعتبار د لزوم د يوه مکان لکه اعتکاف دی. اوپه اعتبار د خشوع بالجوارح من القيام و وضع اليد على اليد والنظر فی القيام الی موضع السجود والركوع والسجود شامل دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډیرو عباداتو بدنیه وو لره. او اخلاص د نیت یې عبادت نفسانیه دی. او په اعتبار د مجاهدې د نفس او شیطان سره په دفع کې د افکار فاسده و او د امور دنیویه لکه جهاد فی سبیل الله دی. او په اعتبار د قرائة القرآن افضل د عبادات بدنیه وو دی. او په اعتبار د تکلم بالشهادتین په ناسته کې مشتمل پر اصل الایمان دی. او په اعتبار د منع د مصلی خپل خان لره چې اکل او جماع دی پر منزله د روژې دی. او په اعتبار د مناجات مع الحق سبحانه متضمن دی معرفت شهودي لره. فالصلوة افضل العبادات بعدالایمان بالله ورسوله ولهذا قالوا یُسأل عن العبد یوم القیامة بعدالسؤال عن الإیمان عن الصلوة. قال السعدي رحمه الله:

روز محشر که جان گدازان بود ✣ اولین پرسش نماز بود

پوه سه! چې کبر خو د اجسامو صفت دی، نو بیضاوي رحمه الله وایي چې مراد دلته ثقیلةٌ وشاقةٌ دی او ددې معنا شاهدیې هغه آیت دی، که څه هم په باره کې د مشرکینو راغلی دی. (کَبُرعلی المشرکین ماتدعوهم إلیه) او تولو مفسرینو د خشوع معنا په سکون او اخبات سره کړېده. ولهذا پتې غوندې ته خُشقه وایي او خشوع په قرآن مبارک کې صفت د آواز راغلي ده کمافی قوله تعالی: (وخشعة الاصوات للرحمان)آه او په صفت د بصر هم راغلي ده. کمافی قوله تعالی (خاشعةً أبصارهم) او خضوع لین یعني نرمي او انقیاد ته وایي یعني فرمان برداري، نو ځکه فقهاء رح وایي چې خشوع د جوارحو صفت ده او خضوع د زړه صفت ده محصل مافی البیضاوی والتفسیر المظهری و روح المعانی و روح البیان وغیرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې خدای ﷻ خاشعین مستثنی کړه د (إنها لکبیرة) څخه. وجه د استثنائیت په اتفاق د مفسرینو یې دا ذکر کړېده چې خاشعین په امثالو د صبر او دلمانځه اموخته دي او ددوی زړونه و امتثال نه د اوامرو الهیه وو تل آماده وي. او دا معلومه خبره ده چې پر عادتي سړي دیو کار سره هغه کار درونه نه واقع کیږي، نو ځکه صبر او صلوة پر خاشعینو ثقیل نه دی. او بله وجه یې داده چې خاشعین په مقابل کې د سختیو د عباداتو ثواب موعود د جنت وینې او یقین پر کوي چې ددوی سختی په عباداتو الهیه وو کې هیڅ شی نه معلومیږي نسبت و نعمتو ته د جنت. د مثال په توګه یو مزدور چې د مزدورانو عادي اجرت شل روپۍ وي مثلاً روزانه. او یوصاحب کار ومزدور ته سل ۱۰۰ روپۍ مثلاً روزانه مقرره کړي، نو پر هغه مزدور کار دصاحب کار درونه نه پریږدي لما یری من خمسة امثال الأجرة المعتادة فلذالك لم یشتد علی الخاشعین الاستعانة بالصبر والصلوة لما یعتقدون فی مقابلتها ما لاعین رئت و لا أذن سمعت ولا خطر علی قلب البشر. اللهم اجعلنا من الخاشعین الخاضعین لننال من الله النعیم المقیم.

درویش وایي چې دا مثال خو د ابرارو د عبادت مثال دی اماالمخلصین دهغو خو شان داسي دی لکه د رابعه رحمها الله چې د علماوو څخه یې یو وخت پوښتنه وکړه چې تاسي دا عبادات الهیه دڅه دپاره کوئ؟ بعضي علماوو ورته وویل چې دپاره د نجات د دوزخه څخه. ده رحمها الله ورته وویل چې تاسي خو عبادت د بېري په خاطر کوئ، د رب ﷻ سره اخلاص ستاسي څه دی؟ او بعضي علماوو ورته وویل چې دپاره د جنت د دخول یې کوو. رابعه رحمها الله ورته وویل چې تاسي خو لکه اجیران

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اجرعظیم غواړئ. نو علماوو ورته وویل چې ته یې د څه دپاره کوې؟ رابعه رحمۃ اللہ علیہا ورته وویل چې که خدای ﷻ بالفرض دوزخ نه وای پیدا کړی نو خو بیره د دوزخ به هم نه وای او که یې بالفرض جنت هم نه وای پیدا کړی، نو خو طمع د دخول به یې هم نه وای، مګر سره دهغه یې زه په عباداتو سره مامور کړی وای، ما به صرف د امتثال د اوامر الهیه وو دا عبادت کولامی.

درویش وایي چې حقیقتاً اخلاص همدغه وو. تاریخ وایي چې رابعه رحمۃ اللہ علیہا به شبانه روز ۲۰۰ رکعته همیشه کوله. فرحمه الله تعالی

اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۴۶﴾

پوه سه! چې فهم ددې آیت د معنا موقوف دی پر پېژندو د مراتبو د ادراك، نو واوره! چې اعلی د مراتبو د ادراك انساني یقین دی چې په اصطلاح د قرآن کریم او دعلم کلام علم ورته وایي او هغه ادراك دی چې د جانب مخالف یو ضعیف احتمال هم نه وي ورسره. **ویُقاربه فی جانب النزول الظن وهو الادراك الغالب** یعنې چې احتمال د جانب مخالف خو ورسره وي لکن احتمالاً ضعیفاً او دغو دوو ادراکو ته تصدیق وایي د منطقو په کتابو کې. او تر ټولو کښته ادراك وهم دی چې هغه ادراك ضعیف دی یعنې ادراك د جانب مخالف غالب وي. او نژدې و وهم ته په جانب کې د علو شك دی چې په هغه طرفین یعنې موافق او مخالف دواړه سره برابر وي، او وهم او شك دواړه د قسمه د تصور دي عندالمنطقین. اوس نو واوره چې په قرائاتو مشهوره وو کې (یُظنون) راغلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په مصحف ي د عبدالله بن مسعود رض (يعلمون) په ځای کي د (يظنون). راغلی دی. نو سوال ددې دی چي پر معتقداتو خو يقين لازم دی کماتقرَّر في علم الكلام نو ظن څرنګه (إنهم ملاقو ربهم) چي د عقائدو برخسته عقيده ده کافي وي؟

ددې سوال په جواب کي د مفسرينو رح څو قسمه جوابونه دي. اول جواب د بيضاوي رحمه الله دی چي مظهري يې هم متابعت کړی دی. هغه دادی : أی يتوقعون لقاءالله ونيل ماعنده. حاصل ددې جواب دادی چي ظن محمول پر خپله متعارفه معنا دی، لکن مراد د ملاقات څخه د رب جل سلطانه رؤية الهي دی په جنت کي. او مراد د رجوع څخه رسيده و دارالثواب جنت ته بلاعقاب دی. او دواړي خبري مظنونه دي او متيقن نه دي. يعني نفس حشر في يوم القيامة نه دي. او يا رجوع و نفس جزاء ته مراد نه ده، ولي دا دوه خو متيقن عقائد دي.

او بل تفسير چي بيضاوي کړی دی او مظهري يې متابعت کړی دی. أو يتيقنون إنهم يحشرون إلى الله تعالى فيجازيهم. ددې جواب حاصل دادی چي په آيت کريمه کي ظن په معنا د علم دی ويؤيده قرائة ابن مسعود رض. او وجه د اطلاق د ظن پر علم باندي داده چي ظن مثلاً د علم سره وو په غلبه او رجحان د جانب موافق فلذا اطلق عليه. نو پر دې تقدير مراد د (ملاقوا ربهم) څخه مطلق حشر دی چي هغه يقيني دی او مراد د رجوع څخه مطلق جزاء ده چي هغه هم يقيني ده، نو په نيز د بيضاوي رحمه الله لفظ د ظن مجاز دی د علم څخه والعلاقة التشابه بينهما في الرجحان. او بغوي دعوی د اشتراك کړېده يعني لفظ د ظن په معنای

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مشهوره سره او په معنا د يقين دواړو راغلی دی. والله أعلم بصحبته.

او مظهري رحمه الله يوه ډيره په زړه پوري توجيه کړېده، دپاره د استعمال د ظن په خای کي د يقين، هغه داده چي: د هرچا چي غالب الظن دا وي چي زه دخدايه سره ملاقي کيږم او خدای ﷻ ماته جزاء پر اعمالو راکوي، نو عقل صحيح پر ده باندي آسانه کوي. صبر پر طاعت اليه او پر صبر د عصيان الهي څخه، د بېري د ضرر. مثلاً يو سړی چي ډير تږی وي اوپه ګيلاس کي اوبه پرتي وي او دده غالب ګمان دا وي چي دا اوبه مسمومي دي يعني زهر پکښي کي دي، نو هغه سړی پر مشقت دتندي صبر کوي او د ګيلاس اوبه نه چيښي. او دغه رنګه يو سړی چي سخت ناجوړی وي او دده غالب ګمان دا وي چي ددې ګيلاس په اوبو کي زما شفاء سته، مګر يقين يې وي چي ډيري ترخې دي، نو دا سړی پر تلخي د هغو اوبو صبر کوي او چښي يې. نو څرنګه په هغه سړي کي چي ايمان پر خدای ﷻ لري او عقيده پر جزاء د رضاء الهي او دلوی ثواب، بلکه په مشقت کي د عبادت لذت او عشق هم محسوسوي. ولهذا قال عليه الصلوة جُعلت قرة عيني في الصلوة. اخرجه الحاكم والنسائي.

فائدة: الصلوة معراج المؤمنين تكون سبباً و وسيلةً الى رؤية الله تعالى

وعن ربيعة بن كعب رضي الله عنه قال كنتُ ابيت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فآتيته بوضوئه وحاجته فقال سل قلتُ اسئلك مرافقتك في الجنة قال او غيرذالك قلتُ هو ذاك قال فاعنّي بكثرة السجود. رواه مسلم.

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اقربُ مايكون العبد الى الرب وهو ساجده. رواه مسلم ، مظهری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

اې اولاد دیعقوب په یاد کړی یعني په شکر سره زما هغه نعمت چې ما انعام کړی وو پر تاسي او ما تفضیل درکړی دی تاسي ته پر عالمیانو یعني ستاسي د زمانې. دا آیت دمخه هم تیرسو. فائده د تکرار یې داده چې دوی ته نعمت د تفضیل ور په یاد کې چې هغه د لویو نعمتو څخه دخدای ﷻ دی اووروسته وعید شدید پورې مربوط کې یعني (واتقوا) الخ

پوه سه! چې مراد د تفضیل څخه تفضیل د نیکه کانو ددوی دی چې په زمانه کې د موسی علیه السلام وه او وروسته تر هغه هم إلی مدةٍ مدیدةٍ یعنی إلی ان غیّروا دینهم.

نعمت وهغو ته ورکړه د نبوة علی نبوةٍ وه او کتاب الله تورات وو. او علم بکتاب الله او اعمال صالحه موافق د احکامو سره د تورات او په عین حال کې بادشاهي د دنیا او عدالت بین الناس او د انبیاء علیهم السلام سره کومك کول وه.

حکمت الهي: چې فضیلت د آباوو و ابناوو ته ور پیادوي دادی چې شرف د آباوو شرف دی د ابناوو او بل حکمت دادی چې تاسي موجودین هم هغه د آباوو نعمت حاصل کړی په اتباع سره د نبي علیه السلام والقرآن النازل علیه لأنّ فیه اتباع موسی ﷺ والتوراة وشرف آبائهم کان بسبب اتباع موسی ﷺ والتوراة وذالك الیوم محصور فی اتباع محمد ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والقرآن لأن دين موسى عليه السلام وكتابه قدنسخ بحكم الله و اقام الله عزوجل مقامها النبي عليه السلام والقرآن تذييلٌ.

يحيى بن معين رحمه الله وايي چي كامل صبر دادی چي تمنا به نه كوي د ماسوی د مارزقك الله تعالى. او راضي به اوسي په قضاء دخدای ﷻ په امورو كي د دنيا او آخرت. او داسي صبر لكه سر چه په بدن كي دی. قال الحافظ رحمه الله:

گوند سنگ لعل شود در مقام صبر ❊ آهن شود ولیك بخونی جگر شود

پوه سه! چي خدای جل سلطانه بيان كړی د جزاء د اعمال صالحه وو. وجعل لها نهايةً واحدةً يعنى (من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها) او جزاء د صدقې فی سبيل الله يې فوق ترهغه بيان كړيده. يعنې قوله تعالى: (والذين يُنفقون أموالهم فی سبيل الله كمثل حبةٍ أنبتت سبع سنابل فی كل سنبلةٍ مائة حبة)الآية. او اجر د صابرانو يې بې حسابه بيان كړی دی. قال الله تعالى: (إنما يُوفَّى الصابرون اجرهم بغيرحساب)

فائدة: خدای پاك ځان موصوفه په صبر كنړلی دی كما ورد فی الحديث النبوی ﷺ ليس شيئ اصبر على اذى سمعه من الله تعالى إنهم يدعونه له ولداً و أنه تعالى يُعافيهم ويرزقهم.

فائدة: بعض اهل الله وايي چي كه ته غواړې چي زه مقتدا، دخلگو سم او ته خشوع نه پېژنې. خشوع دا نه دده چي ته به زيره ډوډۍ خوري يعنې يا جوارينه يا اوربشينه ، بلكه خشوع داده چي ته به دنيادار او مسكين په حق كي برابر بولي. اوبل خشوع به كوي په فرق عمل كي چي پرتا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ فرض کړی وي. فمن أظهر الخشوع عندالناس فوق مافی قلبه فإنما ظهر نفاقاً علی نفاقٍ.

فائدة: سهل بن عبدالله تستری وایي: لاتکون خاشعاً حقاً حتی تخشع کل شعرةٍ علی بحسدك وهذا هوالخشوع المحمود. ولي چي خوف الهي په زړه کي قرار ونیسي، نو تبعاً خشوع د ټولو اعضاوو سره لازمه ده لأن القلب هو الرئیس الأعظم لبقیة اعضاء الجسد، نود صاحب ددغي خشوع القلب په وسه نه ده پوره چي دفع خشوع الأعضاء الظاهر وکړي، نو ځکه ده همیشه سر کښته ځړولی وي او متادب او متذلل ناست وي. وأما الخشوع المذموم فتکلفه فی الخشوع عندالناس او یا تکلف د ژړا په صوت کي او سر یې کښته نیولی وي. یعني عند رؤیة الناس کمایفعله الجهال من العلماء والمتصوفة المراؤون ددې دپاره چي خلګ وده ته په سترګو د بزرګی او دخدای ﷻ د بیري وګوري وذالك خدعٌ من الشیطان و تسویل من نفس الإنسان اعاذنا الله من المکر بحضرت المليك المقتدر العليم بالظاهر والباطن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتَّقُوا يَوْمًا

أی عذاب یوم وهو یوم القیامة

لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ

ای نفس مومنة عن نفسٍ کافرةٍ لأنّ الشفاعة لأهل الکبائر ثابتة بالآیات والأحادیث والاجماع

شَيْئًا

ای من الحقوق اللازمة فی زمة النفس الکافرة فهومنصوبٌ علی أنه مفعول به لاتجزی صفةٌ یوماً والجملة اذا وقعت صفةٌ لابد من العائد فیها الی الموصوف کما هوالمقرر فی النحو.

وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ

قرء إبن کثیر ویعقوب وابوعمرو بالتاء والباقون بالیاء وکلاهما جائز لأن الفاعل وهو لفظ الشفاعة مؤنث غیرحقیقی یجوز فیه التذکیر والتأنیث للفعل المسندالیه یعنی لایقبل من النفس الکافرة شفاعة شافعٍ ان فُرض شفاعة الشافع له، او یا د نفس مومنه څخه که چیرې شفاعت د کافر وکړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ

يعنى فدية

وَّلَاهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۸﴾

أى لايمنعون من عذاب الله تعالى

پوښتنه: ضمير دجمع په (ولاهم يُنصرون) کي وچاته راجع دی؟

جواب: و کافرة ثانية ته راجع دی، ولي هغه که څه هم لفظاً مفرد دی، لکن چونکه نکيره دی او په سياق کي دنفي راغلی دی، نوعموم او کثرت فائده کوي کماتقرر فی العلوم العربية.

پوه سه! چي لاري دخلاصوالي دیو مجرم دعذاب څخه د دنيا يا شفاعت د يو شافع به وي، دهغه نفی دکفارو څخه په ورځ دقيامت په دې سره وکړی: (ولايقبل منها شفاعة) او بله لار د خلاصون دمجرم دنياوي داوه چي فديه او عوض مالي دخپل جرم ورکړي، دهغه نفی خدای ﷻ په دې سره وکړه: (ولايؤخذ منها عدلٌ). او بل طريقه د خلاص والي دمجرم دنياوي دا وه چي قوم دمجرم يې په زور سره خلاص کړي، دهغه نفی خدای ﷻ په (ولاهم يُنصرون) سره وکړه. فلايبقى فی ايدى الكفار غير اليأس من طرق النجات كلها.

پوه سه! چي په دې آيت کي رد دی پر يهودانو چي دوی به ويل چي زمونږ آباء انبياء، دي که څه هم مونږ کفر وکړو زمونږ شفاعت به کوي او مونږ به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعذاب الهي څخه خلاصوي. كيف يقولون ذالك وقدقال الله تعالى: (لن تنفعكم ارحامكم ولا اولادكم) وقال ايضاً (يوم يفرالمرء من أخيه)الآية وفى المثنوى:

چون يضرّ المرء آيد من اخيه ✣ يهرب المولود يوماً من ابيه
زان شود هر دوست آن ساعت عدو ✣ كه بت تو بود وانرمره مانع او

فائدة: معتزله په دغه آيت سره دليل وايي پر دي چي شفاعت د اهل كبائرو كنهو په ورځ د قيامت نسته.

والجواب منا أن هذه الآية مخصوصة بالكفار په دليل دهغو احاديثو نبويه وو چي بخارى او مسلم او نورو ثقات يې روايت كړى دى، بلكه احاديث د شفاعت دكبائرو كنهو والا متواترة المعنى دي.

وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

او په ياد كئ اې حاضرينو دعصرنبوي ﷺ چي مورِ نجات درکړى تاسي ته، يعني ستاسي و آل و آباوو ته په زمانه كي د موسى عليه السلام د آل فرعون څخه يعني د فرعون او دده اتباعو قبطيانو څخه چي دوى تاسي ته قصد كړى وو د بدعذاب، ولي چي دا عذاب چې بيان به يې راسي ډير بد وو نسبت ونورو عذابو ته كمالايخفى نو بايد تاسي ذكر د نعمت د آباو اداء كړى بالايمان بحمده ﷺ.

فائدة: دا جمله د(نجيناكم) آه تفصيل دى دهغه اجمال چي په دې قول كي دخداى ﷻ تير سو: (أذكروا نعمتى التى انعمت عليكم) آه يعني هغه نعم همدغه دي چي په دې آيتو كي به راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة: اصل د آل (اهلٌ) وو (هاء) يې په همزه بدل کړه په دليل ددې چې تصغير د آل (اهيل) راغلی دی او تصغير شيئ واصل ته دده ردوي كما هو القانون الصرفی، لكن لفظ د آل داسي چاته مضافيږي چې د رتبې والا سړي وي كه د آخرت وي لكه انبياء عليهم السلام او دنياوي عزتمند سړی وي لكه آل فرعون.

وعن الكسائی سمعتُ اعرابياً فصيحاً يقول آل و اويلٌ و اهل واهيل، نو كه روايت صحيح وي نو لفظ د آل اجوف واوي دی يعني اصل يې اول وو، نو يې واو متحرك مفتوح ماقبلها په الف بدل كړی، نو اهيل تصغير د آل نه دی. بلكه تصغير دآل اُوَيْل دی ل والاول هو الاشهر المتداول.

فائدة: لفظ د فرعون د يو معين سړي نوم نه دی، بلكه لقب دی د بادشاه دعمالقه وو چې هغه اولاد د عمليق بن لاوذ بن ارم بن سام بن نوح عليه السلام لكه لفظ د قيصر چې لقب دی د بادشاه، نو د رومیانو او كسری لقب دی دشاهانو د فارس. او يا اميرالمومنين چې لقب دی د خليفه د مسلمانانو.

فائدة: فرعون دموسی عليه السلام دزمانې نوم يې مصعب بن ريان وو. او بعض اهل تاريخ وايي چې دمصعب خوی وو چې وليد يې نوم وو چې د بقاياوو څخه د عاديانو وو. او فرعون د يوسف عليه السلام نوم يې ريان وو چې پلار د فرعون موسی عليه السلام وو او يا يې دپلار پلار وو. او ددغو دوو فرعونانو تر مابين تر څلور سوه كاله بالا زمانه تيره سوېده. فغلط من قال إنّ فرعون موسی هو فرعون يوسف عليه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائـــدة: چونکه فرعونان ډیر سرکښه او ظالمـان خلـک وه، نو عربـو په اشتقاق جعلي دلفظ د فرعون دا بـاب جوړ کړی: (تفرعن الرجل) یعنـي فلاني سړي فعل د فرعونیانو وکړی، یعني ظلم او سرکښي.

فائدة: فرعون بني اسرائیل څو ډلي ګرځولې وه. یوه ډله د نباء په کار یې اخته کړېوده یعني خښتي یې مُښلي او دیوالونه به یې وهله او فرعونیانو ته یې سرایونه او غټي غټي قلعه وي ورجوړولې، او بله ډله یې د کښت او باغو په کار اخته کړېوه. او درنې درنې ډبرې به یې دغرو څخه په راوړي. او پر بعض یې جزیه مقرره کړېوه. او ښځـو د بنـي اسرائیلو د فرعونیانو د کورو کارونـه ورکولـه. او همدغـه سوء العذاب د فرعـون وو چي بني اسرائیل ته یې ور کاوه چي د تاریخ په پانو کي دونه عذاب و یو قوم ته نه دی ورکړه سوی.

درویش وایي چي د فرعون موسی علیه السلام تاریخي معلومـات خو هغـه وو چي تیر سوه یعني د عملیق بن لاوذ آه دقـوم څخه وو چي عمالقه یې بلله او ددوی لویه برخه په مصر او په شاوخوا کي آبادوه. اما روح البیـان وایي په نقل سره چي فرعون موسی اصلاً اصفهانی وو یعني د ایران د اصـفهان باشنده وو. او بعض شمالي ملایان د افغانسـتان وایي چي فرعـون موسی دتـاش برغـان یعنـي دشـمالي افغانسـتان باشـنده وو او قصـه د فرعـون موسی علیه السلام ددواړو قولو سره یـو شی ده چي عنقریب بـه یـې درویـش بیـان کړي انشاءالله. امـا اولاً درویـش وایـي چي ددغـو درو قولـو په مابین کي منافات نسته او هر یو محتمل دی، ولي چي عمالقـه یـو لـوی قـوم وو نـو یحتمل چي فرعـون موسی علیه السلام اصـلاً باشنده د مصـر وو او دا احتمال هم سته چي فرعـون موسی علیه السلام دي سره د یوځـو کـورو پـه اصـفهان کي ګزاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوله. او یاسره د بعضي قومو دي په شمالي افغانستان کي ګزاره کوله .
په هرحال دهغه متشابه قولو آخر داقصه ده چي: فرعون موسی سواء کان
اصفهانیاً او من شمال افغانستان کان حرفته وکسبه التجارة فی بیع وشراء
الثمار یعني میوې لکه انګور، انځر، خټکی وغیره به یې په ډك پیمانه
راتیول او خرڅول حتی آل امرُه الی خسر التجارة ورکبه الدیون الثقیلة
یعنی تجارت یې تاواني سو او درانه پورونه پر باندي سوه. او په وطن کي
یې ګزاره د پوروړو دلاسه مشکله سوه. نوبې قصد ددي وکړی چي
دباندي ملك ته به ولاړ سي او هلته به خواری او کسب وکړي، که دي
روپی پیدا کړي پوروړو ته به یې راوړي. نو یوڅه مبلغ یې دځان سره
واخیستی اول شام ته ورغلی او هلته یې دخپل کاروبار زمینه مساعده نه
وبلل، بیا دهغه ځای څخه مصر ته ولاړی چي هلته یې قومیان هم ډیر وه،
هلته چي ورغلی موسم د خټکیو رسیدلی وو، نو فرعون موسیؑ اول
تربازار دباندي خټکي قیمت کړه. ۹ دانې په یوه روپي وه او بیا ورغی
دبازار په مابین کي یې قیمت کړه . هلته یوه دانه په یوه روپي وه. فکر یې
وکړی چي دا ۰ ډیره ګټه ده. نو دبازار دباندي یې په یوه روپې ۹ دانې
خټکیان رانیول او په پټو کي یې په شا کړه، یوڅو ګامه چي یې واخیسته
حکومتي عسکر ولاړ وه. فرعون ته یې وویل چي څشي دي په شا دي؟
فرعون ورته وویل : خټکي دي. عسکر ورته چي حکومتي محصول دي
ورکړی دی؟ فرعون ورته وویل یا. عسکرو ورته وویل: یوه دانه کښیږده.
فرعون یوه دانه کښیښوله. یوڅو ګامه چي یې واخیستل بل عسکر ولاړ
دی هغه هم ورته وویل چي څه شی دي په شا دی؟ فرعون ورته وویل
خټکي. عسکر ورته وویل محصول دي تحویل کړی دی؟ فرعون ورته
وویل اوس نژدي مي هغه بل عسکر ته ورکړی. عسکر ورته وویل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغـه د محصـول دتولیـدو عسـکر نـه وو زه دمحصـول د تولیـدو دپـاره حکومـت درولـی یـم. فرعـون یـوه دانـه خټکـی ودې عسـکر تـه ورکړی. وهکذا فرعون چې دبازار مابینځ ته ورتلی، یوه دانه ورپاتـه سوه هغـه یې په یوه روپي خرڅ کړی.

فرعـون دځـان سره فکـر وکړی چـې دابنـار نایُرسـان دی او ددې ځای حکومت د رعایتو دحاله څخه بیخي غافله او ناخبره حکومت دی. نو د بنار دباندې ووتی یو لوی قبرستان یې ولیدی. هلته یې ختې شروع کړې او دځان دپاره یې یوه کوچنی خونه جوړه کړه او هر مړی چې به دښار قبرسـتان تـه راوړی پنځـه روپـی بـه یـې محصـول حکـومتي څنـي اخیستی. اودخدای ﷻ تقدیر وو چې په دغه کال په مصر کې وبـار ګډوه وه او ډیر مړي به کیدله او فرعون موسی ﷺ خپل محصول پنځـه روپـی څنډي اخیستلي. آخر یې ډیري روپـی سره جمع کړې او یـو بـل سړی یې دځان سره مزدور کړی او خپل ځان یې د قومندان په نامه مشهور کړی. او مزدور یې د عکسر په نامه یاداوه. نو مړی چې به راغلی نو مزدور عسـکر به ورته ودربډی چې قومندان وایي چې محصـول تاویـل کړه پنځـه روپـی. خلکو به بې چون و چرا محصول تاویلوه.

آخر کلونه پر دې تیر سوه او فرعون ډیر نقود سره جمع کړه. اخیـر الامر د یـو غټ آمـر حکـومتي مـور مـړه ده چـې هـد یرې تـه یـې راوړه. دفرعـون عسکر ورته ودربډی چې محصول تاویل کړه. هغـه ورتـه وویـل چـې تـه چا مقرر کړې؟ هغه عسکر ورتـه وویـل چـې مـور دحکومـت دخـوا مقرر یـو او قومندان په کوټه کې ناست دی. خیـر خـو هغـه آمـر پنځـه روپـی ورکړې. د مور د دفن کولو څخه چې فارغـه سو، نـو هغـه آمـر دښـار یعنـي د مصـر و بادشاه ته راپور وړاندې کړی او د فرعـون قبرسـتان تولـه مـاجرې یـې ورتـه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیان کړه، نو بادشاه عسکر ور واستوله چې ورسئ د قبرستان قومندان راولئ.

فرعون موسی علیه السلام چې یې باچا ته یې وروستی باچا پوښتنه څندي وکړه چې ته پر دي وظیفه دمړو دمحصول چا مقرر کړی یې؟ فرعون ورته وویل چې هیڅ چا نه یم مقرر کړی ما پخپله ځان مقرر کړی، باچا ورته وویل : په څه خاطر؟ فرعون دختکو قصه ورته وکړه فرعون ورته وویل چې ماچې فکر وکړی چې ستا حکومت ډیر غافل حکومت په خیال راغلی، نو ما دغه کار دمحصول د مړو دکلو راهیسي شروع کړی دی. خو دبده مرغه نن ستا دحکومت دغټ آمر د مور په مرګ کې زه رُسوا سوم. او هغه پیسې چې فرعون سره جمع کړي وې و باچا ته یې کښیښتولې.

دباچا عقیده دا سوه چې دا سړی ډیر هوښیار دی. نو فرعون ته یې وویل چې ته زما سره د حکومت په کارو کې یاري وکړه. فرعون ورته وویل چې ماته یوه غټه عهده په لاس راکړه، زه به ډیر ستا حکومت پرمخ بوزم هغه وو چې باچا ده ته د وزارت یو مقام وروسپارله. فرعون د ډیرې پوهنې څخه کار واخیستی او پولیس او عسکر یې سره منظم کړه او د رعیتو په کارو یې ځان خبراوه، نو رعیت ډیر دده څخه راضي وو او ډیر ګلونه یې دغه د وزارت چوکۍ په ښه ډول وچلول. او آوازه د عدل او انصاف یې په ټوله مصر کې نشر سول. اخیر الامر چې باچا مړ سو، خلګو د مصر ټوله پر ده اتفاق د باچاهۍ وکړی. فرعون په مصر کې څو موده د شاهي دوره چلول چې خلګ یې ولیدل چې وده ته ډیر جلب سول، نو یې دخدایي دعوه وکړه او خلګو د مصر هم ورسره ومنل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چې پر هغه تقدیر چې فرعون موسی علیه السلام اصلي د مصر باشنده وو، نو دی د اصل څخه بادشاه مصر وو او بیا یې دعوه د خدایي وکړه. والله أعلم بحقیقة الحال

او که چیرې اصفهانی الاصل وو او یا افغانستانی الاصل وو، نو په مذکوره حیله یو وار خان وبادشاهي ته ورساوه او وروسته یې دعوی د خدایي وکړه کما مرّ آنفاً

يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾

چې دوی یعني فرعون او اتباعو دده به ذبح کول ستاسي بنـي اسرائیلو پیداسوي خامن او ژوندي یې پریښولې ستاسي پیداسـوي نجـوني او په دغه فعل کي د فرعونیـانون ستاسـي سره سـخت امتحـان وو د صـبر په سخت عذاب سره. قال الله تعالی: (ونبلوکم بالشر والخیر فتنة) یعني ګاهي امتحان دخدای ﷻ په شر، یعني عذاب سره د آزمایني دصبر او ګاهي په نعمت او رخاء سره دپاره د امتحان د شکر دی، نو نبه بنـده دخـدای ﷻ هغه څوک دی چې په نعمت کي شکر دخدای ﷻ لسانـاً وقلبـاً وعمـلاً اداء کوي او صبر کـوي په نیـز د شـدت او سـختی یعنـي دخـدای ﷻ څخه شکایت نه کوي.

پوه شـه! چې د ذالکم اشاره که انجاء ته دبنـی اسرائیلو وي د فرعـون څخه، نو مراد د بلاء څخه امتحان بالنعمت دی او که اشـاره و یسـومونکم ته وي نو مراد څنـي امتحـان بالعـذاب والشدت دی. نو پر اول تقدیر نو خدای ﷻ ودوی ته موسی علیه السلام نبي ور واستاوه چې په سبب دهغـه فرعـون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرق سو او بنـي اسرائيل خـني خلاص سوه. او پر دوهم تقدير خداى ﷻ فرعون پر دوى مسلط كړى.

فائـــدة: جملـه د (يـذبحون ابنـاءكم) مظهـري رحمه الله يـې بـدل بـولي د (يسـومونكم) څخـه او روح البيـان يـې جملـه مستانفه پـه استيناف بيـاني بولي، يعنـي جـواب دسـوال ناشـي د ماقبلـه څخـه والسـؤال ماحقيقة سوء العذاب بهم . او بيضاوي يې عطف بيان د (يـسومونكم) بولي.

او سبب ددې سوء العذاب د فرعون تولو مفسـرينو پـه يـوه خولـه داسـي وايي چي فرعون خوب ليدلى وو چي يو اور د بيت المقدس څخه راووزي او پـر مصـر احاطـه وكـړي او تولـه قبطيـان پكښـي وسـوزل سـي او بنـي اسرائيل پكښي سالم پاتـه سي. نو دكاهنانو څخه دملك يې ددې خوب تعبير وغوښتى، هغو پـه اتفاق ورتـه وويـل چي پـه بنـي اسرائيل كـي بـه ژر دى چي يو كوچنى پيداسي چي سبب دده زوال د سلطنت به وگرځي.

نو فرعون دتقدير الهي دمخنيوي دپاره د تدبير لار غوره كړه مع أنهم قالوا التقدير يضحك بالتدبير . او امر يې وكړى چي من بعـد ازيـن چي پـه بنـي اسرائيلو كـي نر عيـال پيدا كيـږي هغـه دي قتـل كيـږي و نجونـي دي پريښـول كيـږي او دايـاني يې راوغوښتي چي تاسـي بـه پـه كـورو كـې د بنـي اسرائيلو د حامله ښځو د وضع الحمل پـه وخـت كـي بايـد حاضـري ياسـت چي ښولي كار وكړي.

بعض مفسـرين رح وايـي چـي فرعـون پـه طلـب كـي د موسى عليـه الـسلام دوولـس زره نـوزائيـده كوچنيـان ووژلـه . او وهـب بـن منبهـه رح وايـي چـي نيـوي زره ۹۰۰۰۰ كوچنيـان يې ذبح كړه. پـه هر صـورت راويـان د قصې پـه اتفاق سره وايي چي خداى ﷻ پـه سپيـن ږيرو او خوانانو كـي يـو وبايـي مرگ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګډ کړی. نو رئیسان د قبطیانو فرعون ته ورغله چې کوچنیان د بنې اسرائیلو ته وژني او په خوانانو او کلان سالو کې ددوی وبایي مرض ګډ سو. نو دوی ورته وویل چې اخیر الامر به انجام ستا دکار دا سي چې ټوله کارونه او عملونه به د قبطیانو پر ذمه پاته سي. نو فرعون امر وکړی چې یو کال دي د بنې اسرائیلو کوچنیان وژل کیږي او یو کال دي نه وژل کیږي. نو هارون علیه السلام په هغه کال پیدا سو چې کوچنیان د بنې اسرائیلو نه وژل کیدل او موسی علیه السلام په هغه کال پیدا سو چې کوچنیان یې وژل کیدل. وسیأتی تفصیل القصة إنشاء الله تعالی.

پوښتنه : نساء خو په عربي ژبه لویې ښځو ته وایي او فرعون چې نه وژلي هغه خو کوچنی نو زاده نجوني وې نو ده نساء اطلاق څرنګه پر وسو؟

جواب : دا اطلاق په اعتبار د مایؤول الیه دی یعني اخیرالامر به دغه نجوني پاته سي نساء به وګرځي کما فی قوله تعالی فی سورة یوسف (إنّي أرانی اعصرُ خمراً) ای عنباً یؤول إلی الخمر.

فائدة: داود بن رشید رحمه الله چې د اصحابو یعني دشاګردانو څخه د محمد بن الحسن رحمه الله وو وایي چې یوه شپه بیده سوم. دشپې یخ واخیستم، تلتك وغیره نه وو، نو مي خدای ﷻ ته وژړل وروسته بیده سوم په خوب کې یو څوك راته وایي چې ماخلګ بیده کړه او ته مي دخدمت د عبادت دپاره ویښ پریښولې، ته لاژاړې؟ فکان داؤد لاینام بعدذالك لیلاً الا قلیلاً. قال المولوی المعنوی رحمه الله فی مثنویه:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

در دو مریشم داد حق تامن مرخواب ✣ بر جهم هر نیم شب لابد نشاب
تا نخیم جمله شب چون گوومیش ✣ دردها بخشید حق از لطف خویش

فائدة: هرمصیبت او غم او ناجوړي وغیره چې پر مسلمان مسلط سي، دخدای جلت قدرته، دادي ګمان نه کوي چې زماځخه خدای ﷻ خپل لطف او مهرباني او رحم قطع کړی، ولي چې عقل او عادت او شریعت پر دې شاهد دی چې په عین حال کې دمصیبت دناجوړی ونحوها لطف الهي ورسره همراه دی. اماالعقل هرعاقل په دې پوهیږي چې که زه خدای ﷻ مسکین کړی یم مثلاً سترګې، صحت دبدن او دنورو اعضاوو صحت خو دخدای ﷻ لطف او مهرباني دماسره . وهکذا یو سړی که په سترګو ړوند وي، دی په دې پوهیږي چې په لاسو او یا په پښو ګوډ نه یم الی غیرذالك، نو خو دده ځخه لطف او مهرباني دخدای ﷻ نه ده قطع سوي. بلکه لطف الهي په کراتو مراتو تر هغه مصیبت چې زه په مبتلا یم بالادی. **واماالعادة** هر مسلمان خصوصاً بلکه که بنې آدم په دې پوهیږي چې انسانان به دعادت الهي سره سم خامخا دیو تکلیف سره مخامخ وي او عادت دا فیصله کوي چې نسبت ومقدوره تکلیفاتو او مصائبو ځخه زما تکلیف بیخي جُزوي دی، نو عادت هم قضاوت کوي چې لطف دخدای ﷻ په عین وخت د تکلیف او مصیبت زماځخه قطع نه دی. **واماالشریعة فقدقال رسول الله ﷺ اذا اَحَب الله عبداً ابتلاه فان صبر اجتباه وان رضی اصطفاه وفی حدیث آخر وهو صحیحٌ ایضاً اشد الناس بلاءً الانبیاء ثم الاولیاء ثم الامثلْ فالامثل فعلی العاقل ان یصبر علی بلایاه التی من جانب الله عزوجل ولیعطف نظره علی المصائب والبلایا التی نجاه الله تبارك وتعالی منها.**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي د صبر علی البلایا معنا دا نه ده چي سړی به په دفع دبلا وبادار خپل ته د دفع د بلا واقع درخواست نه کوي او یا به دوا نه کوي. واماالکاملون فی ولایة الله عزوجل وخاصة اولیانه فمستثنی من

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ

وجوههم کالقمر لیلة البدر لایدخل اولهم حتی یدخل آخرهم یدخلون متماسکین قیل من هم یارسول الله؟ قال هم الذین لایکتوون ولایسترقون وعلی ربهم یتوکلون الی آخر الحدیث او کماقال رسول الله صلی الله علیه وسلم. قال عز وجل :

وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

او په یاد کړئ هغه وخت اې حاضرانو یهودانو ! دعصرنبوی ﷺ چي مونږ توته توته کړی بحرنیل (اوبعض وایي چي بحر قلزوم وو او بعض وایي چي بحر فارس وو) په سبب ستاسي د آباو د دخول. او یا (باء) په معنی د لام ده یعنی (فرقنا لکم البحر) نو مونږ تاسي ته یعني ستاسي و آباو ته چي زمانه د موسی علیه السلام وه نجات ورکړی د غرق څخه او مونږ غرق کړه آل فرعون یعني ټوله قبطیان سره د فرعون . او تاسي یعني ستاسي آباو ورته کتل چي د بحر اوبه پس له بندیدو څخه په کثرت او خروش او جوش سره پر فرعونیانو او قبطیانو باندي را روانې سوي. او ټوله یې په لپیټ کي ونیوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او تفصیل القصه دادی چې څه وخت هلاکت د فرعون نژدې سو، نو موسی علیه السلام خدای پاك امر کړی چې بني اسرائیل د شپې دکورو څخه وباسه او په کورو کې دي څراغان لګیدلي پریږدي، ترڅو چې څوك شك وانخلي. او په دغه شپه خدای ﷻ پر قبطیانو موت مسلط کړی، نو دوی تر سهاره په دفن د مړو اخته وه او موسی بنی اسرائیل شپږ لکه نفر یا څه بالاد مصره څخه وایستله. او تاریخ وایي چې دوی چې یعقوب علیه السلام سره مصر ته داخل سوه دو اویا ۷۲ اویا نفره نر او ښځي وې. راوي وایي چې بني اسرائیل چې د مصره ووتله د رودئیل لاړ خني ورکه سوه، روان به وه، لکن د لاري درك نه ور معلومیدی، نو موسی علیه السلام د سپین ږیرو څخه د بني اسرائیلو پوښتنه وکړه چې داڅه سرګرداني ومومږ ته پیښه سوه او سبب یې څه دی؟ نو هغو ورته وویله چې دیوسف علیه السلام وخت د وفات چې نژدې سو، نو دوروڼو څخه یې وعده واخیسته چې تاسي به د مصر څه نه وزئ چې ما درسره ونه باسئ، نو موسی علیه السلام ددوی څخه پوښتنه وکړه چې قبر یې چیرې دی؟ هغو ورته وویل چې مونږ ته نه دی معلوم، نو موسی علیه السلام نعره وکړه چې زه په خدای ﷻ قسم ورکوم هغه چاته چې قبر د یوسف ورمعلوم وي مګر ماته دي یې نه راوښیي. او چاته چې نه وي ورمعلوم دهغو غوږونه دي زما دخبرو د اوریدو څخه کاڼه وي. نو داډده آواز بیله یوې سپین سرې ښځي څخه بل هیڅ چا نه واوریدی. نو دې ښځي ورته وویل که زه قبر دیوسف علیه السلام در وښیم ته زما هر خواست قبلوې. موسی علیه السلام ورته وویل چې زه به دخدای ﷻ سره صلاح وکړم، ولي قاضي الحاجات خو خدای ﷻ دی زه نه یم ، نو پس له مشورې خدای ﷻ ورته وویل چې غوښتنه د سپین سرې ورسره قبول کړه. نو ښځي ورته وویل چې زه خو د تګ څخه عاجزه یم، نو خدای ﷻ دي ماته قوت البدن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راکړي چې زه ستاسي سره د مصر څخه ووزم. او بل په ورځ د قیامت دي خدای پاك ما ستا سره یوځای کړي. موسی علیه السلام ورته وویل : نعم نو سپین سري چې بدن یې قوي سو وموسی علیه السلام ته وویل چې پر دغه برابر په نس کي د رود نیل په تابوت کي ښخ دی. نوموسی علیه السلام خدای ﷻ ته خواست وکړی چې یوسف علیه السلام د صندوق دځایه دي اوبه د رودنیل قطع کړي، نو اوبو هغه ځای خالي کړی. او دیوسف علیه السلام تابوت یې راوکښی او دځان سره یې یووړی. او په شام کي یې ښخ کړی، نو موسی علیه السلام پر ساقه یعني پر آخر د بني اسرائیلو را روان وو او هارون علیه السلام یې پر مقدمه را روان وو.

نو فرعون چې دشپې په وتلو د بني اسرائیلو خبر سو وې ویل چې د اول چرګ پر اذان به تاسي پسي وزئ. راوي وایي چې په دغه شپه هیڅ چرګ اذان نه کاوه. حتی چې ورځ سوه او لمر راوختی، نو فرعون پر مقدمه باندي هامان وزیراعظم په اوه لکه نفرو کي روان کړی. او فرعون چې نور خلګ سره جمع کړه یو کرور یعني سل لکه نفوس ته نفوس ورسیدله.

څه وخت چې بني اسرائیل و رودنیل ته ورسیدله. دپسرلي وخت وو، اوبه د بحرنیل ډیري په زیادت کي وې، او دبلي خوا فرعون سره دیو لوی لښکر بنکاره سو فتحیر بنواسرائیل وقدحکی الله ﷻ فی کتابه المجید (فلما تراء الجمعان قال اصحاب موسی انا لمدرکون) قال ای موسی (کلا ان معی ربي سیهدین) نو خدای پاك وموسی علیه السلام ته وحی وکړې (ان اضرب بعصاك البحر فانفلق فکان کل فرق کالطود العظیم) او کاالحیل العظیم او خدای ﷻ په رودنیل کي دوولس ۱۲ وچي کوڅي پیدا کړې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دیوې کوڅې او بلې کوڅې په مابین دوني اوبه وي لکه غرونه.

پوښتنه : د دوولس کوڅو حکمت څه وو؟

جواب : دبني اسرائیلو ۱۲ قومونه وه او دونه سره ضد وه چې یو د بل په کوڅه کې نه سره تله. که دا نه وای، نو څو یوه لویه برداره کوڅه یې کافي وه. او چونکه د دوو کوڅو تر مابین لکه غرونه اوبه ولاړې وې، نو دوی موسیٰ علیه السلام ته وویل چې که زموږ عزیزان غرق سوه، موږ څو نه په خبر یرو، نو بیا خدای ﷻ دتولو کوڅو په مابین کې روښنداانونه پیدا کړه چې تولو سره لیدل.

نو بني اسرائیل خو سالم تیر سول. وار د فرعون د لښکر راغلی چې فرعون یې په مخ کې پر آس سپور روان وو. فرعون چې دریاب ولیدی چې کوڅې کوڅې دی ملعون پوه سو چې د هلاك دپاره دا یو لوی دام دی. او هغه د کاهنانو خبره یې ور پیاد سوه، لکن ظاهراً خلګو او لښکر ته یې وویل چې وګورئ دریاب زما د هیبت څخه کوڅې کوڅې سو چې موږ خپل تښتیدلي مریان راوګرځوو. او لښکر ته یې حکم ورکړی چې ورسئ لاس ترلي یې راوګرځوئ. او فرعون د خپل آس ملوني ټینګې کړې، چونکه فرعون پر نر آس سپور وو، جبرئیل پرښځه آس سپور راغلی او دفرعون د آس دمخه په کوڅه ننوتی. دفرعون آس پسې زورونه کړه او فرعون یې بلا اختیاره کوڅې ته داخل کړی. او میکائیل علیه السلام پر بل آس سپور وو او دشاخوا پرخلګو به یې نعرې وهلې الحقوا باصحابکم، نو تولې د فرعون کوڅو کې داخل سو او د دریاب دیوې غاړې تر بلې غاړې پورې څلور فرسخه مسافه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوي وايي چې څه وخت چې د جبرئيل عليه السلام آس هغه بلې غاړې ته ورسيدی او د فرعون د آس دوې پښې تر کوڅې ووتلې، موسی عليه السلام و درياب ته د جريان امر ورکړی. د درياب د غرونو په شان اوبه يو دم راماتې سوې او ټوله غرق سوله. ولله الحمد علی ذالك.

فائدة: راوي وايي چې فرعون چې دوب سو او سر يې راپورته کړی داسې يې وويله: (لاإله إلا الذی آمنت به بنو إسرائيل) جبرئيل عليه السلام يې په خوله کې ختې ورتخته کړې.

پوښتنه: دتوبې دروازه خو خلاصه وه، نو ولې جبرئيل عليه السلام يې په خوله کې ختې ورتخته کړې؟

جواب: ايمان عند معانية العذاب الالهي غير مقبولة. اوبل داچې دا ايمان منافقانه وو. دليل يې دادی چې ده ولې داسې نه ويل چې (لاالـه الاالله) ولې يې بنې اسرائيل ته نسبت وکړی.

فائدة: بنې اسرائيل دونه د فرعون څخه بيريدله، حتی چې موسی عليه السلام ته يې وويل: که دا فرعون ژوندی د اوبو څخه راووتی، نو موږ به څه کوو؟ بيا خدای عزوجل د فرعون لاښ د درياب په څپه وچې مخکې ته وغورځاوه چې ټولو بنې اسرائيلو بې روحه دده ملعون لاښ وليدی. نو مطمئن سوه.

فائدة: دآنحضرت صلی الله عليه وسلم دخبرې او دموسی عليه السلام دخبرې ډير فرق ستاسه. موسی عليه السلام قوم ته وويل (کلا إن معی ربي سيهدين) کما مرّ آنفاً. او عليه السلام و ابوبکر رضی الله عنه ته وويل (لاتحزن إن الله معنا) يعنې موسی عليه السلام (معی) دمخه کړی او عليه السلام دخدای عزوجل نوم دمخه کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې دا وینا دعلیه السلام و ابوبکر ﷺ ته هغه وخت وه چې دوی د هجرت په اوله ورځ په غار کې د جبل ثور پټ وه او مکې والاوو د پل په ښوونه تر دغې غاري پورې راغله او پل زن ومکې والاوو ته وویل چې پلونه خو تر دغه ځایو پورې راغلي دي. نور نه پوهیږم چې آسمان ته دا دوه نفره ختلي دي او که په مځکه ننوتلي دي. نو په همدغه وخت کې ابوبکر ﷺ و علیه السلام ته کرار وویل چې که کافرانو خپلو پښو ته وکتل مونږ به ووینې، نو علیه السلام ورته وویل : (لاتحزن إن الله معنا) ته غم مه کوه خدای ﷻ زمونږ سره ملګری دی.

وَإِذْ وَعَدْنَا مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴿٥١﴾

او په یاد کړئ اې بني اسرائیلو هغه وخت چې مونږ وعده وکړه دموسی سره یعنې دکتاب د ورکړې.

پوه سه! چې ابن کثیر رحمه الله او نافع رحمه الله او عاصم رحمه الله او ابن عامر رحمه الله او حمزه رحمه الله او کسائي رحمه الله یې په باب د مفاعله وایي. ولې خدای ﷻ وعده دوحی ورسره وکړه او موسی علیه السلام وعده د ورتګ د طور ورسره وکړه.

اوبعض مفسرین رح وایي چې باب د مفاعلي په معنا د مجرد دی لأنه یجوز ذالك کما فی الشافیة. او بعض مفسرین رح وایي چې وعده خو د خدای ﷻ دخوا څخه وه او دموسی دخوا قبول د وعدې وو او قبول د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعدې مشابه د وعدې سره دی. او باقي قراء یې په صیغه د مجرد وایي. یعني وَعَدنا.

پوه سه! چې موسی مفعول اول دی د (واعدنا) او (اربعین لیلة) یې مفعول ثاني دی. او پر تقدیر د وعدنا المجرد موسی یې مفعول دی او (اربعین لیلة) یې حال دی.

فائدة: (مو) په عبراني ژبه اوبو ته وایي او (شی) درختي ته وایي. نو شین یې په عربي کي په سین بدل کړی، نو موسی ځندې جوړ سو. وجه ددې نامه داده چې موسی په هغه کال وزېږېدی چې فرعون د بني اسرائیلو نر کوچنیان وژله کمامر. نو دموسی مور چې د فرعون ځخه بیریدله چې راسي مړ یې کړي. نو یې خپل ځوی په صندوق کي واچاوه او رودنیل ته یې ور وغورځاوه. نو په قدرت الهي څپو د دریاب صندوق په هغه واله کي راوستی چې د فرعون د ګل باغ په درختو کي تیره سوېوه. او صندوق د درختو په مابین کي بند پاته سو. نو د ورځي چې د آسیه زوجة فرعون پرستارانوښځو په هغه واله کي غُسل کاوه، دا صندوق یې ولیدی، نو یې را واخیستی او د آسیې مخ ته یې کښیښوی ، هغې چې قلف د صندوق مات کړی، یو زیبا کوچنی پکښي پروت او ګوتـه یې په خوله کي وه. آسیې چې ګوتې راکش کړه، تر ګوتـه یې سپینې شیدې راتلې او کوچنې رودلې. نو نوم یې موسی پر کښیښوی.

دا قضیه چې فرعون ته پیش سوه، فرعون آسیې ته وویل چې شاید دغه هلك به زما هغه دښمن وي چې ماته کاهنانو معرفي کړی وو. نو باید چې مړي یې کړم. آسیه ورته ټینګه سوه چې نه به یې وژني او دا یې ورته وویل: (عسی ان ینفعنا او نتخذه ولداً) کماسیجیئ فی موضع آخر من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرآن الكريم. آسيې ځوی نه درلودی، نو ځکه فرعون دا هلك ددې ور پرېښودی.

دا عظيم قدرت دخدای ﷻ دی چې يوه دښمن ته دبل دښمن په کور کې تربيه ورکول کيږي. او دښمن د دښمن ځوی بلل کيږي لماروی ان موسی لما کبر سماه الناس موسی بن فرعون. باقي حصه به يې په خپل مناسب ځای کې راسي انشاء الله تعالی.

نسب نامه دموسی عليه السلام داسي ده. موسی بن عمران، بن يصهر بن فاهته بن لاوی بن يعقوب اسرائيل الله ابن اسحاق بن ابراهيم ﷺ.

پوه سه! چې بيضاوي رحمه الله وايي چې څه وخت چې بنې اسرائيل پس له هلاك د فرعونيانو بيرته مصرته راغله، نو خدای ﷻ د موسی سره وعده وکړه چې زه به تاته کتاب تورات درکړم او وخت يې ورته وټاکی د مياني مياشت او لس ورځې د لوی اختر دمياشتې. او روح البيان وايي چې اول خدای ﷻ موسی امر کړی په ديرشو ورځو روژه دمياني دمياشتې، نو چې ديرش ورځې موسی ﷺ دمياني روژې ونيولې، نو موسی دپاره د خبرو د رب جل شانه او د تورات په احترام مسواك وواهه او پاکي جامې يې واغوستلې. خدای ﷻ ورته وويل چې ته ولې مسواك وواهه؟ لخلوف فم الصائم اطيبُ عندالله من ريح المسك، نو يې ورته وويل چې لس روژې د ذوالحجة هم ونيسه. او همدا قول صحيح دی، ولې په بل ځای د قرآن کې صراحتاً راغلې : (و واعدنا موسی ثلثين ليلةً وأتممناها بعشرٍ فتم ميقات ربه اربعين ليلةً) ولعل البيضاوی اخذ بالحاصل. وقال المظهری مثل ماقال البيضاوی رحمه الله لأنه فی جميع تفسيره يتبع البيضاوی رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة: قرآن مبارك هم په دې آيت کې تولـه شپې سره جمع کړيدې نو (أربعين ليلةً) يې وويل، نو ځکه روح البيان والا وايي : ای تمام اربعين على حذف المضاف او وروسته يې داسې ويلي دي چې اولاً خدای ﷻ امر کړی موسی عليه السلام په ديرشو روځو د ذوالقعدة ، وروسته يې لس روځې د ذوالحجة پر بالاکړې والسبب فيه ماقلنا آنفاً.

پوښتنه: روځې خو د ورځې نيول کيږي نو تعبير په أربعين ليلةً سره ولې وسو؟

جواب: بيضاوی او هم روح البيان او هم روح المعانی او هم تفسير کبير وغيره داسې ورکړی دی چې د عربو حساب پر قمري ميـاشتو مبني دی، نو د قمري ميـاشتې اول خو شپه وي او ورځ يې تبع ده او همداسبب دی چې تاريخ د هجرت نبوی ﷺ هم پر قمري کلو مبني دی چې په وخت کې ددې تفسير د شروع هغه سنه ۱۴۲۴ھ ق اللهم وفقنی لاتمام هذا التفسير بالخير والعافية والصحة والسلامة والفرح والسرور واجعله حجة لی يارب العالمين.

مصرع : من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن در بغل

قوله تعالى: (ثم اتخذتم العجل) مفعول ثاني يې محذوف دی أی آلهاً ومعبوداً تسجدون له. (من بعده) ای بعد ذهاب موسی عليه السلام الى الطور.

درويش وايي چې تولـه قصه د عجل به په خپل ځای کې راسي انشاء الله تعالى. (و أنتم ظالمون) بوضع العبادة التی هی حق الله خالصةً فی مخلوقه كماهو معنی الظلم ای وضع الشیئ فی غير موضعه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال الله تعالی:

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ

یعني در ومي بخښله دا ګناه د عبادة العجل وه تاسي ته یعني تاسي توبه وکښل

مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ

یعني وروسته تر هغه لوی ګناه چي شرک وو او هلاک مي نه کړاست تر وخت د موسی د رائګ.

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ

یعني ددې لوی نعمت دعفو د اکبرالکبائر ګناه. سعدي:

خردمند طبعان منت شناس ✤ بدو نرند نعمت بیخ سپاس

پوه سه! چي شکر د نعمت به خوله هم کوي. یعني الحمدلله مُعطی النِعم او په جوارحو یعني اعضاوو به یې هم کوي. لکه لمونځ ، حج وغیره او په مال به یې هم کوي لکه زکات وغیره او په زړه به یې هم کوي. یعني عبادت په اخلاص او په حضور قلب کماقال سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم فی حدیث طویل رواه البخاری وغیره: الإحسان أن تعبدالله کأنك تراه الی آخرالحدیث. او داسي به نه کوي لکه یو شاعر چي وایي :

بر زبانت یاصمد پیدا و در دل با صنم

ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چه سُود

مصرع :

توبه فرمایان چرا خود توبه کمتر میکنند؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾

او په یاد کړئ هغه وخت چې موږ ورکړی موسی ته کتاب یعنې التورات او فرقان چې هغه تورات دی چې فارق بین الحق والباطل دی، نو د کتاب موسی دوه نومان دي. او بعض مفسرین رح وایې چې مراد د فرقان څخه هغه معجزات دموسی دي چې فارق بین المحق والمبطل دي. او بعض مفسران رح وایي چې مراد د فرقان څخه شریعت دی دموسی علیه السلام چې فارق وو بین الحلال والحرام. او هغه خبره چې کسایي رحمه الله کړېده چې فرقان صفت دی د تورات او واو زائد دی د خوند خبره ده لعدم الحاجة الی زیادة الواو. شاید تاسي به لار پیدا کړی په نبوونه د تورات.

پوه سه! چې قصه د اتخاذ العجل آلهاً علی ماذکره المفسرون داده چې څه وخت چې میقات د اتیان دموسی علیه السلام کوه طور ته ورسیدی، نو جبرئیل علیه السلام ورته راغلی او پر آس سپور وو چې هغه آس ته فرس الحیواة ویل کیدی ترڅو چې موسی علیه السلام ورسره بوزي طور ته. نو د جبرئیل علیه السلام آس چې پر هره مخکه پښه کښیښوله لاندي تر هغه به وانبه راشنه سوه. د موسی علیه السلام یو سړی پر دین دده منافقانه ملګری وو. چې نوم یې میخا وو او په سامري سره مشهور وو. او کسب یې زرګري وه، نو سامري چې د آس د جبرئیل علیه السلام د پښو څخه د وښو راشنه کیدل ولیدل، د خان سره یې وویل إن لهذا شأناً نو د آس تر پښو لاندي یې یوڅه خاوره دخان سره واخیستل. او سامري چې د بني اسرائیلو څخه واوریدلې چې دوی تر دریاب تیر سولې او پر یو داسي کلي ورغلې چې هغو بتانو ته سجدې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولې، نو بني اسرائیلو وموسیٰ علیه السلام ته وویل: (اجعل لنا آلهةً کمالهم آلهةٌ) نو د سامري په خیال کې دا ورګرځیدله چې د بت پرستی په سبب به زه قوم د موسیٰ علیه السلام د دین د موسیٰ علیه السلام څخه بیزاره کوم.

نوهغه وخت چې بني اسرائیل د مصرڅخه وتله په امر د موسیٰ علیه السلام چې هغو ښځو د بني اسرائیلو چې د فرعونیانو د کورو خدمت به یې کاوه د فرعونیانو د ښځو څخه زر او زیور په عاریت د یوې شپې دپاره په بهانه د واده په بني اسرائیلو کې غوښتي وه او هغو هم خپل زر او زیور ودوی ته ورکړي وو. نو فرعون او اتباع ددې چې په رود نیل کې غرق او هلاك سوه ، هغه زر او زیور د بني اسرائیل دښځو سره ورسره وو. نو څه وخت چې موسیٰ علیه السلام مناجات ته دخدای ﷻ ولاړې، سامري به بني اسرائیلو ته شپه او ورځ دواړه پر دوو شپو ور حسابول او په شل ورځې یې څلویښت ورځې ور پوره کړې. نو بني اسرائیلو ته یې وویله چې د موسی خو څلویښت ورځې پوره سوې او رانه غلی چې دا څه سبب دی، نو سامري ورته وویل: زما په خیال دموسی مانع د راتګ دغه زر او زیورات دي چې زمونږ سره دي. راسئ چې دا په یوه کنده کې واچوو، نو ګوندې موسی به راسي. فلما جمعوا الحلی والقوها فی حفرة، نو سامري خپل زرګري پر شروع کړه او په دري شوارونز کې یې ګیلګئ دغوا د سروزرو او سپین زرو او د غمیانو څخه جوړ کړی. او هغه خاوره دجبرئیل د آس د پښو یې په خوله کې ورواچوله. نو هغه ګیلګئ چې د سروزرو څخه جوړ وو او په جواهراتو او غمیانو ښائیسته وو څغاستی او د ګیلګي ناري یې وهلې، نو سامري وبني اسرائیلو ته وویل (هذا إلهکم و اله موسی فنسی) دغه دی ستاسي او دموسی خدای، نو دوی یودبله سره چپ سوي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو عبادت ددغه ښائيسته ګيلکي چي دوی يې تر اوسه مثل نه وو ليدلی ټولو بني اسرائيلو چي په لکو وه شروع کړی، صرف د هارون عليه السلام چي موسی عليه السلام په وخت کي د تلو د کوه طور خليفه او جای نشين ټاکلی وو دوولس زره ۱۲۰۰۰ کسه پر توحيد پاته سوه. وهذا حاصل ما فی تفسير المظهری.

وماقال صاحب روح البيان : د ګيلکي په باره کي وكان لحمٌ ودمٌ وشعرٌ فليس على ذروة التحقيق لأنهم لايعتبرون بعجلٍ له دم ولحم وشعرٌ لأنهم رؤا كثيراً من هذا القسم من العجاجيل فلم لم يعبدوها بل انما عرَّهم السامری بان هذا العجل كان من الذهب قوائمه ورأسه مكل بالبواقيت وله خوار العجل ولم يروا جسماً احسن منه، فلما قال لهم السامری هذا الهكم واله موسی آه قبلوه وعبدوه كلهم الا قليلاً منهم كما مرَّ.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذْقَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ

او پیاد کړئ هغه وخت چې موسیٰ علیه السلام وویل و قوم ته خپل یعنې هغه کسانو ته چې عبادت د عجل یې کړی وو. اې قومه په تحقیق سره تاسې ظلم کړی پر خپلو ځانو، ولې چې ضرر د عبادة تاسې ته راجع دی یعنې عذاب لهې، نو توبه وکاړئ یعنې رجوع ددغه شرکه څخه وکړئ وهغه خدای ﷻ ته چې ستاسې پیدا کوونکی دی.

پوه سه! چې معنی د باری داده چې تاسې یې یو دبله څخه په صورتو او شکلو سره جلا کړې یاست.

فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ

او تاسې قتل کړئ خپل ځانونه.

پوه سه! چې د آیت معنا دا نه ده چې تاسې خودکُشي وکړئ بلکه معنا یې داده چې هغه کسان چې عبادت العجل یې نه دی کړی هغه عبدة دي قتل کړي.

پوه سه! چې (فاء) دپاره د بیان دتوبې ده یعنې ستاسې توبه همدغه قتل النفس ده. اوبعض مفسرین رح وایي چې توبه ددوی خو هغه رجوع قلبي او پښیماني وه او قتل نفس په متمم د توبې وو. لکه ردالمظالم چې زمونږ د توبې متمم دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ

او دا قتل نفس خير دی تاسي لره په نيز د خدای ﷻ ستاسي، ولي دشرک څخه به خلاص سئ او همیشه خوشحالي به مو په ورځ کي د قيامت در په برخه سي.

راوي وايي چي څه وخت چي موسی ﷺ دوی امر کړه په قتل نفس، نو دوی وويله چي نصبرلحکم الله نو بيا دوی ته وويل سول چي زنګنونه او ملاوي په ټوکر يا رسی سره جوت کړئ يعني غوټه ورکړئ او که چا د غوټه خلاصه کړه او يا يې وتوري ته لاس سپر کړی او يا يې د تورو خوا ته وکتل دهغه توبه مردوده ده. دوی هم هغه وکړه، لکن چونکه په بني اسرائيلو کي به پلار په يوه ډله کي وو يعني مثلاً په عبدة العجل کي او څوی به په مخالفه ډله کي وهکذا يو ورور او بل ورور په جلا جلا ډلو کي وه. نو دوی موسی ﷺ ته زاری وکړې چي مونږ به څرنګه ددې امرالهي تعميل وکړو او سره ددې چي مونږ او قربان به سره وينو، نو خدای ﷻ توره وينځ پيدا کړه چي هيڅ چا بل څوك نه ليدی او قتل د عبدة العجل جاري سو. د سهار څخه تر مانښام پوري. نو چي قتل ډير سو نو موسی ﷺ او هارون ﷺ خدای ﷻ ته عجز او نياز شروع کړی او خدای ﷻ ته يې ډير وژړله او وې ويله : يارب هلكتْ بنو اسرائيل يارَبِّ البقية البقية يعني دا باقي ژوئندي راوبخښه، نو وريځ پورته سول او بني اسرائيل يې د قتله څخه بند کړه. نو چونکه تعداد د مړو ۷۰۰۰۰ اويازره ته رسيدلی وو، نو موسی ﷺ پريشانه سو. نو خدای ﷻ دخپل دوست د پريشانی د دفعي دپاره دا زيری او وحی ورته وکړې چي ستا دقوم قاتل او مقتول به دواړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په جنت کي وي. او مقتول به د شهداء په ډله کي حساب کړم او قاتل به د غازيانو په ډله کي حساب کړم. او د مابقی د عبدة العجل به ګناه ور عفو کړم.

پوه سه! چي د اُمت مرحومه توبه صرف د زړه په پښېماني ده او قتل ظاهري ته ضرورت نسته البته و قتل النفس الامارة ته ضرورت سته، ولي چي نفس اماره د ګيلکي دهوا عبادت کوی. فی المثنوی :

ای شهان کشتیم ما خصم برون ✣ ماند خصمی زان بتر در اندرون

کشتن او کار عقل و هوش نیست ✣ شیر باطن سخره خرگوش نیست

نفس اژدرهاست او کي مرده است ✣ اژدها بی آلتی افسرده است

پوه سه! چي څه وخت چي موسی علیه السلام ته خدای ﷻ امر وکړی چي ته د یوځو کسانو څخه دبني اسرائیلو طور ته راسه او د عبادة العجل په باره کي ماته عذر وکړئ. نو موسی علیه السلام اویا ۷۰ کسه د اشرافو څخه دبني اسرائیلو وټاکل او موسی علیه السلام ودوی ته وویله چي روژه ونیسئ او بدنونه پاك پریمینځئ او بنه پاك کالي واغوندی، نو دوی هم هغسي وکړه. او دموسی علیه السلام سره دکوه طور پرځوا روان سوله. لکن دې اویا ۷۰ خوانینو دموسی علیه السلام څخه پر لاري دا مطالبه وکړه چي خدای ﷻ چي ستاسره خبري کوي باید په موږ یې هم واوري، نو موسی علیه السلام چي کوه طور ته ور نژدې سو د آسمان دخوا څخه لویه تنبیه د وریځي راشوه سوه چي طور یې تولـه په لپیټ لاندي ونیوی. نو موسی علیه السلام څه وخت چي دی او دوی تولـه په عمود الغمام کي داخل سوه دوی ته یې وویل چي تولـه سجده وکړئ، نو څه وخت چي د موسی علیه السلام او د الله تر مابین خبري شروع سوي دموسی علیه السلام پر مخ داسي یو نور الهي واقع سو چي ملګرو دده و مخ ته نسوای کتلای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني سترګي يې پر بريښيدلې. آخر موسی علیه السلام پر مخ پرده واچوله او دې اوياکسانو اوريده چې خدای ﷻ موسی علیه السلام ته امر او نهي کولې. او دا يې هم په واوريدله أنا الله لاإله إلا أنا أخرجتكم من مصر بيدٍ اى بقدرةٍ شديدةٍ فاعبدونى ولاتعبدوا غيرى نو څه وخت چې موسی علیه السلام دخبرو څخه فارغه سو او عمود الغمام پورته سو، نو يې ددوی څه پوښتنه وکړه چې دخدای ﷻ خبرې مو واوريدلې؟ دوی ورته وويل :

فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ

نو خدای ﷻ ستاسې توبه د عبادة العجل څخه قبوله کړه، يعنې پس له دې چې تاسې په قتل النفس سره امتحان ورکړئ کمامرَّت القصة آنفاً. په تحقيق خدای ﷻ تواب دی. او په ياد کړئ هغه وخت چې تاسې يعنې ستاسې اسلافو وويل وموسی ته.

پوه سه! چې تَوَّاب صيغه د مبالغې ده. مبالغه يا په دې معنا ده چې د ډير عاصيانو توبه قبلوي او يا په دې معنا ده چې هر بنده ته د ډيرو ګنهو عفوه په سبب د يوې توبې کوي او وصف د رحيم ددې دپاره راوړې چې خدای ﷻ سره د ګنهو د بخښنې په توبه سره پر توبه ګار نوره مهربانې هم کوي. يعنې لوړې درجې هم ورکوي.

اللهم وفقنا للتوبة النصوح !

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰمُوسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

مورِ ستا په خبرو باور نه کوو يعني ته وايې چې خدای ﷻ زما سره خبرې کولې ترڅو چې مورِ خدای ﷻ نه ووينو په سترګو.

سوال: لفظ د ايمان خو متعدي بنفسه دی او که په واسطه دحرف جر متعدي سي خو هغه حرف جر به لفظ د باء وي لکه آمَنتُ باالله او په لفظ د لام نه متعدي کيږي؟

نو ددې سوال په جواب کې قاضي بيضاوی رحمه الله وتبعه المظهری رحمه الله داسي ويلي دي چې دلام دپاره دمتعدي والي د نُؤمن سره تعلق خو لري لکن نؤمن متضمن معنی لره د اقرار کرڅولی دی. او اقرار خو متعدي په لام سره کيدای سي.

پوه سه! چې تضمين په اصطلاح د نُحاتو دادی چې ديوفعل سره بله معنا مناسبه لحاظ کړه سي په قرينه د صلې دهغه يعني حرف متعلق به لکه په دې آيت کې چې معنا د (نؤمن) خو تصديق ومعنا مناسبه د تصديق چې اقرار دي لحاظ کړه په قرينه د حرف جر چې لام دی.

دروېش: واوره! چې جهر په اصل لغت کې دصفاتو څخه د صوت دی لکه جَهَرْتُ بِالْقِرائَةِ لکن په آيت شريف کې مجازاً په معنا د معاينه دی يعني په سترګو ليدل.

فائدة: جهرة په آيت کې منصوب دی مفعول مطلق دی د (نری الله) ولې چې معاينه خو نوع د رويت ده کمالايخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې د مؤمن څخه په ددوی څخه مراد وو؟ بعض مفسرین رح وایي چې دا یې مراد وو أن الله أعطاك التوراة او بعض وایي چې إن الله كلمك او بعض وایي چې إنك نبيٌ. درویش وایي چې یحتمل الکل ایضاً والله اعلم.

فَأَخَذَتْكُمُ الصَّعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾

نو په سبب ددغه قول چې هغه په دنیا کې پرخدای ﷻ محال دی صاعقه یعني تکه پر تاسي نازله سوه او تاسي ورته کتل.

پوه سه! چې صاعقه هر بیریدونکي شي ته وایي، چې یا سړی څنې مړي او یا مُزیل دعقل اوفهم وي. ګاهي یو آواز وي ډیر سخت او ګاهي اور وي، ګاهي بل شئ وي.

فائدة: که صاعقه دبني اسرائیلو اور وو، نوځو دوی په سترګو لیدی او که صورت هائل وي نو بعض ددوی تر بعض دمخه مړه کیده او ژوندو یه ورته کتل وهذا رؤیة الموت مجازاً.

فائـــدة: رویت دخدای ﷻ چې ممکن او واقع دی په آخرت کې منزه د کیفیت او د مکانه څخه په جنت کې عامة المومنین ته په احادیث متواترة المعنی کما فی الصحاح الستة وبقوله تعالی (وجوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ الی ربها ناظرة) ثابت دی و إنما عقبوا ای الطالبین للرویة و کفروا بذالك الطلب ولي ددوی طلب د رویت محال مراد وو یعني چې خدای پاك په صورت او جسم سره وویني لقولهم حتی نری الله جهرةً ای رؤیةً ظاهرةً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کظهور الاجسام وذالك مستحيل بلكه رؤية دخدای ﷻ په دنيا کي هم بيله کيفيته وبعض انبياء عليهم السلام ته واقع سوی دی کرؤية النبی صلی الله عليه وسلم ربّه جل شأنه ليلة المعراج كماهو مذهب الجمهور من اهلی السنة كما هو فی كتب العقائد.

نو دليل ويل د معتزله وو پر محال والي د رويت دخدای ﷻ په آخرت کي په دغه آيت سره باطل دی، ولي چي ددوی طلب خو طلب د رويت مستحيل وو، نو ځکه ډوی هم په کافران سوه. او هم عقاب دموت بالصاعقة ورکړه سو هذا حاصل مافی البيضاوی وروح المعانی والتفسير الكبير والقرطبی وغيرها

ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾

پوه سه! چي څه وخت چي خدای ﷻ هغه اويا ۷۰ کسان او مشرانو ځخه د يهوديانو په صاعقه مړه کړه. نو موسی ﷺ وخدای ﷻ ته عُجز وکړی او وې ژړل چي اې خدايه زه به بني اسرائيلو ته څه وايم چي تا هغه خيار ددوی مړه کړه او وې ويل: (لوشئت أهلكتهم من قبل و إيّای اتهلكنا بما فعل السفهاء منا) اې خدايه! که ستا اراده وای، نو به دي دوی هلاك کړي وای دمخه تر راتګ زماسره کوه طور ته او زه به دي هم هلاك کړی وای. ايا ته مونږ هلاکوې په هغه کار سره چي زمونږ بې عقلانو وکړی؟

بعض مفسرين رح وايي چي مراد د فعل ځخه د سفهاوو عبادة العجل دی. وهذا تفسير لايناسب سباق الآية لما مرّ انّ معصية عبدة العجل صارت معفوةً بقتلهم انفسهم كما مرّ مُفصّلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض مفسرین رح وایي چې مراد د فعل د سفهاوو هغه خبره د اویا ۷۰ کسانو ده (لن نؤمن لك) الآية. درویش وایي چې دا تفسیر د سوق سره د آیت ډیر مناسب دی.

نو موسی علیه السلام په زاریو او ژړا خدای جلت رحمته ته عجز کاوه، حتی چې خدای عظمت قدرته یو یو د مړو کسانو څخه ژوندي کوله او نورو به ورته کتله چې **کیف یحی الله الموتی؟**

پوه سه! چې دوی یو شبانه روز مړه وه **وذالك معنی قوله تعالی:** (ثم بعثناکم) آه بیا مورِ تاسي ژوندي کړاست **پس له مرګه، شاید تاسي شکر** د خدای جل جلاله وایاست.

پوه سه! چې فائده د (من بعدموتکم) داده چې دا بیهوشي او اغماء نه وه بلکه حقیقت موت وو.

فائدة: دا مرګ ددوی یو عذاب الهي وو چې دوی ته یې ورکړی او موت بالاجل الموعود نه وو، ولي که موت بالاجل وای ، نو دوی به تر یوم القیامة نه وای ژوندي سوي **کبقیة الأموات بالآجال.**

سوال: موسی علیه السلام خو سوال د رویت الهي وکړی بقوله (رب ارنی أنظر إلیك) او خدای جل جلاله مړ نه کړی، بلکه بیهوشه یې کړی **بدلیل قوله تعالی:** (فلما أفاق) ولي چې افاقت د بیهوشی څخه په هوش کي راتلو ته وایي. نو صعقه دموسی علیه السلام بیهوشي وه. او دې اویا ۷۰ کسانو خو هم سوال د رویت جهرة وکړی، نو دوی خدای جل جلاله مړه کړه **فما الفرق؟**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجـواب: علی مافی روح المعانی وروح البیان والقرطبی والتفسیر الکبیر وغیرها ددې سوال د موسیؑ او دحاضر اویا ۷۰ کسانو فرق دادی چې سوال د موسیؑ حباً او عشقاً و رویت الهي ته وو، نو څکه مړ نسو بلکه بیهوشه سو علی مایدل علیه قوله تعالی: (فلما تجلی ربه للجبل جعله دکاً وَّخرَّ موسی صعقاً). او سوال د قوم یې تکذیباً لموسیؑ فی أنَّ المتکلم هوالله تعالی او سوال د تعنت وو او ددوی عقیده داوه چې خدایؑ د اجسامو سره مشابه دی. او دوی رویت دخدایؑ فی الاحیاز والجهات بالمقابلة للرائی غوښتی. نو چونکه دا قسم رویت پر خدایؑ خو محال وو، نو څکه دوی یې په طلب کافران سوه او د موت دعذاب مستحق وګرځیدله.

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ

اومورِ سائیوان وګرځول پر تاسي سپینه وریځ او تاسي ته مو دخورک دپاره مَن یعني ترنجبین او د تاروکانو غوښې مقرري کړې.

پوه سه! چې څه وخت چې بني اسرائیل په عهد موسیؑ کې خدایؑ امر کړه په قتال د جبابره وو سره اودهغه قوم ډیر غټ خلګ وه چې تر اوه سوه ۷۰۰ کړه پورې بعض خلګ رسیده او صاحبان د ډیر قوت وه، نو بني اسرائیل دجنګ څخه ددې قوم انکار وکړی او موسیؑ ته یې داسي وویل: (فاذهب أنتَ وربك فقاتلا إناّ ههُنا قاعدون) نو خدایؑ پر دوی باندې عذاب د سَقَر د تیه مسلط کړی څلویښت کاله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې تیه د پراخې صحراء نوم دی. په مابین کې د مصر او شام ده او دا بیابان د تیه دوولس ۱۲ فرسخه وو، نو چې شپه به سوه سپوږمی به نه وه، توره تاریکه به سوه او چې ورځ به سوه ډیره سخته ګرمي به وه او په تیه کې اوبه نه وې او نه د خوړلو شی وو. نو دوی موسی علیه السلام ته شکایت د لوږې او تندې او ګرمی د ورځې او د تاریکې د شپې وکړی. نو موسی علیه السلام په دې موادو معروضه وو کې خدای جلت قدرته وعمت رحمته ته عجز او نیاز وکړی، نو خدای ﷻ سره د عذاب ددوی، د رحمت دروازه ودوی ته خلاصه کړه. نو دشپې چې سپوږمی به نه وه یوه تښه د نور به د آسمان څخه را وخریدله چې ددې تیه به یې ټوله روښانه کړه او د ورځې به یې سپینه نازکه وریځ پیدا کړه چې تر بارانې وریځې یې ښه خوند کاوه او پر دوی به یې سایوان مانند سایه وکړه. او وریځې ته په دې غمام وایي چې د غُم څخه مشتق دی. غُم پټوالي ته وایي او وریځ هم لمر پټوي.

او د خورک دپاره یې من او سلوی ور مقرره کړه او د اوبو د چینبلو او د طهارت دپاره یې موسی علیه السلام امر کړی چې: (فاضرب بعصاك الحجر فانفجرت منه اثنتا عشرة عيناً) كما سيناتى فى القرآن الكريم.

فائدة: ترنجبین به د سپیدو څخه بیا تر لمر ختو پوري لکه واوره اوریدی او خوند یې داسې وو لکه شهد چې په غړو کې معجون کړي. او د مَن اطلاق پر تولو هغه شیانو هم کیږي چې د خدای ﷻ دخوا څخه بندګانو ته بې تکلیف د کښت ورکول کیږي. ومنه قوله عليه الصلوة والسلام الكمأة من المن ومائها شفاء للعين يعنې پوخکی د من قسمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه ده یعني بهله ګرولو او زرع دخدای په قدرت دمخکي څخه راوزي او اوبه د پوځکي دا د سترګو د دید د کم والي دوا ده.

د ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي ماد درو۳ دانو پوځکیو څخه اوبه و ایستلې او په بنیښه کي مي واچولې او زما و مینځي په سترګو کي مي ورواچولې، جوړه سوله.

او امام نووی رحمه الله وایي چي زما په زمانه کي ما یو عارضی روند ولیدی چي فقط د پوځکي اوبه یې د سترګو ته اچولي، یوځو ورځي بعد خدای ﷻ شفا ورکړه او دید یې بیرته راوګرځیدی. درویش وایي چي دا په پینګه عقیده پوري د قول د رسول کریم صلی الله علیه وسلم اړه لري.

واقعه: درویش وایي چي ۳۵ کاله دمخه زما په معده کي یوه ډیره غټه دانه دخدای ﷻ په امر پیدا سوه. چي په قندهار کي مي طبي او ډاکټري دیر علاجونه وکړه فائده یې ونه کړه، بیا د پاکستان د کوټې بنار ته د علاج دپاره راغلم او په سول هسپتال کې په شخصي ځای کي بستري سوم او یوه میاشت مي تیره کړه، ډاکټرانو ډیري خواری راباندي تیري کړې او دیر مصرفونه مي وکړه. آخر معالج ډاکټر راته وویل چي دغه نسخه واخله ولاړسه کور ته جوړ به سې. قندهار ته راغلم یو څو ورځې لږ ښه وم. لکن بیرته هغه دمعدې درد او تبه راته پیدا سوه. آخر کابل ته ولاړم او ابن سینا روغتون ته ورغلم چي په هغه روغتون کي داخلي او خارجي دیر حاذق ډاکټران وه. هغو چي معاینات لازمه وکړه. نو ماته یې وویل چي عملیات یعني آپریشن ته ضرورت سته، نو په هغه روغتون کي هم په یو شخصي اطاق کي داخل سوم. خیر څو ورځي وروسته یې عملیات راوکړی او عملیات هم کامیابه سو. لکن د سختي کمزوری له سببه ډاکټرانو د دوو میاشتو تیریدو په هسپتال امر وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرض داچه په هغه هسپتال کي بعض نرساني يا خادمان ښا پر حسن عقيدت چي ما به لمونځونه کوله او قرآن مبارک وظيفه به مي کوله دا کار په هسپتالو او روغتونو کي يو نادر کار معلوميدی نو ددوی دا خيال سو چي دا يو بزرګ سړی دی. مطلب داچي دخلګو آمدورفت د دَم و چُف ډير سو، نو په داخله څانګه کي ددغه روغتون يې د هرات څخه يوه پيغله پلار راوستلې وه چي هغې کومه داخله مريضي درلوده، خير ډاکټرانو چي دهغې پيغلي د داخليه مريضی علاج کاوه قدرت دخدای ﷻ هغه پيغله په دواړو سترګو رنده سوه.

د ډاکټرانو هرڅونه کوشش چي ددې پر علاج د سترګو د روندوالي وکړه سو، ناکام سوه، نو پلار دپېغلي د روغتون د ملازمانو څخه چا ورته ويلي وه چي د جراحی په څانګه کي يو بزرګ سړی ستہ (ددوی په عقيده سره) نو پلار يې ماته راغلی او زه ورسره ورغلم، پيغله مي وليدله، هرڅو چي مي ګوتي ورته وښوروله هغې وويل زه ستا لاس نه وينم، ته دګوتو غم کوې. نو ما يې پلار ته وويل چي ته ولاړ سه او د بازار څخه څو دانې پوڅکی راوړه. هغه وويل چي لندې پوڅکی خو اوس نسته، ما ورته وويل چي وچي پوڅکی راوړه. وچي پوڅکی چي يې راوړې ، ماخښتې کړې پلار ته مي وويل چي سبا راسه!. هغه پوڅکی چي خښتې سوې ما دخاصې په ټکره کي دهغو اوبه و ايستلې او په يو کوچني ښيښه کي مي ورواچولې. او ورته ومي ويل چي هر يو ساعت وروسته په هره سترګه کي يو يو څاڅکی ور اچوه. چونکه زما د عليه السلام پر قول ټينګه عقيده او باور وو چي وايي مانها شفاء للعين. دري ورځي چي پلار د پيغلي هغه کار وکړی پيغله په سترګو خدای ﷻ بينا کړه. او په ګرده روغتون کي لويه هنګامه پيدا سوه چي د جراحی په شعبه کي يو ستر بزرګ داسي وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن دوی نه پوهیده چې کار خو خدای ﷻ عظمت قدرته وکړی دپاره د تصدیق دخپل حبیب صلی الله علیه وسلم. عبیدالله څوك دی او بزرګي دکمه ده؟

كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾

په تقدیر دقول یعني مورِ وویل و بني اسرائیلو ته چې تاسي خورک کوئ د حلال او لذیذ شیانو څخه چې من او سلوی وه، لکن دا بې ورته وویل چې د سبا ورځي دپاره به ذخیره نه کوی، نو ددوی د سُست توکل د سببه دوی ذخیره اندوزي شروع کړه. نو ددوی ذخیره کړی شئ به صبا ته بدبویه او وروسته به وګرځیدی. نو خدای ﷻ هغه رزق څنې قطع کړی. وفی الحدیث النبوی ﷺ الذی رواه البخاری رحمه الله ومسلم رحمه الله واحمد رحمه الله عن ابي هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لو لا بنو إسرائیل لم یخبث الطعام ولم ینخز اللحم ولولا حوا لم تخن انثی زوجها قط. نو دوی ظلم وکړی په ناشکري د نعمت طیبه لدیده د خدای ﷻ او پر مورِ بې ظلم نه دی کړی. بلکه پر خپلو ځانو یې ظلم وکړی. چې هغه رزق چې په دنیا کې مشقت نه وو او په آخرت کې حساب نه وو پر ځانو قطع کړی.

مسئلة: فی الأشباه والنظائر چې طعام یعني غوښې وغیره چې سخت تغیروخوري او بدبویه سي نو مراداري دي او خورك یې حرام دی. او شیدې یاغوړي چې بدبویه سي خورك یې حرام نه دی اومردارهم نه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ

په یادکړئ هغه وخت چې موږ درته وویل یعنې ستاسې اسلافو تـه، چـې تاسې داخل سئ دغې قریې ته.

پوه سه! چې ابن عباس رض وایي چې دا قریه اریحا وه چې د جبارینو د بقایـاوو ځخـه وه. عادیـانو چـې عمالقـه یـې بلـل دهغـو بقایـا وه پکښې اوسیدله. او مجاهد رحمه الله وایي چې ددې قریې ځخه مراد بیت المقدس دی. او بعض وایي چې ایلیا وه. او بعض وایي چې شام مراد دی.

فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا

او خورک کوی دهغې قریې ځخه یعنې د میوو وغیره ځخه هرځـای چـې مو خوښه وي پراخه خورک، نو رغداً مفعول مطلق دی. یعنې اکلاً رغداً.

وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

او داخل سئ و دروازې دهغې قریې ته په داسې حال کې چې تاسې به خضوع کوونکې یاست. یعنې سرونه به کښته کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ

او په خوله تاسي وایاست (حِطَّةٌ)

پوه سه! چي حطه خبر د محذوفي مبتداء دی. ای سئلتُنا زمونږ حطَّةٌ ده یعني زمونږ ګنهونه راوبخښئ. او ابن عباس رض وایي چي مراد د حطه څخه کلمه د لااله الاالله ده لأنها تحط الذنوب

نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ

مونږ به وبخښو ستاسي ته ګناهان ستاسي. پوه سه چي نغفر مجزوم دی جواب د امر دی.

وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

او مونږ به ډیر وکړو اخلاص درلودونکو ته ثواب.

پوه سه! چي د قریې څخه دلته متعارفه معنا چي مقابل د ښار مراد نه ده . بلکه روح البیان وایي چي قریه مایجتمع فیه الناس.

پوه سه! چي که مراد د قریې څخه بیت المقدس وي، نو د بیت المقدس اوه دروازې وي په آیت کي مراد دوهمه دروازه د بیت المقدس ده. چي په اوسنی زمانه کي په باب حطه سره مشهوره ده. او یا مراد باب القبه ده چي په هغه کي موسی علیه السلام او هارون علیه السلام سره د بني اسرائیلو دخدای ﷻ عبادت کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه! چې خطايا جمع د خطيةٌ ده خطيةٌ ضد ته د صواب وايي. مراد څنې دلته ذنوب ددوی دی. يعنې زه به ستاسې د ذنوبو عذاب نه درکوم په سبب د دخول سُجداً او په سبب د دعاء د حطة

فائدة: لعل المراد من نغفر لكم آه هغه بنې اسرائيل دي چې عبادت د عجل يې کړی وو. او مراد د محسنينو هغه بنې اسرائيل دي چې عبادت د عجل يې نه وو کړی.

فائدة: د (إحسان) تفسير عليه السلام په هغه طويل کې چې متفق عليه دی داسې کړی دی (أن تعبدالله كأنك تراه فإن لم تكن تراه فإنه يراك) وهذا جمع تفاسير الاحسان وقد فسره المفسرون رح بغير ذالك والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب. درويش و روح

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ

نو بدل کړی هغه کسانو چې ظالمان وه پر خپلو خانو، په سبب د ګناه هغه قول چې ودوی ته ويل سوی من التوبة والإستغفار چې مضمون د (حطّةٌ) وو په بل قول چې په هغه کې خير نه وو

فائدة: (غيرالذی) صفت دی قولاً.

سوال: مغايرة خو د تبديل څخه فهميږي، ولې چې تبديل خو بې مغايرة دمعنا امکان پذير نه دی؟

جواب: نعم، لکن تصريح په غيرالذی سره ددې دپاره دی چې دلالت وکړي پر دې چې ددوی مبدل لفظ دمامور لفظ څخه من كل الوجوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخالف وو.

فائدة: تبديل کوونکي ټوله بني اسرائيل نه وه، بلکه بعض جاهلان وه والقرينة على ذالك انهم لو كانوا كلهم مبدلين لإكتفى بالاضمار بأن يقال: (فبدَّلُوْا) فالتصريح باالذين ظلموا دليل واضح على ان المبدلين كانوا بعضهم. رُوی چي دوی په ځای کي د حطَّةٌ سمراء وايه. او دا استخفاف دی په امر دخدای ﷻ والإستخفاف بأوامره تعالى كفرٌ.

پوه سه! چي په آيت شريف کي که څه هم يوازي تبديل د قول راغلی او تبديل ته د فعل يعني (أدخلوا الباب سجداً) اشاره نه ده سوې. لکن ټوله مفسرين رح په اتفاق وايي چي دوی فعل هم بدل کړی، ولي ظالمانو ددوی مشوره سره وکړه چي سرکښته دپاره څه وکو نو عزم وکړی چي سرونه به کښته کوو، نو جبرئيل په امر الهي دروازه دونه راکښته کړه چي بېله سرکښته کيدو امکان د ننوتو نه وو. دوی چي راغله او دروازې ته يې وکتله، نو ورته معلومه سوه چي بېله سرکښته کيدو نسو داخليدای، نو د ډير ضديت د امرالهي پر کُنه کښينستله او په دروازه ننوتله. وهذا منهم كفرٌ بواحٌ و انكار صريح مِن امرالله عزوجل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾

نومورې نازل کړی پر هغو کسانو چې ظلم يې وکړی په تبديل د امر الهي قولاً وفعلاً بما قالوا وفعلوا کما مرَّ آنفاً بو عذاب د آسمان دخوا څخه په سبب ددې چې دوی کارونه د فسق وکړه.

فائدة: که څه هم (ذکرالذين ظلموا) په آيت کريمه کې وسو نو څه حکمت الهي دی چې (الذين ظلموا) يې بيا راوګرځاوه او داسي يې نه وويل: (فأنزلنا عليهم)

جواب: چونکه ذکر د محسنينو هم دمخه راغلی وو، نو که (عليهم) ويل سوی وای، نو چا به توهم ددې کاوه چې ضمير دواړو ته راجع دی، يعني محسنينو ته او (الذين) ته، ولې ګاهې خدای ﷻ داسي هم کوي چې بو عذاب لکه قحط وغيره په سبب د ظالمانو نازل سي، مګر صالحان کسان هم په لپيټ کې ونيسي ثم يبعثون يوم القيامة على اعمالهم. درويش وايي چې داسي مضمون په حديث کې هم راغلی دی. او هم ودې مضمون ته پښتانه اشاره کوي او وايي چې څنګل اور واخلي، وچ او لاښده نه ګوري. حاصل دا چې په تصريح د الذين ظلموا دا معلومه سوله چې دا عذاب عمومي نه وو.

او بعض مفسرين رح وايي چې ظلم عام دی صغائر او کبائر دواړو ته شامل دی بخلاف الفسق فإنه يختص بالكبائر، نو د اول ظلم څخه مطلق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد دی او د دوهم ظلم څخه ګناه کبائر مراد دي بقرينة قوله (بماكانوا يفسقون)

پوه سه! چي (رِجْز نازل) طاعون وو. په صحيح روايت کي راغلي دي چي په دې طاعون کي اويازره ۷۰۰۰۰ کسه مړه سوه. په حديث صحيح متفق عليه کي راغلي دي چي طاعون يو عذاب وو چي پر بني اسرائيلو مسلط سوی وو. وفی روایة علی من کان قبلکم، نو که تاسي واورېده چي په يو وطن کي طاعون مسلط دی، نو هغه وطن ته مه ورځئ، او که طاعون پر داسي وطن مسلط سو چي تاسي هلته واست، نو دطاعون د بيري دهغه وطن څخه مه وزئ، ترڅو چي په دواړو صورتو کي په عقيده کي دي تاوان رانسي. فافهم فی زیغ العقیدة فی الصورتین.

المسائل المتعلقة بالطاعون: په حديث مبارك کي راغلي دي چي ماته جبرئيل عليه السلام تبه او طاعون راوړی، يعني اطلاع يې راکړه او اختيار يې راکړی. فأمسكتُ، نو ما خوندي کړه تبه په مدينه کي او طاعون مي شام ته واستاوه. بيا عليه السلام زياته کړه چي طاعون شهادةٌ لأمتي او رحمت دی زما د امت دپاره. او عذاب دی پر کافر باندي.

درويش وايي چي دا به په ابتداء الامر کي وه، ولي چي په بل حديث کي راغلي دي چي ما په خوب وليدل تبه د مدينې منورې څخه په ډول د بَبَرسرې بښتي ووتل او جحفې ته ولاړل.

واعلم! چي علماء وايي چي څوك چي په طاعون کي صبر وکړي او بيله طاعونه په بل مرض مړ سي، نو دی هم د عذاب څخه د قبر خلاص دی. نو مطعون شهيد دی او صابر په حکم کي د مطعون دی. او دغه رنګه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مطبون چې د مرض څخه د نس مړ سي شهید دی. او همداډول صاحب الاسهال شهید دی.

پوه سه! چې مرض د بطن دا هم دی چې د ډیر قبضیت څخه مړ سي او یا د اِنسداده څخه مړ سي. یعنې چې کلمې سره واوړي. او یا د آپندیسی څخه مړ سي. او د استسقاء مریض داخل په مبطون کې دی. ولې ددې دواړو مریضانو د دواړو عقل پر ځای وي تروخته د مرګ. او دغه رنګه شهید دی هغه څوك چې د سل په مرض مړ سي. او اعلی د شهداوو شهید فی سبیل الله دی. او دغه رنګه شهید دی هغه څوك چې د سکاروي یا په محرقه تبه مړ سي. او دغه رنګه شهید دی چې په اور وسوځل سي. او چې په اوبو کې غرق سي هغه هم شهید دی. بل هغه څوك شهید دی چې خونه یا دیوال پر راونړیږي او مړ سي. او همدغه رنګه شهیده ده هغه ښځه چې د لنګیدو په وخت کې بچی یې په نس وي او مړه سي.

پوه سه! چې هغه سړی چې جوړ تیار وي، نابیره مړ سي هغه حکم د شهید نه لري.

پوه سه! چې فرار د طاعونه څخه حرام دی. وفی الحدیث چې فرار کوونکی د طاعونه څخه لکه فرار کوونکی د لښکر څخه د مسلمانانو په وخت کې د جنګ د کفارو سره.

فائدة: پوه سه چې دهرچا مرګ اجل مقرر لري لایستأخرون ولایستقدمون. که د مرګه څخه څوك په قرب الهي خلاصېدای، نو انبیاء علیهم السلام خصوصاً سیدالبشر به خلاص سوی وای. او که په جاه و جلال او په حکمراني د نړۍ څوك دمرګه خلاصېدای، نو د دنیا فرعونان به خلاص

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي واى. او كه په ډير غنا او ذهب او فضه څوك د مرګه خلاصيداى نو د دنيا اغنيا او قارونان به خلاص سوي واى. او كه په طبابت او ډاكټري څوك د مرګه خلاصپداى، نو لوى لوى حكيمان او طبيبان خصوصاً سيد الاطباء لقمان الحكيم الذى ذكره الله ﷻ بقوله : (ولقدآتينا لقمان الحكمة) او يا نور لكه افلاطون اليونانى او جالينوس.

تاريخ وايي چي د جالينوس چي وخت د مرګ نژدې سو، نو ده وخپلو شاګردانو ته دوې دانې ګولى ورکړې لكه كوڅنى مردكي. او دوى ته يې وصيت وكړى چي زه چي مړ سم دا يوه ګولى پر هغه اوسپنه كښيږدى چي آهنګران اوسپني پر ټكوي او دا بله ګولى يو خُم ته واچوى چي د اوبو ډك وي او يو ګړى وروسته خم مات كړى، نو چي دى مړ سو نو شاګردانو يې هم دده وصيت پر ځاى كړى ، نو هغه ګولى چي په سخته اوسپنه يې كښيښول هغه اوسپنه ويلي سوه. او په مخكه ننوته چي هيڅ شى يې پاته نه سو. او هغه بله ګولى چي يې خُم ته واچول او خُم يې مات كړى، ټولي اوبه يخى ولاړي وې. نو تاريخ پوهان وايي چي د جالينوس دا غرض وو چي شاګردانو ته وښيي چي ماته دونه قدرت طي راكړه سوى وو چي په دواء مي اوسپنه ويلي كړه او اوبه مي په يخى كړې. لكن دمرګ دواء مي نه كړه پيدا آخر مړ سوم. قال الشاعر :

ألا يا ايها المغرور تُب من غيرتاخيرٍ ✣ فإن الموت قد يأتى ولو صُيرت قارونا

به سل مات آرسطاليس بقراط بافلاج ✣ و افلاطون به برسام و جالينوس مبطوناً

حضرت الامام شافعى رحمه الله وايي چي ښه د دواوو څخه د طاعون تسبيح ده ولي چي په ذكر يرفع العقوبة والعذاب قال الله جل ذكره فى دفع البلاءعن يونس عليه السلام فى بطن الحوت: (فلولاأنه كان من المسبّحين)الآية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ډیر درود ویل پر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دافع د طاعون او وباء او الم دی، لکن دا تسبیح یا درود یا نور اذکار هلته موثر او په دربار کي د خدای ﷻ شفیع ګرځي چي د قلب حاضره څخه وي. او یقین خاص هم ورسره ملګری وي. قال المولوی الرومی رحمه الله فی المثنوی:

گر ندانی تُو دم خوش در دعا ✣ ہر دعا میخواه از اخوان الصفا

هر که از دل پاك از اعتدال ✣ آن دعایش میرود تا ذوالجلال

آن دعایي بیخودان دیگر است ✣ آن دُعا از رویست گفت داور است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿خاتمة الجلد الاول من تفسيرالايوبي﴾

درويش وايي چې ما دا تفسير د شوال د مياشتي په آخره نيټه کې په سنه ۱۴۲۴ه ق کې شروع کړی، او دخدای جلت رحمته په توفيق د ربيع الاول پر اوله نيټه دا جلد په تخميناً ۵۰۰ صفحو کې پای ته ورسيدی. او د اولي پاري شپږ رکوعي پکښې شاملي سوي.

پوښتنه: ولي دومره مياشتي پکښې تيرې سوې؟

جواب: اول عذر خو دادی چې تفسير د قرآن عزيز ډير احتياط غواړي. دوهم عذر دادی چې ما درويش د سهار تر لمانځه وروسته يو ساعت ترجمه د قرآن کريم وطالبانو ته کوله او چای مي هم په مسجد کې چيښلې، وروسته مي دوره حديث څلور ساعته کوله، نو تخميناً يوولس بجو ته کور ته راتلم. او په عين حال کې مراجعين د مختلفو مقاصدو دپاره کور ته راتلل، په هر صورت تفسير وځنډېدی.

پوښتنه: ستا دا تفسير قياساً علی هذا الجلد بايد ۶۰ جلدو ته ورسيږي او کلونه به پکښې تير سي او طالبان او شائقان به د انتظار سره مخامخ سي؟

جواب: قياس دنورو جلدو پر دې جلد نه دی صحيح، ولي په دې جلد کې خطبه، مقدمه او نوري ډيري ورقي په زائدو فائدو سره ډکې دي. په نورو جلدو کې خو دا مزيدات نسته، نو په توفيق د رب جل شانه هغه نور جلدونه که د صحت نعمت باقی وو، تر دې جلد ژر ژر چاپ ته سپارل کيږي انشاء الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تمنـــا: د مطالعـه کوونکـو څخـه ددې تفسـیر د درویـش آرزو داده چې تفسیر دي دمحبت او ورورګلوی په سترګو مطالعـه کوي، نه د حسد او عناد په سترګو. درویش خپله ټولـه سعی مبذول کړېده، لکن بیا هم د سهوي او نسیاني او خطا احتمال ډیر دی. مطالعه کوونکي باید په ۹۹ صوابه کي یوه خطا عفوه کوي

او زما ټوله تفسیر که څه هم بعض ځایونه ما حوالـه و کتـاب ته یا و تفسیر ته نه وي کړې لکن انشاء الله تعالی مطالعـه کوونکی که یو خای شك سي په صحت او غلط کي ددې تفسیر، نو د نورو تفاسیرو مطالعه دي وکړي، شك به یې لیري سي.

درویـش وایـي چـي د مطالعـه کوونکـو څخـه د مزیـد توفیـق او د ښـه صحت او عافیت طمع د دعاء لرم (و أماالسائل فلاتنهر)

غرض نشئیت کزما دباند که هستی مرا نمی بینـد بمانی

مگر صاحبدلی روزی ترحمت کند حرق این مسکین دعانی

ورونړو اصل کارونه په قدرت کي دخدای ﷻ دي. د بنده دخوا صرف او صرف همت او قصد او اراده غواړي. ورنـه د درویـش عمر ۸۶ کلو نه تخمیناً رسیږي، نو دونه درونـد کار لکه تفسیر د قرآن عزیز په دې عمر کي ښه توفیق الهي انجام پزیر نسي کیدای، خو بیـا هم خدای جل شانه لره دي حمد او ثنا وي چي سره د کلان سالی زما ټوله حواس او اعضاء او قوت پر خپل قرار ساتلي دي او بیا دي حمد وثناء خدای پاك لره وي چي بنده په آخر د عمر داسي ستري او عزیزي وظیفي ته متوجه کړی. فللّه الحمد اولاً و ثانیاً والصلوة علی سیدنا محمد ابداً و سرمداً

مرزا غالب رحمه الله همت بلند دار که نزد خدا و خلق ❊ باشد بقدر همت تو اعتبار تو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبرتیا او اعلان او د ورور ګډوی او د تجارتي چارو مراعات

درویش وایي چې چونکه ورور او مخلص او خوشنویس قاري محترم فضل الحق صائب ددې تفسیر په کتابت کې ډیره عرق ریزي کړېده او په عین حال کې یې مالي مصارف هم ډیر کړي دي، ولي چې درویش به څو ورځې د تفسیر تحریر کړې، هغه به قاري صاحب یو وړې فوټو کاپي به یې کړې او کتاب به یې بیرته درویش ته راوړی چې نور نوشته او تفسیر پر ولیکل سي. او هغه فوټوکاپي ورځې به یې د کمپیوټر وحافظې ته وسپارلې، نو هغه د فوټوکاپي ورځې به لغوه سوې. او وروسته چې به کمپیوټر دخپلې حافظې ورځې وایستلې، نو قاري صائب به هغه ورځې د تصحیح دپاره او د کمپیوټر د سهوې او خطا د لیرې کولو دپاره بیرته درویش ته راوړې، نو درویش به په غور مطالعه کړې او د بعضې نواقصو د کمپیوټر به یې تدارك وکړی او بعض سهواً زیادات به یې څنې محوه کړه. دا تصحیح شده ورځې به بیرته قاري صائب ته وسپارل سولې او قاري صائب به هغه پر رونې کاغذه یعنې د چاپ په نیت بیا کمپیوټر ته وسپارلې او سابق کمپیوټرې ورځې به لغوه سوې.

او بل د تعجب ور خبره خو داده چې قاري صاحب د قرآن مبارك ټوله آیتونه د تصحیح شده قرآن مبارك څخه د عکس په ذریعه په ډې اوراقو کې شامل کړي دي کما تراه انشاء الله. نو سره سره د دونه تکلیف او محنت چې قاري صاحب کړی او کوي یې آئنده هم، هیڅ تاجر الکتب او یا مطبع والاحق نه لري چې ددې تفسیر عکس واخلي او یا په تغییر د کتابت یې چاپ کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنده راسه د خدای خپل سه لکه پرخان داسي پر بل سه

او که څوك ددې خبرتیا څخه سرغړونه وکړي شاید د ډیرو قانوني ستونځو سره به مخامخ سي.

﴿ اعلان علی الاعلان ﴾

هیڅ څوك دې دا ګمان نه کوي چې زه به د حسد دلاري څو ورقي د تنقید پر دې تفسیر نوشته کړم، هو ورقي خو به نوشته کړي، لکن چې درویش ژوندی وي لکه امین الله سلفي داسي به یې رسوا او انګشت نما کړم انشاءالله . وماعلینا الاالبلاغ وعلی الحساد الانقیاد.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي پښتو اول جلد فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱	دطباعت حقوق	۲
۲	پر تفسیر سریزه	۲
۳	تاریخ به ئې خدمتونه هیر نه کړي	۳
۴	دمصنف له خوا سریزه	۴
۵	اعلامیه د مصنف له خوا	٦
٦	باعث دتفسیردقرآن عزیز څه وو؟	۷
۷	دامام اعظم رحمه‌الله روایت په میزان الاعتدال کي	۹
۸	پوه سه چې دغه فرقې	۱۰
۹	دیوه وهابي عالم واقعه	۱۱
۱۰	ستا د تفسیر د ډیرو کلو...	۱۲
۱۱	مقدمة علم التفسیر اختصاراً	۱۴
۱۲	ددې علم موضوع	۱۵
۱۳	غایه دعلم تفسیر	۱٦
۱۴	په قرآن کریم کي د الف باء توري	۱۷
۱۵	مهمه خبره	۱۹
۱٦	مفسر قرآن لره دکومو شیانو ضرورت وي	۱۹
۱۷	فضیلت د قرآن	۲۰
۱۸	قرآن علی سبعة احرف	۲۱
۱۹	دقرآن مجید سورتونه په اعتبار د ناسخ او منسوخ	۲۲
۲۰	د اعوذبالله تفسیر	۲۴

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۱	د لفظ (الله) تحقیق	۲۶
۲۲	علامه زمخشري د جناتو منکر وو	۳۰
۲۳	ایا جنات په غیبو خبر دي؟	۳۱
۲۴	د بسم الله تفسیر	۳۳
۲۵	د سورت فاتحې نومونه	۳۴
۲۶	د وهابیانو اعتراض	۳۸
۲۷	د اذان، امامت او تعلیم اجرت	۳۹
۲۸	فوائد فقهیه فی بسملة	۴۴
۲۹	سوال: ستا تفسیر خو د عامو...؟	۴۵
۳۰	څه سبب دی چې مصنفین په اول...؟	۴۵
۳۱	د بسم الله بعضې مالابدمنه ښهانې فائدې	۴۶
۳۲	ایا په بسم الله سره کبیره کنهونه...؟	۴۹
۳۳	که څوک د قرآنیت څخه د بسم الله منکرسي	۵۰
۳۴	بسم الله حائضې او نفاسې ته	۵۱
۳۵	بسم الله د ابجد په حساب	۵۲
۳۶	درویش محمدعبیدالله ایوبي وایي	۵۳
۳۷	د (الحمدلله رب العالمین) تفسیر	۵۴
۳۸	بعضي امامان وایي	۵۶
۳۹	الحمدلله د جوامع الکلم څخه ده	۵۷
۴۰	په علم صرف کې وایي چې جمع په واو و نون...	۵۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۴۱	د (الرحمن الرحيم) تفسير	٦٠
۴۲	پوښتنه: څه سبب دی چې مصنفان...؟	٦١
۴۳	د (مالک يوم الدين) تفسير	٦٣
۴۴	په دنيا کې د مالک او ملک اطلاق	٦٤
۴۵	د (اياک نعبد واياک نستعين) تفسير	٦٦
۴٦	پوښتنه: د الحمدلله ويونکي خو يو وي	٦٨
۴۷	افسوس بعضي کسان چې خان ته موحدين وائي	٦٩
۴۸	ثبوت د اجتماعي دعاء	۷۰
۴۹	متابعت د سنتو د ټولو ټيکو کارو کيلي ده	۷۱
۵۰	د مومن کامل بايد عقيده دا وي	۷۱
۵۱	تفسير د (اهدناالصراط المستقيم)	۷۳
۵۲	پوه سه چې اهل سنت وايي چې هدايت ...	۷۴
۵۳	صراط په صاد سره او په سين سره	۷٦
۵۴	د (صراط الذين انعمت عليهم) تفسير	۷۷
۵۵	د (غيرالمغضوب عليهم ولاالضالين) تفسير	۷۷
۵٦	فضائل فاتحه في الشعر	۸۰
۵۷	عاملين د سورت فاتحه اسرار داسي بيانوي	۸۱
۵۸	سورت فاتحه په وصل د بسم الله	۸۲
۵۹	شيخ محی الدين ابن العربي واني	۸۳
٦۰	سورة البقرة مدنية	۸۴

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
٦١	پوه سه چې بعض اصحاب کرامو	٨٥
٦٢	د قرآن بعض سورتونه اوږده دي	٨٦
٦٣	الفائدة السنية فی ترتيب السور	٨٧
٦٤	سورتونه چې بعض مکي او مدني	٨٩
٦٥	د (الٓمٓ) تفسير	٩١
٦٦	د حروفو مقطعاتو په اړه قاضي بيضاوي	٩٦
٦٧	ددا حروفو و اسماءالله ته اشاره ده	١٠٢
٦٨	که ددې مقطعاتو سره عامل وو	١٠٤
٦٩	د (ذالک الکتاب لاريب فيه) تفسير	١٠٥
٧٠	پوه سه که د هدايت معنا ارائت سي...	١٠٨
٧١	د تقوی مرتبې او قسمونه	١٠٩
٧٢	د (الذين يومنون بالغيب) تفسير	١١١
٧٣	پوه سه ايمان په نزد د امام ابوحنيفه	١١٣
٧٤	سوال: ايمان پخپله متعدي دی	١١٥
٧٥	ښهانه فائده - ايمان او اسلام	١١٦
٧٦	فائده: رسول هغه بولي	١١٨
٧٧	د حديث جبرئيل تشريح	١١٩
٧٨	د (ويقيمون الصلوة تفسير	١٢١
٧٩	الله تعالی خپل بندګان په څو شيانو	١٢٤
٨٠	تارک الجماعة څوک دی؟	١٢٥

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۸۱	د جماعت د ترک عذرونه	۱۲۶
۸۲	دغه پنځه لمونځونه د انبياوو ځخه ثابت دی	۱۲۷
۸۳	د (وممارزقناهم ينفقون) تفسير	۱۲۸
۸۴	پوه سه چې بعضې مفسرينو تفسير...	۱۳۰
۸۵	ایاحرام رزق دی او که نه	۱۳۱
۸۶	حکایت یوه واقعه	۱۳۲
۸۷	د (والذين يومنون) تفسير	۱۳۳
۸۸	مسئله: ایمان پر ټولو کتابو اجمالاً...	۱۳۳
۸۹	د (وبالآخرة هم يوقنون) تفسير	۱۳۵
۹۰	د (اولئک علی هدی من ربهم) تفسير	۱۳۷
۹۱	د اولئک په تکرار کې څه حکمت وو؟	۱۳۸
۹۲	د فلاح حاصل	۱۳۹
۹۳	د وعيديه ډلې مذهب	۱۴۰
۹۴	د (ان الذين كفروا) تعسير	۱۴۱
۹۵	د کفر تحقيق	۱۴۲
۹۶	د کفر قسمونه	۱۴۳
۹۷	تنبهانه فائده: بعض کسان وائي	۱۴۶
۹۸	د ابراهيم ادهم قصه	۱۴۸
۹۹	د (ختم الله علی قلوبهم) تفسير	۱۵۲
۱۰۰	د (وعلی سمعهم) تفسير	۱۵۵

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۰۱	د (وعلی ابصارهم غشاوة) تفسیر	۱۵۸
۱۰۲	د (لهم عذاب عظیم) تفسیر	۱۵۹
۱۰۳	حرص، حسد او کبر څه دی؟	۱۶۰
۱۰۴	یوه دلچسپه شاهي واقعه	۱۶۱
۱۰۵	د (ومن الناس من یقول) تفسیر	۱۶۳
۱۰۶	ایا نفاق اوس ختم دی؟	۱۶۶
۱۰۷	د منافق خصلتونه او خویونه	۱۶۷
۱۰۸	د (وماهم بمومنین) تفسیر	۱۶۹
۱۰۹	د یو شیخ کامل واقعه	۱۶۹
۱۱۰	د (یخادعون الله والذین آمنو) تفسیر	۱۷۲
۱۱۱	د عالم ظاهر او عالم باطن ملاقات	۱۷۵
۱۱۲	پر هر عالم لازمه ده چې عمل به خالص د...	۱۷۶
۱۱۳	د (فی قلوبهم مرض) تفسیر	۱۷۷
۱۱۴	د ماورد فی شان ابراهیم علیه السلام...	۱۸۰
۱۱۵	د (واذاقیل لهم) تفسیر	۱۸۳
۱۱۶	پوښتنه: د یهودو فساد څه وو؟	۱۸۳
۱۱۷	د (وقالوا انما نحن مصلحون) تفسیر	۱۸۴
۱۱۸	د (الاانهم هم المفسدون) تفسیر	۱۸۵
۱۱۹	د و اذا قیل لهم) تفسیر	۱۸۷
۱۲۰	د (قالوا انؤمن کما آمن) تفسیر	۱۸۸

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۲۱	د (اَلاَ انهم هم السفهاء) تفسیر	۱۹۱
۱۲۲	د (واذا لقوا الذین آمنو) تفسیر	۱۹۴
۱۲۳	د (واذاخلو الی شیاطینهم) تفسیر	۱۹۶
۱۲۴	سوال: دغه ملایان او خلیفه ګان...	۱۹۷
۱۲۵	بعضي غیبي شیان په وحی د رب	۱۹۸
۱۲۶	بعضي پټ شیان په الهام د ...	۱۹۸
۱۲۷	حکایت د یوه منجم	۱۹۹
۱۲۸	د (قالوا انا معکم) تفسیر	۲۰۰
۱۲۹	د (الله یستهزء بهم) تفسیر	۲۰۲
۱۳۰	د (ویمدهم فی طغیانهم) تفسیر	۲۰۳
۱۳۱	د (اولئک الذین اشتروا) تفسیر	۲۰۵
۱۳۲	د اشتری په اصل کي لغت دادی...	۲۰۵
۱۳۳	د (فماربحت تجارتهم) تفسیر	۲۰۶
۱۳۴	فائده: اصل ګته کوونکي خو...	۲۰۶
۱۳۵	د (مثلهم کمثل الذي استوقد نارا) تفسیر	۲۰۷
۱۳۶	د (فلما اضاءت ماحوله) تفسیر	۲۱۰
۱۳۷	پوه سه: چي په ضوء او په نور...	۲۱۱
۱۳۸	د (ذهب الله بنورهم) تفسیر	۲۱۲
۱۳۹	د (وترکهم فی طغیانهم) تفسیر	۲۱۳
۱۴۰	پوه سه: چي تاریکي نې په جمع سره	۲۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۴۱	د (صم بکم) تفسیر او تشریح	۲۱۴
۱۴۲	سوال: منافقینو خو کلمه مبارکه...؟	۲۱۴
۱۴۳	د (فهم لایرجعون) تفسیر	۲۱۵
۱۴۴	د (اوکصیب من السماء) تفسیر	۲۱۶
۱۴۵	فائده: الف او لام په اسماء...	۲۱۶
۱۴۶	فائده: مظهري وائي چې د حسن...	۲۱۷
۱۴۷	د (فیه ظلمات و رعد و برق) تفسیر	۲۱۸
۱۴۸	د رعد او برق تشریح	۲۱۹
۱۴۹	د (یجعلون اصابعهم) تفسیر	۲۲۰
۱۵۰	سوال: توله ګوته خو په غوږ نه ننوزي...؟	۲۲۰
۱۵۱	پوښتنه: د سبابې ګوتې خو بل نوم هم سته...؟	۲۲۱
۱۵۲	د (من الصواعق تفسیر) تفسیر	۲۲۱
۱۵۳	فائده: ابن عباس ﷺ وائي که چا...	۲۲۲
۱۵۴	د (حذر الموت والله محیط بالکافرین)تفسیر	۲۲۲
۱۵۵	پوښتنه: بندول د غوږو ودوی ته...؟	۲۲۲
۱۵۶	د (یکادالبرق یخطف ابصارهم)تفسیر	۲۲۳
۱۵۷	پوه سه: چې ضمیر د فیه راجع و برق	۲۲۳
۱۵۸	د (ولوشاء الله لذهب بسمعهم)تفسیر	۲۲۴
۱۵۹	نصیحت: دحسن بصري رحمه الله	۲۲۴
۱۶۰	د (یاایهاالناس اعبدوا ربکم) تفسیر	۲۲۷

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱٦۱	د یاد ورِ خبره	۲۲۸
۱٦۲	د شرک اقسام	۲۲۹
۱٦۳	افسوس چې دوی ومورِ ته	۲۲۹
۱٦۴	فائده: علماء وائي چې عالِم او ناصح چې...	۲۲۹
۱٦۵	د (الذي خلقكم والذين من قبلكم)تفسیر	۲۳۰
۱٦٦	سوال: نحات وائي چې صله د موصول	۲۳۱
۱٦۷	پوښتنه: علماء وائي چې افعال د خدای معلل	۲۳۲
۱٦۸	د (الذی جعل لكم الارض فراشا) تفسیر	۲۳۵
۱٦۹	سوال: حکماء وائي چې مُحکه کروي ده	۲۳٦
۱۷۰	پوه سه: چې آسمان لکه ګنبده ده.	۲۳٦
۱۷۱	د (وانزل من السماء ماءً) تفسیر	۲۳۷
۱۷۲	د فاخرج به من الثمرات رزقا) تفسیر	۲۳۸
۱۷۳	فائده: خدای ﷻ په مُحکه کښې قوت منفعله	۲۳۸
۱۷۴	د (فلاتجعلوا الله اندادا) تفسیر	۲۳۹
۱۷۵	فائده: حدیث د وصیت و معاذ ﷺ ته	۲۴۰
۱۷٦	تمهید: څرنګه چې کافرانو به	۲۴۲
۱۷۷	د (وان كنتم فی ريب مما نزلنا على عبدنا) تفسیر	۲۴۳
۱۷۸	فائده: حکمت الهي په نزول کې ...	۲۴۴
۱۷۹	د (فاتو بسورة من مثل) تفسیر	۲۴۵
۱.۸۰	د (وادعوا شهداءكم من دون الله تفسیر	۲۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۱۸۱	پوه سه چې شهداء جمع د شاهد ده	۲۴۸
۱۸۲	د درویش عقیده خو داده	۲۴۹
۱۸۳	د (فان لم تفعلوا ولن تفعلوا)	۲۵۰
۱۸۴	د (فاتقوا النار التی وقودها) تفسیر	۲۵۱
۱۸۵	د (اعدت للکافرین) تفسیر	۲۵۲
۱۸۶	پوه سه: چې اتباع د ابلیس...	۲۵۲
۱۸۷	د (وبشرالذین آمنوا وعملواالصالحات) تفسیر	۲۵۴
۱۸۸	پوه سه چې لفظ د صالحات جمع ده	۲۵۴
۱۸۹	سوال نو په مجرد ایمان سره خو څوک	۲۵۵
۱۹۰	د (ان‌لهم جنت تجری) تفسیر	۲۵۶
۱۹۱	فائده: په روح البیان چې پر عرش...	۲۵۷
۱۹۲	د (وکلما رزقوا منها من ثمرة) تفسیر	۲۵۸
۱۹۳	فائده مهمه: درویش وایي	۲۶۰
۱۹۴	د (واتوا به متشابها) تفسیر	۲۶۳
۱۹۵	فائده جدیده: امام بغوی په خپل...	۲۶۳
۱۹۶	قاضي بیضاوي او تفسیر مظهري بله معنا...	۲۶۴
۱۹۷	فائده: نفس دخول دجنت په...	۲۶۵
۱۹۸	د (لهم فیها ازواج مطهرة) تفسیر	۲۶۶
۱۹۹	سوال: فائده د خوراکي غذاوو...؟	۲۶۷
۲۰۰	د (وهم فیها خالدون) تفسیر	۲۶۸

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۰۱	پوه سه چې لویه حصه د لذاتو...	۲۶۹
۲۰۲	درویش وائي چې لوی سبب د ګمراهی	۲۷۰
۲۰۳	د (ان الله لایستحیي ان یضرب مثلاً) تفسیر	۲۷۱
۲۰۴	فائده: حیاء چې په پښتو ئي شرم بولي...	۲۷۳
۲۰۵	تفریع: نو حیاء نبه صفت دی...	۲۷۴
۲۰۶	لطیفه امام ابومنصور ماتریدي	۲۷۶
۲۰۷	پوه سه چې مچ زمونږ پر پزه او...	۲۷۷
۲۰۸	قصه د هارون الرشید: یوه ورځ...	۲۷۷
۲۰۹	پوه سه چې عرب ډیر امثال لري	۲۷۷
۲۱۰	د (فاما الذین آمنوا فیعلمون انه) تفسیر	۲۸۰
۲۱۱	د (یضل به کثیرا) تفسیر	۲۸۱
۲۱۲	پوښتنه: یا به اهل ضلال ډیر وي یا به...	۲۸۲
۲۱۳	پوښتنه: تفسیر د مضارع په مصدر سره	۲۸۳
۲۱۴	د (الذین ینقضون عهدالله) تفسیر	۲۸۴
۲۱۵	پوه سه چې ناقضین ددې عهد هغه کافران	۲۸۵
۲۱۶	پوه سه چې بعض ملایان د اخیري زمانې	۲۸۶
۲۱۷	پوښتنه په حدیث کې راغلي دي چې یو مسلمان	۲۸۷
۲۱۸	د (ویقطعون ما امرالله به) تفسیر	۲۸۸
۲۱۹	د ویفسدون فی الارض) تفسیر	۲۸۹
۲۲۰	د (کیف تکفرون بالله) تفسیر	۲۹۱

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۲۱	پوښتنه د کفارو دپاره خو موت ثاني وسیله ده	۲۹۳
۲۲۲	پوښتنه: مشرکانو ته که څه هم موت اول	۲۹۴
۲۲۳	پوه سه چې تفسیر مظهري ددې آیت	۲۹۵
۲۲۴	د ﴿وهوالذی خلق لکم مافی الارض﴾ تفسیر	۲۹۶
۲۲۵	فائده: بعض جاهلانو کسانو چې د فواندو څخه	۲۹۷
۲۲۶	حکایت د یوه ولي الله زاهد او عابد	۳۰۰
۲۲۷	فائده هغه ګمراه ډله د اباحیه وو دا هم واني	۳۰۲
۲۲۸	د ﴿ثم استوی الی السماء فسواهن﴾ تفسیر	۳۰۲
۲۲۹	فائده: بعض مفسرین د الارض تفسیر په ...	۳۰۳
۲۳۰	شکایت د بعضي حاسدانو څخه	۳۰۴
۲۳۱	د ﴿وهو بکل شیئ علیم﴾ تفسیر	۳۰۵
۲۳۲	فائده مراد د حشر څخه د انسانانو	۳۰۶
۲۳۳	د ﴿واذ قال ربک للملائکة﴾ تفسیر	۳۰۷
۲۳۴	فائده: ملکي په نزد د عمومي مسلمانانو	۳۰۸
۲۳۵	پوښتنه دغه کومي ملکي وي چې خدای ودوی	۳۰۹
۲۳۶	پوښتنه: دملائکو سره د مشورې کولو څه حکمت	۳۱۰
۲۳۷	فائده: خلیفه هغه چاته واني چې قائم مقام	۳۱۱
۲۳۸	پوښتنه: خدای وخلیفه ته څه ضرورت لري؟	۳۱۲
۲۳۹	د ﴿قالوا اتجعل فیها من یفسد فیها﴾ تفسیر	۳۱۵
۲۴۰	پوښتنه: ملکي په دې څه خبري وې چې ...؟	۳۱۶

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۴۱	فائده: صیغه د مضارع دپاره د استمرار ده	۳۲۰
۲۴۲	د (وعلم آدم الاسماء کلها) تفسیر	۳۲۱
۲۴۳	درویش وائي چې خدای عالم دی	۳۲۲
۲۴۴	روح البیان وائي چې په حدیث قدسي	۳۲۳
۲۴۵	د آدم علیه السلام د قد په اړه تحقیق	۳۲۴
۲۴۶	مهمه پوښتنه: تعلیم او تعلم خو...	۳۲۶
۲۴۷	فائده: لفظ د آدم عجمي دی لکه آذر...	۳۲۷
۲۴۸	آدم علیه السلام ته اوه لکه ژبي...	۳۲۷
۲۴۹	پوښتنه: خدای ﷻ خو تفضیل د آدم پر ملکو	۳۳۱
۲۵۰	د (ثم عرضهم علی الملائکة) تفسیر	۳۳۳
۲۵۱	د (فقال انبئوني) تفسیر	۳۳۴
۲۵۲	پوښتنه: خدای ﷻ ته خو معلومه وه	۳۳۴
۲۵۳	د (ان کنتم صادقین) تفسیر	۳۳۵
۲۵۴	پوښتنه: د منطقو او د معانیوو په کتابو ...	۳۳۵
۲۵۵	د (قالوا سبحانک لاعلم لنا)تفسیر	۳۳۷
۲۵۶	فائده: دیوه عالم څخه چا پوښتنه وکړه...	۳۳۸
۲۵۷	د (قال یاآدم انبئهم باسمائهم) تفسیر	۳۴۰
۲۵۸	فائده: ددې آیت څخه دا معلومه سوه.	۳۴۲
۲۵۹	فائده: دا هم معلومه سوه چې علم د ملکو	۳۴۲
۲۶۰	د (واذقلناللملائکة اسجدوا)تفسیر	۳۴۴

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۶۱	پوښتنه: ملکي او شیطان ولي په تعظیم	۳۴۵
۲۶۲	تفریع: چونکه طالبان د علومو په خپل	۳۴۶
۲۶۳	پوه سه! چي ملاعصام الدین په حاشیه کي	۳۴۶
۲۶۴	د (فسجدوا الاابلیس ابی واستکبر) تفسیر	۳۴۷
۲۶۵	پوه سه: د ملکو په باره کي خدای داسي وویل	۳۴۸
۲۶۶	پوه سه: چي دا قول چي ابلیس ملکه نه وو...	۳۴۹
۲۶۷	د (وکان من الکافرین) تفسیر	۳۵۱
۲۶۸	د یوه عالم زاهد په وخت کي د مرض الموت	۳۵۳
۲۶۹	د (وقلنا یا آدم اسکن انت و زوجک) تفسیر	۳۵۴
۲۷۰	فائده: د جنت څخه مراد دارالثواب دی	۳۵۵
۲۷۱	فائده: درویش مطابق د روایت...	۳۵۶
۲۷۲	فائده: قدرت الهي دی چي بعض انسانان	۳۵۶
۲۷۳	فائده: د نکاح کولو یعني ازدواج ...	۳۵۷
۲۷۴	فائده: بعضي کسان جاهلان وایي چي...	۳۵۸
۲۷۵	د (وکلامنها رغداً حیث شئتما) تفسیر	۳۵۹
۲۷۶	فائده: علماء او اهل تفسیر وایي	۳۶۰
۲۷۷	د (فازلهما الشیطن عنها فاخرجهما) تفسیر	۳۶۳
۲۷۸	د شیطان داخلیدل وجنت ته	۳۶۵
۲۷۹	د شیطان معنا او لغوي اشتقاق	۳۶۶
۲۸۰	د (فتلقی آدم من ربه کلمات فتاب علیه) تفسیر	۳۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۲۸۱	پوه سه چې اصل معنا د توبې رجوع ده	۳۶۹
۲۸۲	فائده: د توبة العبد داده...	۳۷۲
۲۸۳	د ﴿قلنااهبطوا منها جميعاً﴾ تفسير	۳۷۳
۲۸۴	د ﴿فاما ياتينكم منى هدًى﴾ تفسير	۳۷۵
۲۸۵	ترکیب الآیة	۳۷۶
۲۸۶	د ﴿والذين كفروا وكذبوا﴾ تفسير	۳۷۷
۲۸۷	فائده: خلود که څه هم په معنا د مکث دی	۳۷۸
۲۸۸	د ﴿يبنى اسرائيل اذكروا نعمتى التى﴾ تفسير	۳۸۰
۲۸۹	فائده: الله تعالى چې نعمت خپل مقيد...	۳۸۲
۲۹۰	د ﴿اوفوا بعهدي اُوف بعهدكم﴾تفسير	۳۸۳
۲۹۱	پوه سه چې اول د مراتبو د وفاء بالعهد	۳۸۴
۲۹۲	د ﴿وآمنوا بما انزلت مصدقا﴾ تفسير	۳۸۶
۲۹۳	پوه سه چې عليه السلام چې ومدينې ته...	۳۸۸
۲۹۴	د ﴿ولاتشتروا بآيتى ثمناً قليلاً﴾ تفسير	۳۸۸
۲۹۵	فائده: عموماً خلګ د هروخت...	۳۸۹
۲۹۶	درويش وايي چې زمونږ د اسلام...	۳۹۱
۲۹۷	حکايت د کعب ابن اشرف	۳۹۲
۲۹۸	که پر يوه عالِم تعليم د حکم الهي	۳۹۳
۲۹۹	حکايت تاريخ اسلامي خبري کوي	۳۹۳
۳۰۰	فائده: پر تعليم اجرت اخيستل	۳۹۷

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۳۰۱	پوه سه چې د قرآن مجید خرڅول	۳۹۹
۳۰۲	پوښتنه. رکوع خودلمانځه یو جزء ده...؟	۴۰۰
۳۰۳	پوښتنه: دکفارو خوابدی ځای...؟	۴۰۱
۳۰۴	دجماعت فضائل واوریٰ!	۴۰۲
۳۰۵	دلمانځه ادب	۴۰۳
۳۰۶	د (اتامرون الناس بالبر وتنسون) تفسیر	۴۰۴
۳۰۷	حکایت: تاریخ وایي چې یو عالم..	۴۰۸
۳۰۸	د (واستعینوا بالصبر والصلوة) تفسیر	۴۰۹
۳۰۹	پوه سه چې کبر خو د اجسامو صفت دی	۴۱۲
۳۱۰	پوه چې خدای ﷻ خاشعین مستثنی کړه...	۴۱۳
۳۱۱	د (الذین یظنون انهم ملقوا ربهم) تفسیر	۴۱۴
۳۱۲	د (یبنی اسرائیل اذکروا نعمتی التی) تفسیر	۴۱۷
۳۱۳	حکمت الهي چې فضیلت د آباوو...	۴۱۷
۳۱۴	فائده: بعض اهل الله وایي چې که ته	۴۱۸
۳۱۵	د (واتقوا یوما لاتجزی نفس) تفسیر	۴۲۰
۳۱۶	پوه سه چې لاري د خلاصوالي د یو مجرم	۴۲۱
۳۱۷	فائده: معتزله په دغه آیت سره...	۴۲۲
۳۱۸	د (واذنجینکم من آل فرعون) تفسیر	۴۲۲
۳۱۹	فائده: فرعون دیوه معین سړي نوم نه دی	۴۲۳
۳۲۰	د موسی د زمانې د فرعون نوم...	۴۲۳

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۳۲۱	د (یذبحون ابناءکم ویستحیون نسائکم) تفسیر	۴۲۸
۳۲۲	پوښتنه: نساء خو په عربي کي لوی ښځو ته...؟	۴۳۰
۳۲۳	فائده: هرمصیبت او غم او ناجوړي	۴۳۱
۳۲۴	د (واذ فرقنا بکم البحر) تفسیر	۴۳۲
۳۲۵	فائده: فرعون چي ډوب سو	۴۳۶
۳۲۶	فائده: بني اسرائیل دونه د فرعون څخه ...	۴۳۶
۳۲۷	د (واذ واعدنا موسی اربعین) تفسیر	۴۳۷
۳۲۸	فائده: قرآن مبارک هم په دې آیت کي	۴۴۰
۳۲۹	د (ثم عفونا عنکم من بعد ذالک) تفسیر	۴۴۱
۳۳۰	د اتخاذ العجل واقعه	۴۴۲
۳۳۱	د (واذقال موسی لقومه یاقوم) تفسیر	۴۴۵
۳۳۲	پوه سه چي د امت مرحومه توبه	۴۴۷
۳۳۳	پوه سه چي څه وخت چي موسی	۴۴۷
۳۳۴	د (فتاب علیکم انه هو التواب الرحیم) تفسیر	۴۴۸
۳۳۵	د (یاموسی لن نؤمن لک) تفسیر	۴۴۹
۳۳۶	سوال: لفظ د ایمان خو خپله متعدي...؟	۴۴۹
۳۳۷	د (فاخذتکم الصعقة) تفسیر	۴۵۰
۳۳۸	صاعقه هر بیریدونکي شي ته وایي	۴۵۰
۳۳۹	د (ثم بعثنکم من بعد موتکم) تفسیر	۴۵۱
۳۴۰	سوال: موسی خو سوال د رویت...	۴۵۲

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	صفحه
۳۴۱	د (وظللناعلیکم الغمام وانزلناعلیکم) تفسیر	۴۵۳
۳۴۲	پوه سه چي نیه د پراخي صحراء نوم دی	۴۵۴
۳۴۳	د کابل د روغتون یوه عجیبه واقعه	۴۵۶
۳۴۴	د (کلوامن طیبات مارزقنکم) تفسیر	۴۵۷
۳۴۵	د (فبدل الذین ظلموا قولاً غیر) تفسیر	۴۶۰
۳۴۶	فائده: تبدیل کوونکي ټوله بني اسرائیل	۴۶۱
۳۴۷	د (فانزلنا علی الذین ظلموا رجزاً) تفسیر	۱۶۲
۳۴۸	پوه سه چي مرض د بطن دا هم دی...	۴۶۴
۳۴۹	خاتمة الجلد الاول من تفسیر الایوبی	۴۶۷
۳۵۰	پوښتنه: ولې دیري مباشتي پکښې تیري سوې؟	۴۶۷
۳۵۱	پوښتنه ستا تفسیر باید ۶۰ جلده سي؟	۴۶۷
۳۵۲	ټمنا د مطالعه کوونکو څخه	۴۶۸
۳۵۳	خبرتیا او اعلان د ورورګلوی	۴۶۹
۳۵۴	اعلان علی الاعلان	۴۷۰

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد

احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا

په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

https://t.me/pashtoTafsir

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

۳۸۹

د مکتبة القرأت والتجوید له علمی
خدمتونو یوه بله فقهی ذخیره

زبدة الفقه

تالیف: سید زوار حسین شاه

صاحب تصانیف کثیرة وعمدة الفقه

پښتو

الناشر

مکتبة القرأة والتجوید

کانسی روڈ، شالدره، کوئٹه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

۴۹۰

پر علم تجوید باندی یو لوړ قیمتی
او پر علمی بحثونو باندی مشتمل

انوارُ الفرقان

حول قرأت

پښتو شرح جمالُ القرآن

د قاری محمّد رمضان صاحب

پښتو ژباړه

قاری فضلُ الحق حقّانی

الناشر

مکتبةُ القراءة والتّجوید

کانسی روڈ شالدره کوئٹه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

پر سُوچہ عقائد و باندي مشتمل
پر کوم کښې چې د مختلفو سوالونو ځوابونه
موجوددي

تعلیم العقائد

حواشي

پښتوله اردُو څخه

ژباړه

محمد فضل الحق حقّانی

الناشر

مکتبة القراءة والتجوید

کانسی روډ شالدره کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د مکتبة القراءة والتجويد له بنکلو خپرونو څخه
یوه بنکلی اوپرځانګړی تفصیل مشتمله

شرحه

نور ظلم

سره د دوو ترجمو پښتو او فارسی

تالیف

ابوالفضل مولانا محمد عبید الله الایوبی

ناشر

مکتبة القراءة والتجوید

کانسی روډ ، شالدره ، کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

۴ ۹۳۳

دھرزدہ کونکی طالب علم لپارہ ضروری
دھری دینی اداری لپارہ یوہ بنکلی تحفہ

رَہنمائے دوئِ خوانی

پښتو

دتعلیمُ المتعلِم اوادابُ المتعلِمین
یوجلدہ بنائستہ مجموعہ

النشاۃ

مکتبۃُ القراۃِ والتجوید
کانسی روڈ، شالدرہ ، کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعلم تجوید په دنیا کښې یو ځلانده لمر اودقرآنی
علومو چوپړو هلوته چمتو یو اځنی خپرونکی اداره
مکتبة القراة والتجوید کوئټه

تجوید ونه په هره ژبه

حمد او ثنا وچې خدای ته دی زیبا ده او درود او سلام وي
کړي کوم چې دنیا والو ورته شاګرد ځولی ده او د علم د تجوید په
ټولو هر قسم اسانتیاوی ورسره کړې په دې زمانه

مکتبة القراة والتجوید
کانسی روډ شالدره کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرکورني ښځينه زرکونو مسئلو باندي
مشتمل دهرکور ضرورت يعني

تعلیم السمار

پښتو

دقاري شريف احمد صاحب تصنيف
چې د معلم الدين مصنف دئ

الناشر

مکتبة القراة والتجويد

کانسي روډ شالدره کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

ابج درس صطع ف

كتبه احقر حقاني بقلمه ١٤٢٥ھ

ق ك ل م ن و ه ھ ه لا ء ى

محمد رسول الله والذين معه اشداء على الكفار رحماء بينهم

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي 1 توک

د نصيراحمد احمدي لـخوا

سکين او pdf سـو.

تاريخ. ۱۲-۴-۱۳۹۹

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا په هيله احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner